# د افغانستان خلکو دیموکراتیک ګوند تاریخ ته یوه کتنه

لیکوال
عبدالقدوس غوربندی

ژباړن
نور محمد کراو

۱۳۷۹ل - ۲۰۰۱م کال

Ketabton.com

# د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند تاریخ ته یوه کتنه

**لیکوال**

عبدالقدوس غوربندی

**ژباړن**

نور محمد کړاو

**۱۳۷۹ل - ۲۰۰۱م کال**

Ketabton.com

## د کتاب ځانګړني

کتاب : د افغانستان خلکو دیموکراتیک ګوند -
تاریخ ته یوه کتنه

لیکوال : عبدالقدوس غوربندی

ژباړن : نورمحمد کړاو

چاپشمېر : ۵۰۰ ټوکه

چاپکال : ۱۳۷۹ل - ۲۰۰۱م کال

کمپوز / ډیزاین : افغان کمپوزنګ سنټر -
ګل حاجي پلازه - دویم پوړ - 202B نمبر دفتر

کمپوزر : نجیب الله "وصال"


Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

# نیولیک


| ګڼه | سرلیك | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱. | سریزه | الف |
| ۲. | وړاندیني خبرې | هـ |
| ۳. | سیاست ته د لېوالتیا لومړنۍ زمینې | ۱ |
| ۴. | د پښتونستان ستونزه | ۲۸ |
| ۵. | پر ۱۳۴۸ لمریز کال د ا.خ.ډ.ګ دویم بېلتون | ۳۲ |
| ۶. | د خیبر ترور | ۸۸ |
| ۷. | وروستۍ لیدنه | ۹۲ |
| ۸. | له خبرې نه تر عمله | ۹۶ |
| ۹. | برید او د برید ضد | ۱۰۱ |
| ۱۰. | ناندرۍ روانه ده | ۱۱۲ |
| ۱۱. | د اخ.ډ.ګ سازماني نوښت | ۱۱۴ |
| ۱۲. | د ګوند حاکمیت او اته ګوني فرمانونه | ۱۲۱ |
| ۱۳. | اسلام آباد ته رسمي سفر | ۱۲۸ |
| ۱۴. | یوه لیکل شوې دوسیه | ۱۳۵ |
| ۱۵. | له تور څخه تر حقیقته | ۱۴۱ |
| ۱۶. | د امین سل ورځنی دوران | ۱۴۵ |
| ۱۷. | د حفیظ الله امین ترور | ۱۵۵ |
| ۱۸. | د تاج بېګ غونډۍ پر ماڼۍ یرغل | ۱۶۳ |
| ۱۹. | د نجیب الله د ملي روغې جوړې سیاست | ۱۸۶ |
| ۲۰. | د ا.ج.ډ.ګ د کنګرې رښیتنې بڼه | ۱۹۹ |
| ۲۱. | کابل ته د کارمل بیا ستنېدنه | ۲۰۲ |
| ۲۲. | د کارمل له مرېيتوب تړلتوب څخه د نجیب تر مېړنې ... | ۲۰۷ |
| ۲۳. | په شمالي ولایتونو کې د عظیمي کارنامه | ۲۱۸ |
| ۲۴. | د حزب وطن د اجراییوي بیرو وروستۍ غونډه | ۲۲۷ |
| ۲۵. | نجیب الله د ملګرو ملتونو په حمایت کې | ۲۳۵ |
| ۲۶. | د ملي روغې جوړې د سیاست برخلیك او ... | ۲۳۹ |
| ۲۷. | لومړۍ او وروستۍ خبره | ۲۴۶ |
| ۲۸. | سرچینې | ۲۴۷ |
| ۲۹. | د افغانستان د جمهور ریس اعلامیه | ۲۴۹ |
| ۳۰. | ملپاڼې (ضمیمې) | |


Ketabton.com

# سریـــزه

(دوراست، سیر آب دراین بادیه هُشدار
تا غـول بیانـان نه فریبد به سرابت)

د هر ملت تاریخ د خپل بهیر په ځینو برخو کې تم کیږي، چې یو عطفي ټکی جوړ کړي.

موږ ته هم هغه مهال رارسیدلی دی چې د تیر وخت په ځانګړي ډول د خپل نږدې ماضي په سمه ارزونه دا ومومو چې د ځواکونو سرچینه مو چیرې ده او د کمزوریو مو چیرې.

دا نقادانه لیکنه موږ ته دا رانیسي چې رښتیني لاسته راوړنې او ملي بریالیتوبونه وپېژنو او پرې وویاړو، همداراز د ماتې او محرومیتونو راز او رمز مو هم په تم کېدو او سوچ سره وپېژنو.

دې آرته د وررسیدو لپاره باید نور هم پوهه ترلاسه کړو، له تېرو او د هغو له تجربو څخه زده کړه وکړو او هغو بنسټیزو پوښتنو ته دقیق او رانه ځوابونه ویلتو چې ملي ژوند مو وریوري ترل شوی دی.



Ketabton.com

موخه د هغه ملت د کمزوریو او غوښتنو ښېروال دي. چې ډېر کلونه کېږي د خپل تاریخي ژوند په خونړیو پړاوونو کې تم دی.

دې موخې ته رسېدل لومړی ژور سوچ او له تېر مهال سره هغه انتقادي چلند ته اړتیا لري چې زموږ د ملت اوسنی دردوونکی وضعیت یې حاصل او منطقي تداوم دی.

له نېکه مرغه په وروستیو کلونو کې افغاني قلموال په بهر کې په ځانګړي ډول د غربي اروپا او امریکا له خوندیتوب او آزادۍ څخه په ګټه اخیستو له خپل وس سره سم قلمونه اوچت کړي او د هغو پېښو پر لیکلو یې پیل کړی، چې د هغو د اطلاعاتو په قلمرو کې تر سره شوي دي. په دې لیکنو کې د غور ژوروالی او پراخوالی د لیکوال او د پېښو په ژورو هغوی له علمي بینش (لیدلوري) او خبریتاوو سره متناسب دي.

د حقیقت په جوتولو کې مېړانه، افاقیت (نړیوالتوب)، عقلاني چلند، له رښتینولۍ سره وفاداري، د کینې په لومه کې نه راښکېلېدل او له ذهني غوښتنو څخه خلاصون ددې لیکنو بل ارزښت په ګوته کوي. په هرحال، دا ټولې هڅې په بېلابېلو کچو د پېښو په روښانتیا او د ګړاوونو د جرړو په موندلو کې مرسته کوي چې د پوهانو دا هڅې د ستاینې او مننې وړ دي.

خو هغوی چې غواړي د نورو په خوښه څه ولیکي او جوړ کړي پر ملي ارزښتونو او معیارونو سترګې پټې کړي، نو د هغوی حساب د هېواد او خلکو له هغه څخه بېل دی، څکه ډېر کلونه کېږي چې هغوی (د دښمن د متروکې (قمچینې) لاستي د خپل ورور له هډوکو څخه جوړوي) یوه بله شجاعانه لیکنه چې د ډېرو کتاب لوستو افغانانو له ستاینې او استقبال سره مخامخ شوه او د لنډې مودې (۲-۳) میاشتو په شاوخوا کې یې لومړی او دویم چاپ له تبلیغاتو او ډنډورو څخه تش وګټل شو. او په لنډه موده کې نایابه شو د ښاغلي عبدالقدوس غوربندي (د افغانستان خلق ډموکراتیک ګوند تاریخ ته



Ketabton.com

يوه كتنه) نومي كتاب دى. ددې كتاب هر كلي دا په ګوته كړه كه حقيقت ته په درناوي كومه ليكنه خپره شي. پر وسپنيزو پنجرو، تړلو دروازو او خنډونو سربېره د خپل نفوذ لار پرانيزي او د ابوالمعاني بېدل په قول:

فلک مشکل حریف منع پروازم تواند شد
چو آهنگ جرس گیرم قفس سازد ز فولادم

په دې كتاب كې لكه څنګه چې له سرليك نه يې څرګند ېږي (د افغانستان خلكو ډموكراتيك ګوند تاريخ ته يوه كتنه) او د هغه خلف (حزب وطن) يانې وطن ګوند سره رانغاړل شوي او په ډېرو برخو كې انتقادي څرګندونې لري.

ليكوال چې په خپله د ا.خ.د.ګ د مركزي كمېټې سابقه لرونكى غړى، د وزيرانو او د ا.ج.د انقلابي شوراګانو غړى و او وروسته يې د حزب وطن كمېټې ته نامزد غړيتوب درلود، همداراز يې د افغانستان د سولې شورا په مهمو برخو كې هم دندې ترسره كړې او د وخت په بېلابېلو پړاوونو كې يې له دولتي او ګوندي رهبرانو سره نږدې همكاري درلوده، تر نورو كسانو يې د هغوى له شخصيتونو او څېرو سره ښه بلدتيا لرله او په هغو كې له كورنيو او بهرنيو ارزښتمنو سياسي پېښو او لاملونو څخه ښه خبر و. د سياسي زندان اوږد مهالي دوران او په بند كې د زرګونو هېوادوالو ليدل چې له هېواد دوستى او آزادى غوښتنې نه پرته يې بله ګناه نه درلوده. دى د سياسي بهير له نورو ترخو حقيقتونو او د شوروي تر واك لاندې د ټولنيز عدالت د مدعيانو له نورو ورانوونكو خصلتونو سره اشنا كړ.

ليكوال له ټولو كتنو څخه په كار اخيستو چې د ستونزمن او كړكېچن ژوند د تجربو حاصل يې دى، دا كتاب ليكلى دى. خو څرنګه چې حقيقت يوازې د يوه كس په انحصار كې نه شي پاتې كېدى، نو هغه وخت رارسېدلى دى چې ښاغلي غوربندي لكه ورانده چې د ا.خ.د.ګ، حزب وطن او د هغو دولتمدارانو په رهبرى



Ketabton.com

کې چې د افغانستان په اوسمهالي تاریخ کې یې د کیلي نقش درلود، پر قلم لاس پورې کړي او د خپلو اطلاعاتو په حدودو کې دې حقیقت بیان کړي، چې د دې خاطرو او یادښتونو ټولګه (مجموعه) ورکړای شي د تېرو پېښو رښتینې بڼه انځور کړي او د افغانستان د اوسمهالي تاریخ لیکنې ته یوه سرېزه وي. ځکه د بېر دولتي او ګوندي اسناد له منځه وړل شوي، همدا خاطرې او یادښتونه د نورو هېوادونو په پاتو اسنادو کې هم کولای شي چې د تاریخ د جعلکارۍ خنډ وي.

د غوربندي صیب او د نورو کسانو د نورو لیکنو په هیله چې د ویلو لپاره څه لري، تر هغه مهاله چې وخت شته او ژوند خپل، وروستي پړاوو ته نه دی رسېدلی، باید قلمونه اوچت کړو. لکه (کافکا) چې وايي: (لیکل د مړو له کتاره بهر ته راوتنګل دي.)

والسلام

اذرخش حافظي



Ketabton.com

# وړاندینۍ خبرې

ګران او ښاغلی لوستونکیه! په دې ناچیز اثر کې مې وغوښتل د توان تر حده د ا.خ.ډ.ګ او حزب وطن د رښتینو پېښو یوه څنډه چې په درېیو لسیزو کې نه یوازې عیني شاهد ، بلکې په مستقیم ډول په کې دخیل وم. د خپلو تجربو او کتنو پر بنسټ یې ستاسو پر وړاندې کېږدم. څرګنده ده چې د تاریخي پېښو لیکل ستونزمن او خطرناک کار دی، چې د کار پېژندنې پر مهارتونو سربېره ډېرو نورو مختصاتو ته هم اړتیا لري. نو دا غوره ګڼم چې له پیله دا ووایم: زه داسې ادعا نه لرم او هغه څه چې په دې کتاب کې لولئ، د ستونزمن ژوند د یو عمر تجربو حاصل دی چې په صمیمانه ډول یې رابرسېره کوي. هغه څوک چې په دې ستونزمن او بحراني عصر کې د پېښو پر لیکلو پیل کوي، اخلاقاً مکلف دي چې د پېښو په رابرسېره کولو کې له هر ډول ذهنیت او وړاندېني ترلتوب څخه تش وي و. د وجدان پر حکم عمل وکړي، د حقیقت په دفاع کې دې له ستونزو او خنډونو څخه ونه وېرېږي. د هغوی پاداش دا دی چې د خلکو او تاریخ په تجربو



Ketabton.com

او خاطرو کې يې څرګندونې د رښتينې صميمي او با اعتباره انسان په ډول چې قلم يې د حقيقت د بيان په خدمت کې دی ثبتېږي. د پښتو څرګندوونکي بايد هڅه وکړي چې حقيقت د ابهام په پرده کې پټ پاتې نه شي. دروغ او ګناه د رښتيولۍ پر ګدۍ کښيني، خيانت د خدمت په نامه ونه ليکل شي او پښتې په بل ډول تشريح نه شي. زما په اند که څوك اراده (هوډ) کوي چې د تاريخي پښتو په اړه څه ووايي. د هر دليل پر بنسټ نه شي کولای ټول حقيقتونه ووايي، غوره دا ده چې لږ ووايي او هغه څه چې وايي حقيقت وي. که څه هم دا څرګنده خبره ده چې تاريخي حقايق آخر څرګندېږي. ارزښتمنه خبره دا ده چې څوك ؛ ويلو لپاره څه لري بايد ويې نه سپموي او چوپ پاتې نه شي. پر دې بنسټ زه هم نه وايم که په دې برخه کې دندې په بشپړ ډول ترسره شوې هم دي. بيا هم د خبرو لپاره ځای شته. ځکه په ځينو برخو کې ځينې داسې خبرې چې د ګوند په سياسي ټولنيز حرکت کې به بې اغېزې نه وې، خو څرنګه چې شخصي او خصوصي بڼه يې درلوده، نو د قلم پټ ته په پام سره او له دې نه چې زموږ په دوديزه او مذهبي ټولنه کې يې ويل غوره نه و نو ترې ډډه شوې ده، هغه څه مې چې زه يې نېغ کتونکی وم يا مې د برغلګرو د ځينو نظامي او سياسي صحنې د ځينو چلوونکو له کتابونو او اسنادو څخه تر لاسه کړي په دې خاطراتو کې ورګډ کړي، تر هغه مهاله چې د ذهنيتونو، بېلابېلو دليلونو او اورېدنو سموالی ثبوت شوی نه دی ترې نه کار نه دی اخيستل شوی. ډېره هڅه شوې چې په روايت او کيسو کې د امانتدارۍ اصل اوچت وساتل شي.

ددې ليکنو بله بنسټيزه موخه (هدف) د ځينو هغو څېرو انځورول او تو پيرول دي، چې د (۱۳۴۱- ۱۳۷۱) ل کلونو تر منځ د ا.خ.د.ګ په چوکاټ او وروسته يې په حزب وطن کې نقش درلود. په دې برخه کې عدالت او کفاف حکم کوي. هغوی چې په نږه هڅو او نېغو احساساتو د ټولنيز عدالت، عمومي رفا، د منځنيو پېړيو له



Ketabton.com

قید څخه د خواریکښنو خلاصون، د نارینه او ښځو د حقوقو برابرۍ لپاره مبارزه وکړه، خو له بده مرغه د ټولنیزو ګرځندیو بدلونونو له وجې یې د کورنیو او بهرنیو بدنیتو دښمنانو په نسبت د خپلې فنا کېدو زمینه برابره کړه او نهیلي شول. د هغو کسانو له حسابه چې په سیاسي لوبو کې د پردیو د لاس الې ګرځېدلي، واك ته د رسېدو لپاره د پردیو په توره او اس زمونږ سپېڅلې خاورې ته راودانګل، ویې بایلل، سره بېل یې کړل او سره تفکیك یې کړل، هڅه یې وکړه چې د خلکو د کړنلارو په اړه حقیقت مشخص او روښانه وي، که څه هم د ښو او بدو معیارونو سنجول منصفانه او دقیق نه وي. راتلونکي کسان به نه یوازې د دې تجربو له ښو او بدو څخه څه زده کړي بلکې د ورکېدو امکان هم شته. باید په پام کې ولرو چې اوچت رغوونکي او سموونکي ګډې هڅې زمونږ د مذهبي ټولنې بیا رغونې ته چې د روښاندۍ او فن جوړونې له لحاظه فقیره ده په یو صورت کې د عمومي منلو وړ ګرځېدی شي، چې ستونزې د قضاوتونو او باور له لارې لرې شي د انتقام اخیستنې روحیه باید د همکارۍ اړتیا نفي نه کړي. ګوندونه او سازمانونه د منسوبینو د عقیدو او اندېښنو لپاره چې په پرمختللې نړۍ کې ځانګړې آزادي لري په استبداد محکوم نه شي او غلطانه اصل (عیب دې چې ووایه، هنر یې هم ووایه) چوپ پاتې نه شي. سربېره پر دې د تاریخي پېښو حیاتي ارزښت په دې کې دی چې د واك مشران او پردي جګړه ماران ورڅخه پند او عبرت واخلي. ازمویل شوي بیا ونه ازمویي او د دوست ډوله دښمنانو له خوا د هغو وسلوال اور څخه کار وانه خلي او خپل هېوادوال ونه وژني او د قوماندان سالارۍ خونړۍ پېښې تکرار نه کړي. په اوسنیو شرایطو او اوضاع کې د افغاني ټولنې سیاستپوهانو او روښاندو ته سترګې وراوړي. دا ویښ قشر چې د هرې ټولنې ویښ وجدان ګڼل کېږي. هغوی چې په خوارۍ او نېستۍ کې هم د ژوند درانه پېټي لېږدوي او هغوی چې د هېواد په



Ketabton.com

ستونزمن او کړکېچن حالت کې د پردیو منتونه وړي، د دوارو پر وړاندې یو ډول دنده لري، چې تل د ستړیا له احساس نه پرته د حقایقو له بربنډولو او توضیح څخه ډډه ونه شي او اکثریت غلي او زیانمن شوي خلك د ځان د دفاع لپاره وخوځوي چې په هغو کې د فشار ځواکمنه قوه رامنځته شي، دوی دنده لري چې نه یوازې تېر وخت په رښتیني ډول بیان او رابرسېره کړي بلکې روان حال هم چې د ګاونډیو د مداخلې له وجې په نامطلوب ډول پراخېدونکی دی رسوا کړي. دې بدغوښتونکو ګاونډیو له بده مرغه د خپل ګاونډیتوب حق تر پښو لاندې کړ او لا هم د ورور وژنې اور ته لمن وهي. مونږ ته پیسې رالېږي او جګړه مارو ته خپلې هوایي اډې په واك کې ورکوي. بل لوری داوطلب جګړه ییز ځواك رالېږي او درېیم لوری په دې ناروا لوبه کې د مذهبي اقلیتونو له پاکو احساساتو څخه ګټه اوچتوي او هر یو په بېلابېلو ډولونو هڅه کوي چې ځان ته منلي پلویان او زمونږ په خاوره کې ځان ته د نفوذ سیمې ترلاسه کړي. زمونږ د روښانده تاریخي تقدیر دا دی چې ددې وضعې پر وړاندې چې د وخت جبر د هغوی پر غاړه وراچولې خپل نقش ومني او په ځان تېرېدنې سره یې ترسره کړي او د پردیو پر راتپل شویو دسیسو بری ومومي.

ګرانو هېوادوالو! افغاني ټولنه او د هغې تاریخ په حرکت کې دي. هره شېبه یې له تاریخي پېښو او بدلونونو څخه ډکه ده. د ټولنې نبض هېڅوخت داسې په ګړندي ډول نه غورځېده د مانیزې او مادي بربادۍ کچه مو د وروستیو کلونو د قوماندان سالارۍ د ورانوونکو بربادیو ترحده نه وې رسېدلې.

په دې کړکېچ کې له نېکه مرغه د ټولنیز ترکیب او تاریخي لاملونو له برکته هغه څه چې پر خپل ځای نېغ پاتې دي د خپلواکۍ ساتنې، ځمکنۍ بشپړتیا او دافغانستان ملي حاکمیت ته د افغاني کثیرالملیتي ټولنې عمومي عقیده ده، چې د پردیو او



Ketabton.com

بدغوښتونکو ګاونډيو پر دسيسو سربېره عمومي ښنسټ بدلون نه موندونکی دی، د دې لوړو ارزښتونو پر وړاندې بايد هر افغان روڼ او څرګند تګلوري ولري.

دا بايد جوته کړم چې ملي استقرار او ددې ارزښتونو بشپړتيا په ناپوهۍ او د منځنيو پېړيو په ډولونو نه شي کېدی. خو اوس بايد له ناچارۍ نه دا ومنو چې د زده کړې حق هغه چاته مطرح دی چې د ژوند حق ولري، نه پرعکس که د ژوند حق د هېوادوالو ټول مدني حقونه په ځان پسې ونه لري او د هېوادوالو د نارينه او ښځينه وو د هراړخيزې ودې لار برابره نه شي دا به پټو نه وي چې د خلکو د ژوندانه ربښتينی حق د هغه تر شا پټېږي. پر حق باندې بسنه (اکتفا) د زغم وړ نه دی، دا چارو دوی ظرفيت او وړتيا نه لري.

ګران لوستونکيه! په پای کې د کتاب له نيمګړتياوو څخه وړاندې تر وړاندې معذرت غواړم، له تاسو او د نظر له خاوندانو نه دا غواړم چې په کره کتنه او د خپلو نظريو او وړانديزونو په رالېږلو زما د کتاب د دويم چاپ منځپانګه ډېره کړئ.

په درنښت

عبدالقدوس غوربندي

جرمني ــ مونشن ۲۰۰۰م کال د جولای مياشت



Ketabton.com

# سیاست ته د لیوالتیا لومړنۍ زمینې

د خلق دموکراتیک ګوند د تاریخ دیوې څنډې د شنلو (تحلیلولو) لپاره تر هغه ځایه چې د (لیکوال) او د هغه د ملګرو په سیاسي ژوند پورې اړه لري، کولای شو خبره له هغه مهاله راپیل کړو چې د شرعیاتو د مدرسې زده کوونکی وم. دا مدرسه د روانې لمریزې پېړۍ په دریېمه لسیزه کې د هېواد مینبو روښاندو (روشنفکرانو)[*] د روزنې یو کانون ګڼل کېده، رئیس یې یو آزاد خیاله مذهبي روښاندی شاه محمد رشاد و، چې په ځانخبرۍ یې د دې مدرسې د ښوونکو او زده کوونکو تر منځ د خبرو اترو زمینې اود خپلواکۍ غوښتنې د ودې لارې برابرولې. شاه محمد رشاد معتقد و: دین اومذهب له پوهې او فلسفې سره په تضاد کې نه دي کولای شو دواړه سره ونغاړو. نوموړي په خپلو اوونیزو وېناوو کې د کلام فرآورد (طرزي وار) ته یې د انسان پر شعور او عقل تکیه



Ketabton.com

ورکوله او ویل یې له نورو ژوندیو څخه د انسان لوړوالی د همدې لوی فضیلت لرل دي، چې د هغه له برکته انسان د طبیعت د ړندو اصولو او یو نواختو قواعدو پیرو نه دی پاتې شوی. د تاریخ په هر حساس پړاو کې یې د ښه او بد انګېرلو ځواك موندلی او د چارو په تر سره کولو کې تر یوه بریده خپلواك دی.

کله چې انسان له خپلې پوهې څخه وړ کار واخلي هغه کمال ته رسېږي، چې د تولو ادیانو غوښتنه ده. شاه محمد رشاد به په خپلو اوونیزو ویناوو کې د هغوی د تاریخي ارزښتونو او (اخوان اصفا) یادونه هم کوله او د مدرسې زده کوونکو ته به یې روښاندیزې (روشنفکرانه) دندې ورکولې، رشاد په ډېر ټینګار سره شاه محمود خان (د هغه مهال صدراعظم) او د معارف نور مقامونه دې ته اړ کړل چې د شرعیاتو په مدرسه کې د نورو دیني نصابونو ترڅنګ د یوې پرمختللې پوهې بنسټ هم کېږدي. د هغه په هڅو طبیعي پوهنې (فزیك، کیمیا، شمېرپوهنه، بیالوژي، جیالوژي) او نور، د شرعیاتو مدرسې په درسي پروګرام کې ګډ شول. هغه مهال په شرعیاتو پوهنځي کې د کورنیو لوړو ښوونکو ترڅنګ دعراقي او مصري ښوونکو یوه ډله هم د دیني ښوونې او نوې پوهنې چارې پرمخ بېولې. د کابل پوهنتون فارغان اړ وو چې د افغانستان د پوهنیزې سطحې ودې ته په پام سره یو بشپړ درسي کدر جوړ کړي.

په اوونیزو غونډو کې چې بېلابېل فلسفي او آن متضادې خبرې به هم رامنځته شوې، په استدلالونو او ناندریو غځېدې، دا به ډېره په زړه پورې او هراړخیزه خبره وه، زما په یاد دي چې (د دوست ګرایی تجدد) زموږ تر منځ څومره پېچلې موضوع رامنځته کړه او تر څو اوونیو د محصلینو پر ژبو ګرځېده. شاه محمد رشاد د غونډو په پای کې د محصلینو له ناستې نه پایله اخیستنه کوله، تل به یې ویل: تاسې ځوانان تر فراغت وروسته دې ته تیاری ولرئ



Ketabton.com

چې لـه ناپوهـۍ او کرغېړنتيـا سـره شـخړه وکـړئ، د خلکـو د ربنتينـي ژونـد د خرابـۍ مخـه ونيسـئ، پـه هوډمـن ډول د ديـن پلورونکـو او ګناه کـارو غـرض لرونکـو لاسـونه د هـېواد لـه لمنـې څخـه لنـډ کـړئ.

اروابناد رشـاد د زده کوونکـو د تـاريخي رسـالت پـه جوړونـه کـې د سـيد جمـال الديـن افغـان پـه تـوګه چـې د لويديـځ د ځوانـانو پـه ويښولـو کـې يـې ډېر څه کـړي او تول جـوت دي هېڅکلـه يـې نـه هېرولـه. ده څومـره چـې د روښانتيـا پـه برخـه کـې د خـبرو د آزاد چـاپېريـال پلـوی و. پـه روزنـيزو مسـايلو کې بـه يې نيمـه نظـامي بـڼه درلـوده، د مدرسـې پـر فضـا بشـپړ نظـم واکمـن و. محصليـن يـې پـر څو ډلـو وېشلي وو. د ډلـې غـړي بـه د ځانـګړو شـرايطو او انضبـاطي دسيپلينونو تـر سيوري لانـدې د ډلـې د مشـر لـه اجـازې څخـه پرتـه لـه نـورو ډلـو سـره اړيکـې نـه شـوای نيـولای. پـه وزګاريـو کـې هـم محصلينـو دا حـق نـه درلـود چـې د مشـر لـه اجـازې پرتـه د محصلينـو لـه نورو ډلـو سـره وګوري. پـر دغـو پوهنـيزو نظمونـو سربېره چـې اکثـر محصليـن خپلواکـۍ تـه لېوالـه وو، د مدرسـې چـاپېريـال ښه فضـا درلـوده، د مدرسـې د مسـوولينو نوښتونـه دوی تـه بوختوونکـي او پـه زړه پورې وو، ځکـه چـې يـو تفـاهم پـه کـې و.

د هغـې دورې پـه محصلينـو کـې چـې مـا هـم د محصلـۍ ويـاړ درلـود شـرعي جوزجـاني، عبدالوهـاب ساپـی، نظـام الديـن تـهذيب، غـلام مجـدد لايـق (سـليمان لايـق)، هـادي کريـم، محمـد يعقـوب کومـک، فيضـان الحـق فيضـان، شـفيق وجـدان، عبدالرحمـن يعقوبـي او يـو شـمېر نـور هـم وو، چـې وروسـته يـې پـه روشـنفکرانه پـاڅونونو کـې د خرافـاتو پـر ضـد برخـه واخيسـته. د دې ترڅنـګ د دې مدرسـې يـو شـمېر زده کوونکـو لـه اسـلامي پـاڅونونو سـره اړيکـې درلـودل.

د لومـړۍ دموکراسـۍ تـر مـاتې وروسـته د مدرسـې تنويـري او ښوونـيزه فضـا ورو ورو بدلـه شـوه، د لسـيزې پـه پـای کـې لـه درسـي نصـاب څخـه د طبيعـي پوهنـو ډېرش مضـامين وايسـتل شـول. د



Ketabton.com

مدرسي نوم پر (د ابو حنيفي مدرسي) بدل شو او له پغمانه بګرامۍ ته ولېږدول شوه.

هغې روڼاندي ريس اروابناد شاه محمد رشاد په يوه هوايي سفر کې له نورو فرهنګيانو او پوهانو له هغې ډلې څخه د افغانستان له فرهنګپال او اديب اروابناد محمد حيدر ژوبل سره يوځاى خپله ورو سيتۍ ژمنه ترسره کړه. د فکري او فرهنګي خوځښتونو دغو دوو سرلارو ځايونه دې تل زرغون وي. د اروابناد رشاد پوهنيزې موخې چې ډېره برخه يې د پوهې او دين روغه جوړه وه، نورنو د مدرسې په درسي نصاب کې ګډې نه وې، له مينې ډکه فضا او د راتلونکي افغانستان د کدرونو روزنه چې هېواد مو ورته تل اړتيا لري ورو ورو له منځه لاړې او د هغوى ځايونه تاريخ ته سپارل شول زړو پوهنو ونيوه، خو د رشاد پاڅون، زده کوونکي چې د هغه مهال خاطرې ورسره ملې وې، دې ته اړ ويستل چې پروسې ته دوام ورکړي، لکه څنګه چې زيات شمېر يې د بدلون غوښتونکو روڼاندو په څېر ځانونه مکلف ګڼل چې د اداري دستګاه د فساد پر وړاندې عملي مبارزې فعالې کړي.

د ويښو زلميانو پاڅون، جمعيت وطن، د ملي شورا اوومې دورې، د وړ کسانو تر مشرۍ لاندې د محصلينو غورځنګ، مير غلام محمد غبار، ډاکټر محمودي، عبدالروف بېنوا او ګل پاچا الفت د "نداى خلق"، وطن، انګار او يو شمېر نورو جريدو په خپراوي سره د هېواد ناره پورته کړه، چې د بدلون غوښتونکو او روڼاندو قشر يې رامنځته کړ. همدغه د رشادي فکري مدرسې زده کوونکي وو چې څو ځلې يې په پلې (پياده) توګه په مارشونو کې له پغمانه د کابل د زړه د ستم تر ماڼيو نفوذ وکړ او په بريندوونکو شعارونو يې د افغانستان د برحقو خلکو، خپلواکې غوښتنه او روا حقوق يې رابرسېره کول. دې روڼاندو په غونډو او جرګو کې د روحيې د لوړاوي او د ګډون کوونکو د پوهونې لپاره



Ketabton.com

د "شرعي پوهنو د مدرسې" زده کوونکو د کابل د چوب فروشۍ ساحې د مدرسې پر ځای بدلې کړې او ځانونه یې د مشروطه غوښتنې برحقه وارثان ګڼل، لکه مولوي محمد سرور واصف، مولوي عبدالواسع، مولوي عبدالرب او سلګونو نور پاڅون غوښتونکي خلك چې د خپل هېواد دخپلواکۍ لپاره یې ځانونه وښندل.

یوځل په یوه مارش کې چې مشري یې د غلام مجدد (سلیمان لایق)، عبدالحکیم جوزجاني او زما پرغاړه وه، د یو لړ ډله ییزو غوښتنو او د ملي آزادۍ غوښتنې تر نامه لاندې د دولتي مشرانو له سخت غبرګون سره مخامخ شولو او ډېر یې وځپلو. د دې تاریخي مارش ځینې کارنده غړي لکه غلام مجدد (سلیمان لایق) او نور له مدرسې څخه وایستل شول، چې وروسته د ویښو زلمیانو په ګډون یو شمېر ښېرته مدرسې ته راوستل شول او نورو یې په نورو ښوونځیو کې د زده کړې چانس پیدا کړ. غلام مجدد (سلیمان لایق) د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي او ما (لیکوال) وړاندې په لوړ تخنیك کې نومونه ولیکل د دندې او ځای بدلون داسې څه نه و چې د رشادي روښاندیز پاڅون مخه ونیسي، د دولتي کړنو پر وړاندې هم د زده کوونکو په پاڅون کې ژور غبرګونونه جوتېدل او د مبارزې رښتینوالي یې ورځ پر ورځ په ختېځ کې جرړې غځولې او پیاوړې کېدې. د پغمان د شرعي مدرسې په یاد به دوستانه غونډې کېدې. په دې ناستو کې د یوه بل منظم ګوندي (حزبي) سازمان د پرانیستنې په اړه سوچ او غور کېده. چې وکړای شي د وخت د ظلم او استبداد د مشرانو پر ضد مبارزه وکړي او د قلم د بیان خپلواکي او ټولنیز عدالت وغواړي، د استبداد په پېر کې ناستې ولاړې او لیکنې قانوني جواز نه درلود دا هم په پټه تر سره کېدل. په ملکي هوانوردۍ کې تر حرفوي زده کړو وروسته مې د کابل منډوي د ودانیو ترڅنګ کوټه درلوده.



Ketabton.com

غلام مجدد (سليمان لايق) زما د مدرسې د بهير ملګرى د (۱۳۳۶) لمريز كال پر ژمي له كابل- پلخمري څخه ادبياتو پوهنځي ته دانګرېزي ژبې د ازموينې ورکولو لپاره راغلى و، هغه مهال انګرېزي مضمون د شرعي مدرسې په درسي نصاب كې ګډ نه و. دا په ادبياتو پوهنځي كې د ګډون يو شرط و. سليمان لايق د پوهنتون د ليليو د بندېدو له وجې څو ورځې له ما سره اوسېده. د ده د اوسېدو له کبله يو بل تن هم چې عبدالستار نومېده د لوګر ولايت اوسېدونكى او دکابل پوهنتون نظامي محصل و زما کوټې ته تګ راتګ پيل كړ. دى د سليمان لايق ټولګيوال و. عبدالستار له ما سره تر پېژندنې وروسته وړانديز وكړ چې هغه يو پوه سړى پېژني چې نوى له سياسي زندان څخه خلاص شوى دى، په انګرېزي ژبې ښې خبرې كولاى شي او يو كتاب يې د "په اندلس كې اسلام" تر سرليك لاندې تر ژباړې لاندې دى. كه وغواړې له تا سره په دې كوټه كې د اوسېدو تر څنګ انګرېزي ژبه درزده كړي. ما او سليمان لايق دا وړانديز په ډېره مينه ومانه. په ځانګړې توګه چې هغه يو نظامي سړى و او څو كاله يې د سياسي زندان په سختو شرايطو كې تېر كړي وو، په هغو ورځو كې د دې سړي كتنه زموږ لويه هيله وه، آخر مو دا مهال پيدا كړ او دا ناپېژندل شوى كس له عبدالستار سره كوټې ته راغى، هغه مې د لومړي ځل لپاره په ساده وو هېوادنيو جامو او عسكري بوټونو كې چې كومه نظامي نښه پرې نه وه وليد. دا چې په انګرېزي ژبه كې پوه او برلاسى، ورسره نظامي منصبدار هم و، وضعه يې زموږ لپاره حيرانوونكې وه، هغه خپل نوم "ميراكبر" او تخلص "خيبر" راوښوده. په ښه توګه مو د دود له مخې يو بل ته ځانونه ورو پېژندل. د خبرو ور پرانيستل شو، زموږ لېوالتيا دا وه چې مير اكبر خيبر د زندان له ورځو څه كيسې وكړي، هغه خبرې پيل كړې، له خبرو څخه يې پوه شولو چې له يوه واړه ورور (بسم الله) نه پرته

بل څوك نه لري. خيبر د خپل بندي کېدو په لومړيو ورځو کې خپله مور، مېرمن او ماشومان له لاسه ورکړي وو.

مير اکبر خيبر انګريزي لوست پيل کړ، د خپلې ښوونې په لومړيو ورځو کې يې پر موږ زښت اغېز وښنده، هغه ورو ورو او په احتياط خپلې سياسي او فلسفي نظريې مطرح کولې. زموږ درې کسيزه ډلې ته د وخت په تېرېدو سره نورو ملګرو هم لار وموندله. محمد اکرم عثمان، عارف اکبري، بشير رويګر، رحمت الله، محمد موسی اتش، ذبيح الله او سيلاني چې وړاندې يې له سليمان لايق سره پېژندل، يو په بل پسې زموږ ټولی ته راګډ شول. زما په ياد دي هغه لومړی ځل و چې محمد اکرم عثمان مير اکبر ته د استاد خطاب وکړ، تر هغه وروسته د خيبر له نامه سره د (استاد) توری ورغوټه شو. يوازې زموږ په کړۍ کې نه، بلکې د ګوند د ټولو غړو پر ژبه ولوېده او ټولو مير اکبر خيبر د "حربي پوهنتون" له هغو محصلينو څخه ګاڼه، چې نظامي او سياسي تجربې يې لرلې او له دوزخي زندانونو څخه خبر و او د استاد په توګه يې د روښاندو او زده کوونکو په منځ کې په ډېره لېوالتيا سياسي فعاليتونه پيل کړي وو. خيبر به "نداى خلق" او "انګار" جرېدې په پټه حربي پوهنتون ته وړلې او دهغوی د مفکورو د دودولو لپاره به يې تبليغ کاوه. هغه به د حربي پوهنتون محصلين له بهرنيو سياسي بهيرونو څخه خبرول، له هغو کسانو څخه چې خيبر ورسره په زندان کې اشنا شوی و، يو ببرک کارمل او هغه بل چې له آره د تش په نامه ډيورند کرښې د هاخوا له خلکو څخه و او د څه مودې لپاره چين جمهوريت کې پاتې شوی وروسته يې په شاهي دارالتحرير کې د ژباړن په توګه دنده ترسره کوله او د ناڅرګند جرم له کبله زنداني شوی هم و. ببرک کارمل او مير اکبر خيبر لومړني کسان وو چې په زندان کې د دې سړي له افکارو سره آشنا شول. او "د پوهنيز سوسياليزم" ځينې ټکي يې زده کړل. د



Ketabton.com

همدي دليل پر بنسټ و چې ببرك كارمل به تل ويل: ما او خيبر د يوه استاد پر وړاندې ګونډې وهلې دي" خيبر چې د خپل زنداني کېدو پر وخت خپله ټوله کورنۍ له خپل مشر ورور څخه پرته له لاسه ورکړې وه، د زندان پر مهال کوم پایواز نه درلود. سربېره پر دې د ملګرو پر قول ولاړ او د روزګار او زندان د سختیو پر وړاندې زغم لرونکی او هوډمن و. د نفس له قناعت او عزت سره یې ژوند کاوه. تل به یې پاکې جامې چې په خپله یې مینځلې اغوستې، خوښ او ښه بنداري سړی و. د خپلو ښو اخلاقو او ښه چلند له مخې یې د نورو زندانیانو ملګرتیا او صمیمیت ځان ته ګټلې وو. خیبر چې تواضع او ځاربدنه یې د ټینګو ملګرو پر وړاندې ذاتي ځانګړنه وه، له زندانه تر خوشې کېدو وروسته د سیاسي او تشکیلاتي فعالیت په بهیر کې تر ۱۳۵۶ کاله پورې پر ټینګو نیوکو سربېره چې کارمل په ځینو برخو کې کولې، په مجموع کې یې پلوي کوله، خو کله چې پوه شو چې د کارمل ځان غوښتنه څه حد و برید نه لري، هوډ یې وکړ چې ترې بېل شي، خو له بده مرغه وخت تېر و او دې کار یې سر وخوړ.

اوس یې یو ځل بیا له پېژندنې او د کابل منډوي له کوټې څخه راپیلوو، چې د ملګرو د کتنې ځای و. د خیبر تر راتلو وروسته فلسفي او سیاسي تاوده بحثونه همالته کېدل، خیبر محبوب شخصیت او زړه راښکونکې څېره درلوده، که څه هم د پاڅون په لومړیو کې یې نظامي جامې په ځان کې وې، ډېر روښانه دي، ځوانان او لېواله خلك یې پر شاوخوا راټول شول، هره ورځ به یې د زده کوونکو شمېره ډېرېده، دا راښه فعالیتونه یې د هغه مهال د حالاتو له سترګو څخه پټ پاتې نه شول. که څه هم هغه له حربي پوهنتون څخه فارغ و، په زوره د پولیسو پوهنځي ته ورو پېژندل شو. هلته هم د ځلاندې ډیوې په څېر د سیاسي رڼا پرخپراوي چې ذاتي ځانګړنه یې وه بوخت شو. په لنډ مهال کې بریالی شو چې د

تنویري فعالیتونو مرکز شي او ډېر ښه استعدادونه پاڅون ته راوکاږي. آخر خوست ته لرې کړای شو، سربېره پردې چې په خوست کې ترڅانګړې څارنې لاندې و خو د یوه لاربنود ښوونکي او خواږه ملګري حیثیت یې نورو ملګرو ته خوندي کړ. خیبر به که د کومې غونډې مشري پر غاړه لرله او که د سرپرستې کمېټې غړی و، د یوه لوی سازمان پر ایجاد یې ټینګار کاوه، په ځانګړې توګه وروسته ترهغه چې د ۱۳۴۳ لمریز کال لویې جرګې د هېواد اساسي قانون د افغانستان د خلکو د ټولنیز او ملي ژوند د تنظیم په موخه تصویب کړ.

(د ۱۳۴۳ لمریز د تلې (میزان) پر نهمه پېټ او ښکاره سینګاروونکي، نقاب لرونکي او بې نقابه له هغه جملې څخه مدح لوستونکي، کورنې مزدوران، د ځواك جوت مبلغین د تبلیغاتي دستګاه پر غبرولو پیل وکړ). که هرڅومره د ډموکراسۍ وارثان د اساسي قانون تر ټینګښت وړاندې، سم هغه مهال چې د خپلواکۍ ورمې او د نوي اساسي قانون جوت ارزښتونه د دولتي دستګاوو له ازمېښتي نرموالي سره احساسېدل، د مشروطه غوښتونکو افغاني ځوانانو، ویښوزلمیانو، ندای خلق او د وطن جمعیت د لومړي ځل لپاره ملي او ډموکراتیکې مبارزې د ۱۳۴۲ د سنبلې (وږي) پر ۱۸مه په نوي اساسي قانون کې له جوتو ډموکراتیکو ارزښتونو څخه په کاراخیستو د تدارك کمېټې په نامه (سرپرسته کمېټه) تاسیس او وخوځېدل.

د دې کمېټې لومړنۍ غونډه په جمال مېنه کې د رضا مایل هروي په کور کې چې د ببرك کارمل په کرایه کې و، ترسره شوه، د دې سرپرستې کمېټې غړي وو: ښاغلی میر غلام محمد غبار (د جمعیت وطن مشر) نور محمد تره کی (د ویښو زلمیانو جوت غړی) علي محمد زهما (پوهاند علي محمد زهما د پوهنتوني قشر استازی) ببرك کارمل (د محصلینو ټولنې له کارنده غړو



Ketabton.com

ښځه) میراکبر خیبر (د نظامیانو کارنده استازی) محمد طاهر بدخشي (د ځوان نسل له کارنده هغو ښځه) محمد صدیق روهي (د ځوان نسل له کارندو ښځه) چې د هېواد د نسلونو په استازیتوب کې یې کارنده ونډه لرله. لکه څنګه چې په سرپرسته کمېټه کې ترټولو مشر میر غلام محمد غبار او تر ټولو کشر طاهر بدخشي وو. (پنجشېري ۱۴۹ مخ) عمومي روحیه دا وه چې کمېټه دې د کنګرې تر پرېکړو ورانده دې له دولت ښځه د یوې جرېندې امتیاز ترلاسه کړي، مقصدي اصول او د ګوند تشکیلاتي اډانه دې وشنل شي او نظرونه وغوښتل شي. په ولایتونو کې دې هم توضیحي کار تر سره شي، تر دې حده چې هېڅ غونډه بې برخې او بې خبره پاتې نه شي. اروانباد میر غلام محمد غبار چې یو سیاسي، محبوب، د طبیعي اتوریتې او ارزښتمنو تجربو خاوند و، ټینګار کاوه چې د مشروطیت پاڅون د نیمګړو دندو بشپړول به زموږ له لویو دندو ښځه وي.

ددې منلي او جوت شخصیت له فکري نفوذه د ګوند ټول داوطلبان په ځانګړې توګه ببرك کارمل ډېر خواشیني و، هغه په خپلو ځانګړو شویو مبلغانو د ده پر ضد ورانوونکي او ناوړه فعالیتونه پیل کړل او ناسم تورونه به یې پرې لګول، چې ګواکې اروانباد غبار له حکومته د سکوت حق غواړي، له بله پلوه د استثمار شویو طبقاتو د دفاع په نامه ناعملي او ناسمې طرحې ورانډې کوي او په اصطلاح په یوه غشي دوه نښانه ولي. ځکه له یوې خوا یې ډېر تاوده ساړه لیدلي او څه له پاسه نیمه پېړۍ سیاسي تجربې لري او په طبیعي توګه یې د مشرتابه حق درلوده، هېڅکله یې کوچنیو او کړکېچنو غوښتنو ته پام نه ساته، له بلې خوا د کارګرانو او بزګرانو د حقوقو د دفاع او د ټولنیز یووالي د ټینګښت په نامه یې طبقاتي مبارزې ته تړې ځوانان ځان ته رامات کړل. اروانباد غبار به د مشروطیت د غورځنګ نیمګړې دندې د



Ketabton.com

هیواد د روښانـدو پـه دنـدو پـوري تړلـي. پـه داسـې حـال کـې چـې ببرک کـارمل بـه دا دنـدې ملـي ډموکراتیـک انقـلاب او د یـوې سوسیالسـتي ټولنـې پـه جـوړښت کـې د" پـر مختللـو او نویـو اندېښنـو" پـر بنسـټ (یوهنیز سوسـیالیزم) مطـرح کـاوه.

(د اروابناد غبـار او کـارمل تـر منـځ د نظـر اختـلاف د کنـګرې د پرانیسـتو لـه نـږدې کـېدو سـره زور مونـده) اروابناد غبـار پـه توضیحـي غونډو او د حـوزو پـه کتنـو کـې ویـل "زه ستاسـو د جمعیـت د ریاست غوښتونکی نـه یم او زمـا زوی حشـمت خلیـل هـم پـه اوسنی کړکېچـن حـالت کـې نـه غـواړي چـې د ډموکراسـی د موازینـو پـر خـلاف لاړ وموسـي" (پنجشـېري، مـخ ۴۹) دا چـې ملـګري مـا د (حـق السـکوت) پـه اخیسـتو تورنـوي، نـاروا او د سیاسـي اخلاقـو لـه اصولـو څخـه لـرې کـار دی (پنجشـېري، مـخ ۱۵۰)

اروابناد غبـار بـه موثـوق اسنادونه او شـرعي قبـالې د حـوزې غـړو تـه ښودل، چـې شکونه یـې لـرې شـي. هغـه پـه یـوه مجلـس کـې چـې کـارمل، خیـبر او لیکـوال هـم پـه کـې ګډون درلـود کـارمل تـه وویـل: "کارملـه! تـر پـښو لانـدې ځمکـه دې ډېره تـوده ده، زه نـه غـواړم پـر پلـه دې لاړ شـم، زه غـواړم پـه خپلـو ګامونـو پـر مـخ لاړ شـم او تاسـو تـه لارښوونـه کـوم چـې دې حقیقـت تـه پاملرنـه وکـړئ او هغـه کتابونـه چـې د اروپـا پـه پرمختللو شرایطو کـې لیکـل کـېږي، زمـوږ پـه قبیلـه یـي او وروسته پاتې چاپېریـال کـې د تطبیـق وړ نـه دي"

دا اختـلافونـه وروسـته پـه ډېرو ناسـتو کـې څرګنـد شـول او نـورې غزونـې یـې وکـړې، خـو لـه بده مرغـه چـې وروسـته وروسـته یـې د یـو او بـل پر تورنولو لاس پورې کړ. میـر اکبر خیـبر بـه کـه څه هـم د غبـار پـر فکري لیکـې مسـایل وړانـدې کـول خـو لـه دې نـه چـې لا پـوخي جـامې یـې پـه تـن کـې وې، لـه فعـال ګډون څخـه لـرې سـاتل کـېده.

کـارمل بـه د خپلـو ځینـو موخـو لـه مخـې پـه یـو لـړ خـبرو اترو کـې خیـبر تـه ویـل "تاسـو دواړه محافظـه کـاره مشـران یـئ" پـه دې تـوګه



Ketabton.com

غبار له سرپرستي کمېټې څخه بهر کړای شو، يانې د کارمل د ځينو تحرکاتو له کبله وايستل شو او نوې جوړې شوې حوزې د ودې پر مهال د يوه ور او د الهام د سرچينې له شتون څخه بې برخې شوې چې په هماغه لومړي سر کې يې له سياسي لوبو څخه رازېږېدلی تور داغ پر تندي درلود.

ښاغلي علي محمد زهما د سرپرستي کمېټې بل غړي چې د کمېټې د پرېکړې له مخې يې له درې مياشتني بورس څخه کار اخيستی او اروپا ته تللی و، لرې کړای شو. ښاغلي صديق روهي د دې بهيرونو په ليدو له مبارزې څخه لاس واخيست، خو تر پايه د ګوند د دوست په توګه پاتې شو، مير اکبر خيبر هم چې د پوليسو سر تېري دی، د کنګرې له ګډون څخه بې برخې کېږي. که څه هم په سرپرسته کمېټه او تدارکو کمېټه کې يې غړيتوب درلود. خو هغه تر کنګرې وړاندې او وروسته ثابت و او د ګوند د لارښود په نامه يې شهرت درلود. په کنګره کې يې نه ګډون د نظامي اوسېدو وجه د توجيه وړ نه وه.

پر دې بنسټ ببرک کارمل ته څه له پاسه ډګر تش شو. هغه د تره کي پر وړاندې هم ځينې پلانونه درلودل، چې وروسته به راشي. دا چې د کنګرې تر نيمايي زيات غړي په کنګره کې له ګډون څخه بې برخې شول، د موضوع يوه خوا ده، بله خوا دا چې د ... بندګی پلاوي د منل شويو نورمونو له مخې په کنګره کې ډموکراتيک نه وو. د ولايتونو هيئتونه په کنګره کې نه وو. يوازې په همدغو ګډون کوونکو کې چې ډېره کې (اکثريت) يې له کابل ښار څخه تاکل شوي وو، په کنګره کې ۴۰ سلنه (فيصده) د حوزو غړو ګډون کړی و.

تر کنګرې وروسته ۵۰ سلنه غړي له مبارزې او سياست څخه لاس واخيست، دا حقايق د کنګرې رښتينې څرنګوالی چې په بېره



Ketabton.com

جوړه شوې وه څرګندوي، له هېواد مېشتو خلکو او ټولنو سره اړیکي ټینګ نه شول.

د کنګرې تر دایرېدو درې ورځې وړاندې د یوې دولتي دندې لپاره کندهار ته تلونکی وم. له تره کي څخه مې اجازه واخیسته، هېڅ یې هم راته ونه ویل چې کنګره دایرېدونکې ده او ته باید په کابل کې واوسې. په داسې حال کې چې د نمایندګۍ حق باید درې ورځې وړاندې په ټاکنو کې ځلېدلی وای. ځینې له یوې ۵ کسیزې حوزې څخه ۲ تنه ټاکل شوي وو، پر دې بنسټ لکه څنګه چې پېښې څرګندوي، په جمعیت کې د کارمل د پلانونو د بنسټ لومړنۍ تیږه چې پر نورو یې د اغېز ماهرانه چل زده و، کېښودل شوه او د ګوند د ودې نېغه لار یې محدوده وغوښته او انحرافېدو ته یې هڅه کوله. په سیاسي چاپېریال کې له هماغه پیله د نفاق مایه خپره شوه. د دې کنګرې ټاکل شوي غړي وو:

نور محمد تره کی، ببرک کارمل، طاهر بدخشي، دستګیر پنجشېري، شهرالله شهپر، سلطان علي کشتمند، ډاکټر صالح محمد زېری، عبدالوهاب ساپی، ډاکټر محمد ظاهر، عبدالکریم میثاق، ډاکتر شاه ولي، آدم خان ځاځی، اکرم کارګر، انجنیر خالقیار، سلیمان لایق، عبدالحکیم شرعي جوزجاني، سید نورالله کلالی، عبدالله ځاځی، عبدالحکیم هلالي، عبدالقیوم قویم، عبدالهادي کریم، عطا محمد شېرزی، ملا عیسی کارګر، غلام محی الدین زرملوال، محمد حسن بارق شفیعي، محمد ظاهر افق، نوراحمد نور، عبدالقدوس غوربندي او اسمعیل دانش.

د پورتني نیولیک له ډلې څخه لومړني اووه تنه د مرکزي کمېټې اصلي غړي او تر دوی وروسته تر یوولسو پورې د مرکزي کمېټې علی البدل غړي وو، چې د کنګرې له خوا وټاکل شول او وروستي دوه تنه له دې کبله چې په کندهار او د سمنګان ولایت په



Ketabton.com

صوف دره کې خدمتي وو، د کنګرې د تدویرېدو پر شپه کابل ته نه شول رسېدای خو په زیان رسولو کې یې کارنده ونډه واخیسته.

زه (لیکوال) پر بله شپه کابل ته لاړم او نېغ د نور محمد تره کي کور ته چې د ګوند د منشي په توګه ټاکل شوی و، لاړم. د کنګرې بهیرونه او زیانونه یې تایید کړل او خپلې نظریې مې ورته وویلې، په لومړۍ کنګره کې باید بنسټلیك او مرامنامه تصویبېدل او د رهبري هیات ټاکل کېدل دا چې تر تصویب وړاندې موخې او مبارزه همداراز د رهبري ګوند د کورني ژوند نورمونه ټاکل شوي و، حیران شوم، تره کي هڅه وکړه چې په مهربانۍ سره زما اند پښننه لرې کړي. هغه وویل دنده راکړل شوې چې ډېر ژر د موخو تولنیز اصول طرح او تصویب شي. د یادونې وړ ده چې ارواښاد محمودي په لومړۍ ډموکراسۍ کې ځلانده کس و چې په خپلو مقصدي اصولو کې یې د "مشروطه شاهي نظام، پارلماني ډموکراسۍ، ټولنیز عدالت او د اداري فساد پر ضد مبارزه" شعارونه ورکول. خلکو په کابل ښار کې له ده سره ځانګړې مینه درلوده. ده نه غوښتل په هغو ناستو ولاړو کې چې کارمل په کې د کیلۍ نقش درلود، ګډون وکړي.

ارواښاد ډاکټر محمودي په ګوند کې د کارمل برخلیك په زیان کې لیده، هېڅکله چمتو نه شو چې ورسره اړیکي ونیسي. د یادونې وړ ده چې د کنګرې ځینې ګډون کوونکي د کنګرې د کار په پای کې سره له دې چې په دې تاریخي شپه کې یې ددې جوړښت زیانونه د روغې جوړې او د هېواد ګټو ته یو ضروري ګام باله او یو اوبل ته یې مبارکي ورکوله، خو له مضمون، بڼې او د ترسره کېدو له نېټې سره یې یووالی نه درلود. د کنګرې د فضا پر څرنګوالي او د هغې پر وړاند بڼې سناریو یې چې د ټاکلو کسانو لپاره یو ډول زمینه جوړول وو نیوکه کوله. زما (لیکوال) په یاد دي غلام محی الدین زرملوال پر دې بڼې چې د هغه په نظر زموږ د



Ketabton.com

سیاسي فرهنګ پر بنسټ یوه کرغېړنه او پردې صحنه جوړونه ده. سخته نیوکه درلوده او خپل اړیکې یې پر شخصي دوستۍ سربېره له نور محمد تره کي سره پرې کړل.

ادم خان ځاځی، عبدالقیوم قویم، ډاکټر محمد ظاهر څدراڼ او ملا عیسی ... تر کنګرې وروسته په لنډه موده کې د ګوند په لیکو کې له مبارزې څخه لاس واخیست، یو شمېر نورو بیا وروسته له ګوند سره مخه ښه وکړه، خو پردې نیمګړتیاوو سربېره ګوند یو ګام وړاندې ته. د کارګرانو، بزګرانو، خواریکښو او روښاندې ځوان پوړ د (افغانستان خلق ډموکراتیک ګوند)په وجود کې د ظلم او استبداد پر ضد مبارزې ته تږې وو. چې ټولیزه پوهه یې باوري مشر او ډاډ ترلاسه کړل. ګوند د انقلابي کارګرانو، بزګرانو او روښاندو په تشکل او مینه کې وړاندې و. او پرې یې نه ښودل چې ډګر سازشکارانو او فرصت غوښتونکو ته چې د سلطنتي دستګاه د ستنو د ځواکمنېدو لپاره یې فرمایشي ګوندونه جوړول، تش پاتې شي. په داسې حال کې چې له هر فرصت څخه یې د ټولنیزو ارادو او د خلکو غوښتنو او هوډ د دې غوښتنو ترسره کول په ټولو خلکو او رڼاندې پوړ کې ژوندی و هڅه یې کوله چې تظاهرات غوسو ته ونه غځېږي په ډېر احتیاط یې د ځاني او مالي تلفاتو مخنیوی کاوه، د ګوند خپرندوی اورګانونه چې د لومړي ځل لپاره په لوی تیراژ او څه له پاسه ټول نوي او په زړه پورې موضوعات خپاره کړل چې د الهام سرچینې وګرځېدې. د جریدې په سرلیک کې به لیکل شوي وو: "د افغانستان د مظلومو خلکو لویو رنځونو لپاره" د ظلم او استبداد ستنې یې ولړزولې، هغه ورخ چې خلق جریدې، د ګوند پېژندنه په پښتو او دري ژبو خپره کړه، سلګونو روښاندو ځوانانو، د ځوانو کارګرو د طبقې استازو په داوطلبانه توګه د هغو د خرخلاو دنده پرغاړه واخیسته او په لوړ غږ به یې سرلیکونه لوستل. د هر یوه



Ketabton.com

پلورونکي چاپېر به ډېر خلك سره راغونډ وو. د جريدې مينه والو به په ډېرو ستونزو سره پلورونکي ته ځانونه رسول او ګنې به يې رانيولې، رښتيا هم خلق جريده د خلق په يوې ځواکمنې وسيلې بدله شوې وه، چې له بده مرغه دا ځلاند ستوري تر شپږو ګڼو وروسته د آزادو مطبوعاتو په هسك کې د استبدادي نظام د استازو له خوا چې آزاد مطبوعات او ډموکراسي يې له خپلې واکمنۍ څخه بهر ګڼل او اساسي قانون يې د نوي ټولنيز جوړښت د ځواکمنېدو لپاره په خپله ګټه تفسيراوه تت شو. تر دويم ګوندي کنفرانس څخه وروسته پر ۱۳۵۶ المريز کال پرچم جريده د ګوند د دويم نشراتي ارګان په توګه ومنل شوه.

د ۱۳۴۷- ۱۳۴۹ کلونو تر منځ د پرچم د چلولو چارې د ببرك کارمل پر غاړه وې، دې جريدې هم پر خلکو په ځانګړې توګه د ځوان او روڼاند قشر پر ويښولو لوی اغېز وښيندو او د پردې تر شا د لوبغاړو د لوبو په بربنډولو او په اصطلاح د ډموکراسۍ لسيزې ته يې ډېر ستر خدمتونه وکړل. د پرچم جريدې په پاليسۍ کې د ببرك کارمل او مير اکبر خيبر تر منځ اختلافونه پيدا شول. مير اکبر خيبر به د يوې ملي خپرنيزې ليکې د تعقيبولو پلوی و او د نړيوالو مسايلو طرحې يې هغه هم په يواړخيز قضاوت سره د ګوند ملي حيثيت او شهرت ته لوی او وژونکي ګوزار ګاڼه، د بېلګې په توګه به يې کينې اړخي انقلابي ګوندونه او نور هېوادونه يادول چې د خپلو بې خبريو له کبله يې د خلکو ملاتړ له لاسه ورکړی و.

پر ۱۹۶۸م کال چې کله شوروي پر چکسلواکيا باندې يرغل وکړ پرچم په بېړه هغه نړيوال او ژغورنده وباله او تاييد يې کړ، ليکوال د لومړي ځل لپاره د مير اکبر خيبر او ببرك کارمل د ناندريو شاهد وم. خيبر د نور او بريالي په ودانۍ کې د خروشنده رود ترخنګ چې د ګوند د مرکز په توګه ترې کار اخيستل کېده،



Ketabton.com

په غوسه ناکه څېره رانئوت او پرچم جريده يې چې په موټو کې مرورلې وه، په غوسې سره پر مېز ووهله. په داسې حال کې چې له قهره يې غرږ رېږدېده، کارمل ته يې غږ کړ او ويې ويل. د ليکنې کوم هيات پرېکړه کړې چې ستاينې (مديحې) وليکو او پر دې حرکت چې نړيوال اړخ لري، د نړيوال تاييد ټاپه ولګوو؟ زموږ ګوند د دې مطلب په څېرولو سره په خپله خپلې پښې په تېشه ووهلې او دا ورته له خلکو نه تجريد او د هغو د ملي څرنګتيا د مغشوشېدلو په قيمت تمامه شوه. کارمل په نرمه ژبه او ماهرانه انداز چې د وخت پېژندنې له ځانګړنو څخه يې و وويل: داسې وخت ډېر لرې راځي، بايد د ځان تثبيتولو ته ترې کار واخلو، تاسو دا مسئله جدي مه نيسئ بيا به سره وغږېږو. خيبر بيا هم په جدي توګه ځواب ورکړ: موږ بايد خپلو خلکو ته د خپل خلق په قضاوت کې دا تثبيت کړو، زموږ برخليك دلته په افغانستان کې تثبيتېږي.

په بريالي توګه مو د ملي دندو ترسره کول وړاندېنې څېز دی. هغه ګوند چې ملي اعتبار ونه لري، لوی کار نه شي کولای. دا خبرې اترې پرته له دې چې يو لوری هم بسيا شي، تر نيمې شپې پورې روانې وې. د شپې په وروستو شېبو کې زه (ليکوال) او خيبر له کوټې څخه ووتو، پر دې وضعې سربېره پرچم خپرونه بيا هم روانه وه. دوديزو ارزښتونو او ملي اندونو ته يې ډېر درنښت نه کاوه. لکه څنګه چې په يوه شعر کې "لينن" ته درود ويل شوی و.

دې کار ډېر ملايان غبرګونونو ته اړ کړل او له ټولو په ځانګړي توګه کابل ته له نږدې ولايتونو څخه، ډېر شمېر په پلخشتي جومات کې سره راټول شول. د پرچم او په ټوليزه توګه يې پر مطبوعاتو خبرې وکړې. دوی د جريدې بندېدل، د شاعر او مسوول مدير محکومول غوښتل. سليمان لايق د جريدې مسوول مدير په توګه که څه هم د دې شعر د خپراوي مخالف و، خو د کارمل د



Ketabton.com

ټینګار لـه کبلـه یـې ونـه شـو کـړای د هغـه د خپـرېدو مخـه ونیسـي، چې لویـه هنګامـه یـې راوپارولـه.

ګونـد د کنګرې تـر جـوړېدو، د ټولـیزو موخـو د اصولـو تنظیـم د خلق جریـدې تـر خپـرېدو وروسته لـه پارلمـاني مبـارزې سـره مخـامخ شـو او د خپـل طرحـه شـوي سیاسـت لـه مخې یې د ۱۲مـې او ۱۳مـې دورې پـه ټاکنـو کـې ګډون وکـړ او د سـلګونو غونـډو پـه جوړولـو او د بیـانیو پـه ورکولـو سـره یـې خپلـې موخـې پـه ښه تـوګه توضیـح کـړې. خو پـه همدې تـرڅ کـې د ببـرک کـارمل او نـور محمـد تـره کـي تـر منـځ پـر همـدې موضـوع نـاندرۍ پیـدا شـوې، هـر یـوه بـه پـر ۱۳۴۴ل د افغانسـتان پـه پارلمـان کـې د ګونـد مشـرتابه څوکـۍ غوښتـه. پـر دې کـال ګونـد پـه کـابل ښار او یـو شمېر ولسـوالیو کـې ټاکلـی اغـېز درلـود. پـه ولایتونـو کـې یې شتون محسوس نـه و، نـور محمـد تـره کـي استـدلال کـاوه چې زه د ګونـد مشـر یـم، پـه کـابل کـې بـاید زمـا د ټاکنـو لپـاره د ګونـد ټول امکانـات پرکـار واچـول شي. پـه داسـې حـال کې چې ببرک کـارمل ویـل: تـره کـي پـه کـابل کـې یـوه پـېژنـدل شـوې سیاسـي څېره نـه ده، نـو څکـه پـه ټاکنـو کـې وړ راښکـون نـه لـري. برعکـس زه د یـوه پـېژنـدل شـوي سیاسـي کـس پـه تـوګه د کـاندید لپـاره وړ یم، پـه درېیمـه او څلورمـه حـوزو کـې ډاکـټره اناهیتـا راتـبزاد د یـوه څواکمـن کـاندید پـه تـوګه د ګونـد پـر ضـد لـه خوځوونکـو شـعارونو او وینـاوو سـره ډګر تـه راوتـې وه او د ګونـد امکانـاتو پـه ځانـګړې تـوګه د نجونـو او مېرمنـو بـې دریغـه مرسـتې او ملاتـړ ورسره وو چې پـه پـای کـې لـه کابلـه ببـرک کـارمل او ډاکـټره اناهیتـا راتـبزاد کـاندید او بریـالي شـول. تـره کـي د غزنـي ولایـت لـه "نـاوه" ولسـوالۍ نـه ونـه شـول کـړای پارلمـان تـه لار ومومـي، کـه څه هـم دا خبره د تره کـي د ډېرې خواشینۍ سبب شـوه، خـو هغـه چې د ګونـد د وحـدت تـر څارنـې لانـدې د ګونـد د مرسـتیالۍ لومړنـۍ درجـه مسـوولیت پرغـاړه درلـود، پـه دې هـڅه کـې شـو چې دا خواشـیني پـه



Ketabton.com

کدرونو او ټولیو کې بېلتون رامنځته نه کړي، خو ګوندي څارنه او د ځواکمنولو مرکزیت دې ټینګ شي او پارلماني فرکسیون دې بېخي ددې مرکزیت تر واک لاندې کار وکړي او له هر ډول ناوړو خوځښتونو څخه دې ډډه وشي. د ګوند استازي دې د ګوند د مرکزي کمېټې تر پرېکړې وړاندې خپل وړاندیزونه او ویناوې وړاندې کړي. کارمل په دې پلمه چې د ورځنیو خبرو اترو په بهیر او د راتلونکي ژغور لپاره دا وخت نه لري او وروسته ګزارش ورکوي. دا بندیزونه ونه منل او له همدې ځایه اختلافونه ډېر شول.

له همدې امله کله چې ببرک کارمل او نور احمد نور په پارلمان کې د پارلمان د یو شمېر وکیلانو له ټکولو او ګواښونو سره مخامخ شول، نور محمد تره کی له اړتیا پرته له زیاتې شهرت غوښتنې څخه راټوکېدلې پایله وګڼله او د ګوند د غړو له اعتراضي مظاهرو سره یې مخالفت وکړ. خو طاهر بدخشي د ببرک کارمل په پلوي یوه اعتراضیه مظاهره جوړه او په کې یې ګډون وکړ. پر همدې مهال نور محمد تره کي او ببرک کارمل هڅه کوله چې د ګوند په دننه او هم د خپلو پلویانو کدرونو په غونډو او مظاهرو کې ځانونه وښیي، د کارمل پلوي کدرونو له خولې څخه اورېدل کېدل چې پر ګوند قبیله یي غرور حاکم دی، نور محمد تره کي په تصمیمونو او پرېکړو کې اکثریتو ته نه ګوري، نور محمد تره کي وروسته پاتې طرحې لري. په دې توګه د دې دوو تر منځ اختلافونه تر حد ډېر سخت او په حوزو کې هم منعکس شول. لیکوال پر دې اختلافونو له پوهېدو سره او د هغو په اندېښنه کې میر اکبر خیبر ته چې هغه مهال خوست ته تبعید شوی و، لاړم چې وضعه ورته وښیم او مشوره ترې وغواړم.

د شپې (۹) بجې خوست ته ورسېدم، هلته نابلد وم او د خیبر کور مې هم نه و لیدلی. په بازار کې کوم هوټل نه و، یوه سماوار ته ولاړم او چای مې وغوښت. د سماوار په بل کونج کې دوه ځوانان

په خپلو کې پر خبرو لګیا وو. له ځینو ټکو نه یې ښکارېدل چې سیاسي خبرې کوي، اورېدلي مې وو چې خیبر په خوست کې تر یو ډول ځارنې لاندې دی. ومې نه غوښتل چې له دوی څخه یې پته وپوښتم، کله چې راته ځیر شول چې دریشي مې په ځان کې ده او دخوست له اوسېدونکو څخه نه یم رانږدې شول، تر روغبړ وروسته یې وپوښتم چې له کابله راغلی یې؟ ورته ومې ویل: هو!

- د رسمي دندې لپاره راغلی یې.

- نه

- څه موده وروسته سماوار تړل کېږي، ته ځای لرې؟

- نه!

موږ په دې نږدې ځای کې کوټه لرو، که وغواړې زموږ مېلمه شه، په خوښۍ سره مې ومنله او روان شولو. کوټې ته چې ورسېدو بیا یې راته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، موږ ښوونکو له دې کبله چې کورونه مو لرې دي او تګ راتګ ستونزمن دی. ترانسپورټ هم منظم نه دی دا کوټه مو کرایه کړې. ددوی دا خبرې او د ناآشنایۍ په چاپېریال کې دوستانه وضعې ماته دا زړه راکړ چې د خپلې پردېسۍ وجه چې د یوه ملګري کتنه وه ورته ووایم. ګوندې زما د ملګري پته ورته معلومه وي. د میر اکبر خیبر د نوم په اورېدو یې په مخونو کې د خوښۍ رڼا خوره شوه. دواړو وویل: ښاغلی میر اکبر خیبر زموږ درون استاد دی، په خوست کې د هغه تر راتګه وروسته پر محدودیتونو سربېره ځینې ځوانان ورسره ګوري او له مجلس څخه یې خوند اخلي، چې په دې برخه کې ښوونکي تر نورو یو څه وړاندې دي. دوی په وار سره د هغه پوهې زده کوونکو ته رسوي. د استاد خیبر له برکته په دې لرې پراته ګوټ کې سیاسي خبرو دود موندلی او موږ ورته ډېر لېواله یو. تاسو د شپې دلته پاتې شئ، سبا به دې هغه ته بوزو. سبا ته یې تر چای څښلو وروسته په یوه بګۍ (د اس ګاډي) کې چې دوی یې



Ketabton.com

کرایه ورکړې وه، د خیبر د ماموریت استوګنځي ته ورروان شوم. ښوونکو راته وویل: له دې نه چې د استاد کارځي ته ورځې هلته نور پولیسان هم دندې لري، د احتیاط له مخې چې استاد راته ویلي، موږ هلته نه ځو، سره بېل شولو. بګۍ روانه شوه تر نیم ساعت وروسته هغه ځای ته ورسېدم. دا خبره دود شوې چې خوست په یوه کال کې دوه پسرلي لري، د تلې میاشت هم د موسمي اورښتونو له کبله چې د هند د سمندر له اغېزې د پسرلي تازه ګي او طراوت لري. استاد هم له ښې هوا څخه په کار اخیستو خپل مېز د اداري مخې ته ایښی و، له لرې یې ولیدم، راغی. د اداري شاوخوا ډېر وګرځېدو، د کابل له وضعې څخه مې خبر کړ، ویې پوښتلم: ستا په اند د نظر اختلافونه یې سیاسي څرنګتیا لري؟ ومې ویل: زه خو په دې منځ کې د نظر کوم سیاسي اختلاف نه وینم، دوی چې یو بل تورنوي ګومان کوم د ځان غوښتنې له وجې به وي. ښاغلي خیبر تر یوه ځنډ وروسته وویل: د بېلابېلو ښو خپلول او سیاسي موضعګیري د هرچا حق دی، چې د وضعې د ارزونې او شننې پر بنسټ باید په خپلواکه توګه ترسره شي. تاسو خپله تصمیم ونیسئ له خندا سره مې وپوښت: ستاسو هوډ څه دی؟ ګومان کوم بېلتون به راغلی وي، د کوم اصولي اختلاف له نشتوالي سره سره هېڅ لوری چمتو نه دی چې د ګوند د تولیزې روغې جوړې لپاره یو بل وزغمي، هره ورځ د ورانکارۍ او تورونو لمن پراخېږي. زه غواړم د راروانو پېښو په اړه ستا پر نظر پوه شم.

خیبر د دې پوښتنې پر وړاندې چې بیا رامنځته شوه، یو څه غلی شو، وروسته په داسې حال کې چې زما سترګو ته ځیر شو ویې ویل: که په کابل کې وای په یوازې ځان به مې هڅه کوله چې لانجه پای ته ورسېږي، خبره تر بېلتونه ونه غزېږي. او د ګوند څواك بې ځایه لاړ نه شي. په دې شخړه کې کومه مهمه خبره هم نه تر سترګو کېږي، نه پوهېږم دوی څنګه جرات کوي چې په ګوند



Ketabton.com

کې ببلتون او لرېوالی رامنځته کړي. دا ببلتون زموږ نوي جوړ شوي ګوند ته جبران نه منونکی زیان رسوي. موږ له کینو او دښمنیو څخه ډکو رقابتو سره مخامخېږو، اوس انتظار کاږم چې دواړه لوري که دلیلونه ولري واورم، ما په زندان کې له کارمل سره وپېژندل، د اشنایي ګډې خاطرې او ځانګړې ملګرتیا لرو، موږ د یو بل مالګه او ډوډۍ خوړلې او په اصطلاح له کارمل سره مې د جنټلمینۍ لاس ورکړی. زه پر خپلې ژمنې وفاداره یم. اروابناد میر اکبر خیبر د نارینتوب یوه ستره ځانګړنه لرله یانې پر خپلې ژمنې وفا کول یې یوه ذاتي کړنه وه، د سیاسي فعالیتونو په بهیر کې به یې که څه هم ځینې وختونه پر کارمل سختې نیوکې کولې ان کله کله یې محکوماوه، خو په مجموع کې یې پلوی و. لکه څنګه چې پر ۱۳۵۶ المریز، ځیر شو چې د هغه ځان غوښتنه او قدرت غوښتنه حد نه لري، له پلوي څخه یې لاس پرسر شو ان د هغه پر ضد یې په ګوند کې اصولي مبارزه پیل کړه، هر ډول ځاني اړیکي یې ورسره پرې کړل، خو له بده مرغه وخت تېر و او دې کار یې ژوند واخیست.

اوس راګرځو د ۱۳۴۵ او ۱۳۴۶ کلونو پېښنو ته، د خیبر د خبرو تر اورېدو وروسته مې په بېرته ستنېدو کې خپل لوری او موضوع وټاکل، غوښتل مې چې زما انقلابي مینه او شور چې د قدرت غوښتونکو مشرانو د ببلتون غوښتونکي روحیې له وجې مړه شوي وو، بیا راوپارېږي. یو ځل بیا مې ځان له خپلو سیاسي موخو سره ژمن احساساوه. کله چې کابل ته ورسېدم، نېغ د کارمل لیدو ته لاړم چې د خیبر تړل شوی لیك او د خپل سفر ګزارش ورکړم. هغه د خپل همېشني عادت له مخې په غېږ کې ونیولم او په ظاهره صمیمانه لهجه یې وویل: "غوربندی! ربنتیا وایم که خیبر او د هغه ملګري د پټې مبارزې له پیلـه تر دې مهاله راسره نه وای، نه به کنګره وه او نه به داسې ګوند. خیبر په ډېره مېړانه اوږه



Ketabton.com

راکړي، ګومان کوم همداسې به تاکل شوي وي چې زه او خيبر په ګډه د خپل هېواد په تاريخي برخليك کې رغنده نقش ولرو. کېدی شي مخالفين او سيالان به غواړي چې دا ملګرتيا خرابه کړي، خو ډاډه واوسئ هېڅوخت به بريالي نه شي. زموږ ملګرتيا د روزګار تودې سړې ليدلي او ښه ازمويل شوې ده. دا ملګرتيا زموږ د ژوند د څو کلونو پانګه ده چې په دې پانګه کولای شو حياتي پروژې جوړې او د هېواد سياسي بنسټ ودان کړو. او تر څنګ يې د مخالفينو منفي او کينه ګر حرکتونه شنډ کړو. بايد تر هرڅه دګوند کدرونو او کارنده غړو ته پام واړوو او په هڅو او هاند ورسره مرسته وکړو چې د سياسي مبارزې په لړۍ کې خپل وړ ځای ومومي او له لارورکۍ څخه وژغورل شي. هغه راتلونکی مو مخې ته پروت دی چې له ماتو او برياوو څخه ډك دی، له موسکا سره يې زياته کړه: په يوه توره شپه کې پر نرۍ او نامونډل شوې لار يو بل ته لاسونه ورکوو او پرمخ ځو "ماېې په خندا خبره ونيوه او ومې ويل: "د ګناه ګانو له بارسره مل پر صراط پله تېرېدل ستونزمن دی، هغه ناوړه تورونه چې ګونديان يې پريوٌبل لګوي د ګناه ګانو بار دی" په جدي توګه يې وويل: وروستنۍ موخه د خلکو خدمت دی، په نوي انداز د خلکو د غوښتنو په خدمت کې شئ، د خير، شر، ګناه او ثواب د قضاوت چورليز (محور) د خلکو د خدمت په کچ کې نغښتی دی، تاسو پوهېږئ چې موږ په نيم علنيو شرايطو کې مبارزه کوو، د جلسو او خبرو اترو لپاره وخت نه لرو. په بيړه مې وويل: لږ تر لږه کدرونه خو بايد وپوهول شي چې له شخصي غوښتنو څخه لاس واخلي. ويې ويل: ښه وايې، دا خبره بايد له تره کي سره شريکه کړو، هڅه کوو چې په شخصي اړيکو د تېروتنو او کينو مخه ونيسو. په پام کې لرو چې په احتياط سره هغه شمېر ګوندي کدرونه چې د غور او کړنې له مخې ورته والی لري سره راټول شي او تصميم ونيسي، تاسو اندېښنه مه کوئ، په



Ketabton.com

ډېر بد حالت کې به هم د ملګرو له اوږو څخه بار کمېږي او هرڅه به په نورمال ډول پرمخ ځي. وروستۍ جملې يې داسې وويلې چې نه غواړي په دې برخه کې نوروحدي خبرو اترو ته ورګډ شي. او نوره شننه پرې وکړي. کله چې د کارمل له کوره ووتم، هڅه مې وکړه چې د خبرو اصلي مفهوم يې له ځان سره وارزوم، دا بايد ووايم چې پر هغه مهال د کارمل له کړو وړو او ځانګړنو (خصوصيتونو) څخه په پوره توګه خبر نه وم. توندې خبرې، ښه لهجه او د هغه د سياسي طرحو لېږدونې سرعت مې خوښېده.

کارمل د خلکو په ارواپوهنه کې برلاسي لرله او د خپلو ربنتينو نيتونو په پټولو کې استاد و. ګونديان يې په رياکاريو، چل او دوکې خپلول او تر هغه ځايه چې سياسي ګټه به يې وه، ښه ملاتړ به يې کاوه، کارمل تلپاتي دوست او دښمن نه پېژندل، خلك به يې تل د هغوی د وفادارۍ د سطحې پر بنسټ بدلول او په سياست کې يې د اخلاقو ونډه تيټه ګڼله. د روسانو په ستاينه کې يې ان د غوبي تر اوومې نبتې وړاندې له هېڅ ډول مبالغې څخه سپما نه کوله، د هغه د څو اړخيز کرکټر په اړه به پر خپل ځای وغږېږو.

کارمل د ۱۳۴۵ل کال تر ژمي پورې مونږ ته د ډګر اتل و او مونږ په خلاص نيت او مينه د هغه ملاتړي وو، د هغه د لاربنوونو په ترسره کولو کې به مو ناغېړي ګناه ګڼله. په حوزو کې مخالفتونه او ستونزې ډېرېدونکې وو. د مشرانو پر ضد تورونه لګېدل، د استبداد ضد ځينې رښتينې مبارزين به د دې وضعې په ليدو خورېدل او لوړو مقاماتو ته يې شکايت کاوه، خو کله چې يې ګټه ونه ليده او خپله مشران يې له هغو سره برخمن وليدل، نهيلي شول او مبارزه يې پرېښوده، کارمل په يوه تحليلي غونډه کې په غوسه ناکه لهجه وويل چې په سياسي پاڅون کې ساده او د هغه ضد عنصرونه د نور محمد تره کي پر شاوخوا راټول شوي او په قبيله يي نورمونو غواړي د اداري او ګوند پر چارو مشري وکړي.



Ketabton.com

دي خبرو پر تره کي د چاپېرو سيمه ييزو کدرونو تونـد غبرګون راوپاراوه. کارمل تر لومړي بېلتونه وړاندې د خپلو ګوندي پلويانو درې غونډې د ۱۳۴۵ په ژمي کې وکړې، يو ځل د هادي کريم په کور د کابل په شهرارا کې بل ځل د سلام جان (کلان) په کور مراد خانی کې چې خپل وړاندېنی مطلب بنه توضيح کړي. دا غونډې د کارمل پلوي کدرونو د ۱۶ تنه ګډون کوونکو له خوا کېدې، هغه غونډې چې د کارمل تر نبغې مشرۍ لاندې د ګوند له عمومي منشي (نور محمد تره کي) څخه په پټه تر سره شوې، په حقيقت کې د ۱۳۴۶ لمريز کال د غويي د ۱۴مې نېټې د بېلتون پيل دی، چې په هغو کې کدرونو او کارنده ګډون کوونکو ته د ګوند د لويې برخې پر ضد تبليغاتي فارمولونه ورکول کېدل. په زغرده ويلای شو چې په ګوند کې د لومړني بېلتون او د لس کلنې لويې غميزې پړه د ببرك کارمل پر غاړه ده.

تر بېلتونه وروسته د دواړو غاړو ځواکونو د دې پرځای چې د سلطنتي نظام د ظلم پر ضد اوچت شي. فاسدې دستګاوې ړنګې کړي او سياست ته لېوال ځوانان راجلب کړي د يو او بل په ورانۍ پسې يې ملاوې وتړلې، د پاخون فضا د پروپاګندو په زهرجنو لوخړو زهرجنه شوه. د لړم د دربيمې، د مې د لومړۍ، د وړې د لومړۍ نېټې مظاهرې او د پښتونستان جشن د دوو ګوندونو د شخړو پر ډګر بدل شو او په ټولېزو (عمومي) ذهنونو کې يې اعتبار لږ شو. ورو او له عقدو څخه ډکو ټولنو څه د پوهنتون په علمي چاپېريال او څه په لېسو او څه هم په کارګرانو کې د تبارز وخت پيدا کړ.

لنډه دا چې د يوه داسې ګوند اختلاف او ټکر چې هېڅ ډول عقيده يي او سازماني بنسټ يې نه درلود او يوازې د وګړو د ځان غوښتنې او ځاي غوښتنې محصول و، نه يوازې د لس کلنې بې ځايي ناندرۍ سبب شوه، بلکې تر هغه وروسته يې له دواړه غاړو



Ketabton.com

ځخه ډېرې قربانۍ واخیستې چې تر ننه یې دروندوالی او اغېز پر موږ راپرېوتې دی. پرچم تر دې بېلتونه وروسته یو څه کمزوری شو، رحمن بابا، خوشال خان خټک، ښوونځي دارالمعلمین او د کابل پوهنتون سیمه ییزو محصلینو په یوې بې ساري تلوسې او ډېر څومره والي په مظاهرو کې ګډون وکړ او پرچمي کدرونو ته یې د خبرو کولو وخت نه ورکاوه، دا مسئله که څه هم ډېره ارزښتمنه نه وه خو کارمل یې چې تل یې ځانښودنې ته ارزښت ورکاوه، وځوراوه او یوه کمېټه یې وټاکله چې دخلقیانو، په ځانګړې توګه د نور محمد تره کي پر ضد د پروپاګندې توکي (مواد) برابر کړي. کمېټې د محمد حسن بارق شفیعي په کور د ټایمني په سیمه کې غونډه وکړه. د کارمل په غوښتنه یې د تره کي ژوند لیک د شبنامې په څېر په پراخ ډول خپور کړ. په شبنامه کې یې راوړي وو چې نور محمد تره کی څنګه د عبدالمجید زابلي په خدمت کې و. شبنامې به ویل: هغه د یوې امریکایي موسسې له خوا استخدام شو او هند ته لاړ، هلته یې په یو امریکایي ښوونځي کې لوست وکړ او د ویښو زلمیانو په غورځنګ کې یې ګډون درلود. خو کله چې د ویښو زلمیانو غړي زندان ته واچول شول، نور محمد تره کی په امریکا کې د افغانستان سفارت د مطبوعاتي مشر په توګه وټاکل شو. کله چې سردار محمد داود خان د خپل صدارت پر مهال شوروي اتحاد ته نږدې شو او په یوه مطبوعاتي مرکه کې یې د هغه پر ضد وویل: هغه د اختلاس دوسیه لري. له دې جعلیاتو ځخه دا پایله لاسته راځي چې نور محمد تره کی د امریکا جاسوس او د (سي. آی. اې) غړی دی. کارمل عادت درلود چې خپلو مخالفینو ته (سي. آی. اې) ووایي چې دا لفظ یې نورو ته هم ډالۍ کړی دی. چې پرخپل ځای به ورته کتنه وکړو. د کارمل په لارښوونه دا پېژندلیک د شبنامې په توګه خپور او په مرکز او ولایتونو کې ګوندي غړي د هغه خپراوي ته مکلف شول. د تره کي د پېژند لیک



Ketabton.com

خپربدل د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ د منفي او متقابلو تبلیغاتو نوې څپه راوپاروله، په پوهنتونونو او ښوونځیو کې محصلین او زده کوونکي همدا راز ګوندي کارکوونکي په ادارو، تولیدي موسسو او فابریکو کې د خپل مشر د پلوي په نامه د یو بل پر ضد هڅې کولې، تورونه یې لګول ان خبره به فزیکي و هلو ټکولو ته هم رسېده، د منطقي سوچ او [خاوندان] باسویه کسان دې حالت ته په کتلو سره له خپلو دندو څخه لرې شول او یو شمېر یې له نورو سازمانونو او ګوندونو سره یو شول. د دې ټولو ګډوډیو او ناسمو حالاتو پړه د ګوند د غړو پر غاړه وه، چې په ډېر زغم یې د خپلو مشرانو د ګناهونو کفاره ادا کړه خو په خپل هوډ کې ښه په زغم سره پر مخ تلل، کورنیو غړو به په مظاهرو کې خپل خپلوان هم له ځانه سره راوستل او د پښتونستان بیرغونه به یې په لاس کې له میوند واټ څخه په شعارونو سره غازي لوبغالي ته روانېدل اولوی شور به یې جوړاوه، په دې مارشونو کې به د پښتونستان غورځنګ مشر پاچاخان ته ترټولو وړاندې روان و.



Ketabton.com

# د پښتونستان ستونزه

له دې نه چې د پښتونستان ستونزه د افغانستان يوه تاريخي توده ستونزه ده او د ګوند په پنځم تولېز مقصدي اصولو کې د پښتنو د دفاع د يوې ملي او استعمار ضد ستونزې په توګه، همدا راز د ډيورند په تپل شوي مزي (۱۸۹۳) او د دې ستونزې اوارول د پښتونستان او افغانستان د خلکو په غوښتنو پورې تړلې دي. پرې څه تم کېږو.

ارواښاد مير غلام محمد غبار ليکي (زموږ هېوادوال پوهېږي چې په نولسمه پېړۍ کې د ابدالي دولت له ړنګېدو او د محمد زايي دولت له ټينګښت سره سم د افغانستان حدود له هر لوري په ځانګړې توګه له ختيځې او لويديځې جبهې څخه پرې کړل شول، چې د افغانستان نننۍ بڼه يې خپله کړه چې د سند له رود او د سيند له خوا نه شاته وتمبول شو، او په وچه پورې چاپېر شو. په دې توګه د شاه محمود ابدالي په پېر (دوره) کې د افغانستان په شمال لويديځ کې خراسان ولايتونه پر ۱۸۰۳ د ايران قاجاري حکومت لاسته ورغلل. د سند تر څنګ د اټک کلا هم پر ۱۸۱۲ د پنجاب سک حکومت ته پرېښودل شوه، د ملتان ولايتونه پر ۱۸۱۸ سک



Ketabton.com

حکومت تـه لاسـته ورغلـل، پـه محمـد زايـي پـېر کـې د کشـمير ولايتونـه پـر ۱۸۱۹ د پنجـاب پـه دولـت پـورې اړونـد شـول، د ډېره غـازي خـان ولايـت پـر ۱۸۲۱ پنجـاب تـه پـاتې شـو، اسـمعيل خـان ډېره پـر ۱۸۲۱ سـکانو تـه پـه لاس ورغلـه او سـکانو پـر ۱۸۲۳ پـېښور ونيـو، همـداراز انـګرېز دولـت پـر ۱۸۴۳ د سـند ولايـت ونيـو. انګرېزانـو پـر ۱۸۵۴- ۱۸۷۶ کلونـو بلـوچسـتان ونيـو. د زاري روسيې دولـت پـر ۱۸۸۴ د مـرو ولايـت ونيـو، د فوشنج سـيمې تـر کوژك، کـورم او کوتـل پـورې پـر ۱۸۷۸م د ګندمـك د پرېکـړه ليـك لـه مخـې د امـير محمـد يعقـوب خـان لـه خـوا انـګرېز حکومـت تـه ورکـړل شـوې سـوات، بـاجوړ، چـترال ولايتونـه او ارنـري، وزيـري، داورچـاګي او چمـن سـيمې پـر ۱۸۹۳ د ډيورنـډ پرېکـړه ليـك لـه مخـې لـه امـير عبدالرحمن خـان څخـه انګرېزانـو تـه ورکـړل شـوې.

پنجـده سـيمه پـر ۱۸۸۵ د روسـيې دولـت لاسـته ورغلـه، سيسـتان ولايـت (قسـماً) پـر ۱۸۷۲ د انـګرېز د پـلاوي پـه حکـم ايـران تـه پـرېښودل شـو. (افغانسـتان در مسـير تـاريخ، مـخ ۶-۷) د محمـد علـي جنـاح او د افغانسـتان د ځانګړي اسـتازي نجيـب الله خـان تـر منځ تـر پرېکـړه ليـك وروسـته چـې پـه کـراچـۍ کـې لاسـليك شـو او پاکسـتان منځتـه راغـی، د آزادو قبـايلو سـيمې لـه سـوبه سـرحد او بلـوچسـتان څخـه بېلـې وګڼل شـوې. خپلـه محمـد علـي جنـاح غوښـتل پـه دې اړه د پاکسـتان د راتلونکـې شـورا رايـه وغـواړي، خـو د هغـه تـر مړينـې وروسـته نظـام الديـن راغـی او اعـلان يـې وکـړ چـې سـرحدي آزاد قبـايل د پاکسـتان نـه بېلېدونکـې برخـې دي. دې اعـلان د افغانسـتان او پاکسـتان اړيکـو تـه زيـان ورسـاوه، پـه سـر کـې د افغانسـتان دريځ د پښتونسـتان او بلـوڅو خپلواکـي غوښـتنـه وه، خـو لـه بـده مرغـه د اسـتبداد د پـېر غـير ملـي حکومتونـو د دې غوښـتنې تـر سـره کـېدو تـه هـېڅ عملـي اقـدام ونـه کـړ او د پښتونسـتان سـتونزه د سـيمې د کړکـېچ د لامـل پـه تـوګه پـاتې شـوه انقلابـي او پرمختللـو



Ketabton.com

ځواکونو لکه د افغانستان د خلق ډموکراتیک ګوند تر واك وړاندې او وروسته د کارمل په مشرۍ د خپلو ټولیزو قصدي اصولو په اډانه کې دا ملي ستونزه ونیوله (د پاکستان د نظامي دولت رییس جنرال محمد ضیاالحق ایران ته د خپل سفر په بهیر کې د کابل نړیوال هوایي ډګر ته راکوز شو او په بیړه یې د افغانستان صدراعظم او د انقلابي شورا ریس نورمحمد تره کي ته پغمان ته ځان ورساوه، په دې کتنه کې محمد ضیاالحق د پاکستان او افغانستان تر منځ د ټولو ستونزو د اوارۍ لپاره، د سرحدونو ساتنه یو عملي ګام وباله او زیاته یې کړه، هرمهال چې د افغانستان لوری چمتو وي، پاکستان تیار دی چې د ګډو پولو ساتنه پر غاړه واخلي، د پاکستان مشر د دې ډیپلوماتیکو خبرو په بهیر کې د پاکستان بنسټیزه موخه یانې د ډیورند د استعماري کرښې په رسمیت نه پېژندنه په ډېره ظریفانه توګه رامنځته کړې وه خو نور محمد تره کي د ضیاالحق په ځواب کې په زغرده ویلي وو چې ډیورنډ کرښه یوه استعماري او راتپل شوې کرښه ده، چې د هند د وېش او د پاکستان د نوي دولت په تشکیل کې ۱۹۴۷ د پښتونخوا او بلوچستان خلکو ته د برخلیك ټاکنې حق ورنه کړل شو) (درېیمه ګڼه، منابع) ضیاالحق ددې لنډ اوجوت ځواب په اورېدو سره وپوهېده چې اوس هغه مهال تېر شوی چې پاکستاني پوځیان د پښتونستان کلي او د پکتیا مغولګي بمباري کړي، یا هم د چارصدې پر لویې جرګې ډزې وکړي او بې غبرګونه پاتې شي او د کابل ظالم واکمنان په نرمه ژبه ووایي: هیله لرو زموږ اړیکې له پاکستاني ورونو سره خراب نه شي. یا هم د افغانستان د خلکو د تېر ایستنې په موخه صحنې جوړې کړي او په یوه کال کې یوه ورځ د پښتونستان د جشن په نامه وېښني او یو شمېر خلك یې په سیمه ییزو مېلمستونونو کې غلط کړي او د دې دعوې رښتیني او برحق مبارزین په کابل او پاکستان کې تر څارنې لاندې ونیسي.

ضیاالحق د انقلابي دولت د ریس له خولې څخه دا جمله هم واورېده: د ډیورنډ کرښه یوه استعماري او راتپل شوې کرښه ده.
پوه شو چې دا خبره له نورو هغو سره چې په ننداره یې رابلنو او غونډو کې کېدې توپیر لري. د دې خبرو تر شا د یوه ګوند او لوی خلق هوډ نغښتی چې دا ګوند باید له منځه لاړ شي. ایله هغه مهال پاکستان کولای شي تر ډیورنډ هاخوا په ټوله سیمه کې خپل سیاست ټینګ کړي. ضیاالحق پوه شو که دې انقلابي دولت خپلواکي ومونده او له خپلو چارو نه وزګار شو، د پاکستان د رنګېدو او د خپل ټینګښت سبب به شي، نو په پرېشانۍ سره یې چغې پیل کړې، دې او بل وره ته یې وځغستل چې تودو اوبو ته د روسانو د رسېدو خوب رښتیا کېږي.
د کمونستانو!؟ په لاس د هندوکش سمبالول پر خلیج فارس یې د روسانو د برید ګواښ نږدې کړی، چې پاکستان یې لومړنی پړاو دی، باید مرسته وشي، په پایله کې د لیکوال د اعتراف له مخې د (تلك خرس) او (خاموش مجاهد) (د آی، اس، آی او سي، آی، اې) او (ISI او CIA) په نامه کتابونه خپاره کړل، د تنظیم کړې پروژې او په پاکستان کې یې د افغانستان د نوي ګوند ځواکمنول په پام کې ونیو، پر همدې مهال یې فرهنګي او اقتصادي مرستې وغوښتې ورسره یې د ترانزیټي اسانتیاوو وړاندیز هم وکړ او خپل د تجارت وزیر یې کابل ته ولېږه.
په دې توګه پاکستان که څه هم په برسېرنه توګه یې له افغانستان سره د ښو اړیکو، مرستو او د نور ګاونډیتوب ژمنه کوله، په باطن کې یې په پټه توګه ټول وسایل او سرچینې درلودلې لکه پیسې، وسلې، استخبارات او د انقلابي دولت مخالفینو ته هراړخیزې مرستې، چې رهبران یې هغه مهال د داود خان په حکومت کې پاکستان ته تښتېدلي وو، د هغه د وېرولو په موخه یې دلته او هلته یو لړ نظامي ستونزې پاروونکې حرکتونه کول.



Ketabton.com

# پر ۱۳۴۸ لمریز کال
# د ا.خ.ډ.ګ دویم ببلتون

د لومړي ببلتون زخمونه لا درمل شوي نه وو چې په ګوند کې دننه بله جګړه او ستونزه را پیدا شوه، د ګوند هم عقیده او سره یو ملګري د ګوند د موخو سرته رسېدو لپاره هر ډول قربانۍ ته چمتو وو. له وېرې پرته به یې د ګوند په رغونه او ځواکمنولو کې برخه اخیسته خو بیا هم له بې ګټو او هوايي بریدونو او دعوو سره مخامخ شول.

د هغو بداغېز په هغې فضا کې چې د ګوند په لومړي ببلتون کې تته شوې وه، تر دې مهاله د ګوندیانو ذهنونه بوخت کړي او د ګوند د غړو سیاسي او تشکیلاتي یووالی یې ورانده نور هم کمزوری او زیانمن کړ. چې وروسته د ګوند د راپرېوتو سبب شو. دې تجربو او هېښوونکو پېښو ته په پام سره د راتلونکي نسل لپاره د سمې لارې ټاکنې یوه ګټوره لار ګڼل کېدی شي، خو د



Ketabton.com

هغوی له څنګه څخه باید په پټه خوله تېر نه شو او پر هغو زړه تورو شخوند ووهل شي، چې ژوند پرې د بطلان کرښه راکښلې ده څکه ځان باید تېر نه باسو.

وايي داسې شخصيتونه شته چې ان پر خپل سر باندې کوم هسک نه مني، نيوکه څه چې لاربښوونه هم نه شي زغملای. ببرک کارمل هم له همدې ډلې څخه و او هيله يې درلوده چې د ځان له ستاينې پرته بل څه وانه وري، په رهبري مشرانو کې شهرالله شهپر د لهجې په راڼه توب او د حقيقت په څرګندونه کې ځانګړی نوم درلود. هغه به له پښتنو سره مسوولانه چلند کاوه له ځانګو او خبرو څخه بېزاره و، هغوی ته به يې چې پر سياسي مسايلو له (خو) او پلمو سره ګونګ غږېدل، ويل زمونږ دا ملګري په پرديو ژبو خبرې کوي زه پرې نه پوهېږم. کشتمند به يې لايتږ (اورلګيت) او نور احمد نور به يې د کارمل باډي ګارډ بلل او د افغانستان په دوديزو ټولنه کې به يې اخلاقي ځوړتيا د سياسي اعتبار بلا او ګوابن بلله. ببرک کارمل به هغه (ښـــ [illegible] نه سمېدونکی) باله او پر خبرو به يې خندل، د دې اختلافونو په بهير کې پر ۱۳۴۸ المريز کال د افغانستان پارلمان ته ټاکنې وشوې، عجب اطرافي له لوګر، عبدالقدوس غوربندي له غوره سليمان لايق له پلخمري، هادي کريم له پنجشېر او قادر بختيار له کندوز څخه کانديد وو، کارمل بيا هم د کابل انتخاباتي حوزه چې ګونديانو په کې نومونه ليکلي وو ځان ته ځانګړې کړله، په دې دوره کې کريم او قادر بهيار د ټاکنو په بهير کې چې برى يې جوت و له غلام دستګير پنجشېري سره چې له هادي کريم سره يې په کمپاين کې ګډون درلود بنديان شول، دې حرکت اختلافونه نور هم پسې زيات کړل، هادي کريم او پنجشېري په خپل بنديتوب کې کارمل ملامتاوه، هادي کريم په زندان کې (د شکنجو له وجې) بې روحيې شو او د خپل خلاصون

لپاره یې ښېلې هڅې پیل کړې. خو پنجشېري له ځواکمنې روحیې، آرامو اعصابو او خنداني څېرې له ګوندي پایوازانو سره چې کټلو ته یې د دهمزنګ زندان ته ورتلل، دا سلا کوله چې په سیاسي مبارزه او انقلابي غوښتنو کې ځواکمن او ټینګ وي. د کسانو پېژندنه او له څېزونو سره اشنایي کړکېچن او ستونزمن دي. سیاست تلپاتي ملګري او دښمن نه لري، په حقیقت کې دا خبرې له فرکسیون څخه د کارمل د بېلتون لومړنی پړاو و. کله چې دا خبرې تر زندان بهر واورېدل شوې، کارمل هڅه وکړه چې له شتو امکاناتو څخه په کار اخیستو له پنجشېري سره په زندان کې په پټه توګه وګوري او له بېلتون څخه یې وژغوري، چې پایله یې ورنه کړه او پنجشېري خپل تصمیم نیولی او بېلتون یې حتمي و. له‌ما لیکوالّ سره تر دې مهاله دا کرښې څرګندې نه وې چې ښاغلی دستګیر پنجشېري ولې (ددې پېښو څرنګوالی او څومره والی پټ کړي) او په خپل (ظهور و زوال ح.د.خ.ا) نومي کتاب کې یې دا مهمه تاریخي پېښه نه ده یاده کړې. خیر، تر زندان بهر د ګوندیانو د جذب او جلب لپاره هم بل نوی کمپاین پر کار واچول شو. شهرالله شهپر او شرعي جوزجاني دوه‌قوي او له راښکونه ډکو کسانو له ګوند سره پراخ اړیکي لرل، دوی د شمال ډېرکي کدرونه پرځان راټول کړل، میراکبر خیبر بیا هم پر خپل قول ولاړ پاتې شو او د کارمل پلوي یې پرې نه ښوده او د کارمل د ماتې مخه یې ونیوله، چې له ده نه پرته به له څو تنه محدودو ښاریانو او کورنیو خلکو سره چې کوم مانیز راښکون یې هم نه درلود، یوازې پاتې کېده.

سلیمان لایق (غلام مجدد) او [illegible] چې له کارمل څخه مو ډېر شکایتونه درلودل، د اروابناد خیبر له لیکې څخه بېل نه شول او د کارمل پر ژمنې مو چې نور یې ځان سم کړی او د ملګرو



Ketabton.com

لاړښوونو او د پولیزي مشرۍ اصولو ته به غاړه ږدي، باور وکړ. او په همدې برخه کې مو خپل فعالیت ته دوام ورکړ، کارمل یو ځل بیا دا هڅه وکړه چې وکړای شي شهرالله شهپر او شرعي جوزجاني راضي کړي چې خپل مورچه بدله نه کړي، سره بېل نه شي او له پرچم ګوند څخه بهر ونه وزي، کارمل د دې موخې لپاره د شهپر کور ته لاړ، شهپر او جوزجاني یې له ځان سره هغې غونډې ته راوستل چې د کابل په (ده بورۍ) کې د سلطان علي کشتمند په کور کې جوړه شوې وه (پردې مهال هادي کریم او پنجشېري بندیان وو) د خبرو په ترڅ کې کارمل هغوی ته وویل "وواياست ځان او خپلو کدرونو ته څه غواړئ؟" شرعي جوزجاني په ځواب کې وویل: "بیا دې موږ ته کومه لومه ایښې ده؟" نور هغه وخت تېر دی چې موږ تېروزو او ته مو په دې لومو کې وتړې. موږ سوداګر نه یو چې له تا سره د همکارۍ د دوام پر بیې چنې ووهو، بس دي، نور بس دي. تر دې وروستۍ جملې وروسته جوزجاني او شهپر د کشتمند له کوره ووتل او دویم بېلتون رامنځته شو.

د کشتمند په کور کې د دې تاریخي جلسې تر ماتې وروسته، شهرالله شهپر او شرعي جوزجاني له ګڼ شمېر نورو خلکو سره چې ورانده یې ګوند پرې ایښی و او "د خلق کارګر" بنسټ یې ایښی و پر تشکیلاتي او ګوندي فعالیتونو بوخت وو. دې خلکو تر وروستیو روغوجوړو وروسته په ځانګړي ډول هغه مهال چې پنجشېري له زندان څخه ووت او له خلق سره مل شو، له خلق سره د شهپر او جوزجاني تر یو کېدو وروسته اوچت شخصیت او پر ځان ډاډمن طاهر بدخشی د خپلو کړاو ځپلو خلکو له ارمانونو سره مل له "خلق" څخه بېل شو او د "مستقل جوړوونکو سازمان" بنسټ یې کېښود.



Ketabton.com

(ظهور و زوال) او شهرالله شهپر هم له خلق سره خپل اړیکي وشلول. تر دې بېلتون وروسته لومړني مظاهره چې تر سره شوه، پرچم ګوند ونه توانېد چې د تېر په څېر دا ډېر خلك تر شا کړي، له دې نه چې کارمل د مظاهرې څومره والي او څرنګوالي ته ارزښت ورکاوه او هغه يې د پرستيژ په مسئلې پورې اړوند بلله، نو په يې لاړښوونه کوله چې د خلکو د لاپاملرنې لپاره نوښتونه وکړي، د مارش د لورې په تاکنه کې د خبرو اترو د ترسره کولو سيمې، د ډېرو بيرغونو وړل، پر سيارو وسايلو د لوړغږو (لوډسپيکرونو) نښلول اود مارش کوونکو ډلبندي، په دې ډول چې نجونې او مېرمنې يې په ښکلو جامو کې وړاندې رواني وي. د هېوادنيو سندرو ويل او د ورځنيو شعارونو ورکول به ډېر پاموړ کارونه وو. دا په جدي توګه لاړښوونه کېده چې له هر ډول غوسې څخه ډډه وشي، همدغه وجه وه چې په يوه لړ لوستې او تر يوه بريده له سياسي تجربو څخه بې برخې ټولنه کې د استبداد د اوږدمهالې واکمنۍ له کبله د پرمختللي ډموکراتيك ژوند له نورمونو اوله خپلو حقوقو څخه هم لرې پاتې شوي وو. د لړم (عقرب) د درېيمې له تاريخي ورځې نه پرته نورې مظاهرې به په ښه توګه له ستونزې پرته تر سره کېدې. ويندويانو به اداري فساد، ظلم، د مشرانو د قدرت اصلي څرنګتيا او طبقاتي تړونونه په ملي او نړيواله کچه پر پخو دلايلو شنل، چې ډېرو به يې هرکلی کاوه، ويناکوونکو د دولت دروغ پرمختيايي پروګرامونه په زغرده محکومول او په سياست کې يې د ګڼو خلکو ګډون غوښت، نطاقانو به هغه ډلې چې د مذهب نقاب يې پر مخ وهلی و او په چل و دوکې به يې زموږ د خلکو له معنوي او عقيده يي ارزښتونو څخه سوء استفاده کوله، په تاريخي مثالونو سره رسوا کول او له هېوادمينو ځواکونو څخه يې غوښتنه کوله چې په ټول يووالي سره ددې لويې او وژونکې بلا



Ketabton.com

مخنیوی وکړي او پر بې بنسټه اختلافونو چې د مشرانو له خان غوښتنې او ځای غوښتنې څخه سرچینه اخلي یرغل وکړي.

لنډه دا چې ګوند د پوهنتون د محصلینو او زده کوونکو د مظاهرو په ترسره کولو اود کارګرانو په مارشونو کې جوته برخه اخیسته او د خلکو د سیاسي شعور په راویښولو کې له هر ډول وسیلې څخه کار اخیستل کېده. خو دواړه غاړې په ځانګړې توګه پرچم د پرله پسې بېلتونونو له کبله په یوه ځانګړي پاشلي او بې روحیې حالت کې و.

په همدغو ورځو کې د امریکا د جمهوررییس مرستیال (سپیرواګینو) په یوه رسمي سفر کابل ته راغی، کابل ته د هغه په راتلو سره نور احمد نور د هغه د سفر پر ضد د مظاهرې مساله رابرسېره کړه. ببرک کارمل چې د خپلو ملګرو د پاملرنې په موخه پر جدي مسایلو غږېده دا طرحه ومنله او بشپړ تیاری ونیول شو، اعتراضیه مظاهره پر هغه د چرګانو د هګیو په ویشتلو سره پیل شوه اخر د ګوند څو تنه غړي چې نجیب الله هم په کې و بندیان شول او د کابل په نظارتخانه کې شپږ میاشتې پاتې شول، که څه هم تر هغه وروسته په کابل کې د امریکایي ضدو احساساتو له کبله دې پېښې په روښاندو کې د ګوند موضوع یو څه پیاوړې کړه او د ګوندیانو د روحیې د لوړوالي لامل شوه او نوي کسان هم ګوند ته رانتوتل، خو نوي اتحاد (کارګرخلق) له خلقیانو سره خپل انډول (توازن) ته د خلقیانو په ګټه بدلون ورکړ، د کارګر خلق اتحاد له خلقیانو سره د خلق ګوند له بدن څخه د نویو بېلو شویو ټوټو د [illegible] یووالي اړتیا [illegible] کړنلار وټاکله او د یووالي غوښتنه د ورځې پر غوښتنې بدله شوه، په همدې حال په خلقي ګوند کې د خلقي یا ملي ډموکراسۍ په اړه هم تود بحث روان و، د دواړو غاړو پلویان د خپلې ربښتینولۍ د زبات لپاره د ګنو



Ketabton.com

هېوادونـو لـه کلاسـيکو او نـوېو ايديولـوژيکـو آثـارو څخـه ګټه واخيسـته او شـواهد يـې ارايـه کـول، پرتـه لـه دې چـې يـې د پوهنيز انطباق زمينـو تـه پاملرنـه وکړي. آخـر د ملـي ډموکراسـۍ پلويـان چـې د ګونـد پـه مقصـدي اصولـو کـې منـل شـوي وو برلاسـي شـول او زرغـون د خلقـي ډموکراسـۍ د طرحـې پلوی لـه ګونـد څخـه ووت. خـو پـه خلق کې تر پايـه کـارمل د وفـادار ملګري پـه تـوګه پـاتې شـو.

پـر دې مـهال چـې پـه کدرونـو کـې تيوريکـي خـبرې ښه ځلـښت مونـدلـی و او يـو شـمېر خلکـو هغـه د ګونـد د بلـوغ نـښه ګڼلـه، پـه پـرچميـانو کـې د رهـبرۍ پـه سـطحه پرداُمسـئلې چـې (ملـي روحيـه) او (انترناسيوناليسـتي) روحيـه کـوم يـوه تـه ځانـګړې کـړي، نـاندرۍ پيـل شـوه، ميراکـبر خيـبر د ملـي روحيـې پـرپـالنې ټينـګار کـاه اود بېلـګې پـه تـوګه يـې د ايـران ولسـي او د هندوسـتان کمونسـت ګوندونـه يـادول، چې لـه اړتيـا نـه پرتـه يـې لـه (انترناسيوناليسـتي) روحيـې سـره د خپلـو غـړو پـه اقداماتو، نشـراتو او د کدرونـو پـه روزنـه کـې لـه خلکو څخه تجريد شول او ويې نـه شـول کـړای چـې پـر يـوه پـراخ تـ... ولسي ګونـد بـدل شـي. آخـر پـه هـېواد کـې دننـه ونـه توانېدل لـه ټولنيز لـوی مـورچـل څخـه برخمـن شـي او پـه نړيـوال ډګر کـې يـې هـم کـوم اعتبـار ونـه مونـد خـو پرعکـس ببرك کـارمل پـه دې ځرګندونـې سـره چـې د ټکنـالوژۍ د پرمختـګ لـه وجـې يـې اطلاعـات او اړيکـو تـه پراختيـا ورکـړه او د ملـي پراختيـا سرچينـې او زمـوږ ... د نړيوالـو مرسـتو پراختيـا ډېره محـدوده شـوه او هـره پـېښه کـه وړه هـم وي نړيـوال غـبرګون لـري. د ملـي انـزوا خوښونـې مـهال تـېر شـوی او د راتلونکـي برخليـك د زبرځواکونـو پـه لاس کـې دی، مـوږ بـايد پـه سوسياليسـتي لـوري غـوره کولـو او ګونـدي پېژندنـه کـې لـه هغـه سـره سمېږنه موضـوع ولـرو او کدرونـه پـه همـدې روحيـه وروزو، خيـبر بـه تـل پـه غـوڅه تـوګه د ملـي دنـدو پـر ترسـره کولـو ټينـګار کـاوه او زياتولـه يـې تـر هغـه وختـه چـې ګونـدي عنصـر د خلکـو د بـاور ترلاسـه



Ketabton.com

کولو ته وړ اعتبار ونه لري، په نړیواله کچه هم واك نه لري، ګوندي پېژندنه مو باید د ملي پېژندنې زېږنده وي. یوه ګوند ته چې په خپل بسیرغ کې یې حماسه زېږه جمله (د خلکو د لویو کړاوونو لپاره) لیکلې ده د ملي مورچل نشتوالي لویه فاجعه ده، دا خبرې د مرکزي کمېټې په مشورتي او منظمو غونډو کې کېدې او کله کله دګوندي کدرونو او د خبري نمایندګانو ترمنځ یې هم لاړ: کوله او دا تورونه اورېدل کېدل، چې ګواکې خیبر یو متعصبه ناسیونالیست دی او کله کله د خیبر د موضوع کمزوري کولو ته له یو شمېر غړو څخه د صفونو پر عقیدې د پوهېدو په کچه فرمایشي نظرونه غوښتل کېدل او پایله تر راوتو وړاندې په خیبر پورې تړل کېده، خو خیبر په خپله موضوع کې ټینګ و. د یادونې وړ ده چې د ا. خ. ډ. ګ. د خپل سازماني جوړښت د [illegible] اوکړنلارې پر بنسټ ځان منظم کړ او د هغې د لارښوونو په رڼا کې یې له ټولنیزې وضعې، تاریخي لرغونتیا، دودیزو موسسو او په اصطلاح د ملګرو هېوادونو له استخباراتي لاسوهنو څخه د وړ تجربې په نه لرلو سره تل وده کوله او سیاست ته د لېوالو خلکو په راټولولو کې وړاندې و. په ټولو روانو پروسو کې یې له ځانه داسې غبرګون ښوده او د دوو عمده ډلګیو او له ځانه په دوو بېلو شویو ځانګو کې هرځای اوسېده، تر ممکنه حده یې پېښې سبمالولې او وضعې ته یې په خیر سره کتل. خو دا اعتراف باید وکړو چې ټولو شیانو عادي او طبیعي بڼه نه درلوده، ځان غوښتونکو او ځای غوښتونکو چې په زور خرګندولو او ډېر غوښتلو عادت لري، ځانونه د هېڅ اصولو پیرو نه بلل، کړنلار چې په حقیقت کې په ګوند کې د ژوند د قانون په څېر پرټولو یو شان پلې کېده، د هغوی لپاره لکه موم بدلون موندونکې وه، په دې لړ کې (له ډموکراتیك مرکزیت) نه چې تشکیلاتي آر بلل کېږي تل ناوړه ګټه اخیستل کېده، د رهبرۍ ټاکلي عناصر په تېره کارمل خپل ټول

انحرافات د کرنلارۍ له متن څخه په دې آر لرې کول. تر قدرت نیولو وړاندې په ۱۴ کلونو کې د چا نه دي په یاد چې د ډموکراسۍ قطب دې عمده شوی وي. تل د مرکزیت قطب عمده و مرکزیت یانې د مشر هوډ عمده و. پرچمي مشر یانې کارمل هوډ وکړ په ګوند کې دوه نور ګوندونه پلي کړي، هغه عادت درلود چې خپل هر پلان د خپل کوم سیاسي ملګري له خوا وړاندې کړي. نور احمد نور او سلطان علي کشتمند یې تر نورو ښه باوري خلک وو. په یاد مې دي یوه ورځ د کابل ښاروالۍ پر مخامخ مې د پرچم په دفتر کې له نور احمد نور سره څه کار درلود، تر یسوې اوږدې سریزې وروسته یې زیاته کړه: یو شمېر لوړ پوړي مامورین او بیروکراتان چې زموږ مینه وال دي، غواړي زموږ د غړیتوب ویاړ هم ولري. خو د ځانګړو شرایطو له مخې ټول ګوندونه نه شي کولای حوزو ته حاضر شي، په مظاهرو کې ګډون وکړي او ځان په بشپړه توګه د ګوند د انظباط تابع کړي. باید یوه چاره ولټول شي، زما وړاندیز دا دی چې هغوی د سیاسي بیرو له غړو سره ځاني اړیکي ولري. د هغوی له خوا په دولتي ادارو کې جذبېدونکي دي، سربېره پر دې چې کدرونو په ځای پرځایولو کې له اداري دندو څخه کار اخلو، پر دوترشا هم لومړني معلومات ترلاسه کولای شو او له مانا لرونکي موسکا سره یې زیاته کړه، کله چې مو قدرت ونیوه دا خلک مو چې اداري تجربه او مسلکي مهارت لري په درد خوري.

باید همدلته زیاته کړو چې د حسن شرق، شاه محمد دوست، غلام جېلاني باختري، نجیب الله مسیر او آدینه سنګین غونډې خلک له همدې ډلې څخه وو. ما د دې وړاندیز په ځواب کې وویل ملګریه! په یوه نوي جوړ شوي ګوند کې چې استثنا نه پېژني او یو بام او دوه هوا ګاڼي نه مني، څنګه کولای شو دا غوښتنه ومنو او داسې کسان دې د ګوند د غړیتوب ویاړ ولري چې تراوسه یې



Ketabton.com

حوزه او انظباط نه دي ليدلي، سبا هم چې ګوند واکمن شي، سند راوکاړې او د مسلکي مهارت او تجربې په نامه پر څوکيو کېني او د عادت له مخې د راتلونکي په سوچ په بل ځای کې نومونه وليکي او خپل حال ګټور او راتلونکی بې خطره کړي. دا بس دي چې هغوی د ګوند د ملګرو په توګه پاتې شي. د ګوندي مسوولیت او حقوقو سپارل هغو کسانو ته چې په حوزو کې ګډون ځان ته ور نه ګڼي نه يوازې د کړنلارې سپکاوی دی، بلکې د ربښتينو ګوندیانو پر حق هم چې د دندو درونند بار يې پر اوږو دی جفا ده. د دې لنډو خبرو په پای کې نور احمد نور په خواشیني ځېره وويل ومې وپېژندلاست، دا به سياسي بيرو ته ورسوم، زه غواړم له تاسو سره چې د کابل په ولايتي کمېټه کې کار کوئ يو بل ټکی هم شريك کړم، له دې نه چې هغه ستونزه هم تشکيلاتي ځرنګتيا لري او ماته څرګنده شوه چې ستاسو د منلو وړ نه ده، نو شريکول يې وړ نه بولم. له خندا سره مې وويل وېرېږم د دې موضوع ردول شکونه راولاړ نه کړي او په ګوندي ژوند کې مې د وروستنه والي سبب نه شي او تر دې وروسته له پرېکړو او تصميمونو څخه بې خبره پاتې نه شم. نور احمد نور پوه شو چې د هغه مطلب په اړه چې غوښتل طرحه يې کړي چوپتیا ښه پايله نه لري او منفي تعبير رامنځته کوي، په بيړه يې وويل هېڅکله داسې نه دي لکه تاسو چې پوهېږئ. له اخوان المسلمين، شعله يې او د ګونده له بېلو شويو ډلو سره رقابتونه او مبارزه ورځ پر ورځ ډېرېږي او کله- کله د سختو پېښو او فزيکي چلندونو سببېږي. موخه دا ده چې موږ يو شمېر ځواکمنو، عيارو او سمبالو خلکو ته اړتيا لرو چې د ګوند له خپلوانو يا مينه والو څخه وي او پر ګوند يې د باډي ګارد غونډې چاپېر کړو، دا هم د ځانګړو رواني ځرنګتياوو له مخې نه شي کولای د کوم کړنلارې نورمونه ومني، هغوی بايد د ځوانمردی،



Ketabton.com

شخصي دوستۍ او ګوندي نورمونو له لارې د ګوندي موخو خدمت ته چمتو کړو.

په ارامه او دوستانه لهجه یې ځواب راکړ: ددې کار زیان تر ګټې ډېر دی، کله چې تاسو د هر رشوت خور، باغي او کوڅه ډبې پر وړاندې د ګوند ور پرانیزئ، څنګه کولای شئ نورو ګوندي غړو ته د ربښتینولۍ او تقوا لوست ورکړئ، دا کار رسوایي رامنځته کوي چې باید تري ډډه وکړو. د ګوند په دننه کې باید قانوني موازین په داسې بې غورۍ سره تر پښو لاندې کړو او د ګوند موخو ته د خدمت نوم ورکړو؟ دا لویه تېروتنه ده، د ګوند موخه د ټولنیز عدالت ټینګښت او د وګړو د یووالي حقونه دي چې په دې توګه له منځه ځي او د یوې ناسمې بېلګې په ډول ... منفي اغېز لري.
نور احمد نور زما خبرې غوځې کړې او ویې ویل اند ښنه مه لرئ ستا نظر به لېږدوم، تاسو په خپله هم په نېغه توګه کولای شئ خپل نظر کارمل ملګري ته ورسوئ او د هغه پلوي وکړئ خو وروستی تصمیم به په سیاسي بیرو کې اخیستل کېږي، بلـه ورځ مې کله چې له کارمل سره ولیدل وړاندې تر دې چې د نور احمد نور د طرحو او د خپل نظر په اړه څه ووایم، راته یې وویل: هغه خبرې چې نور درته کړې دي هغه یې خپل نظر دی، دا په سیاسي بیرو کې اصلاً مطرح نه دي‌ما هغه وخت په ناپامۍ پر دې خبرې باور وکړ، خو وروسته پوه شوم چې دواړه طرحې په پټه توګه د ځانګړو کدرونو له خواد خیبر، لایق او (لیکوال) له نظره لرې د کارمل د باور وړ وګرځېدې او عملي شوې، هغه مهال چې کارمل لا پولیس او زندان په واك کې نه درلودل، په ګوند کې دننه به یې د مخالفینو ګواښولو او ځورولو ته تري کار اخیسته؛د بادیګارډ د ډلې کارنامې به پر خپل ځای وشنو.

په نظامیانو کې د کار په اړه باید وویل شي چې د پرمختللو او انقلابي ګوندونو په اند نظامیان د خلکو یوه برخه ده او په



Ketabton.com

سیاسي ژوند کې باید له ګډون څخه ډډه ونه کړي، په ګوند کې د هغوی جلب او جذب یو روا کار دی یو لوستي (باسواده) سرتېري تر نالوستي، د هېواد او خلکو له ګټو څخه ښه دفاع کوي، پر سیاست باندې پوهه او خبرتیا یې د ځان تېرېدنې روحیه پیاوړې کوي، د تاریخ په اوږدو کې لیدل شوي چې لوی نظامي کسان د جګړې پر فن سربېره د ملي، هېوادنۍ او تاریخي دندو د درك له کبله سیاسي پوهه هم درلودله، د قدرت نیولو او انقلابي مبارزې لپاره باید د یوه سوچه عسکري پاڅون او د یوه بل ګوند چې د خلکو ملاتړ ورسره او موخه یې قدرت ته رسېدل دي توپير وکړو. د ګوندونو په جوړښت کې د نظامي څانګو شتون په ډموکراتیکو هېوادونو کې هم خنډ نه لري، په کارګري پاڅونونو او انقلابونو کې هم د نظامیانو ګډون اوږده سابقه لري. د همدې نظر له مخې و چې د څلوېښتو کلونو په دویمه نیمایي کې خلق او پرچم د نظامیانو په منځ کې د کار په سوچ کې شول. په پرچمیانو کې د لومړي ځل لپاره ذبیح الله زیارمل د ګوند د سرتېرو او عبدالصمد ازهر له پولیسو سره کار ته ټاکل شوي وو، د دواړو څانګو مسوولیت د امیر اکبر خیبر پر غاړه و. په خلقي ګوند کې دا دنده د دستګیر پنجشېري، عبدالکریم میثاق او شرعي جوزجاني پرغاړه وه، چې وروسته حفیظ الله امین دا دنده وغوښته او هغه ته وسپارل شوه. په دې توګه ګوند پر مخ روان و او په دواړه اړخونو کې کار جریان درلود کودتا زموږ له مبارزې او ایدیالوژۍ څخه بېل ځیز و او موږ د سوچه نظامي پاڅون له خوا د یوه ګړندي بدلون په تمه نه وو، څنګه چې ورانډې وویل شول ګوند د خلق د یوه نه بېلېدونکې څانګې په توګه نه شوای کولای د غورځنګ له اغېزو څخه لرې پاتې شي او د بل نسل ظالم واکمنان ترېنه د خلکو په تکولو کې د درنې وسیلې په توګه کار واخلي. دلته یوه پوښتنه پیدا کېږي چې ښاغلی حسن شرق د خپل اعتراف له مخې



Ketabton.com

له ۱۳۳۰ کلونو راهیسي له مسلکي پلوه یو بې تجربې ډاکټر و، خو د محمد داود په برکت یې اداري ځانګې او د صدارت ځانګړې قلم تر خپلې پراخې څارنې لاندې درلودل (د پښتو خوندي کول هم د صدارت په اډانه کې و) د محمد داود د کودتا په درشل کې یې معلوماتي ډلې رامنځته کړې، له ملي ساتندویو ادارو، استخباراتو او شاهي دارالتحریر څخه یې د لوړو مسوولینو په واسطه معلومات ترلاسه کول او په منظمو اوونیزو اړیکو یې مشران هم ترڅارنې لاندې وو. (کرباس پوشان، مخ ۹۵- ۹۱) د ګوند له پراخ کار څخه چې په اردو کې یې درلود څنګه بې خبره پاتې شو؟ حقیقت دا دی چې هغه غافله او بې خبره نه و، بلکې دنده یې لرله چې خپل ولي نعمت محمد داود غافله وساتي، د خپلې ذاتي څرنګتیا له مخې د دویم ګام اخیستو په سوچ کې و، هغه نه یوازې له محمد داود سره د پرچم اوخلق ګوندونو د مشرانو کتنې برابرولې، بلکې د محمد داود له اراوپوهنې څخه یې خبرتیا لرله، د هغې په مرسته یې ببرک کارمل ته لارښوونه کوله چې د څه لپاره څنګه ورسره اړیکي ونیسي، چې محمد داود ډاډه شي او پر دې خبرې یقین ومومي چې ګوندیان د اردو په منسوبینو کې جلب او جذب نه لري، د حسن شرق دې خبرو ته پاملرنه وکړئ: "دا. د. خ. د. ګ. مشران کودتا یوه خاینانه کار بولي" (کرباس پوشان مخونه ۹۱- ۹۵) هغه له محمد داود سره د خبرو اترو پرترخ کې د کارمل له خولې نه ویلي: "زموږ ایدیالوژي له کودتا سره متضاده وه، هغه یو خاینانه او د ملي ګټو پر ضد کار ګڼو، هرڅوک چې دا کار کوي موږ یې پر ضد دریږو."

ښاغلی حسن شرق د محمد داود په پروژه کې چې د هغه په وینا د خبرونو مشر هم و، د خپلو مواضعو د ټینګښت لپاره یې له پرچمي مشرانو څخه مرسته غوښته، چې ناپېژندل شویو نظامي کسانو اړیکي په غیرمستقیمه توګه له کودتاچیانو سره ونښلوي،



Ketabton.com

لکه څنګه چې له کماندو قطعې څخه ارواښاد فیض محمد په ځانګړي ډول له حسن شرق سره وپېژندل. ښاغلي حسن شرق چې اوس یې په ریاکارانه ډول ناري سوري پیل کړې وې او د پرچمیانو له هر ډول اړیکو څخه لرې کېده، ولې یې په لومړیو هیجاني ورځو کې د پرچم له مرکزي کمېټې څخه بړی وغوښت، چې "خلکو ته خطاب" نومې مسوده ولیکي، هغه یې خپله محمد داود ته ورکړه چې یوازې د دووډرېیو جملو تر بدلون وروسته له راډیو څخه خپره شي، که ښاغلي حسن شرق له ګوند سره د ملګرتیا ژمنه نه درلوده، نو ولې د هغه په پلان څو تنه والیان او تر ۸۰ زیات ولسوالان د ګوند له کدرونو څخه وټاکل شول، که ښاغلی حسن شرق د رښتیا ویلو جرات ولري، باید اعتراف وکړي چې له هرچا سره و او له هېچا سره نه و، هغه به چې خپله خولې یو ځای کېښوده، سر به یې بل ځای ښوراوه. خو ښاغلي شرق باید پوه شي چې خلک یې په اړه قضاوت کوي، د خبرو تووره یې د دې ماتې خوړلي شرق پر لوري نېغه نه ده، چې اوس پر خپل راتلونکي ناړي توکي، د ا.خ.د.ګ ته کنځاوې کوي او مجاهدین په غوړه مالۍ سره ستایي، بلکې موخه یې حسن شرق دی، چې په خپله ځوانۍ کې یې هغه مهال چې په "ملي کلوپ" کې غړی و هڅه وکړه چې د کابل د خلکو محبوب شخصیت او ځلاند مشر ارواښاد ډاکتر محمودي له منځه یوسي. په ۱۳۲۰ کلونو کې د صدارت په ځانګړي قلم کې د پېښېو په ضبط یې له خلکو څخه ارامي واخلي او په ځلوېښتو کلونو کې لکه جولاګۍ لومې وغوړوي او انتظار وباسي، پر شپېتمو کلونو کله چې شورویانو پر افغانستان تیرغږ وکړ د سفارت، وزارت او صدارت څوکیو ته ورسېږي او له شوروي مشرانو څخه دا غوارې چې د ا.خ.د.ګ له مشرۍ څخه یې لرې او د تلپاتې دندې لپاره د ځینو نومونه شوروي مشرانو او استخباراتو ته ورکړي. دا حسن شرق د افغانستان د خلکو په



Ketabton.com

منصفانه قضاوت کې یقیناً محکوم دی او خلاصی نه لري، د ښاغلي شرق بې ګټې او ناکامه هڅه چې د شوروي استخباراتو (کي،جي،بي) په مرسته یې غوښتل د ډاکټر نجیب الله پر ضد کودتا وکړي، د ښاغلي فقیر محمد ودان په (دشنه های سرخ) نومي کتاب کې له رښو دلایلو او تفصیل سره راغلې ده.

بیا هم ښاغلی شرق پوښتو چې تاسو د شوروي له خوا د افغانستان تر نظامي ولکې وروسته او د حفیظ الله امین تر بې رحمانه وژنې او له کورنۍ سره یې تر ترور وروسته، ستاسو د خپلې وینا له مخې (هېواد ته د بې مینو، بې بنسټو، بې مایو او ګمارل شویو) واکمنول او د هېواد مینو نوماندو شخصیتونو زندانول او د بې برخلیکۍ او کوټه قلفۍ تر حده تر یوې لسیزې پورې غیابي محکمه او د یو شمېر نورو خلکو پر اعدام محکومول مصیبت باره نه و؟ پر عکس ستاسو نوم بیا هم په هېڅ یو لست کښې نه و او تاسو بیا هم د سفارت، وزارت او صدارت رتبې ساتلې وې، غوښتل دې چې مشر دې (کي، جي، بي) واک دوه چنده کړي، ښاغلی شرقه! مهرباني وکړئ ووایاست (کي، جي، بي) له چا نه د همکارۍ تمه درلوده؟ څرنګه جوړ ته د باور وړ کېدی شي؟ تاسو ته او که پر غیابي اعدام محکوم شویو او زنځیر شویو ته؟ څیف دی؟

موضوع بیا له سره پیلوو: په اصطلاح د ډموکراسۍ په لسیزه د ۴۲- ۵۲ کلونو په بهیر کې پنځه حکومتونه او بېلابېلې ډلې چې هر یوه پر خپل وار یو او بل ورانوه او یو په بل پسې یې غیبت کاوه راغلل او لاړل، خو نېستي، وزګاري او د خلکو بېچارګي مخ پر ډېرېدو وو، د ۴۸- ۵۱ کلونو قحطي په غور، فاریاب، هرات او بادغیس ولایتونو کې او د هغې زیانونو زموږ سلګونو او زرګونو هېوادوال د یوې ګولۍ ډوډۍ په موندلو پسې له خپلو کورونو څخه لرې کړي او د زرګونو ښو او بدو خلکو دروازې یې د

نرۍ په ګوټ ګوټ کې وډبولې، که څه هم یو څه خواره او د نرۍ د بېلابېلو هېوادونو مرستې پر خپل مهال افغانستان ته راورسېدې، خو د خلکو حکومت نه و چې دا مرستې اړو کسانو ته ورسوي. که له خلکو څخه جوړ شوی حکومت وای کولای یې شول دا توکي په بیره ووېشي او د مړینې او قحطۍ مخه ونیسي او خلك له حتمي مړینې څخه وژغوري. خو د اداري فساد او د نظام د خرابۍ له وجې د ملي دندو په ترسره کولو کې پاتې راغلل، د حکومت دا ماتې او کمزوري لاد خلکو د نهیلۍ سبب کېده، محصلینو، ښوونکو، کارګرانو او روڼاندو د مظاهرو او غونډو په ترسره کولو سره د ویدو او عیاشو واکمنانو پر رسوا کولو خبرې کولې. په داسې شرایطو کې چې لاورکۍ او پاشلتیا د اداري او دربار چارچاپېره نیولې وه.

د کورنیو او بهرنیو دوستانو سلا پر دې وشوه چې ډګر ته یو بل تېره کس راووځي، چې دا با استعداده ځواکمن او د فکري مکتب خاوند ښاغلی موسی شفیق و، محمد موسی شفیق د دې پرځای چې د چارو سمون له کوره پیل کړي له بهره یې را پیل کړ، هغه عقیده لرله چې ټینګښت او استقرار هغه وخت راتلای شي چې له پاکستان او ایران سره مو اړیکې ښه شي همداراز د پښتونستان او د هلمند د اوبو ستونزه د حل لار پیدا کړي، البته دا باید په پام کې ولرو چې دا د کار برسېرن (ظاهري) جوړښت و، په حقیقت کې دې لویې ملي او تاریخي مسالې ته اقدام نه شو کېدی چې د موسی شفیق نېغ نوښت وي. ښاغلی شفیق د (تاجدارې ډموکراسۍ) په اډانه کې یوازې د دربار د غوښتنو ترسره کوونکی و، خو یو جسور او کارنده کارکوونکی و، هغه وکړای شول د هلمند د اوبو پرېکړه لیك د ایران له صدراعظم سره لاسلیك کړي، دواړو غاړو د رضایت له څرګندولو سره اعلان وکړ چې د ایران- افغانستان د اړیکو په پراختیا کې کومه ستونزه نه



Ketabton.com

شــتـه د افغانســتـان اســتازی دي د ایــران اقتصــادي او فرهنــګي مرستو تـه ډاډه واوسـي. موسـی شـفیق هـڅه وکـړه چې پـه نـاراضي او اړونـدو وکیـلانو د دې پرېکـړه لیـك پـر وړانـدې د پارلمـان د مقـاومت مخـه ونیسـي، هغـه خپلـې لـوړې زده کـړې د مصـر پـه الازهـر کـې ترسـره کـړې او د حقوقـو څانـګه یـې پـه امریکـا کـې لوسـتې وه، همداراز پـه یـوې روحـاني او نومـاندې کورنـۍ پـورې اړونـد و. د هغـې پېژندنـې لـه مخـې چـې لـه چـاپېریـال او د اخوانیـانو لـه ډلـو سـره یـې درلـوده ذ هغـوی پـه منظـولـو کـې یـې پـه غـیر مسـتقیم ډول ونـډه اخیسـته او غوښتـل یـې چـې ټولنـیز بنسـټ تـه پـه پـام سـره سیاسـي اتکـا ولـري، البتـه د هغـه اقدامونـه، هـڅې او تدبیرونـه لـه نـورو ملـي ځواکونـو څخـه پـټ پـاتې نـه شـول، تـر ټولـو پـښتو وړانـدې کیـن اړخـي پـه یـوه متحده جبهه کـې د هلمنـد د اوبـو پرېکـړه لیـك پـر ضـد نیوکـې وکـړې او پرېکـړه لیـك یـې خیـانت، اوبـه پلورنـه او بـې پتـي وبالـه، ټاکل شـوې وه چـې د متحـدې جبهې لـه خـوا دا غونـډه د ښاروالـۍ تـر څنګ چې د ښاریـانو سمبولیك ډولـه کورونـه ورنـړېدې دي، تـر سـره شي او د پرېکـړه لیـك پـر ضـد یـوه بلـه قطعـه نامـه صـادره شـي او د نیوکو غزېدنـه پـه بېلابېلـو بڼو ولیـکـل شـي. موسـی شـفیق چـې خپلـه د اساسي قـانون طرحـه کوونکـی و او د هغـه پلـوي یـې کولـه، کلـه چـې واك تـه ورسېد د اساسي قـانون پـرځای یـې غوښتـل چـې حکومـت، یـا یـې خپـل فکرونـه لاربښود واوسېږد جبهې پـه دننـه کـې یـې د ګډ خــوځښت پـر وړانــدې ســخت غـبرګون وښوده حکومــت ګوتخنډنــه وکـړه چـې د مظـاهرو تـر سـره کـول غـیر قـانوني کـار دی او لـه مخالفینو سره به د قـانون لـه مخـې چلنـد کېږي.

هماغـه سهار مـیر اکبر خیـبر، بـارق شـفیعي او (لیکـوال) د پـرچـم دفـتر تـه چـې ښاروالـۍ تـه مخـامخ و، د مظـاهرې د شـعارونو پـر جوړولـو بوخـت وو، د ټلیفـون زنـګ اوچـت شـو، خیـبر غـوږۍ اوچتـه کـړه، مقـابل لـوري وویـل: زه حکیـم کـتوازی د پولیســو او عمومـي



Ketabton.com

ژاندارم عمومي قوماندان يم، نننى ګوډۍ او د زهرجنو تبليغـتو خپرولو ته بـه وخت ورنـه کړل شي. ستاسو مظاهره غير قانوني ده، ځانګړې قطعې تـه امر شوى چې د هغې مخنيوى وکړي او د اړتيـا پر مهال ډزې هم وکړي. خير، لايق او ما حکيم کتوازى پېژنـده، موږ درې واړه په سراى غزني کې سره يوځاى ژوند کاوه، هغه په ده بورى کې ارمَا ګاونډى او د سليمان لايق وطندار و، لـه دې نـه چې دواړه لـه کتوازو څخه دي، حکيم کتوازي لـه نبي خان فراهي سره په ترکيـه کې د ګوند ارکـان لوستي و، په ۱۳۳۰ او ۱۳۲۰ کلونو کې مو سره راشه درشه درلوده، حليم خان کتوازي هغه مهال لـه غير عادلانـه سياست څخـه د ګوند د منسوبينو پر ممنوعيت او محروميت پوهېده، سياسي خبرې يې خوښېدې او سياسي کتابونـه يې لوستل، موږ چې پـه سياسي بنديخانو کې ګډون کاوه لـه سياسي څکسو سره د نظاميانو تماس جرم ګڼل کېده او سخته سزا يې درلوده نو خپل اړيکي مو غوڅ کړل، خو د کسانو لـه خوا مو اړيکي روان وو، هغه د خپلې اکاډميکې زده کړې، جوتو ځانګړتياوو او راښونکې څېرې لـه مخې د سردار ولي پامور وګرځېد او د هغـه پـه مرستـه لـوړو نظـامي مقـامونو تـه ورسېد، اوس يې نو لـه موږ سره اړيکي بېخي پرې شوي وو، خيبر يې پـه ځواب کې وويل: کتوازي صيب! تاسو چې يو وخت لـه سياست څخـه د اردو محروميت غير عادلانـه ګاڼه، اوس څنګه لـه سياسي ګوندونو څخه مرکبې جبهې تـه د سياست حق نـه ورکوئ، کتوازي پـه ترخـه لهجـه، پـه لنډ ډول ځواب ورکړ: ستاسو مظاهره غير قانوني ده، پوليس موظف دي چې د قانون خلافو حرکاتو مخه ونيسي، که اړتيا وه لـه وسلو څخه به هم کار اخلي، خيبر په ځواب کې ورتـه وويل، اساسي قانون مو پـه ټولو نورو قانونو کې شته، فرعي قانون ترې بېلېدى نه شي موږ د اساسي قانون پـه اتکا سره چې د بيان حق د حقوقو د يوې ستنې پـه توګه د ټولو لپاره په



Ketabton.com

رسمیت پېژني، نن خپله مظاهره ترسره کوو، له پولیسو څخه هم چې د قوانینو د ټینګښت دنده پرغاړه لري نه وېرېږو، حکیم خان غوږی اېښې وه په کابل کې وضعه ناسمه وه، کېدونکی مارش او هغه ځای چې غونډه په کې کېدونکې وه د امنیتي قطعاتو له خوا تر ځانګړې لاندې وو، وېرې پر زړونو منګولې ښخې کړې وې او د لړم (عقرب) دریمې پېښه چې د سردار ولي په امر به پر بې وسلو او بې ګناوو مظاهره کوونکو ډزې کېږي په ذهن کې ژوندي کېدله، وسلوالو پولیسو پر هر بام او په هره کوڅه کې ځارنه کوله، سربېره پر دې هم د ګوند غړو د ا.خ.ډ.ګ دواړو غاړو ځانونه د غونډې ځای ته رسول او ډېر خلک سره راغونډ شوي وو، پولیسو په لوړ غږ (لوډسپیکرونو) کې په پرله پسې ډول ګواښونه کول چې مظاهره کوونکي دې خواره واره شي، ګني وروستی مسوولیت به یې پرغاړه وي. د جبهې مشری چې مظاهره یې هم سمبالوله، پرېکړه وکړه چې د ګواښ د مخنیوي په موخه دې د هلمند د اوبو د کرغېړن پرېکړه لیک د شنډولو لپاره وړکوټی پرېکړه لیک د موسی شفیق د حکومت له خوا لاسلیك او صادر شي او مظاهره کوونکو ته دې د خورېدو امر وشي.

په دې ډول د وینو تویېدو څخه ډډه وشوه، خو دواړه خواوې (حکومت او سیاسي ګوندونو) له دې برسېرنو چارو څخه خپل وړ درس واخیست، سیاسي ګوندونو په ځانګړي ډول د ا.خ.ډ.ګ ته جوته شوه چې موسی شفیق هوډ لري د خپلو پلانونو د ترسره کولو په موخه په خپله خوښه له امنیتي ځواکونو څخه کار واخلي او تر خپلې ځارنې لاندې تندروې د اسلامي غورځنګونو په نامه ډلې جوړې کړي. له شوروي سره د ملګرتوب دودیز سیاست له امریکا سره د دوستی پر سیاست واړوي، د انقلابي غورځنګ فعالیت په ځانګړي ډول د هغه زړه چې د ا.خ.ډ.ګ وه محدود کړي او په بل ګام کې د افغانستان او پاکستان د تاریخي او ملي اختلافونو حل



Ketabton.com

چې هماغه د ډیورنډ تر کرښې هاخوا د پښتنو د برخلیك څرګندول دي، د خپل کار په کړنلار کې ونیسي. هغه په دې زمینه کې د پاکستان له صدراعظم "بوټو" سره هم یو لړ لیدنې پیل کړې وې. په کابل او سیاسي کړیو کې دا اندېښنه راپارېدلې وه چې ښاغلی موسی شفیق غواړي د پښتونستان ستونزه هم د هلمند د اوبو غوندې د پاکستان په ګټه حل کړي. پر همدې مهال موسی شفیق د بې نظمۍ او تشدد د مخنیوي په پلمه په حقیقت کې په دې موخه چې خپله د خپلو پلانونو په چارو کې ساهو (ازاد) لاس ولري غواړي په اساسي قانون کې سمون وکړي، لنډه دا چې موسی شفیق چې په ښه اغوستو او (غرب زده ګۍ) یې شهرت درلود غوښتل یې په ټولو چارو کې د دوران خپلواك وي او د اساسي قانون له خوا چې خلکو ته د خپلواکۍ ساحې ورکړل شوې وې په عمل کې ورځ پر ورځ محدودې کړي، موسی شفیق په خپلو بې سارو او هڅاندو فعالیتونو سره چې ډېر به د کیڼ اړخ پر ضد د ښي اړخي سیاست پر لیکه روانېده، هغه موخې به یې تعقیبولې چې له توانه یې وتلې وې. ځکه هغه کومه ټولنیزه ستن یا هم کوم سیاسي . . . سازمان نه درلود، چې پرې ډاډه واوسي، خو پر عکس کیڼ اړخو د ځانګړې ایدیولوژۍ په لرلو سره منظمو تشکیلاتو او تجربه لرونکې رهبرۍ چې تر یوې لسیزې ډېره مبارزه یې کړې وه ګواښ ځان ته نږدې ولید او د دفاع لپاره یې ځانونه چمتو کړل، د ګوند په ځانګړې توګه د سیاسي ځانګې فعالیتونه بې . پرته له دې چې لږ شي نور هم پراخ شول. لکه وړاندې چې وویل شول په نظامیانو کې د لومړنۍ کنګرې تر کلونو وروسته کار پیل شوی و او پایله یې لکه څنګه چې ښاغلی دستګیر پنجشېري وایي (په اردو کې هم د فکري، سیاسي او د ا.خ.ډ.ګ د منظم کار په وجه ملي، پرمختللې او ډموکراتیکې



Ketabton.com

غوښتنې راټوکېدلې او د ټولنيزو اوج موندونکو مبارزو په بهير کې يې وده کوله او ولسوال ځواک ډېرېده. د ورو ظابطانو تضاد له آمرانو، ضابطانو او لوړ پوړو افسرانو سره، د هېواد مېنې انقلابي اردو تضاد له وروسته پاتو ډلو سره نور هم جوتېده، له ژورو څخه سطحې ته راته او په دې توګه ذهني شرايطو په اردو کې انقلابي بدلونونه برابر او د بنسټيز او ټولنيز بدلون لړۍ ګړندۍ کېده، د پوليسو په پوهو افسرانو کې هم زموږ د پېر (دورې) پر مختللو انديښنو ځای نيولی وو، خو پرمختګ غوښوونکي پوليس د ګوتو په شمار وو"

پر دې بنسټ کله چې د ا.خ.ډ.ګ اعتبار او واك د پراختيا په حال کې وو ښاغلي شرق د نن خلاف چې له ټولو رياکاريو څخه انکار کوي، د نظام د بدلون د اړتيا په اړه يې د محمد داود خان ګزارش چې هغه ته يې د اعتبار له مخې ويلی و، د پټو ليدنو کتنو په ترڅ کې ببرك کارمل ته ولېږداوه، ګوند ښاغلي شرق او فيض محمد ته چې دواړه د خپلو دندو د حساسيت له کبله پټ غړي او په انفرادي اړيکو کې وو، وړ لارښوونې وکړې چې په طبيعي ډول او په ځراکت سره ترسره شي. دلته وړ ګڼو په روښانه توګه دا حقيقت وويل شي چې د پرچم مشرتابه يې کوم بېل کس بې له محمد داود سره کوم تفاهم نه درلوده، په خپله محمد داود خان د کودتا پلان د ا.خ.ډ.ګ او پرچم له مشورې او مرستې نه پرته جوړ کړی و، پرچميانو په غير مستقيم ډول د حسن شرق او فيض محمد په واسطه د پروسې له بهير او پراختيا څخه خبرتيا لرله او د لومړنۍ خبرتيا له مخې انتظار کېده چې د چنګاښ پر لسمه نېټه د ګوند د رنګېدو هڅې وشي، خو په وروستيو وختونو کې دا نېټه د ځينو عذرونو او سو تفاهم په نسبت دوه اونۍ وځنډېده. د چنګاښ پر ۲۶مه، د کودتا پيل به د "اردو و سياست" نومي کتاب



Ketabton.com

له لیکوال څخه ولولو چې وایي: "د جولای ۱۶مه مازیګر د ۱۲۵۶ لمریز کال د چنګاښ پر ۲۵مه نېټه د عراق په سفارت کې د هغه هېواد د ملي ورځې په مناسبت یوه غونډه جوړه شوې وه، یو شمېر لوی کسان لکه سردار عبدالولي او د دفاع وزیر ستر جنرال خان محمد خان په کې ګډون کړی و. په پای کې د هغې ورځې په ماښام د امریکا د سفیر په کور کې د امریکا له نظامي چارو څخه د خبرېدو په موخه سره راټول شول، چې خان محمد خان هم له ګډونوالو څخه ــ ــ و، هغوی تر ښې ډوډۍ او خوندور څښاک وروسته مست او خوشحاله د بې خبرۍ په غېږ کې کراره غزېدلي وو او خوندونه یې اخیستل، د شپې پر یوه نیمه بجه د داود خان له خوا د حرکت د پیل امر وشو (اردو و سیاست، نبي عظیمي، مخ ۸۹).

د کودتا په بري او په وروستۍ ساتنه کې زموږ د ګوند برخه او غیر مستقیمه مرسته شعوري وه، موږ هېڅکله په دې عقیده نه وو چې محمد داود یو مارکسیست یا کمونست دی، د هغه نظر سیاسي، نړیوال او ملي و، د سیاسي او ټولنیزي وضعې د ارزونې او شنني له لحاظه او د پروګرامونو د سموني له پلوه افغانانو ته نږدې و، په حقیقت کې یو شاهزاده و. د سلطنتي کورنۍ تر هر غړي ښه شاهزاده، هغه د هېواد او د خپلو خلکو د نېکمرغۍ په سوچ کې و، له سردار ولي سره یې ضدیت نړه (خالصه) شخصي بڼه نه درلوده، هغه سردار ولي ناپوه، له ځانه راضي، ځان غوښتونکی او ظالم ګاڼه، پلویان به یې چې بدنامه، فاسده، استفاده کوونکي او رشوت خواره خلك وو، غندل.د هېواد د مینې احساسات او ملي غرور یې له هېچانه پټ نه وو، د همدې ځانګړتیا له مخې یې د پښتونستان د ستونزې حل د خپلو غوښتنو جدي مسله بلله، هغه د ټولنیز عدالت د تامین او سمون



Ketabton.com

پلوی و، دا ټولې مثبتې ځانګړتیاوې بس دي، چې ګوند یې په ځانخبری کې پلوي وکړي او ــــ. نظامي څانګه په غیر مستقیمه توګه د حسن شرق او فیض محمد په واسطه د همکاری لارښوونه وکړي.

حسن شرق د کودتا تر بري وروسته له سلیمان لایق څخه چې ګاونډی یې و، وغوښتل چې د پرچمیانو "خلکو ته خطاب" مشري چې باید محمد داود یې د خپلې کړنلارې په توګه ارایه کړي، دا کړنلار ولیکي او حسن شرق یې په خپل نوم د محمد داود مرکزي کمېټې ته ورکړي. دا وینا د پرچمیانو د سیاسي بیرو د غړو له خوا د محرم ځیز په توګه جوړه او د سلیمان لایق له خوا حسن شرق ته چې د صدراعظم مرستیال و ورکړل شوه، سربېره پر دې دداخله وزیر فیض محمد په وسیله او د حسن شرق په لارښوونه د ۸۰ تنو په شاوخوا کې ولسوالان او څو تنه والیان د ا.خ.ډ.ګ د پرچم له مینه والو څخه وټاکل شول، د کرنې په وزارت کې د جېلاني باختري له خوا چې هغه هم د حسن شرق په خبر له کارمل سره شخصي اړیکي لرل، ګوندي کدرونه لوړ کړای شول، باید څرګنده کړو چې په مجموع کې ګوند د "خلکو ته خطاب" نومې بیانیې د موخو په څېرنه پلیتابه کې په ربتینې توګه هڅه کوله او د نوې جوړې شوې جمهوری ملاتړ یې وکړ، چې د کین ضدو او ښي خوښوونکو په توطیو کې زیانمنېدونکې وه.

د کودتا بري په سیاسي ژوندانه کې د ګوند نقش په ښه توګه ډېر کړ، ټول ګوندونه لکه چې له درانه خوبه پاڅېدلي وي، په اردو، قطعاتو او جزتامونو کې د ځوانانو جلب او جذب ته له عجیب رقابت سره پاملرنه وکړه، حفیظ الله امین په خلق ګوند کې چې د خلقیانو له یوې ځواکمنې ډلې سره ډاډه او خپله په اردو کې د کار مینه وال و، له وېرې پرته د نظامي وسلوالو په نظم کې ډېر



Ketabton.com

کارنده او هڅاند و، هغه له هوايي ځواك او زرهدار څخه کار پيل کړ، د جمعې پر شپو به خپله د بګرام هوايي ډګر ته تللو او ټوله شپه به يې د سياست له مينه والو سره تېروله او ډېر خلك يې راماتول.

امين د ا.خ.ډ.ګ له ټولو غړو څخه مرسته غوښتې وه، د خلقي ګوند هر غړي د کورنۍ له نظامي غړو او خپلوانو سره کار کړی و او سياست ته يې د ډاډ وړ مينه وال پېژندلي وو او پېژندليکونه يې هم ورته ورکړي وو. په دې توګه د ګوند ټول ملکيان د نظاميانو د جلب او جذب په کار کې ګډون وکړ، چې پايله يې په ګوند کې د ډېرو نويو خلکو ننوتل وو، يوه ورځ مې له بناغلي پنجشېري څخه وپوښتل: تاسو چې له حفيظ الله امين سره چنداني جوړ نه وئ، څنګه مو د اردو ارزښتناك او له مسووليته ډك کار هغه ته وسپاره؟ هغه له خندا سره وويل: "په دې ساده دليل، چې د ګوند د ډاډ وړ دی پرېږده کار وکړي، کنه ښه دی چې ددې قانون خلاف کار ګواښ موږ ته متوجه نه وي؟"

خو په پرچم ډله کې يې دا مسووليت له مير اکبر خيبر څخه واخيست او نور احمد نور ته يې وسپاره، کله چې مې له خيبر څخه علت وغوښت، ويې ويل: "کارمل غواړي په ظاهره کې دې پروسې ته په اصطلاح نوی خوځښت ورکړي او په حقيقت کې له سياسي کارو چل څخه پر راولاړو شويو نظامي اختلافونو چې په ځانګړي ډول موږ کې پيدا شوي نور باور نه کوي او په پام کې لري چې ما په کړکيچ کې پرېږدي" ومې ويل: ددې اختلاف په اړه کولای شم يوه پوښتنه وکړم، ويې ويل ټول څيزونه به د پلينوم په غونډه کې حل شي.

جورج ارني په دې اړه ليکي: "که څه هم پرچميان لومړنۍ ډله وه چې په وسلوال ځواك کې يې پر جلب او جذب پيل کړی و، خو د ۱۹۷۷م کال په منځ کې د خلقيانو نفوذ ډېر شو. د ۱۳۷۳المريز د



Ketabton.com

کودتا بري د خلقيانو (او اسلامي توند چلندو) سترګې دي حقيقت ته پرانيستلې، چې واك موندل يوازې له پوځ کاروني څخه کېدی شي او بس (جورج ارني، مخ ۷۴) د اردو و سياست نومي کتاب ليکوال زياتوي: "حفيظ الله امين په چالاکۍ سره د چنګاښ د ۲۶مې د ځينو کودتاچيانو چې له محمد داود خان له خوا شړل شوي وو له تاثراتو څخه کار واخيسته او په نظامي قطعو کې يې ګوندي هستې جوړې کړې. هغه د افسرانو ناسيوناليستي، قومي او ژبنيزو احساساتو ته پاملرنه وکړه او له وېرې پرته يې دا کار په سختو پوليسي او سياسي شرايطو کې پر مخ يووړ" (اردو و سياست، مخ ۱۱۷) پر دې بنسټ د ا.خ.ډ.ګ دواړه ډلې په داسې حال کې چې په اردو کې يې ځان ځواکمناوه، د پرله پسې دسيسو په برېنډولو او ټکولو کې يې هم چې د داود خان د جمهوريت پر ضد ترسره کېدې کارنده (فعاله) ونډه درلوده، بايد زياته کړو چې پرچم ګوند ددې توطيو په شنډولو کې ډېره کارنده ونډه درلوده د داود خان مخالفين کوم ځانګړی سوله نه منونکی تضاد نه درلود، کله چې به ددې په اصطلاح تندروو، کندروو او ميانه روو ګوندونو مشرانو په عيني ډول د طبقاتي ګټو او کورني تړون، مذهبي عقايدو او ذهني مينې له مخې د محمد داود شخصيت وړاندېني تلقيني تحليل ته په نه پام تجزيه او تحليلاوه، په يقيني ډول دې پايلې ته رسېدل چې د بې طرفۍ انتظار سياست ورته تر ټولو غوره دی، په ځانګړې توګه د سلطنت د يوې شپې تر سقوط وروسته په ورځو او مياشتو کې چې په اصطلاح د جمهوري ځواك د عسل مياشت او له انقلابي تلوسو څخه ډکه فضا وه، خلکو په ډېرو هيلو سره د اقتصادي وضعې ښه کېدو او د مدني خپلواکۍ لاسته راوړلو ته خوښي کوله او يو بل ته يې مبارکي ورکوله، په داسې شرايطو کې د کودتا هر ډول هڅه د ځانوژنې حکم و. خو دا حقيقت بايد ومنو چې انساني ډلې د بېلابېلو وجو له کبله له



Ketabton.com

زهرجنو تبلیغاتو ځخه نیولې تر بهرنیو لاسوهنو او شخصي انګېزو پورې چې ډله ییزې ګټې د قضا یا وو په نسبت واحد لیدلوری نه لري. په اکثرو ټولنو کې چې د ټولنیزې او تاریخي ودې له لومړنیو پړاوونو ځخه اوښتي، دا اختلافونه په طبیعي ډول په هره ټولنه کې شته، کېدی شي د روغې جوړې، د افکارو او اندېښنو په چلند د حل لار پیدا کړي، غوسه او زور د ستونزو په حل کې کوم نقش نه لري. خو له بده مرغه زموږ په هېواد کې د زور بازار په پته یا ښکاره توګه او د خیالي یا ریښتینو دښمنانو ټکول لاروان دی، تاریخي او رواني زمینې ورته برابرې دي، موږ د خپل تاریخ په اوږدو کې له داسې پېښو سره ډېر لږ مخامخېږو چې په هغو کې اختلافونه د بین الافغاني تفاهم له لارې په ریښتینې توګه حل شوي وي. ان داسې ځواکونه چې د فکر او عقیدې له پلوه یو ډول تګلاره لري، نه دي توانېدلي چې د تفاهم او استدلال د حق ورکولو له لارې له مقابل لوري سره خپل اختلافونه حل کړي، د اسلامي، خلق او پرچم تنظیمونو خونړي چلندونه زموږ افغاني کثیرالملیتي ټولنې ته نږدې بېلګې دي او ټوله ۱۹مه پېړۍ یې د قدرت غوښتونکو شاهزاده ګانو له خونړیو پېښو ځخه ډکه ده او یو ځه ارامي به (هغه به هم په بشپړ ډول نه) کله کله رامنځته کېده" ځواکمن به یې پر دې بل برید کاوه، البته یاده شوې ځرنګتیا نه شي کېدی د جګړې او جګړه غوښتنې جواز وي، خو پوره درملنه تر تشخیص وروسته کېدی شي. چې له بده مرغه په هره پېښه کې دا زمینه ډېر وروسته برابرېږي.

بیا هغو پېښو ته راګرځو چې موخه یې د کودتا له لارې د محمد داود جمهوري سقوط و. په دې برخه کې محمد هاشم میوندوال چې د لږ امتیاز بایللو له کتاره یو زوړ سیاستپوه او د ټولنیزو پراخو اړیکو لرونکی او ښه نطاق و، لومړۍ هڅې پیل کړې. ښاغلی حسن شرق په دې برخه کې وایي "لازموږ تر ستوني



Ketabton.com

په اصطلاح اوبه تېرې شوې نه وې، چې د افغانستان پخوانی صدراعظم میونـدوال د ۱۳۵۲ لمريز کال د زمري پر څلورمه د خپلو یو شمېر پلویانو (خان محمد مشهور په مرستیال) په مرسته چې د کودتا په لومړیو کې يې دفاع وزارت تر خپلې ولکې لاندې راوستی و، د ګوند د یو شمېر صاحب منصبانو په مرسته يې د جمهوریت پر ضد چې څو میاشتې او څو ورځې يې له جوړېدو نه تېرې شوې وې، کودتا کړې وه. د میوندوال کودتا چې د یو شمېر ناپېژندل شویو پوهانو او څو تنو .روحاني او سوداګرو له خوا ملاتړ کېده، دا ټول خلك ونيول شول (کرباس پوشان، مخ ۱۱۹). که څه هم د حسن شرق څرګندونې نه شي کېدی سمې وي، خو څو مطلبه تري څرګند بري،

۱- نوی جوړ شوی جمهوریت په خپلو لومړنيو اونيو کې زیانمنېدونکی و.

۲- تېر لوړ پوړي صاحب منصبانو او پوهانو چې د بې ارزښتی لپاره بې ، (د ناپېژندل شویو) په ترکیب ګټه ځانګړیات کړای شوي وو، پر نظامي غبرګون بې ،لاس پورې کړ، په بله وینا، سیاستوال، صاحب منصبان، پوهان، روحانیون او سوداګر د جمهوري نظام د سقوط لپاره په افغاني دولتدارۍ کې یو ګام وړاندې وو، پر نظامي عمل او اقدام يې لاس پورې کړ، چې دا ډله پر هماغه وخت ونيول شوه.

پايله دا چې د جمهوري نظام پروړاندې په کتارېدو کې د ټولنې ډېر قشرونه ګډېدل. که د ا.خ.د.ګ د دواړو ډلو په ځانګړې توګه د پرچم ملاتړ او مرسته نه وای، له شکه پرته جمهوریت له ځانه د دفاع توان نه درلود. لکه څنګه چې پرچم ګوند د میوند وال د ډلې په رسوايۍ، نیولو، څېړنې او محاکمې کې نقش درلود، زموږ ګوند د خپلو موخو د احکامو له مخې د محمد داود د رژیم او اصلاحي پروګرام له بدلون څخه چې د عملي کېدو ژمنه يې کړې وه، ملاتړ کوي. تر هغه مهاله چې د امکان تر بریده (حده)



Ketabton.com

حرکت و زمور ملاتړ هم دوام درلود. د جمهوري نظام پر ضد مخالفتونه، مقاومتونه، وسلوالې توطیې او ناپایه پاڅونونه روان وو، بنستپالو کړیو پرېکړه وکړه چې د محمد داود قهرجن سقوط خپله موخه وګرځوي، پر دې بنسټ په لومړني ګام کې له یوه لوري د جوماتونو له منبرونو څخه د تبلیغاتو د خپرولو لپاره کار واخیستل شو او ملا امامان یې چې خلکو ورته ډېر درناوی درلود، د خپلو موخو پر خبریالانو واړول له بلې خوا (د قانون د انفاذ له ارګانونو) څخه له وېرې پرته د خپلو فعالیتونو له لارې د داود خان پر ضد د هغوی په اند ملي او کافرو ناولې دښمنۍ تحریک کړې او هغوی یې په خپل تشکیلاتي اډانه کې هر ډول سربښندنې ته چمتو کړل، د بوټو حکومت چې کلونو وړاندې ددې شېبې په لټه کې و له دې مساعدې زمینې څخه کار واخیست او خپلې دروازې یې په اخلاص سره د ناراضیانو په اصطلاح (خوابدو) پر مخ پرانیستې او نظامي روزنه او ښوونه یې پر غاړه واخیسته، فرانتیر پوست اخبار د **۱۹۹۵**م کال د اکتوبر پر ۲۲مه نېټه لیکي: "د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بوټو پر ۱۹۷۴ د یوه اسلامي متعصب کس (ګلبدین حکمتیار) تر مشرۍ لاندې پنځه زره تنه چمتو کړل، چې په افغانستان کې د عامه نظم پر ضد او د پښتونستان له داعیې څخه د داود خان د پام اوښتو لپاره کار وکړي، پر ۱۹۷۹م کال د امریکا سي. ای. اې (C.I.A) له پاکستان څخه وغوښتل چې د افغانستان د مخالفو ډلو یو مشر چې ډېر د باور وړ وي وروپېژني. پاکستان ګلبدین حکمتیار وروپېژندو، (اشیا- افریقا مجله، نهمه ګڼه، کال ۱۹۹۳ میلادي د سپالینکوف لیکنه) له محمد داود خان سره پراخې مبارزې په پرله پسې ډول روانې وې، تر میوندوال وروسته د ۱۹۷۳ پر دسمبر محمد رسول د احوالاتو د ضبط پخوانی ریس پر توطیې لاس پورې کړ، چې د جمهوري نظام له خوا وتکول شو. د **۱۹۷۵** پر چنګاښ



Ketabton.com

په اصطلاح الحاد محمد داود پر ضد تر شعار لاندې یو بل پاڅون په کابل او څو ولسوالیو لکه پنجشیر او پلخمري کې د ګلبدین حکمتیار تر مشرۍ لاندې پیل شو، چې د ا.خ.د.ګ په ځانګړي ډول د پرچم په مرسته په بیړه وځپل شو، څه موده وروسته بیا هم د اسلامي بنسټپالو له خوا د مولانا فیضاني تر مشرۍ لاندې یوه بله توطیه کشف او شنډه شوه، د ۱۹۷۴ پر لیندۍ یوه بله دسیسه دا ځل د جنرال میراحمد شاه د دفاع وزارت د توپچي ریس له خوا جوړه شوه، چې هغه هم د ویښو ځواکونو له سترګو نه، چې جمهوري دفاع یې د خلکو او د هېواد ګټه ګڼله پټه پاتې نه شوه، پر خپل وخت کشف او له منځه یووړل شوه، له دې ټولو ناسمو کودتایي خوځښتونو څخه چې ټول له ماتې سره مخامخ شول دا منطقي پایله لاسته راځي، تر هغه مهاله چې د جمهوري مشرتابه د کیڼ اړخو سیاسي، ټولنیز او اقتصادي طرحه شوي پرګرام ته د وفادارو همکاري له ځانه سره لرله، هېڅ ځواک نه پر دوی د یرغل توان نه لود.

کله چې پر کیڼ اړخو ځواکونو شک پیدا کېږي او اعتبار یې ختمېږي نه یوازې د جمهوري نظام موخو ته له خدمت څخه بې برخې کېږي، بلکې د جمهوري نظام پر مختللې موخې بېلېږي، پر عکس ښي اړخو افراطي ډلو چې د پاکستان له پراخو نظامي او لوژستیکي مرستو څخه برخمنې وې، خپلو صفونو ته نور نظم هم ورکړ او د جمهوري رژیم له سقوط او د ا.خ.د.ګ له له منځه وړلو څخه پرته یې بله څه نه غوښتل، ښي اړخي بیا هم تر غور وروسته وایي د محمد داود سازشونه او تېر شا کېدل، د هغه د خپلې مبارزې پایله ده. محمد داود خپل ژغور په هیله ښي اړخو افراطي ځواکونو ته د پټو او بربنډو ګوزارونو په مقابل کې امتیازونه ورکوي. کابینه له کیڼ اړخو انقلابي ځواکونو څخه تشوي، د کودتاچیانو مرکزي کسېته ورکېږي او د اردو او امنیتي مقاماتو په



Ketabton.com

وروستنیو سطحو کې تصفیه پیلېږي، انتصابي لویه جرګه جوړېږي ډموکراسي او ملي ځواکونه یې له ګډون څخه په ظالمانه توګه محرومېږي. د ملي انقلاب ګوند د ډګر اتل کېږي، پر سیمې کرغېړنه فضا واکمنه کېږي او د ټولو ګوندونو د ازاد فعالیت مخه نیول کېږي، د اسلام اباد، تهران او ریاض سفرونه پیلېږي او د ساعت ستن پربښې لوري ګرځي. له ایران او پاکستان سره د اړیکو ښه کېدو ته په ډراماتیکه توګه پاملرنه کېږي او د دولتي رسنیو تبلیغات ددې سیاست رښتینولۍ ته ځانګړي کېږي. د شخص هوډ د قانون پر ځای واکمنېږي. په دې تنګه فضا کې ستونزمنه ده چې د ا.خ.ډ.ګ په لوړ پوړ کې روغې هیلې ولیدل شي، دا هیلې عملي ښه نیسي او د کارمل لاربښوونه د رهبري پرېکړې په نامه د ولایتي کمېټې په مشورتي جلسه کې چې (د لیکوال په کور کې) جوړه شوې وه د اروابناد میر اکبر خیبر او بارق شفیعي له خوا ابلاغ او له سختو غبرګونونو سره مخامخېږي. ډاکټر نجیب تر ټولو وړاندې د اعتراض په ډول وویل ملګري کارمل ته وواياست ستاسو لپاره ګوند منحل دی، ځکه چې ګوند د پرېکړې او لاربښوونې حق تاسوته درکړی، اوس چې ګوند ستاسو لپاره ... نه دی؛ دا حق هم شتون نه لري. د راتلونکي په اړه هر څوك تصمیم نیسي، د خیبر له څېرې نه ښکارېدل چې د ډاکټر نجیب له خبرو سره مخالفت نه لري، جلسه په کړکېچنه فضا کې پایته ورسېده او نیم ساعت وروسته نجیب الله اکثره ناراضي کدرونه زما کور ته راوستل او د کارمل د لاربښوونې تر تحلیل وروسته مو پرېکړه وکړه چې ګوند په لاربښوونه منځته نه راځي ... په دستور نه ور ... کېږي ... ګوند خپلو انقلابي مخالفتونو ته ادامه ورکوي او خپله منظمه ښه د زنځیر په څېر یو په بل پسې سموي، د کابل ولایتي رهبري کمېټه دې په بیړه د ګوند د مشرۍ دندې پرغاړه واخلي او یوه کمېټه دې وټاکل شي، چې ددې پرېکړو له څرنګوالي څخه



Ketabton.com

معلومات واخلي او په سباني غونډه کې دې چې همدلته به ترسره کېږي ګزارش ورکړي. موږ لا درې کسيزه کمېټه چې حقيقت ومومي نه وه ټاکلې، جنرال بارق شفيعي تر څو دقيقو وروسته په دې پلمه چې له غوربندي سره يې ضروري کار و، زه يې بهر وايستم او کراره يې راته وويل، تر دې وروسته ددې ډول غونډو د جوړولو مسووليت ستاسو پر غاړه دی، بيا له کوره ووت. وروسته مې واورېدل چې د ولايتي کمېټو مقاومت او وراندېنۍ پرېکړې يې له پامه غورځولې وې او کارمل يې وارخطا کړی و، هغه د خپل ايجنټ په مرسته له لوړو مقاماتو سره په تماس کې شو او دا يې څرګنده کړه چې "موږ له واکه خلاص شولو، خو ګوند پاتې شو" کارمل سبا ته بيا په ټايمني کې د زهاپليکوال کور ته راغی او ويې ويل له بده مرغه تاسو ته پرېکړه ناسمه رارسېدلې ده. موږ د ګوند د سختې څارنې له کبله چې د ګوند پر ضد پيل شوې، پرېکړه وکړه چې د اړيکو سازماني جوړښت بدلون ومومي، د څو کسيزو حوزو پرځای دې افرادي او يا دوه کسيز اړيکې جوړ شي. سخته پاملرنه وکړئ چې د هر ډول غرض لرونکي تعبير او تفسير مخه ونيول شي. د پرېکړو ارزښتونه لږ نه شي او د سياسي کړنلارو څينې لړۍ زيانمنې نه شي.

له اجازې سره مې وويل: موږ په پرېکړو کنې د ګوند د ورکېدو خبره واورېده چې مانا يې روښانه ده، کارمل په جدي لهجه وويل دا خبره په پوره مانا نه ده کارول شوې، د ګوند د خوندي کولو اومقابل لوري ته د ډاډ ورکولو لپاره له کلېمو څخه کار اخيستل عادي خبره ده، بايد ډپلوماسي ژبه زده کړو، له دې تبليغاتو څخه چې ګوند ورکېږي، مه وېرېږئ موږ بايد د ګوند تر پوښ لاندې ګوند ته منظم نوښت ورکړو، نننۍ غونډه دې وروستۍ وي، ستاسو له وفادارۍ څخه چې په ګوند کې مو له غبرګون څخه ښکارېده د ګوند د مسوول په توګه مننه کوم، په داسې حال کې



Ketabton.com

چې لـه هریـوه سره یـې ښه تـود روغبړ کـاوه تـر مخـه ښې وروسـته لـه کـوره ووت اوکـندرونو هـم لـه مانـا داري موسـکا سـره خـدای پامـاني وکړه او خـواره شـول.

دسـتګیر پنجشیري وایـي "... پـه داسـې یـوه ککـړه سیاسـي فضـا کـې چـې هـرچـا د ټولنـې د بدلـون غوښتونکوطبقـو د حکومـت د بـیروکراتیکي او اداري دسـتګاه د ظلـم بـد بـوی پـه بیلابیلـو بـڼو احساسـاوه او د دې سیمې او نـړۍ پـر ډموکراتیکو او ملـي ځواکونـو پـه مسـتقیم یـا غـیر مسـتقیم ډول ګوزارونـه کېدل او د دولـت کورنـي او بـهرني سیاسـت ورځ پـر ورځ ارتجـاعي بـڼه خپلولـه، د خلکـو د حقوقـو تـامین او د ډموکراسـي ازادۍ لپـاره مبـارزه د ټولنـې بدلـون غوښتونکـې طبقـې د یـوه شـعار پـه تـوګه پـه لومـړي ګام کـې د ا.خ.د.ګ په مرکزي شعار بدل شو او بیـا زیـاتوي چـې ګونـد هیلـه مـن کوونکـې هـڅې پیـل کـړې چـې ټولنـیزې فعـالې عرصـې تـه ننـوزي اوافغانسـتان خلـق ملـي او ډموکراتیکـې مبـارزې د درو تـر ژورو، کلیـو او د ښارونـو تـر مرکـزي صنعتونـو پـه ټولـیزه تـوګه د افغانسـتان په ګوټ ګوټ کې خپرې کـړې. لـه خلق سره یـو شـي، د خلـق اود هغـه لـه ورو ملـي ډلـو څخـه هـم دفـاع وکـړي د خلکـو زړور او رښتینـي بچـي وپـېژنـي او لـه سره یـې وروزي. د دستوري (ملـي انقـلاب) ګونـد د فعـالیت پـه پیـل کـې د ا.خ.د.ګ د ځینـو پوهـو خلکـو د نفـوذ زمینـې تـه ـ د دې فرمایشـي سـازمان پـه دننـه کـې غونـډې جـوړې کـړې او ډموکراتیکـو طبقـاتو تـه یـې خپلـې ګټې ورسـولې او خپلـې انقلابـي دنـدې یـې پـه هراړخـیزه تـوګه د ډموکراتیـک د قشـرونو پـه ګټه اود تـاریخ د بشـپړتیا لپـاره پـه هڅانـده تـوګه ترسره کـړې (ظـهور و زوال، مخ ۱۲، دویمـه جملـه).

خـو پـه پـرچـم کـې تـر ورانـۍ غوښتنـې او د هغـې تـر شـنډولو وروسـته د پـرچم دمرکـزي کمیـتې پراختیـا د ا.خ.د.ګ د بیـا یووالـي ضروري شعارونو پـه تـوګه مطـرح شـوه چـې ډېر پـر زړه پـورې وو، پـه



Ketabton.com

دې اړه له ښار او کليو څخه په لسګونو وړانديزونه رارسېدل او په هغو کې يې د دې دوو طرحو تحقق غوښت.

په مرکز کې دګونديانو تر منځ دا دود شوې وه چې ويل يې "د مرکزي کمېټې په پراختيا سره ګوند ته نوی ځواک ورکړئ اود ارتجاعي بدلونونو پر وړاندې د بريمنې مقابلې لپاره د ا.خ.د.ګ بيا يووالی تينګ کړئ" هېڅ‌اهم د دې دوو طرحو مخالفت نه شو کولای، دې دوو غوښتنو په سياسي بيرو او د ا.خ.د.ګ په مرکزي کمېټه کې هم جدي غبرګون درلود، خيبر د دواړو هغو پلوي کوله او دواړه يې دګوند په [illegible] دندو کې دوه ضروري کړنه بللې، خو کارمل نه غوښتل چې په پرچم باندې موجود انډول چې د هغه په ګټه و خراب شي او يا هم د ا.خ.د.ګ له يووالي سره د وړاندې لسو کلونو غونډې دويم کتار ته لاړې شي. خو د ټوليز هوډ پر وړاندې مقاومت بې ګټې و، د دواړو خواوو هڅې پيل شوې، په لومړي ګام کې پرېکړه وشوه چې له پوليسي څارنو سره سره دې ګوندي غونډې په احتياط ترسره شي اودعملي دندو د ارزونې په ترڅ کې دې د تکتيکي او ستراتيژيکي موخو مبارزه هم په اوسنيو شرايطو کې روښانه شي او مرکزي کمېټه دې پراختيا ومومي، د غونډو اسنازي له مرکز او ولايتونو څخه وټاکل شول او ټاکل شوي ځای ته راغلل، غونډه د نور احمد نور د کوږدې په پوښښ کې چې هغه مهال [illegible] د بارق شفيعي له لور سره [illegible] شوې وه، د ۱۳۵۴ په ژمي کې د څلورمې کارتې (کارته چهار) په سيمه کې ترسره شوه. د شرايطو د پېچلتيا او ستونزوله کبله وپتېيل شوه چې غونډه بايد په يوه شپه کې خپلې ټولې دندې ترسره کړي. د پوليسو د بريد [illegible] مخنيوي او د ګډونوالو د امنيت لپاره وړ تدبيرونه نيول شوي وو. د سالون په منځ کې يوه لويه بخارۍ ولاړه وه او ټاکل شوي خلک چې پر موسيقۍ پوهېدل، موظف وو چې د خطر پر مهال په دې پلمه چې په کوږده کې يې



Ketabton.com

ګډون کړی پر سندرو غږولو پیل وکړي. پر بامونو هم خلک د رول شوي وو چې څارنه وکړي اود کور پر شاوخوا هر ډول حرکت وڅاري. چې ګډونوال ونه نیول شي. غونډې د محمد داود خان مطلقه حاکمیت چې د ګوندونو فعالیت یې تړلی، د کارګرانو اورونانډو روا غوښتنې څېلې دي د هغه نوي مواضع یې چې د بني ارخو تنظیمونو د بریدونو اودپاکستان، ایران او سعودي عربستان تر نظامي فشار لاندې په ډراماتیکه توګه بدلون موندلی و وغانده، د دې ستونزمنې وضعې د خلاصون لپاره د ډموکراسی او یووالي لپاره نوې مبارزه د دوو پایته نه رسېدونکو دندو په توګه دوه عملي او ضروري شعارونه وټاکل شول.

په دویمه برخه کې غونډې په پټو شرایطو او تشکیلاتي برخو کې د کار د ښه والي لپاره اوږدې خبرې وکړې. د مرکزي کمېټې پراختیا د تایید وړ وګرځېده. د مرکزي کمېټې او پرچم په خوښه او غړیتوب ورته څو کسان وټاکل شول. سرور یورش، عبدالقدوس غوربندي، عبدالمجید سربلند، عبدالوکیل او محمود بریالی. غونډه هغه مهال پایته ورسېده چې سهاري مهال ملایانو د الله اکبر په ناره خلک لمانځه ته رابلل، د کدرونو په ذهن کې یوه پوښتنه پاتې شوه هغه دا چې: کارمل تر څانګړي فشار لاندې په (ملي انقلاب) کې د ګوند ورکېدل غوښتل او دهغه د تطبیق لارښوونه یې د رهبري پرېکړې تر نامه لاندې ورکړې وه. اوس څنګه چمتو شو چې د غونډو جوړولو او د هغو پرېکړو ته د انقلابي مبارزې په توګه څه ونه وایي؟ د دې پوښتنې ځواب وروسته وموندل شو. چې هغه د ګوندي تولیز هوډ تر فشار لاندې د دې ګولښونو له وېرې چې کدرونه په یو مخېز ډول یو کېږي د خپلې غوښتنې خلاف دې سیاست ته غاړه ایښې وه. څکه دواړه ډلې د بلوغ پړاو ته رسېدلې وې او غوښتل یې چې خپل سیاسي مقدرات په لاس کې ولري. مشرانو ته شخصي تړاوونه پر فکري او



Ketabton.com

عقیده یې پیوندونو بدل شول، پلویانو سیاسي او ایدیالوژیکې بنه خپلوله. اړیکو ضابطو ته ځایونه تشول... د دواړو ګوندونو مشرۍ نور نه شول کولای چې د کدرونو پر وفادارۍ ډاډمن شي. هرڅوك باید د خپل حساب له مخې خپله خبره په دلیلونو ثابته کړي او بل لوری وجداناً راضي کړي.

نو که خلکو خپل اعتبار نور هم له لاسه ورکاوه، د اکثریتو غوښتنو ته نه پاملرنه د منلو وړ نه وه، د "یو شو چې نابود نه شو" شعار پر زړونو کېناست او دواړو ګوندونو همدې ته ورته غبرګون درلود.

لنډه دا چې تولې زمینې برابرې وې (چې د یووالي ونه غوټۍ راوسپړي) او د ا.خ.د.ګ د بربادۍ مخه چې لیدونکې وه پر خپل وخت ونیول شي. په دې توګه لومړنی ګام سم اوچت شو او ځلورکسیز پلاوي چې دوو دوو تنو د هرې غاړې استازیتوب کاوه مذاکرو او د خنډونو لرې کولو ته وتاکل شول. دوی مکلف وو چې د خپلو مذاکراتو په پرمختګ کې د دواړو ګوندونو مشري وکړي. په پرچم کې اصلي محرك میراکبر خیبر و، هغه کارمل ته ګوابښ وکړ که د یووالي په پروسه کې بې ځایه خنډ رامنځته شي، له قید او شرط څخه پرته به د بېلتون غمیزې ته پای ښني. یوه ورځ زه (لیکوال) په دې برخه کې د دوی د خبرو اترو شاهد وم، خیبر د یووالي د پروسې کراره پر مخیون او د ځینو خلکو د بې ځایه پلمو پنه ځانګړې توګه په غونډو کې د دواړو ګوندونو د دوو پلاویو په اړه سختې نیوکې درلودې. کارمل چې په اوپراتیفي ژبو کې برلاسی استاد و خپله خیبر یې د موضوع په توګه رامنځته کړ او ویې ویل تره کی پرتا باور نه لري او تا د سیاسي بیرو په توګه نه مني. خیبر په لرې غوسه ناکې لهجې په ځواب کې ورته وویل، له تاسو څخه هیله کوم چې ما مه پلمه کوئ، په ګوند کې زما مقام مهم نه دی، هغه څه چې ډېر ارزښت لري نوی یووالی دی، که



Ketabton.com

اړتیا وي زه چمتو یم چې د ګوند ازمېښتي غړيتوب د زړه له کومې ومنم، چې تاسو د یووالي په پروسه کې کومه ستونزه ونه لرئ. د یادونې وړ ده چې کارمل تر تره کي په سیاسي بیرو کې د میر اکبر خیبر شتون د ځان لپاره سمون نه باله، هڅه یې کوله چې په یوه غښې دوه نښانه وولي، له یوه لوري بهرو ته د میر اکبر خیبر له ننووتو څخه مخنیوی وکړي، له بلې خوا د تره کي مخالفت پلمه کړي او د بې باورۍ زړي وکري. او د اړتیا پر مهال تري کار واخلي هغه تر یوه حده په دې توطیه کې بریالی شو چې د سیاسي بیرو له سندونو او د ا.خ.د.ګ له انتصابي دارالانشا څخه د خیبر نوم وایستل شي. یووالی، چې خیبر په کې جوت رول درلود ورته د داد وړ و او له دې نه چې په سیاسي بیرو کې له غړيتوب څخه بې برخې شوی و کومه نیوکه یې نه درلوده، خو د غونډې او د ا.خ.د.ګ د یووالي له کار څخه ناراضه واو زیانمنېدونکي یې ګڼل، سره له دې یې ویل: یو کمزوری یووالی تر بېلتونه ښه دی، باید ټینګ یې کړو او خپل یووالی وروزو.

د ۱۳۵۶ لمریز د چنګاښ پر ۱۲مه د یووالي سند د خلق او پرچم ګوندونو تر منځ د ۹۰ استازو له خوا لاسلیك شو. د مرکزي کمېټې غړي چې د ۱۳۵۶ د چنګاس د ۱۲مې نېټې په غونډه کې چې د خلق او پرچم له فرکسیون څخه جوړه شوې وه دا دي:

احد ولسي، اسمعیل دانش، اکبر خیبر، اناهیتا راتبزاد، بارق شفیعي، ببرك کارمل، حسن پیمان، حفیظ الله امین، حکیم شرعي، دستګیر پنجشېري، رشید ارین، سرور یورش، سلطان علي کشتمند، سلیمان لایق، شاه ولي، صالح محمد زېری، قدوس غوربندي، کریم میثاق، مجید سربلند، محمود بریالی، محمود سوما، منصور هاشمي، نجیب الله، نظام الدین تهذیب، نور احمد نور، نور محمد تره کی، وکیل، یاسین بنیادي، فدا محمد دهنشین او قیوم نورزی. دا په اصلي غړو کې راتلل،



Ketabton.com

وروستي دوه تنه د مرکزي کمېټې د علي البدل غړو په توګه له دواړو فرکسيونونو څخه ټاکل شوي وو، خو له بده مرغه د پوليسي څارنو او ناسمې فضا له کبله دا (۹۰) تنه ونه توانېدل يوځای سره راټول شي او په پرمختللي ډول پر طرحو شويو موضوعاتو او سياسي تګلارې ازادې خبرې وکړي او د رهبري پلاويو په ټاکنو کې خپل هوډ څرګند کړي. د بېلتون مسوولين وېږني، لس کلن بېلتون او بې شمېره زيانونه يې وارزوي، د غونډې استازو ته وخت ورنه کړل شو چې د غونډې اصلي بيانيه او تګلار په ژوره توګه مطالعه کړي او خپلې نظريې څرګندې او د ګوند په نويو ټاکنو کې برخه واخلي. د غونډې مشران چې اجنډا يې نوی يووالی و، د څو ډلو په توګه په بېلابېلو سيمو کې راټول شول او د ويناوو تر اورېدو وروسته يې کليشه يي ژمنې او د يووالي ستاينه کوله، دا يې ويل چې بايد د سترګو د کسيو غوندې يې وساتو.

په دې توګه د موسس تر کنګرې وروسته دګوند د بنسټ دويمه ډېره هم په معاملو کې کېښودل شوه، چې مومن، سرسپارل، انقلابي او هېواد ميني ګوندیان يې کفاره ورکړه، هغوی د ټولنيز عدالت د تامين لپاره په اتلتوب سره مبارزه وکړه او تر ځانه تېر وو. خو پرعکس د قدرت تږي په چل او دوکې سره له دې قربانيو څخه په خپله ګټه کار واخيست. کله چې واك ته ورسېدل له ګونده بېل شول. بېلتون او غميزه يې رامنځته کړه، کله چې سطحي او شکلي يووالي ته چمتو شول چې خپلې ګټې يې په سر کې شمېرلې، د ټولو نارضايتونو، بدمرغيو او بېلتونونو لامل د داسې يوه سړي له ځانې غوښتنې څخه سرچينه اخيستې وه، اوس يې څه ناخه څېرې او کړنې رسوا او نقابونه لرې شول او تېر وخت په ربښتيني توګه توضيح شو.



Ketabton.com

نوي یووالي ته راګرځو: ټاکل شوې وه چې د مرکزي کمېټې ۲۸ تنه اصلي غړي په څلورمه کارته کې د نور محمد تره کي په کور کې په درې کسیزه توګه پر ټاکلي مهال راشي او د غونډې سند لاسلیک کړي. لیکوال او سرور یورش دواړه کور ته ننوتو، نور محمد تره کي او ببرک کارمل یو د بل تر څنګ ناست وو، یو وړکوټی مېز او یوه څوکۍ یې مخې ته پراته وو، په لاسلیکوونکو کې مونږ دوه وروستني کسان وو دواړو مشرانو د جنګیالیو یووالي د ګټو په اړه لنډې خبرې وکړې، تره کي زیاته کړه په رود کې چې اوبه لږې شي نو د اوبو بهیر سره بېلېږي اوځو ځانګې او ټاپوګانې جوړوي، خو کله چې واوره ویلېږي او چینې ډکېږي، رود له خپله بستره جګېږي او ټاپوګانې پټوي، د دښتو او ځمکو خړوبولو ته روانېږي، هرڅه ته ژوند او تازګي ببښي، زمونږ بیا یووالی هم د رود غونډې دی. ما په څواب کې وویل، له دې نه چې د ډېرې مودې تراوښتو وروسته مو په یو ډول نه یو ډول یووالی ترلاسه کړ خوشحاله یم، مونږ تر ډېرو سختو کلونو وروسته له بې ماناوو رقابتونو ښه درسونه واخیستل، سرور یورش هم زما خبرې تایید کړې، مونږ دواړو د یوې پاڼې په پای کې چې ګڼ لاسلیکونه ورباندې شوي وو لاسلیک وکړ او تر مخه ښې وروسته له کوره ووتلو، کله چې د څلورمې کارتې عمومي سړک ته ورسېدو د داروګانو د عمومي ډیپو پر وړاندې د کابل پوهنتون یو کارنده ګونډي چې اشنا څېره یې وه، مونږ ته رانږدې شو او ویې ویل. ملګري په جمال مېنه کې د کریمزاده په کور کې راغونډ شوي دي، ماته یې لارښوونه کړې چې تاسو ته ووایم او تاسو هم ورشئ. مونږ ګومان وکړ هلته تلل به د یووالي د پروسې یوه برخه وي. له کومې پوښتنې پرته د هغه کور خواته روان شولو، کله چې هلته ورسېدو په حیرانۍ سره مو ولیدل چې د پرچم *مخکښې* ګوند د مرکزي کمېټې څو غړي ناست دي. مونږ هم کېناستو او تم شولو،



Ketabton.com

خیبر هم ترخه شپېږ وروسته راورسېد، وروستی کس کارمل و چې کور ته رادننه شو. د هغه له رسېدو سره ډاکټرې اناهیتا ټول کسان د هغه ګردي مېز شاوخوا ته راوبلل چې د سالون په منځ کې پروت و، موږ ټول له ځایه رااوچت شولو، لا د مېز چاپېره ځای پرځای شوي نه وو چې په حافظه کې مې شپاړس کسیزې غونډې راڅرګندې شوې چې کارمل به د لومړي ببلتون لپاره جوړولې، وربېږدېدم، حال مې بدل شو، په رېږدېدلي غږ مې چې لویه اندېښنه ترې ولاړېده، وپوښتل: موږ ولې او دځه لپاره دلته راټول شوي یو؟ څو شپېږ وړاندې مو تر لس کلن تخریب او ببلتون وروسته پر یوه سند خپل لاسلیك وکړ، لامو د قلم رنګ وچ شوی نه دی. چې بیا هم یو فرکسیون جوړېږي او بله غونډه ترسره کېږي.

کارمل مې په خبرو کې راولوېد او ویې ویل، ډاکټرې اناهیتا غوښتل د وروستي ځل لپاره دلته راشم او ټولې تېرې ګوندي غونډې هېرې کړو، خیبر وویل، ښه وو که د یووالي د سند تر لاسلیکېدو وړاندې دا غونډه ترسره شوې وای، همدا اوس که ترهکي ـ خبر شي چې د یووالي تر غونډې وروسته موږ په جناحي ډول سره راټول شوي یو، حق لري چې زموږ پر رښتینولۍ شك وکړي او د یووالي ستن چې هسې هم لړزانده ده ماتې وخوري. د غوربندي نیوکه پرځای ده، بیا هم چې موږ د خرابو شرایطو د شتون په نامه او د اصل مرکزیت د عمده اوسېدو له کبله ونه توانېدو چې یوځای سره راټول شو، اوس څنګه دلته دا څوارلس کسیزه غونډه جوړېږي، دا کار په هېڅ ډول د توجیه وړ نه دی، پر دې مهال کارمل اوچت شو پرته له دې چې څه وایي د خیبر خواته یې خپل لاس دمخه ښې لپاره اوږد کړ او د ملګرو ډله خوره وره شوه، دې حقیقت یوځل بیا وښوده چې د کارمل او د هغه د ډلګیو له نظره یووالی یو مصلحتي کار دی او هېڅ اعتبار پرې نه لري.

خو د هغوی لپاره چې تېنګ هوډ يې درلود دا وړ و، چې له يووالي څخه ملاتړ وکړي او نور پسې نه ړدي چې د سپېڅلو او سرتېرو ګونديانو پر برخليك لوبې وشي، د دې لپاره چې مقام او واك ته د تلو زينه كار اخيستو ته چمتو شي، تصميم يې ونيوه چې له بېلتون غوښتونكو او فركسيونبازانو سره روغه ونه كړي او غونډې د مجرمينو د اخلاقي، سياسي او سازماني انحرافاتو پر محكمې بدلې كړي او له هغه حق څخه له وېرې پرته كار واخلي چې كړنلار يې يوه ګوند ته وركوي او د زيان رسوونكو له احكامو سره غوڅ چلند وكړي.

هغوی چې په دې اړه تر نورو زيات د مسووليت احساس كاوه پټ نه وو، دا كوم تصادف نه دی چې: دستګير پنجشېري، سليمان لايق، عبدالحكيم شرعي جوزجاني او عبدالقدوس غوربندي د څارنې په مركزي كميسيون كې وټاكل شول، چې هڅې يې نور قانوني بنسټونه هم پيدا كړي. د ګوندي څارنې لومړنۍ غونډه د زمري پر ۲۸مه چې د افغانستان د خپلواكۍ له ورځې سره يې سمون خوړ ترسره او د كار پروګرام تثبيت شو. په پروګرام كې پر لومړي ګام وټېيل شوه چې د څارنې كميسيون له خوا د ګوند د تشكيلاتي يووالي په ګړنديتوب كې وړ تدبيرونه ونيول شي او له دې اړخه راولاړ شوي شكايتونه حل او وڅېړي.

اوس له ګوند څخه بهر د محمد داود مطلقه حاكميت ته يو نظر اچوو او هغه اوضاع څېړو چې د ګوند پر ټولو كارونو يې اغېز ښينده، د محمد داود سياستونه په ټولو جهتونو كې ښي لور ته چورلېده، "جارج ارني" په دې اړه وايي "داود چې خان يې له مسلمانو تندروانو او كمونستانو څخه لرې ساته، سياسي فعاليتونه او مخالفي خپرونې بندې كړې او خپل ملي ګوند يې جوړ كړ، هغه پر ۱۹۷۷م كال په داسې وخت كې چې د مخالفت هر غږ يې غلی كړی و، د يوه ګوند د مشرۍ پر لوري پرمخ ته. داود پر



Ketabton.com

تولـو کیـن اړخـو ګوندونـو چلیپـا وکښلـه (جـاج ارنـي، ګذرګاهٔکشـور ګشـایان، مـخ ۷۱- ۷۲) جـورج ارنـي زیـاتوي: "پـه عیـن وخـت کـې یـې پـه هنـد او مصـر کـې د نظـامي افسـرانو روزنـه هـم تنظیـم کـړه، پـه همـدې ډول هغـه د شـوروي روزل شـویو سـرتېرو پـر سـپیناوۍ چـې دهغـه پـه واکمنولـو کـې یـې مرسـته کـړې‌وه پیـل وکـړ، پـه دې تـوګه یـې د لویدیـځ پـر لـوري مخـه شـوه، (د هماغـه کتـاب پـه ۷۲مـخ کـې زیـاتوي) : (داود خـان همـداراز لـه نفت تولیدوونکـو او امریکـا پلویـو هېوادونـو لکـه عـراق، کـویټ او سـعودي عربسـتان سـره خـبرې اتـرې پیـل کـړې، پـر ۱۹۷۶م کـال د امریکـا د بـهرنیو چـارو وزیـر (هـنري کیسـنجر) د کـابل کتنـه وکـړه او د داود خـان لـه وړاندیزونـو نـه یـې ملاتـړ څرګنـد کـړ.) پـه دې تـوګه د واحـد ګونـد پـر ضـد د داود خـان بریـد پېښېدونکـی و.

د نظـامي څانـګو مسـوولینو هـم خپلـو فعـالیتونو تـه نـوی خـوځښت ورکـړ، د اردو پـه قطعـاتو او جزوتـامونو کـې د کیـن اړخـو خوابـدي،د نویـو سـرتېرو پـه راجذبولـو کـې ډېره اسـانتیا رامنځتـه کـړې وه، امیـن چـې د ګونـد پـه تنظیـم او د موخـو پـه تبلیـغ کـې یـې ډېر مـهارت درلـود اردو یـې لـه خلق څخـه بېلېدونکـی ګاڼه، د سـرتېرو پـه جلـب و جـذب کـې ښه پـر مـخ روان و، د ښې حـافظې او تینـګ هـوډ خـاوند و، امیـن د خلق ګوند ټول نظـامي غـړي پـه پـوره تـوګه پېـژنـدل، ان لـه څانـګړو اړیکو او ذوقونـو څخـه یـې هـم خـبر و.

خـو پـه پـرچم ګونـد کـې پـه دې برخـه کـې لـه مضـر احتیـاط څخـه کـار اخیسـتل کـېده، نـور احمـد نـور چـې ددې برخـې دنـده یـې د کـارمل د پـلان لـه مخـې لـه خیـبر څخـه پـر غـاړه اخیسـتې وه، لـه نظـامي کدرونـو او اردو سـره یـې چـې د ولایتونـو پـه شـاوخوا کـې بـه وو پېـژندنـه او لاسرسـي درلـوده. پـه دې تـوګه پـه وسـلوال ځواك کـې د دوو ګوندونـــو نفـــوذ د اړیکـــو د څرنګوالـــي پـــه اړه نابـــاوري او نااندولي رامنځتـه کـړه او پـه دې سـختو شرایطو کـې د یووالـي لپـاره



Ketabton.com

خوځښت یوه بنسټیزه ستونزه شوه، ګوند تر خپل یووالي وروسته ځان د داود الټر ناتیف باله او سیاست یې داسې و چې کله محمد داود د ښي او کیڼ اړخو افراطي ډلو تر برید لاندې راشي، باید په کلکه تړې دفاع او د سقوط مخه یې ونیول شي. خو کله چې محمد داود لکه څنګه چې له نښو څخه ښکارېده پرګوند برید وکړي اود مشرانو فزیکي نابودۍ ته ملا وتړي، د ګوند نظامي سازمان حق او دنده لري چې دخپل ژغور او مشرۍ لپاره له ځانه په مېړانه دفاع وکړي او د ظالمو وحشیانه برید شنډ کړي. د دستګیر پنجشېري په وینا "د دواړو رهبري ګوندونو تر یووالي وړاندې د وسلوال پاڅون دستور ابلاغ شوی و، " مخ ۷۹. خو لکه وړاندې چې وویل شول د نظام رهبري واحده نه وه او د دواړو ګوندونو هماهنګ پاڅون نه شو ترسره کېدی، دا یوه بنسټیزه ستونزه ګڼل کېده چې د ګوند په تاریخ کې یې جرړې درلودې

بلهٔ ستونزه چې د ګوند په وده کې یې منفي اغېز درلود او د بېلتون مایه وه، له هغو ابهاماتو څخه ... سرچینه اخیسته چې د ګوند په پېژندنه اود غړو په فکري نوښتونو کې ګډه وه. د ا.خ.د.ګ ماهیت د موخو د اصولو او د کړنلارې د جوړښت له مخې یو بېل ځانګړی ګوند و، چې د کړنلارې مواد دا مطلب داسې روښانوي "د ا.خ.د.ګ تر ټولو ښه سیاسي سازمان او د افغانستان د خواریکښې او کارګرې طبقې مخکښ دی، دا ګوند د کارګرو، بزګرو، کسبګرو او روڼاندو پر یووالي ولاړ دی"، د ګوند په لومړني کنګره کې دموکراتیک، ملي، پرمختللي او عدالت خوښوونکي خلک ... ګډون کړی و. د ساري په توګه د ګوند د کنګرې لنډ مهالی رئیس ادم خان ځاځی"یو سخت دریځي مسلمان" د لمانځه لپاره څو دقیقې رخصت وغوښت او د کنګرې د ډېرو غړو په خبر یې کمونستي زده کړه نه درلوده، هغه کسان چې نوي ګوند ته ننوتل د فکري او عقیدوي پیوند له مخې په



Ketabton.com

ځانخبرې کې ګوند ته نه راتلل چې د خپلو موخو لپاره مبارزه وکړي. بلکې دا د هغه کسانو له خوا راجذب شوي وو چې قومي، سیمه ییز او ژبنیز تړاو یې ورسره درلود او د ګوند په کورسونو کې یې له سوسیالیزم او ورو- ورو له ایدیالوژیک سره تړاو مونده. خو هغه کس ته به یې ایدیالوژیکه وفاداري ډېره وه چې دوی یې د ګوند غړیتوب ته هڅولي وو. سربېره پر دې افغانستان یوه ډودیزه او بشپړه مذهبي ټولنه وه او کمونستان یې له بې دینو خلکو سره یو ګڼل. هڅه کېده چې ګوند او دهغه غړي په دې نامه ونه پېژندل شي. د ګوند اکثر جوت غړي په رښتیني توګه کمونستان نه وو، د ساري په توګه سلیمان لایق هېڅوخت د کمونستۍ دعوه نه وه کړې او نه یې کوي. په بله وینا د ګوند اصولي ماهیت او د مشرانو د رښتیني خصلت ترمنځ یووالی نه و. د ا.خ.ډ.ګ تر ټولو مهمه او بنسټیزه ستونزه د شوروي کمونست ګوند تر څنګ ددې واړه ګوند د ډموکراتیک آر مرکزیت نړیوالې یووالی و، که څه هم د (کامنترن) تر پاشلتیا وروسته په پرنسیپ کې دا مسله له منځه تللې وه، خو د ګاونډیو وړو ګوندونو لپاره یې لا شتون درلود. شورویانو د اوس په څېر له کمونیزم څخه د خپل نفوذ د پراختیا لپاره کار اخیسته او چلند یې داسې و چې خپل لاسپوڅي او غلام کسان چې د کي، جي، بي د غلامۍ حلقه یې په غوږ کې درلوده لوړ کړي. خو د خلق سرلوړي او خپلواک خدمتګاران یې که څه هم د اعتبار او ځواک خاوندان وو لکه شهید میراکبر خیبر، شهید حفیظ الله امین او وروسته شهید نجیب الله چې په ډېره مېړانه یې شورویان یرغل کوونکي وبلل او د شوروي پوځونو د وتلو ورستۍ ورځ یې د افغانستان د ژغورنې ورځ اعلان کړه، څنګه په ناځوانۍ او جنایتکارانه ډول له منځه یووړل شول، یو هېواد یې وران کړ او یو ملت یې په وینو کې ډوب کړ.



Ketabton.com

له دې نه چې د ا.خ.ډ.ګ له ګټو ستونزو سره مخامخ و، يو هغه ستونزې دي چې د يو سياسي بحران په وده کې په عادي ډول رامنځته کېږي او بل هغه ستونزې دي چې د سياسي استفادو په موخه قصداً رامنځته کېږي، د څارنې مرکزي کميسيون بايد دې ټولو ته ورسېږي اود ګوند په دننه کې پېښې په بې غرضۍ سره وشني، حقايق کشف او بربنډ کړي، د احکامو په تطبيق کې څارنه وکړي او يووالى ټينګ کړي، کميسيون د منظمو غونډو له لارې ګزارشونه، تحريري او شفاهي نيوکې واوري او د حل قناعت ببنونکې لار دې خپله کړي. خو ګوند د خپلو پرېکړو ټينګولو ته کومه اغېزناکه وسيله نه درلوده. د ۱۳۵۶ لمريز کال د وږي مياشتې د وروستۍ اوونۍ په يوه ورځ کې سرور يورش زموږ کور ته راغى، په داسې حال کې چې د يووالي له تګلارې څخه ناراضي و د نيوکې په توګه يې راته وويل: "سره له دې چې د ګوند له يووالي څخه دوه مياشتې تېرېږي، دويم مرکز تراوسه په عادي ډول خپل کار پر مخ بيايي. خو د کنفرانس د پرېکړې له مخې لا نور محمد تره کى عمومي منشي دى" ببرک کارمل تفرقه اچوونکې لارښوونې کوي" ومې ويل ستاسو ځانګړې او مستنده نيوکه څه ده؟ يورش په ځواب کې وويل سربېره پر دې چې د کتنو لپاره د پل سرخ مرکز د تېر په څېر فعال دى او ببرک کارمل دګوند غړي هلته غواړي او لارښوونې ورته کوي چې د واحد ګوند د روغې جوړې خلاف دى، په دې لړ کې يې زه هم غوښتى وم، کله چې مرکز ته ننوتم، نجيب الله او مجيد سربلند مې هم وليدل چې هلته ناست وو. کارمل موږ ته وويل د دې لپاره چې په ګوند کې واحد او ځواکمن پاتې شو منظمې ليدنې کتنې ته اړتيا لرو. يووالى هله ساتل کېږي چې موږ قوي واوسو او قوت په يووالي کې دى.

ددې يووالي بڼه به بدله شي خو مضمون يې بايد په هرحالت کې وساتل شي. لنډه دا چې له دې خبرو نه د تفرقې او بېلتون بوی



Ketabton.com

راتـه، د څارنـې کمیسیون بـاید موضـوع وڅېړي، یـوه پـاڼه یـې هـم چـې دا مطلب پـرې لیکـل شـوی و راوسـپاره او ویـې ویـل لـه دې نـه چـې تاسـو د مرکـزي څارنـې پـه کمیسیون کـې غړیتـوب لـرئ، زه دا اعتراضیـه یـادښت ستاسـو پـه وسیله رسماً کمیسیون تـه سپارم چـې پـه دې تـرخ کـې ضـروري اقـدام ترسـره شـي«۱»(لیکـوال) دا لیکـل شـوی شـکایت د جلسـې کمیسیون تـه چـې دورانـي ریـس یـې ښاغلـی پنجشـېری و وړانـدې کـړ، پـه کمیسیون کـې تـر خـبرو اتـرو وروسـته پرېکـړه وشـوه ښاغلی پنجشـېري تـه دنـده وسپارل شـوه چـې لـه کـارمل سره پـه دې اړه خـبرې وکـړي او پـایلـه یـې پـه بلـه جلسـه کـې کمیسیون تـه وړانـدې کـړي. دا کتنـه ترسـره شـوه او پنجشـېري پـه بلـه جلسـه کـې د خـبرو د ګټې ګزاش داسـې ورکـړ: "کـارمل د سـرور یـورش یـادښت د ځان پـر ضـد یـوه توطیـه ګڼي، چـې د مخـالفینو لـه خـوا یـې لاړښوونـه شـوي... دا چـې د سیاسـي بـیرو فـوق العـاده کمیسیون پـه کنـدوز ولایـت کـې د امیـن فرکسیوني فعالیتونـه تـر درخواسـت لانـدې نیولـي، حفیـظ الله امیـن پـه دې وروسـتیو کـې خیـبر تـه نـږدې شـوی دی، چـې پـه دې تـور مـا، چـې ستاسـو تـر څنګ، د حفیـظ الله امیـن پـر ضـد ولاړ یـم کمـزوری کـړي او خپلـه ګټه ترلاسـه کـړي. دسـتګیر پنجشـېري لـه دې توضیحـاتو سـره د مسـلې لـه تعقیبولـو څخـه پـوره ډډه وکـړه او د خپلـو خـبرو پـه پـای کـې یـې وویـل وېرېږم چـې ترکاسـې لانـدې نیـم کاسـه نـه وي. د څارنـې کمیسیون د غـړو تینـګار د دې سبب شـو، چـې عبدالمجیـد سـربلند او نجیـب الله د شـاهدانو پـه تـوګه کمیسیون تـه وغوښتـل شـي او وپوښتـل شـي. شـاهدانو پـه نومـوړې مرکـز کـې خپـل شـتون تـایید کـړ، خـو د سـرور یـورش د یـادښت محتـوا یـې د ببرك کـارمل د خـبرو پـر بنـا پـټه کـړه تـر هغـې وروسـته د سـرور یـورش د یـادښت موضـوع ډېره تعقیـب نـه شـوه مسلې پـای ونـه مونـد او سیاسـي بیرو تـه هـم ونـه رسـېده.



Ketabton.com

دې مسلې د کارمل، مير اکبر خيبر او (ليکوال) تر منځ اختلافونه زيات کړل، کارمل نه يوازې خپل مخالفين بلکې خپل لاربنوونکي هم چې مشوره يې ورکوله نه بښل. هغه په پرچم گوند کې د عمومي منشي تر يووالي وړاندې د واك خاوند او ځان يې له خطا څخه پاك گاڼه، دا يې خوښېدل چې تل دستور ورکړي او (هو) واوري، هغه غوښتل له مرکزي کميټې څخه يوه کورنۍ غونډه جوړه کړي او خپله د ټولو پلار وي. د خپلواکو ديکتاتورانو غوندې عمل وکړي، دا ورته ستونزمنه وه چې په نويو شرايطو کې تر يووالي وروسته چې بل عمومي منشي نه شته، ځان منظم او گوندي انضباط پرځان ومني، اروايي جوړښت يې داسې و چې تر ځان يې بل لوړ کړ نه مانه، کله به چې په جبري توگه په دويم پوړ کې راته هغه يې مصلحتي او لنډ مهالې بلې گڼله.

کارمل د گوندي واك (قدرت) سرچينه له گوند څخه بهر لټوله او د هغې منبع د باور لاسته راوړلو لپاره يې د سر ډول هڅه و هاند کول، بايد اعتراف وکړو چې کارمل د روسانو په رښتينې پېژندنه کې بېساري استاد و او په هغه هېواد کې يې د واك ټول مراتب تر نورو ښه درك کړي وو، هغه پوهېده چې هلته د (کې، جي، بي) د يوه واړه ضابط واك تر سياسي او اداري لوړ مقامه ډېر دی، د همدې هوښياری او چالاکی له مخې يې ويار کاوه او په خپله اصطلاح يې ويله د واك د زنځير بنسټيزې کړۍ ته يې لاس اچولی او په دې ډگر کې يې بل حريف نه شته، کارمل د شوروي سفارت د ځانگړو غړو له مناسباتو څخه په گټه اخيستلو يې هغوی ته (مور) غالۍ چې مخ به يې د لېنن په انځور ښکلی شوی و له نورو عتيقه شيزونو سره ډالۍ کول، دا اړيکي يې تر ټولو ځواکمن او تر معنوي پيوندونو لوړ بلل. هغه په گوند کې دننه مخالفين د انترناسيوناليستي ورورولی د روحيې دښمنان بلل او اصلاح نه منونکي ناسيونالستان يې يادول. هغه کله کله له هغه



Ketabton.com

اعتباره غـړېده چې په اصطلاح ورورګوندونو پر ده لاره او په ضمني توګه يې حريفـان ګواښول. کلـه چې پـر دې ډول فعـاليتونو نيوکـې کېدې، کـارمل هغـه ورځنۍ سياسـي او فرهنګي دوديـزه دنـده بللـه او خپـل خپلـوان يـې په ملکـي او نظـامي برخـه کـې پـه ظـاهره د زده کړې، خو پـه حقيقـت کـې د دسـاتيرو د ترسره کولـو لپـاره شـوروي تـه لېږل. دا چې کـارمل پراخه شبکه پر کـاراچولې وه چـې تـر هغـه بـل ښه نوکـر نـه شـته او همـاغـه ډول چې يـې دګونـدي واك سـرچينـه تـر ګونـد بهر پېژندلـه، ملي واك تـه د رسېدو امکـان يـې هـم تـر ملي هـوډ بـهر لـتـاوه، دا څه تصـادف نـه دی چـې شـوروي د يـوې لويـې نړيوالـې رسـوايۍ پـه منلـو سرې لښکـرې وخوځولـې او د ټولـو بشـري نورمونـو پر خلاف يې پر يوه بربندنړۍ لاس پوري کـړ. يو دولت يې نسکور کـړ،د هغـه ريـس تـه يـې چـې د شـوروي ملـګری و خـو د شـوروي لاسـوهنه يـې پـه خپلـو کورنيـو چـارو کـې نـه غوښتلـه، لومـړی زهـر ورکـړ بيـا يـې تـرور کـړ او خپـل لاسپوخی غـلام يـې د واك پـر ګدۍ کېنـاوه. کـارمل پر همـدې ليکـې روان و، خـو داڅرګنـده ده چـې د دې خـوځښت او موخـې څرنګوالـی پـر هغـه مـهال دنـن پـه څېر څرګنـدې نـه وې. هغـه پـه خپلـو بـاطني بنسـټونو او تـګلارو کـې مشـهوره او مـاهرو، کـارمل د خلکـو روان تـر نـورو ډېر پـېژانـده او د پوهونـې هڅونکې ځواك يې درلـود. د بيـان جاذبـه او د خـبرو منطـق يـې پـه زړه پوري وو، هغه کسـان چې لـه هغـه سره بـه يـې د لومـړي ځل لپـاره ليدل، اکثر بـه د هغـه د ظـاهري خبرو تـر اغېز لاندې راتلل، هغـه لـه خپـل ځانـه ډېر راضـي و پـه هـر کار کې يـې ځان پـر حقـه ګاڼه او کـه څوك تـرې خوابـدی کـېده، د هغـه د قنـاعت لپـاره بـه يـې شـفاهي خبرې کولې، تر هغه مهاله به چې پـه بشپړ ډول نـه نـهيلی کېده، نـه يې پرېښوده. د همدې ځانګړنې د اړتيـا لـه مخـې کـارمل ما تـه هـم يو پيـام راولېږه چې کتلـو تـه يې ورشـم خو (ليکـوال) چې د پلسـرخ دفـتر مـې مـوازي مرکزيـت ګاڼه او د هغـه بنـدېدل مـې



Ketabton.com

غوښتي وو، لــه بلې خوا تــر يووالــي وروســته عمومــي منشــي نــور محمــد تــره كــى و د ـــــ تراجنــدا بــهر خــبرې مــې يــو ډول فركسيون ګانه، د هغه له كتلـو نــه مــې ډډه وكــړه.

يــوه ورځ چــې نجيب الله د كــارمل لومـړى پيـام راتــه راوړى و وې ويـل: د كـارمل ليـدو تـه نـه لاړې؟ لـه تـا نـه ډېره ګيلـه لـري، وړانـدې تـر دې چې خوابـدى پـر دښمنـى بدلـې شـي، ښه ده چـې سـره وګورئ. زه او نـور احمد نـور پـه پام كې لـرو لـه خيبر سـره هم خـبرې وكـړو، چـې لــه هغوى سره د خبرو اترو زمينـه برابـره كـړو.

ددې خبرو پـه اورېدو مې پـه داسې حال كې چې د نجيب الله لــه هغو ځخه مننه وكـړه ومې ويـل ښه ده چـې سبا پـر دوو بجـو يـې كتلـو تـه ورشم او خپل تصميم مـې خيبر تـه هم واوراوه. د دې لپـاره چـې پـر خپل وخت ورسېږم تـر غرمې وروستـه پـر يـوه بجـه د پلسرخ پـر لـوري روان شـوم، ۵ كـم دوه بجـې تـر دروازې ورسـېدم، دا كـور يـوه زړه لويـه ودانـى وه، ډېرې كـوټې او لرګينـې زړې المـارى يـې درلـودې. د ښځو د ډموكراتيـك سـازمان د ريسـې ډاكـترې اناهيتـا دفـتر هـم همدلتـه و، د دې سـازمان غونـډې همدلتـه ترسـره كـېدې، خو پـه دهلېزونـو كـې بـه يـې تـل ګڼه ګوڼه وه او د پټـو كـارونو نورمونـه اصلاً نـه مراعـاتېدل. تـه واهـرڅه پـه بـل چاپېريـال او تـر نـورو شـرايطو لانـدې روان دي. د ننوتـو لويـه دورازه پرانيسـتې وه او د رسـمي دفـترونو غونـډې تـګ راتـګ پـه كـې پـه عـادي ډول روان و، دروازې ټكولـو او پوښتنـې تـه حاجت نـه و. انـګړ دنـه ځارنـې لـه وچـې لـه خس و خزلـو نـه ډك و. وانبه ژېړ رنـګه بـرېښېدل، زه نـېغ كـور تـه ننوتـم لـه دهلېز نـه تېر شـوم او د كـارمل د كـوټې ور مـې ودبـاوه، كـارمل پـه خپلـه ور پرانيسـت، كلـه چـې يـې وليـدم لـه خندا سـره يـې وويـل ستا پـه اړه عجيبـه خبرې اورم، وايـي تـر يووالـي وروسـته خلقـي شـوى يـې، ومـې ويـل: ښه، خلقيـان ټول پـرچميـان شـوي دي. دا ددې لپـاره دي چـې ټول ښه ګونديـان واوسـو، ډېر ښه سـتا حـاضر ځوابـي



Ketabton.com

مـې خـوښه شـوه، خـو اندېښنـه مـې دا ده او ویرېږم د ډېر وخـت عـاطفي اړیکـي مـو چـې د ځوانـۍ د ګډو سیاسـتونو او معاشـرتونو محصـول دی، لـه لاسـه ونـه وزي.

ومـې ویـل عـاطفي اړیکـي پـه دوارو برخـو کـې منځتـه راغلـي دي. خو لـه بده مرغـه پـه بېـل بېـل ډول هغـه تـه بـاید د ګډ مـیراث پـه تـوګه درنـاوی وکـړو، سـره ویـې نښلـوو او ځواکمـن یـې کـړو، رهـبري چلنـد بـه پـه دې برخـه کـې ټولـو ګوندیـانو تـه روزنـیز او یـوه بېلـګه وي. کـارمل د خپـل مـبېز تـر شـا کېناسـت او د سـترګو پـه اشـاره یـې کېناسـتو تـه وهڅولـم، ویـې ویـل: زمـوږ یووالـي ځینـې ملـګري اندېښمـن کـړي دي، هـره خـبره او کـار لـه شـک سـره سـنجوي او بېځایـه اندېښنـه راولاړوي. چـې تاسـو د څارنـې کمیسیون غـړي دنـده لـرئ د هغـه مخـه ونیسـئ نـه دا چـې خپلـه پـر دې ناروغـۍ اختـه شـئ. ومـې ویـل کـارمل ملګریـه! د خلکـو متلونـه د نسـلونو د وېش او د حکمـت رسـوبي بـڼه ده چـې وایـي مـار چیچلـی لـه پـړي څخـه هـم ډارېږي. څوک چـې پـه شـیدو سـوزېدلی وي تـروې پـو کـوي. پـه دې برخـه کـې احتیـاط مضـر نـه دی. خوبـې احتیـاطي خطرناکـه ده. لـس کلنـې تفرقـې او بېلتـون غورځنـګ تـه نـه جـبرانېدونکي زیانونـه اړولـي او ترخـې تجربـې یـې پـرځای پـرې اېښې دي، خـو لـه لـرې څه پـام او ځان تېرېدنـې سـره کـېدی شـي د هغـه مخـه ونیسـو. تاسـو تـه ښه څرګنـده ده، د ګونـدي ژونـد معیـارونوخـبرو اتـرو او د نظـر تبـادلې تـه ډېره پراختیـا ورکـړې او د هغـې پـه اډانـه کـې کـولای شـو ډېر جـدي تیوریـک او سیاسـي کارونـه وکـړو. کـه شـرایط اجـازه راکـړي. کنفرانـس جـوړ شـي او کلتـوري اړیکـي ونیسـو د تبلیـغ کمیسـیون دنده لـري چـې دا ډول فعالیتونـه تنظیـم کـړي. لـه ګونـدي بېلـو غونـډو څخه زمـوږ اندېښنـه د هغـو د فرکسیون پـه بـڼه ده، چـې ښې پـایلې نـه لـري. کـارمل چـې پـه خبره کـې یـې غوسـه لـه ورایـه ښکـارېده لـه خنـدا سره وویـل: ستاسـو لـه لارښوونو څخـه مننـه، خـو دا بـاید هـېره نـه کـړئ



Ketabton.com

چې زه د ګوند دويم منشي يم او د هغه مسووليت له مخې چې لرم يې، هرکس چې ور وبولم غواړم يې او هره خبره چې وغواړم کوم يې. د کنټرول کميسيون زما د خبرو او اړيکو د سانسور حق نه لري. د خپلو خبرو په پای کې يې له مانا لرونکې خندا سره زياته کړه ته ملامت نه يې، زه پوهېږم چې فتنې له کومه ځايه پيل شوې دي، ما ډېر کلونه ميراکبر په خپل ورغوي کې وساته، نور نو بس دي، ډېر ځل د ملي غوښتنو په معيارونو کې ډوب شو او ومې زغوره، په شخصي او سياسي لحاظ مې هېڅ ترې سپماونه کړه اوس چې يې تره کې په سياسي بيرو کې د ننوتو خنډ شوی دی او له ما څخه لرې کېږي، هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ: په ځوانۍ کې مې چې پوليسي ناولونه لوستل، ليدل مې چې ملګري کله کله څنګه يو د بل پر وړاندې درېږي او دسيسې جوړوي. ان د ملګرو فزيکي نابودي ته هم چمتو کېږي، حيرانېدم او په ريښتيني ژوند کې به يې پېښېدل راته ناشوني وو، خو اوس دا درك کوم چې هغه يوازې فانتيزي نه دي، دا ډول پېښې په ريښتيني ژوند کې تر هر پوليسي ناوله ستونزمنې او پېچلې دي. له دې خبرو سره يې غږ اوچتېده او لهجه يې ترخه کېده چې په ګاونډيو کوټو کې هم اورېدل کېده. هغه خپله ګواښوونکې وينا نه وه ختمه کړې چې وړپرانيستل شو او ډاکټره اناهيتا راننوته. ويې ويل: تاسو د ملاقات زمنه کړې وه، شل دقيقې اوښتې دي. د دې خبرې مانا روښانه وه، ما د خدای پامانۍ لپاره لاس وراوږد کړ او رخصت مې وغوښت، په ساړه ډول يې لاس راکړ او د خدای پامانۍ پرځای يې وويل خيبر ته ووايه چې هغه ما ته اړتيا لري، نه زه. له کوټې نه راووتم، له عجيب حالت سره مخ وم. سر مې ګنګس و. د کارمل تهديد اميزې خبرې مې پر ذهن د سوټك غوندې لګېدې. پرځان مې فشار راوړ چې پر مانا يې وپوهېږم. خو لکه زما د پوهې له سطحې نه چې لوړې وې څه مې ترې نه مونده د هغه جملې (خيبر



Ketabton.com

مې د ملي غوښتنو لـه کندې څخـه وژغـوره)، (پولیسي ناولونـه چـې پـه هغـو کـې بـه ملـګرو يـو د بـل د بربـادۍ هـڅې کولـې) تول لــه دښمنۍ او ګواښونـو څخـه ډکې وې. هغـه څه مـې چـې اورېدلـي وو د بـاور وړ نـه وو.

پرېشـانه فکرونـه او حـال مـې بـدل شـوي وو، ډېرې پوښتنـې مـې پـه ذهـن کـې راټولېدې، کـارمل څنګه ځانتـه اجـازه ورکـوي چـې پـه دې ژبـه خبرې وکـړي؟ د دې ګواښونـو اوپراتيفـي سـتنې څه دي؟ کلـه چـې د دې خبـرو تـر شـا هـېڅ کومـه موخـه پرتـه نـه وي ايـا د چلنـد دا ډول پـه سياسـي فرهنــګ کــې وړ دی؟ د مـاضي پـه اړه مـې سـوچ کاوه، د هغې ورځې خـاطره مـې يادولـه چـې نوراحمـد نـور غوښتـل لـه بـې بنـده بـارو او خپلسـرو خلکـو څخـه پـه اصطـلاح د ګونـد بـاډي ګارډه ډلـه تـر خپـل فرمـان لاندې جـوړه کـړي. د کـارمل خبـرې مـې يـادې کـړې چـې ويـل يـې د واك د زنځيـر کـړۍ تـه مـې لاس اچولـی او پـه دې ډګر کـې مـې بـل څوك حريـف نـه دی... او سـلګونو نـورې خبـرې مـې د سـينما د پـردې پـه څېر لـه نظـره تـېرېدې، هـېڅ يـوې پوښتنـې تـه مـې روښانـه ځواب نـه درلـود، هـوډ مـې وکـړ نـبغ د خيـبر کـور تـه لاړ شم او هغـه څه چـې مــې اورېدلـي تول ورتـه ووايـم او ددې معمـا ډولـه خبرو پـه حـل کـې ترېنـه مرسـته وغـواړم. خـو تيـاره وه او د زړه خوالـه تـه وخـت نـه و. لـه ځانـه سره مـې پرېکـړه وکـړه چـې کـور تـه لاړ شم، کـه وتوانـېدم د شپې وخملم او سبا پـه ارامـه لـه اسـتاد خيـبر سره وګورم او هـڅه وکـړم لـه کـارمل څخـه اورېدلـی مطلـب پـه ځراکـت او امـانت ورولـېږدوم او کـه راتـه ممکنـه وي د دوی ترمنـځ د دوسـتانه اړيکـو فضـا رامنځتــه کـړم، خـو د شـپې خـوب رانـه غـی، بېلابېلـو خيـالونو مې ذهـن نيولـی و. سـهار وختـي پـاڅېدم، يـوه شـېبه مـې ځان برخـت کـړ، وروسـته د مکروريـان پـر لـوري روان شـوم، د لسـو بجـو پـه شـاوخوا کـې د خيـبر کـور تـه ورسـېدم. هغـه د خپلـې مطـالعې پـه کوټه کـې ناسـت و او څه يـې ليکـل، کلـه چـې کـور تـه ورننوتـم هغـه هـم



Ketabton.com

سالون ته راغلی و، لاس یې راکړ او په مهربانۍ یې راته ښه راغلاست ووایه، خیبر یو منظم، متواضع او د نرمې څېرې خاوند سړی و، غوره اخلاق، نافذې سترګې، برګ وېښتان، منځنی قد یې درلود، ډېر یې اورېدل او لږ یې ویل. عادتاً به یې مقابل لوري ته وخت ورکاوه چې د خپل زړه ټولې خبرې وکړي. هغه په خپل ملګرتوب او شخصي ژوند کې ډېر صمیمي و. له ساده جامو څخه به یې چې اکثر به د هېواد له محصولاتو څخه وو کار اخیسته. له بازاري حرکتونو او اخلاقي انحرافاتو څخه به یې چې په کدرونو او مشرانو کې لیدل کېدل کرکه لرله او ویل یې د ټولنې له اخلاقي اصولو څخه اوښتل د ګوند پېږیان دي، هغه زما له رواني حالت څخه وپوهېده چې اندېښمن یم، علت یې راته وپوښت، ومې ویل هېڅ هم نه شته، یوځه شوګیر مې کړی دی. ویې ویل شوګیر هم یو علت لري او زیاته یې کړه کارمل دې ولید؟ ومې ویل: هو!

- څه یې ویل، څه فرمایشتونه یې درلودل؟ له تا څخه یې ګیله کوله، که له ما څخه؟

ومې ویل: ډېره ګیله یې له تا څخه وه، خو پر ما یې هم چندانې لطف نه درلود. خیبر وویل ماچې ټول عمر ورته ځان پل کړ، څه ګیله به راڅخه ولري؟ غوره ده چې له موږ څخه خپلې غوښتنې د ګوندي متقابلو اړیکو په چوکاټ کې محدودې کړي. او دا تمه دې ونه لري چې څوك منل شوي حدونه د هغه تر غوښتنو ځار کړي. له بده مرغه لیدل کېږي چې د کارمل د دایمي رضایت موندنه ډېره سخته تمامېږي، چې نور نو زموږ له توانه پوره نه ده! ښه مهرباني وکړه، څه خبرتیا یې لرله؟

ما د کارمل هره کلیمه او جمله له احساساتو پرته په ارامه لهجه وویلې د خیبر ځواب او نظر راته څرګند شوي نه وو چې دروازه وټکول شوه، نور احمد .نور کورته راننووت او نېغ سالون ته راغی تر روغبړ وروسته د سالون فضا په چوپتیا کې ډوبه شوه.

نور چې نابللي مېلمه ګڼل کېده خپل موقعیت درک کړ او ویې ویل، هیله لرم چې مزاحم شوی نه یم او زیاته یې کړه: زما د ناڅاپه راتلو وجه دا ده چې وړاندېز وکړم وړاندې تر دې چې ستا او د کارمل تر منځ اړیکي خراب او کړکېچن شي، یو له بل سره روغه وکړئ، د دې اړیکو خرابېدل د هېچا په ګټه نه دي. که اجازه وي دا کار به زه سم کړم او نن شپه به تاسو سره وګورئ، استاد خیبر نور ته وویل: موږ پر کومې شخصي مسئلې اختلاف نه لرو چې د لرې کولو لپاره یې په کوم کور کې مېلمانه شو، زموږ اختلافات سیاسي بڼه لري او باید د مرکزي کمېټې تر څارنې لاندې په غونډو کې حل شي. زه چمتو یم چې هلته د ګوندي نورمونو له مخې له کارمل سره حساب خلاص کړم، کنه له کارمل سره به په ځانګړي ډول هېڅوخت د یوه مېز یا دسترخوان پر وړاندې کېننم، له جدیتوب او تاکید سره یې نور ته وویل: ستاسو کارمل ماته د مرګ ګواښ لري، زما له خوا ورته ووایه چې زه له مړینې څخه نه وېرېږم، دلته ما ډېر ژر مداخله وکړه ومې ویل د کارمل له خبرو او د مړینې له ګواښ څخه مو چې ماته یې ویلي وو، څه پایله واخیسته؟ ما هېڅکله دا برداشت نه درلود، استاد خیبر په ځواب کې وویل نه. په هغو خبرو کې چې تاته یې کړي کوم جوت مطلب نه و، که ځیرنه (دقت) وشي ځینې اشارې په کې کتنی شو. کارمل ماته په نېغه او جوته توګه د بل چا په وسیله د مرګ ګواښ کړی دی، هغه د دې پرځای چې د یوه زړه سواندي مشر فضیلتونه په ځان کې وروزي، غواړي د یوه درېیمې درجې باند د ریس په نقش کې ځان وازمویي. د استاد او نور تر منځ ناندرۍ ډېره شوه او ما احساس وکړ چې نور ځینې خبرې لري او نه غواړي چې زما په شتون کې یې وکړي. نو د مزاحمت د لرې کېدو لپاره مې رخصت واخیست او یوازې مې پرېښودل او له کوره ووتم، د یووالي د سند له لاسلیك څخه اووه میاشتې تېرې شوې وې خو پرمختګ او



Ketabton.com

پراختیا یې د هېڅ لپاره قناعت ورکوونکي نه وو. د تشکیلاتو د چارو پلویانو هڅه کوله چې ډېر خلك په لوړو سطحو کې معرفي کړي، چې د شومره والي له لحاظه حریف ته کم رانه شي. هغه کسان چې هېڅ ډول سیاسي سابقه نه لرله ان د ګوند له موخو نه به هم پردي وو، د اصلي غړو په سطحه به یې لست ورکول کېده، هغو کسانو چې ځرنګوالي ته ارزښت ورکاوه د هغوی په اند د زاړه حکمت له مخې لس جنګیالي کسان تر سلو زرو غوره وو، ددې زیانمنوونکې مسابقې له کتلو څخه رنځېدل او هر ځای چې به یې ګیله کوله ګټه به یې نه درلوده او په اصطلاح اوبه د چینې له پیله خړې وې، نور احمد نور چې د پرچم له خوا د یووالي په پروسه کې د تشکیلاتو مسوول و، په هېښوونکي توګهٔ یو جانبه او غرض لرونکې لاربښوونې او پېښې ... کولې، یوه ورځ محبوب شاه سنګر چې یو تکړه کارګر، ځوان او با استعداده شاعر چې په ننګرهار کې هم د ګوندي سازمان مسوول و راته راغی او د ګیلې په ډول یې وویل، خلقیان د پرچمیانو په پرتله ډېر وو، په ګډو تشکیلاتو کې موږ نه شول کولای مساوي ونډه واخلو. له کابله لاربښوونه کېږي باید هڅه وکړو چې کمبود، د کورنۍ او خپلوانو ناګوندي غړو څخه بشپړ کړو او مساوي حالت ته راشو، زه راغلم چې ملګری نور له نږدې نه وګورم او ووایم چې دا خلاف کار زما له لاسه پوره نه دی او امکان هم نه لري موږ باید یو بېسواده کس په حوزه کې د یو کارنده ګوند تر څنګ ودروو، سره له دې جلال اباد یو وړکوټی ښار دی، روښاندي او زده کوونکي یو او بل پېژني، دا تقلب او ریا کاري ډېر تیټ کار دی. نباوري زېږوي، یووالي ته زیان رسوي او د مقابلو اړیکو فضا زهرجنه کوي. خو رفیق نور ته مې قناعت ورنه کړای شو، امر یې راته وکړ چې ډېر ژر جلال اباد ته ستون شم. ومې ویل له استاد خیبر نه مې د مطالعې لپاره څو کتابونه اخیستي وو، سبا هوډ لرم چې سره وګورو هغه کتابونه



Ketabton.com

ورکړم او نوي ترې واخلم، سبا ته به لاړ شم، په غوسې سره يې چې زما لپاره بې سابقې وه وويل: استاد خيبر کتابتون نه لري، کتابونه دلته پربړده خپله ورکړل کېږي! موږ هڅه کوو چې ستاسو د مطالعې لپاره نوي مواد درولېږو. له ځنډه پرته حرکت وکړه، که په ټولو ولايتونو کې تشکيلاتي پاليسي په دې ډول وي، راتلونکې ډېر په تورتم کې وينم، غوښتل مې د ګوند عمومي منشي ملګری تره کي وګورم او له وضعې څخه ورته شکايت وکړم دا ورڅخه وغواړم چې په دې اړه جدي پاملرنه وکړي. خو کله چې مې د نور غبرګون وليد چې نه يې غوښتل له استاد خيبر سره وګورم، د شك د مخنيوي لپاره مې ترې ډډه وکړه او هوډ مې وکړ چې له تا سره خبرې وکړم.

محبوب شاه سنګر د ملکي هوانوردۍ د ښوونې او روزنې د مرکز يو زده کوونکی و چې زه هم هلته ښوونکی وم او هغه مې ګوند ته را جذب کړی و، زما په ياد دي چې تل به يې د ټولو زده کوونکوله حقوقو څخه دفاع کوله او د اداري پر وړاندې به د سپر غونډې دربېده، سنګر تخلص ما ورکړ زموږ عاطفي او خواږه اړيکي تلپاتې وو، کله چې يې د هېواد د خواريکښو ارمانونه يې له شا په خنجر ووهل او شهيدان يې کړل، زه د ځرخي ﷺ په وېروونکي زندان کې د خپل اعدام په انتظار کې وم، د محبوب شاه له خبرو نه پوه شوم چې د خيبر په اړه د کارمل په قهر او غوسې کې کمی نه دی راغلی او لا ډېر د هغه د رسوا کولو هڅه کوي او نه غواړي چې څوك ورسره فرهنګي اړيکي ولري، يا هم ورسره د کتابونو راکړه ورکړه وکړي. د استاد په اړه يې په خپلو منځو کې ناوړې او له دښمنۍ نه ډکې خبرې کولې، د ګوند نظامي سازمان يې چې د باوري کس په توګه يې په سرتېروکې د مشر په توګه نوم درلود. په ببلابېلو پلمو لکه "د ګوندي تر څارنې لاندې ياست" له هغوی څخه واخيست او نور ته يې ورکړ. څو



Ketabton.com

نظامي حوزې يې چې له ما سره يې کار کاوه او ما خپله را جذب کړي وو، په نورو پورې اړوند وبللې. يوازېنی سړی چې د کارمل، د هغه د پلويانو او خيبر د اړيکو له خرابوالي څخه خبر و سليمان لايق و. لايق چې په ټولو پېښو کې ګډ و او کارمل يې پېژندو، ټول يې خيبر پر حقه ګاڼه. کارمل هم د لايق په اړه وړ نظر نه درلود او ويل يې: زموږ شاعر (سليمان لايق) غواړي د هېواد چارې په شاعرانه خيالونو سمې کړي.

دلته: خبرې، اټکلونه، ذهنيتونه، اخيستنې او بېلابېل دليلونه چې په دې چارو کې شته تر څېړنې لاندې نيسو، له حفيظ الله امين څخه يې راپيلوو: ښاغلی دستګير پنجشېري په خپل کتاب (ظهور و زوال ح.د.خ.ا، لومړي ټوک) کې وايي: "له مرکزي کمېټې څخه زما د ايستلو موضوع او په لومړۍ درجه کې زما د دندې اخيستل او له پټ نظامي سازمان څخه لرې کېدل، په يوه شپه کې د يوه سياسي دفتر په غونډه کې د کريم ميثاق له خوا وليکل شول، خو نور محمد تره کي د امين ايستل وځنډول، چې د يوې مياشتې په موده کې د نظامي سازمانونو لوړ پوړي سرتېري او عناصر د امين له نفوذ څخه بهر کړي، (ظهور، ج ۲، ص ۵۶- ۵۹)، پنجشېري زياتوي: "... د بارق شفيعي او سليمان لايق په وينا په هماغو ورځو کې د ببرک کارمل تهديدوونکې خبرتياوې د نور احمد نور له خوا خيبر ته رارسېدلې چې له خپل تګلار څخه ډډه وکړي.
(پنجشېري، ص۳)



Ketabton.com

# د خیبر تـــرور

۰ دا دوه جـــوت مطلبـــه د دوو کســـانو پـــه اړه ددي حقیقـــت څرګنـدوی دي، چـې امیـن او خیـبر د بېلابېلـو انـګېزو لـه مخـې تـر فشـار لانـدې وو، یـو یـې د مصوبـې لـه لارې چـې ژر بـاید پرېکـړه وشـي، بـل پـه ګوانښوونکـي تـوګه چـې ژر بـاید تـر سره شـي، خـو دا د عقـل خـلاف او لـه منطقـه لـرې ده چـې حفیـظ الله امیـن د کـارمل ګوانښونـه ترسـره کـړي وي. ځکـه ټولـو تـه څرګنـده ده چـې امیـن او کـارمل د یـواو بـل سخت او نـه پوخـلا کېدونکـي دښمنـان وو او تـاریخ هـم ددې دښمنـۍ شـتون ثـابت کـړ، د سـاده محاسبې لـه مخـې دښمـن او لـه دښمـن سره دوسـتان دي خـو څوك خپـل دوست نـه تـرورروي. خـو کـه منـل یـې سـادګي نـه وي، لـه غرضـه ډکـه ښکـاري. د عظیمـي د خبرې یـو بنسـټ "اناهیتـا راتـبزاد د کـارمل تـر واکمنـېدو وروسـته پـه دې پېښـه کـې امیـن هـم ګډ بولـي"

دا هغـه هـڅه ده چـې دا ډلـې یـې د خپلـو پلونـو د ورکـو لپـاره کـوي. دا ګـوانښوونکـې خبرتیـا نـوره هـم شـنو: پـه ظـاهره کـې دا ګوانښ



Ketabton.com

ددې لپاره و چې ګواکي خیبر د ملي انقلاب له ګوند سره همکاري ته لېواله دی، که داسې وي دا له عقل او سیاسته لرې خبره ده چې داود او د هغه دستګاه په ټولو مشرانو کې هغه څوك وټاکي چې په ټولنه کې پر ډېرې سابقې او نفوذ سربېره همکارۍ ته هم چمتو وي. که داود او د هغه دستګاه‌د هر دلیل له مخې هوډ کاوه چې د ا.د.خ.ډ.ګ له مشرانو څخه کوم يو ترور کړي، بې له شکه وړ کس به يې ټاکه، نو په څرګنده دې پايلې ته رسېږو چې په دې ترور کې داود او دهغه دستګاه ګډون نه لري. که له دې بې ځايو او بې بنسټه ترورونو څخه تېر شو او په دې هکله حقيقت ولټوو او په موږ کې حقيقت پلټنه او رسواکول ژوندي وي او پښه مو په کوم (تلك خرس) کې بنده نه وي. ډېر دليلونه شته چې د وجدان په بشپړه ارامتيا يې حکم وکړو، چې د کارمل د ناسمو معلوماتو له مخې خيبر د کې، جي، بي له خوا ترور شوی دی.

يو شمېر څرګند دليلونه يې دا دي:

۱) بارق شفيقي: سليمان او زه شاهدان وو چې ببرك کارمل ميراکبر خيبر ته د نور احمد نور په واسطه ګواښوونکې خبرتياوې لېږلې وې.

۲) (ليکوال) لکه وړاندې مې چې يادونه کړې ده، دخيبر په کور کې وم چې خيبر نورته وويل: کارمل دمرګ ګواښ راته کړی دی، ورته ووايه چې زه له مرګ څخه نه وېرېږم او په رسمي غونډو کې له هغه سره تر يوه چت لاندې نه کېنم.

۳) د خيبر د ترور پر شپه کارمل نور محمد تره کي ته ويلي وو "څوك چې ډبل لوبه کوي سزا به يې همدا وي" نورمحمد تره کي د ثور د پاڅون تر بري وروسته چې د دود په څېر به يې هره شپه يو وزير رابالـه، د خيبر د وژونکو په موندنه کې پر نه پاملرنې زما د نارضايتۍ له کبله او يا دا چې يوې موسسې يا سيمې ته د خيبر نوم ورکړو، ويې پوهولم چې د خيبر ترور د کې، جي، بي، په



Ketabton.com

مرسته د کارمل کار دی هوکي! کې، جي، بي، د کارمل د واکمنولو لپاره نړیواله ستونزه راولاړه کړه او خپل ټول نظام یې په قمار کې کېښود، د یوه کس ترور ورته آسانه و.

۴) کارمل چې د اروابناد خیبر په جنازه کې یې په مکارۍ سره خواشیني څرګندوله ان د هغه له جنازې څخه یې هم غوښتل چې په ناڅوانۍ سره کارواخلي، هغه د خپل اوږد مهالي واکمنۍ پر مهال یوځل هم ددې جوت او ښه استاد د ظالمانه ترور یادونه ونه کړه او کالیزه یې ونه لمانځله. ددې شهید جنازه یې د شهیدانو غونډۍ ته ونه لېږدوله، د هغه قبر یې جوړ نه کړ، د هغه هڅې او کارونه یې هم ونه لمانځل.

۵) د خیبر کورنۍ هم په دې پېښه کې د کارمل او د هغه د پلویانو لاس بولي.

۶) تر ترور وړاندې پر وروستۍ ورځ له خیبر سره په وزیراکبرخان کې ګرځېدم او د کارمل د ګوابښونو او زورویلو په اړه مې چې په سیاسي فرهنګ کې عجیب او هېښوونکي دي یادونه کوله. په داسې حال کې چې په څېره کې یې د راتلونکي په اړه ډاډ ښکارېده ویې ویل: "زه نه پوهېږم کارمل د کوم مېخ په زور الوزي او په ډېر ښه او نامتعارف ډول اقدام او سوچ کوي. په دې ډول به وکړای شي موږ خپل تابع کړي، چې هېڅکله به هم داسې ونه شي".

په قبیله یي، تبریز او وروسته پاتو فیوډالي نظامونو کې ډېر ځل لیدل شوي چې واکمنان هغه کس چې ورته مزاحم وي وژني او ورور یې د وژونکي په تور محکوموي، چې په دې توګه د دواړو له شره خلاصون ومومي. ښاغلی حسن شرق دا انګېرې چې د مشرانو نقابونه یې په دې مسله کې لرې کړل شوي اوپه دې ترخ کې دوزخي سازمانونه لکه کې، جي، بي په شوروي سفارتخانه کې د خیبر په مرګ کې ګډه دي، خو بیا هم هڅه کوي په خپلو



Ketabton.com

مهارتونو د همکارۍ په نوم د قدم وهلو په پلمه له کوره د خیبر په رایستلو کې یو رښتینی ورور او دوست په کې ګډ وښیي.

یوځل بیا غواړم له ښاغلي حسن شرق څخه خپله وړاندینۍ پوښتنه بیا وکړم.

ښاغلی شرقه! د سرو پوځونو تر یرغل او واکمنۍ او ستاسو د ملګري ببرک کارمل تر واکمنېدو وروسته زه د پلچرخي وېروونکي زندان ته واچول شوم او کلونه- کلونه په کوټه کې بند او له حشرو سره مې سختۍ تېرولې، بېلابېل روحي او جسمي شکنجې مې لیدلې دي، په فرمایشي محکمه کې پر مرګ محکوم شوم، کلونه له خپلې کورنۍ څخه بې خبره پاتې شوم. ډېرې ورځې مې د خپل اعدام د ترسره کېدو لپاره تېرې کړې، تحقیر او وګواښول شوم، که به په نړیوال او ملي سیاست کې کوم بدلون نه راته، اوس به چا واکمن نه لیده، خو برعکس تاسو ښاغلو پر افغانستان د شوروي تر یرغل وروسته د نیمې قارې مهم هېواد یانې هند ته د سفیر په توګه ولېږل شوئ، له هغه ځای څخه د صدراعظم په نامه رابنکاره شولاست او تاسو پر هغه هم قانع نه واست او غوښتل موچې (هسک ته والوزئ) ستاسو په وینا له شوروي مشرانو څخه مو د ا.خ.ډ.ګ د مشرانو لرې کېدل وغوښت او تول پوهېږي چې کې، جسې، بې ستاسو په ګټه یوه کودتا جوړوله، اوس څنګه ثابتولای شئ چې د کې، جې، بې همکار نه واست؟ ښاغلی شرقه! متوجه شه چې د افغانستان دخلکو محکمه له تاسو سره دا حساب او انصاف غواړي. خو له تاسو څخه د انصاف غوښتل له لړم څخه د شفقت غوښتل دي" د لړم نېش د دښمنۍ لپاره نه دی، باور ولرئ چې د طبیعت غوښتنه مو همدا وه، نو د افغانستان خلك باید له تاسو څخه بله تمه ونه لري.



Ketabton.com

# وروستۍ ليدنه

کارمل او د هغه پلويانو هڅه کوله چې خيبر په بشپړ ډول لري کړي او له هغه سره د ګوند د ټولو غړو اړيکي وشلوي. د کور پر شاوخوا يې يوه پټه محاصره جوړه کړې وه، د هغه تګ راتګ يې تر څارنې لاندې نيولي وو، د ځينو چارود ترسره کولو لپاره ځيني کسان کابل ته راتلل او ځينو به تر تګ وړاندې د استاد له خبرو او کتنو څخه ګټه اخيسته، نوره اجازه يې نه درلوده چې کتنې ته يې ورشي. نور احمد نور چې په تشکيلاتو کې يې کار کاوه، د ولايتونو او مرکز له کدرونو سره يې پراخ اړيکي درلودل، د خيبر اخلاصمندان يې هم پېژندل او د استاد په لرې کولو کې يې هم عمده نقش ترسره کاوه اوپه دې پلمه يې چې د استاد کور تر څارنې لاندې دی د امينت په نامه يې لاربنوونه کړې وه، چې څوک له استاد سره ونه ګوري.

په دې وضعه او مهال کې ليکوال ځان مکلف ګاڼه چې له استاد سره په منظم ډول ليدنه کتنه وکړم او پرې نه ږدم چې د يوازېتوب احساس وکړي. البته زه يوازې نه وم چې د کارمل او د هغه د پلويانو په غوښتنه به له استاد سره وګورم، نور کسان هم د لستاد کتنې ته ورتلل او د هغه له لاربنوونو څخه برخمنېدل، د همدغو دوديزو اړيکو په لړ کې هغه ورځ يې هم ليدلو ته ورغلم، تر چای څښلو وروسته مو وغوښتل چې د پسرلي له تازه هوا څخه کار واخلواو يوه شېبه وګرځو. د حسن شرق د ليکنې له مخې چې عظيمي رانقل کړې ګويا ګونديان په ځانګړي ډول پرچميانو ورته ويلي چې "موږ د قدم وهلو او د نوي ښار په غونډه کې د ګډون په



Ketabton.com

پلمه پر درېيو بجو او ۱۵ دقيقو لـه کـوزه ووتـو" دا دروغ د هغه خلاف چې د شرق موخه ده دا څرګندوي چې موږ تر سختې ځارنې لاندې وو، چې تروريستان ددې خونړۍ او وېروونکي جنايت د تر سره کولو لپاره وخت پيدا کړي او د شپې په تياره کې تر شا ډزې وکړي او يو لوی کس په وينو او خاورو ولړي. ليکوال د افغانستان ددې ځلاندې څېرې دا وروستی جملې او لارښوونې هېڅکله نه هېروم چې ويل يې يو شمېر انحرافات زموږ غورځنګ کواښوي. په دې ترڅ کې له بده مرغه د ګوندونو له برخليك څخه چې بېځايه قرباني يې ورکړه او اړ شول چې خپلو کپسولونو ته ننوزي، بل پند او عبرت وانه خيست. مطلب دا دی د ملي او عقيده يي ارزښتو تر منځ پوله ناليدلې نيول شوې دواړه د غورځنګ په ژبه سره ګډېږي. ملي اعتبار چې د يوه ګوند د سياسي تبارز ښستيزه ستن ده، تر نمايشي لارښوونې قرباني کېږي او خرابېږي. زما او د کارمل تر منځ بنستيز اختلاف پر همدې ټکي دی. زه وايم زموږ د ګوند سياسي او ستراتيژي تکتيك دې زموږ د هېواد د ملي او ټولنيزو غوښتنو پر بنسټ تر سره شي. کارمل پرعکس ټينګار لري ځان له شوروي ډك انترناسيونالست او ما تنګ نظره انترناسيونالست معرفي کړي. په ډېره بېشرمۍ سره دلته او هلته ګزارش ورکوي او تبليغات کوي. ما غوښتل چې د کارمل پر ګواښونو او ګوتځنډونو وغړېږم، هغه مې تش بازاري او د عصبانيتونو زېږنده وبلل، موږ د وزير اکبر خان د حلقه يي واټ په شمالي برخه کې د انستيتوت تر څنګ وو مخه ښه مو وکړه، کورته ورسېدم، خو خيبر د دښمن په ګوليو ووژل شو او کور ته ونه رسېد، کور ته مې له رسېدو څخه څه کم يو ساعت تېر شوی و،چې ور وډبول شو. لور مې چې ور پرانيست ويې ويل نور اکا راغلی دی، له تاسره کار لري. د شپې په دې شېبه کې د نور راتګ ته هېښ شوم، ورغلم. هغه په بيړه وويل: له بده مرغه ملګری خيبر



Ketabton.com

يې ترور کړ، سر مې پر وځرخېد، دېواله ته مې تکيه وکړه او بې ارادې مې چغې کړې. خاينانو! ترور مو کړ. مېرمن او اولادونو مې له شپاړلسو کلونو نه راپه دېخوا خيبر پېژنده، په سرای غزني کې مو کلونه يو ځای ژوند کاوه کله چې يې دا هېښوونکې خبر واورېد ټولو پر ژړا پيل وکړ، ملګري په ټکسي کې په تمه وو، نه پوهېږم څنګه مې ځان چمتو کړ او د تره کي په کور کې د پلينوم غونډې ته لاړم. وړاندې تر دې چې پلينوم پيل شي، سلمان لايق ته مې په دهليز کې وويل، زه، ته او نور ملګري د کارمل د څو ورځې وړاندې ګواښ په ياد کې لرو، له ما سره کارمل متهم دی. زه پلينوم ته دا خبره کوم، سليمان لايق وويل په دې کار کې بايد بېړه ونه کړې، دا جنايت پټ نه پاتې کېږي. پرېږده چې ګڼ اسناد راټول کړو، تر وخت وړاندې ددې مهم مطلب ځرګندول ګوند په ژورو ستونزو کې نغباسي. لوی مسووليت او عواقب لري. د غورځنګ دښمنان ترې ګټه پورته کوي. د اوس لپاره چوپتيا غوره ده، چې نوي شواهد ترلاسه شي.

د شپې وروستۍ شېبې وې چې پلينوم داير شو، ما په داسې حال کې چې په بدن کې مې غم او انديښنې اېشېدلې. جسماً په غونډه کې وم، د هغې له پرېکړو څخه مې د خيبر د ښخولو لپاره د کميسيون ټاکل په ياد دي او بس.

څو وروسته د غونډې فيته د يوه ځارندوی سرتېر له خوا ښاغلي پنجشېري ته په واك کې ورکړل شوه، چې هغه له دې غوره تاريخي سند څخه کار واخيسته، چې د هغې ارزښت ته په پام سره يې دلته ځينې برخې لولو.

په سند کې راغلي دي:

کريم ميثاق د تدارك د کميسيون په مشرۍ (د ۱۳۵۷ لمريز د وري پر ۲۹مه نېټه له ګوند سره د شهيد د مخه ښې ورځې په نامه اعلان کړه) هغه د جنازې مراسم پر دې تورو پيل کړل "وياړو



Ketabton.com

چې لـه امپريـاليزم او ارتجـاع څخـه د هـېواد د خپلواکـۍ د ژغـور پـر لار قربـاني وركوو... هغـه زياتـه كـړه: مـوږ بـايد لـه زغـم او يـوې داسـې مانـا لرونكـې چـوپتيـا سـره د خپـل ګران هـېواد افغانسـتان لپـاره تـر تـوپـان وړانـدې خپـل زغـم وسـاتو او د خپـل دې لـوی او اتـل ملـګري جنـازه لـه عظمت او بـدرګۍ سره چې پـه تـاريخ كـې ثبتـېږي، خـاورو تـه وسـپارو...) هغـه زياتـه كـړه: زمـوږ د لويـې رهـبرۍ پـه لارښوونـه دې ټول ملـګري او هـېوادوال لـه ختيـځ څخـه د لويديـځ پـر لـوري ډلـه- ډلـه ورو- ورو زمـوږ د خـواږه شـهيد ملـګري د جنـازې پـر وړانـدې د درنـاوي وروسـتني مراسـم ترسـره كـړي او د حـوض تـر څنـګ دې خپلـې ډلـې د وړاند ېنـۍ لارښوونـې لـه مخـې د جنـازې د ښخولـو لپـاره تنظيـم كـړي، ددې لارښوونـې لـه مخـې نجونـو او مېرمنـو د تـابوت پـښو تـه پـر ګل اېښودلـو پيـل وكـړ، وروسـته ګونديـانو او ناګونديـانو پـه ځانـګړې د خيـبر مينـه والـو او ملـګرو د پوليسـو لـه بنديزونـو سـره سـره د خپـل ملـګري د تـابوت پـښو تـه ګلونـه كـېښودل او لـه اوښكـو سـره مـل يـې مخـه ښه كولـه... كريـم ميثـاق د شـهيد خيـبر پـه جنـازه كـې د كـابل د زيـاركښو ګډون د تـور ضـدو د ملـې ګټو، د دښمنـانو، امپريـاليزم او د هغـه د پلويـانو پـر وړانـدې ښه ځواب وبالـه..." ګډون كوونكـو د درنـاوي پـه دود يـوه دقيقـه چـوپتيـا غـوره كـړه، د پلينـوم د طرحـه شـوي پـلان لـه مخـې د شـهيد خيـبر جنـازه د دولتـي مطبعـې، امريكـا سـفارت، پلخشـتي، سـپاهي ګمنـام، جـادهء ميونـد او كـابل د تـاريخ بالاحصـار لـه مخـې پـه داسـې حـال كـې چـې پـه لسـګونو زرو نارينـه او ښځو يـې پـه ېبسـاري ډول ملتيـا كولـه، تـېره كـړی شـوه او د امـان الله خـان پـه دولـت كـې د هغـه د يوه تـن پلـوي ډكاكـه طـاهر زوی (فـاروق تلګرافـي) پـه كورنـۍ هديـره كـې خـاورو تـه وسپـارل شـو.

پـه پـای كـې د دې غمـيزې وروسـتنۍ پـېښې تـه تـم كـېږو او لـه شـهيد خيـبر سـره مخـه ښه كـوو.



Ketabton.com

# له خبرې نه تر عمله

میر اکبر خیبر د هیواد دا ستر شهید او سرسپارلی مشر د ا.خ.ډ.ګ بنسټپال او د افغانستان د کارګرې طبقې مخکښ و. نوم به یې تلپاتې وي، خیبر به د افغانستان د سره بیرغ په اړه خپلو همسنګرو ملګرو ته په ډېره عاجزۍ سره ویل، ملګرو! ستاسو لوړ شرف او ویاړ د افغانستان په خ.ډ.ګ کې ستاسو ګډون دی. باید د غړیتوب وړتیا یې ترلاسه کړئ. بیرغ یې اوچت کړئ او پاك یې وساتئ. دخپل وجدان او شرف په څېر یې ساتنه وکړئ.

ملګرو او ګرانو هېوادوالو!

خیبر زموږ خوږ ملګری چې ځان یې د هېواد او خلکو د نېکمرغۍ لپاره قربان کړ، په سختو شرایطو کې زموږ هڅې په مېړانه دا څرګندوي چې ملګري د خلق پر غدارو دښمنانو چې د امریکا د امپریالیزم د مسلکي ملګرو لاسپوڅي دي بری موندلی، د افغانستان د خلق ډموکراتیك لار د وخت د اندېښنو، د هېواد ګټو ته د خدمت لار ده، هغه خپلو ملګروته ویل: "دستمګرو



Ketabton.com

حاکمو طبقاتو د ارتجاعي ځواکونو، د دروغجنو حکومتونو، دولتونو او امپریالیزم پر ضد اوږده هڅه او ستونزمنه مبارزه غواړي.

زموږ پر وړاندې سختې، خونړۍ او طبقاتي مبارزې پرتې دي. خو زموږ شهید ملګري ویل د افغانستان خلق د انقلابي ځواکونو بری د ا.خ.د.ګ په مشرتابه کې د سولې او ملي استقلال لار، د خلق آزاده دموکراسي، پوهنیز پرمختګ او سوسیالیزم دی.

میراکبر خیبر د افغانستان خلق دا لوی بچی د خپلې هستۍ ارزښتمن جوهر یانې ژوند او خپل ځان د کارګرې طبقې د ارمانونو پر لار له لاسه ورکړل.

ملګرو ته د خیبر معنوي میراث، علمي سوسیالیزم ته ټینګ ایمان، له استثمار او ملي ستم څخه د یوې پاکې ټولنې دجوړولو پر لار د کارګرې طبقې دندې ته باور دی.

اروابناد خیبر په خپل ځانخبري او ویاړمن ژوند کې د غوسې او وحشت په شرایطو کې د خلق د ګټو د دفاع پر لار هیڅ ډول ناغیړي او ویره ونه کړه، هڅاند خیبر د ارتجاع، امپریالیزم، د وخت د واکمنو خلقي ضدو او دموکراتیک ضدو پر ضد نه پخلا کېدونکی و. چې نوم یې زموږ د خلق د مبارزې په سره بیرغ کې تلپاتې نښبه لري. د خیبر نوم له پاکۍ، هڅې، رښتینولۍ او مېړانې سره مل دی. خیبر د ملګرو استاد، پوه اود خلق خدمتګار و. هغه د افغانستان د خواریکښو د افغانستان د خلق د ستونزې او مبارزې زوی و.

هغه د افغانستان د خواریکښو او د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند په یووالي کې ډېر هڅاند و، " دا خبرې به د ښاغلي پنجشیري په وینا "د شوروي مشرانو له قسمونو څخه به تقلید لیکل شوې وې" په څو مخونو کې رواني وې، چې دلته مو د



Ketabton.com

بېلګې په ډول يوازې دهغو يوه برخه راوړله. ښاغلی کارمل د هغه د جنازې په مراسمو کې دا خبرې کړې وې چې د تاريخ په حافظه کې ثبت دي. خو اوس ګونديانو او ناګونديانو ته له مينې او کرکې نه پرته دا پوښتنې مطرح دي چې ولې؟ او په کومه وجه؟ کارمل په خپل شېړنيم کلنې واکمنۍ کې د هغه کس نوم چې د هېواد د شهيدانو "اکبر" يې ورته ويلي و، يو ځل هم ياد نه کړ، ولې؟ او په کومه وجه؟ خپله خبره يې هېره کړه، چې ولې؟ "زموږ وينولـڅو خيبر د افغانستان خلق سور بيرغ دی" دا سور او د افغانستان خلق سور بيرغ يې تر شهيدای صالحين پورې ونه رساوه او قبر ته يې ډبرليك ونه ليكه، ولې؟ په كومه وجه؟ د هغه د درناوي په موخه يې كومه موسسه، ښار، واټ او سيمه د هغه په نامه ونه نوموله او سل نورې "ولې" چې يوازې يوځواب لري او هغه دا چې د كارمل رياكارۍ حد او اندازه نه درلوده، هم يې وژل،هم يې ژړل په دواړو فنونو كې استاد و. خيبر هم بايد ددې تېرايستنې لومړنۍ او وروستنۍ قرباني ونه ګڼل شي. حفيظ الله امين او نجيب الله هم په نورو وختونو كې په نورو بڼو د هغه د واكمنولو لپاره د هغه په اشاره "د كي.جي.بي" دماركيرانو له خوا (ظهور و زوال، ص ۲۰۹) اسير او له منځه يووړل شول، خو خپل سر يې له ټولو پېښو څخه خوندي پاتې شو.

د ۱۳۵۷ لمريز كال د سياسي پسرلي اسمان له برېښنا او تالندو څخه ډك و. سردار محمد داود خان په بېړنيو سفرونو او دسياسي جبهې د نويو مزيو په ترخو قربانيو كې ځان له اسلام آباد، تهران او رياض سره نښلولی و او د ډېرو ګټو ژمنه يې اخيستې وه! ددې هېوادونو په مرسته د امريكا غبرګ ته رسېدلله او د هغه هېواد له اسانتياوو څخه كار اخيستل ورته ستونزمنه نه وه، هڅه يې كوله چې د نويو دوستانو د خوښۍ لپاره له ملي او



Ketabton.com

ډموکراتیکو ځواکونو څخه لري شي او د هغوی سیاسي او ایدیولوژیك افکار وغندي. له هغو ځواکونو څخه فاصله واخلي چې د هغه په واکمنولو کې یې ډېر کار کړی و. او هغو فکرونو ته دې وارداتي ووایي چې په خپله یې یووخت پرې څرګندونه کوله، چې "خلکو ته خطاب" نومې وینا یې ښه بېلګه ده.

محمد داود په دې بدلون او لړیوالي کې دومره زیاتی وکړ، چې هېره یې کړه د یو دولت په توګه د امنیت ټینګښت او د خلکو ساتنه له لومړنیو دندو څخه ده. امنیتي ارګانونه د یوه پېژندل شوي کس په ترور کې چې کابل ښار اوټول افغانستان یې ولړزاوه کوم مسوولانه او جوړوونکی غبرګون ونه ښوده، په داسې حال کې چې ډېرو پوهو خلکو دا ترور د محمد داود په دولت پورې نه تاړه. دا تمه کېده چې دولت به د خپل استازي له لارې په جنازه او فاتحه کې خواخوږي څرګنده کړي او یا هم ددې سیاسي وژنې د څېړنې په اړه یو هیئت وټاکي او د جدي اقداماتو په اړه اعلامیه صادره کړي. خو له بده مرغه د محمد داود د کار ډله له هغو خلکو څخه جوړه شوې وه چې ددې سیاسي چلند کفایت او ظرفیت یې نه درلود.

محمد داود ته به یې د سوچ مواد ټول ناسم، دروغ، غرض لړلي او ناقص ورکول، سربېره پر دې د یوه دکتاتور چلند ښه همکاران دفع کوي او له ربښتینو... خلکو سره چې د حقیقت ویلو جرات هم لري نه پخلا کېدونکي دي. د همدې نه ... پخلاینې په لړ کې ادارو ته لارښوونه وشوه هغه کسان چې د جنازې ښخولو پر ورځ غیر حاضر دي د معاش په کمولو سره جزا ورکړل شي. کله چې سړی دا له تعجبه ډك کار ته ګوري، باوري کېږي چې سردار محمد داود پلمه لټوله چې د خپل هوډ له مخې ضربه وارده کړي او د ا.خ.ډ.ګ مشرتابه ته ماتې ورکړي، د هغه جوړښت په



Ketabton.com

خپله خوښه واړوي او د خپل نوي سياست په اړانه کې يې په خپل ملي او انقلابي ګوند کې د خپلو ظالمانه موخو په خدمت کې چمتو کړي، چې دا ظالمانه کار ورته نور ناشونی و. ځکه له يوې خوا "د ملي دودونو ښلوالی، اخلاقي او د خلکو مذهبي تعاملات (ظهور و زوال، ص ۷۸) وو، له بلې خوا د ګوند نظامي سازمان نه يوازې د خپلې دفاع وړاندېنۍ لارښوونه درلوده، بلکې مېړانه او اوپراتيفي امکاناتو ددې مغرور سردار غاښ ماتوونکي ځواب ته هم لارپرانيستې وه، سردار محمد داود له دې حقيقت څخه غافله و چې سروکار يې له منلو خلکو سره نه دی چې د موم په څېر يې په ورغوي کې هره بڼه خپله کړي. دګوند هوډ او ځواك يې لږ ګڼل، ګومان يې کاوه چې په يوه ضربه به يې کار ور خلاص کړي او ترې ښېغمه کېږي به هغه په پام کې درلود چې له غرب سره په نږدېوالي کې په ظاهره خپل سياست په نويو معيارونو ښکلی کړي اوپه حقيقت کې هر ډول مقاومت شنډ کړي، : يوې ډلې ته خپل زور وښيي او ځان د افغانستان لوی مشر وګڼي. خو ددې کورنۍ لپاره نيمه پېړۍ واکمني بس وه چې خلك نور په دې ناجيانو تېر نه وزي او له ځانه وړ غبرګون وښيي.



Ketabton.com

# برید او د برید ضد

د غویي ۶/۵مه نېټه د سه شنبې ماښام بشیر رویګر په خپل کور کې د شهید خیبر د جنازې مراسمو د فیتو پر سمولو بوخت و، چې د ګوند پر ضد د سردار محمد داود له لېونتوبه ډکه حمله پیل شوه، د رهبرۍ د نیولو خبر په تحقیروونکې لهجه خپور شو، د مرکزي کمېټې او جوتو غړو کورونه د پولیسو تر سختې څارنې لاندې راغلل، باید وویل شي چې حفیظ اله امین، سلیمان لایق او بارق شفیعي د ورځې تر ۱۱ بجو پورې بندیان شوي نه وو، خو ښاغلي پنجشېري دواړه د (۱-۸) شمارې کوټو کوټه قلفیان بللي دي. ګوندې مطلب یې (د غویي ۷مه) تر ۱۱ بجو وروسته وي. د مسلې ارزښت په دې کې دی، چې که حفیظ الله امین د رهبرۍ له نورو غړو سره مل د ۶/۵ مې نېټې پر شپه نیول کېده او/د پنجرې تر شا تر سختې څارنې لاندې راتلل. د پاڅون قوماندې ورکول او د پاڅون کوونکو د تنظیم همکارې به یې هم نه شوه کولای، په دې صورت کې به ټولو پېښو بله بڼه غوره کوله. نور احمد نور، سلیمان لایق، بارق شفیعي، کریم میثاق او [illegible]ژړه د ۶/۵ مې نېټې پر شپه د رویګر په کور کې وو، چې نیول رانیول پیل شو، د



Ketabton.com

سلیمان لایق کور ته مو زنګ وواهه چې تري معلومات وغواړو، پولیسو غوږې (ګوشي) پورته کړه، پوه شولو چې پولیسو د زور او شکنجې په زور پټه موندلې او په موږ پسې به هم رارسېږي. له کوره ووتلو او د تایمني واټ د کرنیزو ځمکو له لارو مو ځانونه قلعه موسی ته ورسول، هلته د حلبي ساز کارګر (حمید کارګر) په کور کې پټ شولو.

له بهر سره مو د بشیر رویګر، سرور منګل او داود رزمیار په مرسته اړیکي ټینګ کړل، کله چې مو د شپې د راډیو اعلان واورېد او د سردار پر غوسې پوه شولو، چې هوډ لري ګوند له منځه یوسي، موږ ته له مقاومت او متقابل برید څخه پرته بله لار نه وه پاتې. خو نور احمد نور چې په دې ځای کې له موږ سره مل و، امکان او وخت یې هم درلود چې د پرچم ګوند نظامي مشرتابه ته د پاڅون ځانګړې دستور صادر کړي. د هغوی په ملاتړ ورته لارښوونه وکړي. ددې ناپوهی له وجې پرچمي نظامیان په بې تصمیمی، لاروږکی او په غیر فعال حالت کې له پاڅون کوونکو سره په خطرناك مخالفت کې پاتې شول. دا چې ولې نور احمد نور سره له دې چې بندي نه و په دې برخلیك جوړوونکو شېبو کې یې (ونه غوښت) یا یې (ونه شول کړای) له ځانه نوښت وښیي، هغه زموږ د پوښتنې په ځواب کې زیاتول چې د هغه ځواب په تمه دی چې د سرور منګل له خوا جیلاني باختري ته لېږل شوی و. یوازې جګړن رفیع او جګړن داود په خپل مسوولیت په آزاده توګه په پاڅون کوونکو او د پاڅون په بري کې برخه واخیسته.

اوس وینو چې په خلق ګوند کې چې مسوولیت یې د حفیظ الله امین پر غاړه و وضعه څنګه وه. امین د وړاندېنی دستور له مخې چې که د ګوند پر رهبری برید وشو د ګوند د نظامي سازمان



Ketabton.com

رهبري دنده لري چې مقاومت يا پاڅون وکړي، بيا يې هم په دې دستور کې واك درلود. سربېره پر دې امين ناڅاپه يا هم د جنرال عمرزي په مرسته د هغه په وينا "شبهای کابل- عمرزی" د ګوندي احساساتو او عواطفو له مخې يې هر ډول مسوولیت پرڅان ومانه او په شپه کې يې امين ته اجازه ورکړه چې په کور کې يې پاتې شي او د هغه زوی عبدالرحمن ته يې هم د وتلو اجازه ورکړې وه. په داسې حال کې چې عبدالرحمن نظامي رهبري ته د پاڅون د دستور لېږدوونکی و.

سره له دې صاحب جان صحرايي او ظريف له نظاميانو سره دوو تنو اړيکي لرونکو عناصرو په داسې حال کې چې د پاڅون دستورونه يې له ځان سره لرل، د پولي تخنيك د محصلينو په نامه يې اجازه مونډلې وه چې له کوره ووزي، امين د ۱۲ ساعتونو په بهير کې چې په کور کې و، ډېر وخت درلود چې د پاڅون د قوماندې پلان په ځراکت سره په مستقل ډول طرحه او د خلق د نظامي سازمان رهبری ته يې ورسوي.

لکه څنګه چې (سليك هربن) او (ديګوکوردويز) په دې اړه چې په دې کودتا کې شورويانو برخه درلوده که نه. يا د کودتا پلان د هغوی له خوا جوړشوی و که نه، ليکي: "د غوبي داوومې کودتا د جزئياتو مطالعې دا جوتوي، چې کودتا په وروستيو شپو کې د ... افغانانو له خوا تنظيمېده او په بله پانه کې زياتوي "شوروي اتحاد يوې ناڅاپي پېښې ته په بيړه ځواب ورکړی دی" (حقايق پشت پرده، ص ۴۷، ۵۲، ۵۳).

د الکسندر موروزوف په وينا چې د خپل ماموريت په دوران کې يې د کې، جي، بي د معاون په توګه د اپرېل له ۲۶مې نه ورانده چې مياشتې او اوونۍ هم په کې ګډې دي ليکي:



Ketabton.com

کي ،چي ،بي وروسته وپوهېده چې امين ته د کودتا په لاربښوونه کې دا دستور هم ګډ و چې موضوع دې له روسانو څخه په ټينګه پټه وساتل شي (حقايق پشت پرده، ص ۱۴۹) د (اردو و سياست) او (تجاوز) کتاب ليکوالان هم داسې ليکي "... موږ وروسته دې پايلې ته ورسېدو چې د اپرېل د ۲۷مې نېټې بدلون د شوروي دولت لپاره ببخي ناڅاپي و، هغوی په دې اړه هېڅ کوم پلان نه و جوړ کړی" په دې اړه به بده نه وي که د بال. ن ګوريلو مرکه هم ياده کړو، چې ويلي يې وو "هغه او د هغه سرتېرو له ګوند سره هېڅ ډول اړيکي نه درلودل اونه يې شول کولای چې ويې لري، بر عکس له داود خان سره مو اړيکي ښه وو، لکه چې داود خان خپله هم ويلي وو: "که د روسي مشاورينو يو ويښته هم کم شي، مجرم له منځه وړم" (اوردو وسياست ، ص ۱۴۶) په دې توګه په ۲۱ کلونو کې چې د غويي د اوومې له کودتا څخه تېرېږي د بدغوښتونکو پر هڅو او هاند سربېره د شوروي پېر (دورې) له ارشيفونو څخه يو وړکوټی مدرك هم لاسته رانه غی چې د شورويانو مستقيم يا نا مستقيم لاسوهنه په دې پاڅون کې څرګنده کړي. پرعکس لکه وړاندې مو چې وويل ډېر شواهد او اسناد شته، چې د کودتا په اړه د امين په هدايت کې دا دستور هم ګډ و، چې موضوع بايد له روسانو څخه پټه وساتل شي.

ددې جملې شتون (موجوديت) په دې دستور کې روسانو ته د امين د نه باور څرګندوی دی. چې رښتينولي يې وروستنۍ پېښې، تجاوزونه. اشغال او لاسوهنې چې تر ننه روانې دي په زبات رسوي.

د کيسې ادامې ته راګرځو: نور احمد نور، سليمان لايق. بارق شفيعي، کريم ميثاق او قدوس غوربندي د غويي پر لسمه د



Ketabton.com

شپې ۱۱ بجې د حلبي جوړوونکي (حمید کارګر) په کور قلعه موسی کې پټ وو.

ځارنه ډېره جدي شوې وه، د کور پر شاوخوا شکمن کسان لیدل کېدل، نور هم د قلع فتح الله د عمومي سړك پر غاړه و، موږ هم نه غوښتل چې یو کارګر موږ ته د پناه راکولو په ګناه وځورېږي، هوډ مو وکړ چې سره خواره واره شو او هرڅوك پولیسو ته د تسلیمۍ په اړه د خپل نوښت پر بنسټ تصمیم ونیسي، هغه څه چې به لوستونکو ته په زړه پورې وي دا حقیقت دی، چې موږ پنځه تنه د رهبرۍ غړو د نور احمد نور په ګډون د ثور د اوومې د پاڅون له دستور څخه د سهار تر ۱۱ بجو هېڅ ډول خبرتیا نه لرله. نور چې د پرچم ګوند د نظامي سازمان مسوول و، دنده لرله په دې ډول حالت کې تصمیم ونیسي او ځانګړی دستور صادر کړي. زموږ مشوره هم همداسې وه، پرته له دې چې موږ ته قناعت راکوونکی ځواب ولري، چوپ و. زموږ د ټینګار پر وړاندې چې د پرچم نظامي رهبرۍ ته مو د دستور صادرول غوښتل په (باید وضعه هم مطالعه کړو) جملو به یې دا څرګندوله، چې په دې خطرناك اقدام کې مشورو ته اړتیا لرو. جېلاني باختري موظف شوی چې له وضعې څخه پوره معلومات راکړي. او ځینې ګونګ مطالب به یې هغه مهال له لاسه ورکول چې پاڅون پیل شوی و. بېچاره انتظار ویست، د ۱۱ بجو په شاوخوا کې سلیمان لایق او بارق شفیعي پرېکړه وکړه چې ځانونه پولیسو ته ورتسلیم کړي. کریم میثاق او نور د داود رزمیار کور، کارته ولي (شش درك) ته لاړل، زه په ټایمني واټ کې دغروال جومات تر څنګ د یوه ګوندي په کور کې پټ شوم، په مخفیګاه کې مې له تلو څخه څو دقیقې تېرې شوې نه وې چې د ټانګ لومړنی ډز مې واورېد، له



Ketabton.com

دې نه چې د پرچم نظامي سازمان لـه آماده ګۍ او د حفیظ الله امین لـه روحیې څخه خبر وم، پوه شوم چې پاڅون پیل شوی دی خپل ملګری مې چې زه یې په کور کې پټ وم د عمومي وضعې دمعلومولو لپاره د ښار مرکز تـه ولیږه، د ماسپښین درې نیمې بجې د کابل پر هسك الوتکو د جمهوري ریاست ګارډ بمباراوه، کابل ښاریان او ګوندیان پوه شول چې د ا.خ.د.ګ نظامي سازمان د خپلو مشرانو د ژغور لپاره پر مقاومت او پاڅون لاس پورې کړی دی، لـه ښار څخه د څلوو بجو پر شاوخوا رارسېدونکي خبرونه ددې څرګندوي وو، چې د سالنګ واټ پـه سړك کې کابل ښاریان پـه شور او ولولو د ګوندي مشرانو لـه خپلواکۍ څخه استقبال کوي او خوښي څرګندوي، مشران د (رحیم سرباز)، دې فداکاره سرتېر پـه ټانګ چې د شوروي تر بریده وروسته د پله څرخي زندان تـه واچول شو او اتـه کالـه کوټه قلفي وو راډیو افغانستان تـه ولېږدول شول د پاڅون سیاسي مشري یې پرغاړه واخیسته، هېوادنـي شعارونه او خبرتیاوې یې خپرولې.

خو د جمهوري ریاست پـه ارګ کې څه تېرېدل؟ د جمهوررییس محمد داود پـه ماڼۍ کې د وطنجار د (۸۱۰) ټانګ ډز چې د دفاع وزارت پر مخامخ پر ۱۱ بجو او پنځه څلوېښتو دقیقو اوچت شو، نه یوازې یې د نظامي پاڅون پیل اعلان کړ، بلکې محمد داود یې چې د ګلخانې ماڼۍ پـه لوی سالون کې یې د وزیرانو غونډه جوړه کړې وه او د ګوند اسیرو مشرانو پـه اړه یې تصمیم نیوه ولړزاوه. محمد داود د وزیرانو مجلس رخصت کړ، امر یې وکړ چې د کورنۍ ټول غړي یې پـه ارګ کې دننه ځای پر ځای شي. د جمهوري ګارډ قوماندان صاحب جان د دفاعي تدابیرو لپاره چمتوشو، هغـه ځان یوې سختې دفاع تـه چمتو کوي او پـه دې



Ketabton.com

هیله دی چې د حیدررسولي په څخو به (۸-۷) مې فرقې او محمد داود ته نور وفادار ځواکونه سې ډېر ژر مرستې ته راودانګي (له ارګ څخه دفاع هغه مهال تونده شوه، چې د محمد عمر محاربوي ماشین په لاسي راکټ انداز اور واخیست او هغه خپله هم ووژل شو) د عظیمي په وینا (د جمهوري ګارډ مقاومت او له لاسي راکټ اندازونو څخه کار اخیستل چې له لنډ ځای څخه به یې د ارګ له برجونو او دېوالونو څخه ټانکونه ښکارول دې کار زور واخیست، پرچمي سرتېري نه پوهېدل چې مقابل لوری څوک دی، د هغوی شمېر په ګارډ کې لږ نه و. له صاحب جان سره یې د ګارډ په دفاع کې مرسته کولای شوه، د دې سرتېرو مقاومت ډېر تونند و.) (اردو و سیاست ص ۱۴۲) لومړی دا د محمد داودد جمهوري ریاست قوماندان صاحب جان سره له دې چې له وطنجار او قادر سره یې اشنایي درلوده، په ټلیفون کې یې ډاډ ورکړ او له هغه څخه یې مرسته وغوښته، خو هغه ونه منله او ویې ویل زه دنده لرم د ګارډ د قوماندان په توګه د خپلې وینې تر وروستي څاڅکي له محمد داود څخه دفاع وکړم، تر هغه مهاله چې د ټانکونو (چینونه) زما له ټټر څخه تېر نه شي. محمد داود ته نه شي رسېدلای. اوس به ددې زړور او باشهامته سړي خبرې او عمل د نجیب الله د ګارډ له قوماندان سید اعظم سره پرتله کړو، چې څنګه یې په تیټ سري اوخواري له کودتا چیانو سره مرسته وکړه او په دې توګه په تاریخ باندې یو ځل بیا د خلکو ژوند ثابتېږي، چې د نارینه او غیرنارینه وو تر منځ له کومه ځایه تر کومه ځایه توپیر شته.

یوازې د پرچمي ګارډ سرتېري نه وو خبر چې مقابل لوری څوک دی، خو مقاومت یې د پاخون کوونکو پر ضد د عظیمي په وینا ډېر تېز و. بلکې په نورو قطعاتو کې هم نه پوهېدل چې مقابل



Ketabton.com

لوري څوك دي، په څو مواردو كې ګونديان يو د بل پر وړاندې ودرېدل او يو پر بل يې ډزې وكړې، چې د ساري په توګه د بالاحصار كوماندو قطعه او د مهتاب قلعه توپچي يادولاى شو.

د پرچم ګوند په دستور رسولو كې د نظاميانو غفلت كه قصدي وي يا ناقصدي، د عواقبو له پلوه بې تفاوته دى، په داسې حال كې دى، چې ببرك كارمل د مساويانه واك د خپلولو لپاره ټينګار كوي، ياني پرته له دې چې د پاڅون له سياست سره موافق وي او په چارو كې يې برخه اخيستې وي، د نيمايي واك د ترلاسه كولو لپاره ګوند له ستونزو سره مخامخوي. سره له دې چې د مدني سياست لومړني نورمونه حكم كوي چې سياسي مخالف په اپوزيسيون كې پاتې كېږي او په سياسي تطبيق كې هېڅ ډول سياست چې مخالف دى نه مني. خو كارمل ته سياسي ګټې مطرح وې نه اصولي سياست. د كارمل خبرو ته به ځير شو چې له محمد داود سره يې كړې وې:

"كودتا: زموږ د ايديولوژۍ او مبارزې تګلار له كودتا سره متضاده ده، هغه يو خاينانه او دملي ګټو ضد كار ګڼو، هر څوك چې پر دې لار اقدام كوي، موږ يې پر وړاندې درېږو" (كرباس پوشان، ص ۲۷۰) خو په عمل كې ټول شاهدان وو تر هغه وخته چې محمد داود د چنګابښ پر ۲۶مه كودتا وكړه پرچم ګوند يې مرستې ته راوبلل او دستور يې وركړ چې د واك د ټينګښت لپاره له هرې ممكنې لارې نه هڅه وكړي. له دې كبله چې خپله يې په ځواك كې د ګډون جرات نه درلود خپله برخه يې په خپلو دوستانو د پرچمي وزيرانو په نفوذ سره په پټه توګه ترلاسه كړه. خو نور محمد تره كي د دې لپاره چې د بحران مخنيوى وكړي او لړزانده يووالي د واكمنۍ په لومړيو ورځو كې ټينګ او له ماتې څخه يې وژغوري، د واك برابر وېش يې ومانه، خو ستونزه روانه



Ketabton.com

وه، مورې يې هم تعقيبوو او د څرګندونې ټول ډولونه يې څېړو، د ا.خ.ډ.ګ د (ظهور و زوال) ليکوال په ۸۷- ۱۰۸ مخونو کې د قدرت د وېش په اړه ليکي: "له مسالې سره دوه چلنده، دوه متضاد چلنده، په دې هکله دوه متضاد غبرګونونه او نور" چې (ليکوال) د خلکو د هوډ د غبرګون دا خام او ذهني جوړښتونه او اراده د ټولېزې (عمومي) پرېکړې تر څټه نه شي رسولای. د ډلو او ګوندونو د غړو تر منځ په طبيعي ډول غبرګونونه او چلندونه کېدی شي بېلابېل، نوښتګرانه او متضاد وي.خو کله چې د عمل او غوښتنې د تطبيق وخت راشي، غالب غبرګون پر ټولېزې ارادې د تطبيق وړ دی او د هغه پر وړاندې مقاومت يوه ستونزه ده، نه غبرګون، له دې نه چې (ليکوال) په دې ټولو چلندونو کې خپل دريځ درلودد کارمل اود هغه د پلويانو کارونه ستونزې اود ګوندي نورمونو او معيارونو خلاف ګنم او د دوه غبرګونونو يا چلندونو په نامه يې نه منم. زه (ليکوال) يې ځکه ستونزې بولم چې د کارمل له وچې ځای غوښتنې څخه يې سرچينه اخيسته او له بده مرغه وروسته د ژورو اختلافونو، توندو بېلتونونو، دښمنيو او بېرحمانه غچ اخيستنو زمينه پراخه شوه. په دې ترڅ کې تر هغه ځايه چې په پېښو کې حاضر او ناظر وم او يا هغه څه چې مې اورېدلي دي او پر سموالي يې باور لرم په زغرده يې وايم چې د ا.خ.ډ.ګ دتاريخ يوه وړه برخه هم روښانه کړم. په دې اړه بيا هم د پاڅون له لومړنيو ورځو څخه پيل کوو او د کارمل کارنامه چې د ګوند د حاکميت په ټوله موده کې يې نقش درلود،سره رااړوو. دا طبيعي خبره ده چې سختې ورځې د انسانانو ذاتي ځانګړتياوې، هر ډول ظاهري پوښښونه او نقابونه لرې کوي او د انسانانو فطري جوهر څرګندېږي. دهمدې قانون له مخې په دې ورځو کې کارمل په يو ډول روحي بحران کې راښکېل و. هغه د کودتا ماتې او برى



Ketabton.com

په خپله ګټه نه لیدل او ځان یې د دوو تېرو تر منځ احساساوه. په ماتې او بري کې یې ځان قرباني شوی لیده او د رېیم چانس ورته څرګند نه و. هغه د حفیظ الله امین او محمد داود تر منځ نه شول کولای یو وټاکي نو اند ېښمن او ناراحته و. تل به چوپ و او په کوټه کې به ګرځېده. قهر او هیجان یې په څېره کې ښکارېدل، هغه یو وخت وراندیز کاوه چې سیاسي رهبري باید پټه شي او پاځون یې یو فتنه اچوونکی کار باله، چې د هغه په اند له ماتې سره مخامخ دی؛خوکله چې به د ځواك توازن د پاځون کوونکو په ګټه بدلون مونده، ویل یې ګوندیانو (د پاڅون له مسوولیت منلو څخه اوره تشه کړې) په هر صورت پاڅون بریالی شو او ګوند د تره کي په غوڅو خبرو پر دې بنا چې "ګوند به د رهبری، اردو، غورځنګ، ټولنې او دولت دندې پر غاړه واخلي، (پنجشیري، ص ۲۰۱) او د اسلم وطنجار خبرې پر دې بنا چې "مورد خپل ګوند سپاهیان وو او یو، یوازې ګوند او د هغه رهبري کولای شي او باید غورځنګ، ټولنه، انقلاب، دولت او په ټولو کې اردو رهبري کړي" د حکومت او دولت رهبري یې پر غاړه واخیسته، خو ستونزه لا روانه وه او وده یې موندله، تر دې نویو نظامي او سیاسي لاسته راوړنو او ودو وروسته طبیعي ده چې نور بریدونه او موازنې ثابت نه شول پاتې کېدی. ګوند چې د دولت او ټولنې د رهبری لوی مسوولیت یې پر غاړه اخیستی و، باید په رهبری ارګانونو کې هم نوي ، تازه نفس او باوري ځواکونه جلب و جذب کړي وای. په دې اړه لومړی دمرکزي کمېټې پراختیا مطرح وه، د غوبي د اوومې تر بري وراندې د تعصبونو او ناندریو او عمدتاً د نظامي سازمان د رهبری پر یو بل د نه باور له کبله د اردو منسوبینو په مرکزي کمېټه کې غړیتوب نه درلود. خو تر بري او د دې حقیقت تر اثبات وروسته چې اردو خپل هېواد خوښوونکی نقش د کارپوهی،



Ketabton.com

زړورتوب او لید په کمال سره په بېساري ډول نندارې ته کېښود او د پاڅون په اداره او تابیا کولو کې یې د ځواکونو پر نه مساویتوب سربېره له ځانه مهارت او ځلښت وښود او په سیاسي ساحه کې یې هم په مات نفس سره د بهرني ګوند د سپاه په توګه له ځای غوښتنې او ځان غوښتنې ځخه واك انقلابي شورا ته ورکړ، خو په مرکزي کمېټه کې د هغوی حضور نه یوازې د هغوی حق و. بلکې د هغوی دنده د خپل ماموریت په اډانه کې پراخ ګټل کېده خو له بده مرغه دلته هم ګټه غوښتونکې محاسبه او له مکارۍ نه ډکې پلمې د دوستانه استقبال ځای ونیو او په دې نامه چې (اتلو خلکو ته مډالونه او لقبونه ورکړئ، خو په مرکزي کمېټه کې لاوړسیاسي پوخوالی نه لري) که څه هم د سیاسي بیرو د اکثریتو پرېکړه مرکزي کمېټې ته د ډېرو سرتېرو د لوړتیا لپاره موجوده وه او د کارمل نظر په اقلیتو کې راته، بیا یې هم له جنجال څخه لاس وانه خیست او غوښتل یې د اعتراض په ډول غونډه پرېږدي.

د یادونې وړ بولم چې د کارمل انګېزه په دې چلندونو کې هېڅوخت اصول و پرنسیپ نه و. د هغه د اثبات لپاره دا پوخ دلیل بس دی چې رایادېږي کړو، هغه مهال چې د جدي پر ۶ مه د هېواد پلورنې او تجاوز د سیمبول په توګه پر شوروي ټانك سپور د افغانستان سپېڅلې خاورې ته ورننوت، همدغه په اصطلاح ناپاخه (اومه) افسران یې مرکزي کمېټې او سیاسي بیرو ته ومنل او اسدالله سروري هغه کس یې چې پر حقو خلکو د بېرحمه قصاب لقب ورکړی و. په انقلابي شورا کې د خپل مرستیال په توګه ومانه، شاید شریکان یې وایي دا کار د هغه له صلاحیته لرې و، هو! که دوی تر ګناه دا بد عذرونه وایي، بیا هم خلك پوهېږي.



Ketabton.com

# نانڈرۍ روانه ده

د غویي د اوومې د پاڅون تر بري او د افغانستان د ډموکراتیک جمهوري تر تشکیل وروسته د رهبرۍ پر وړاندې چې مهمه دنده پرته وه، هغه د انقلابي جمهوریت د استقامت او لوری ټاکنګړی کول و. چې خپلې دندې په حاکمو شرایطو کې د خپلو موخو له مخې ترسره کړي. دولتي ګوندي او ناګوندي کارکوونکي په بشپړه اورګانیکه روښانتیا، یووالي او همکارۍ کې یو د بل مرستیالان شي او د چارو په ترسره کولو کې هیڅ ډول ابهام د سکتګۍ او ځنډ لامل نه شي. پر دې بنسټ د ګوند رهبري په ګړندیو او پرله پسې غونډو کې یو شمېر مهم تاریخي سندونه د (د انقلابي دندو بنسټیز مزي) په نامه تصویب کړي او پرېکړه وشوه چې نور محمد تره کی یې په پښتو ژبه د افغانستان راډیو له لارې



Ketabton.com

خپاره کړي او دري ژباړه يې د راډيو افغانستان د يوه تکړه نطاق له خوا ولوستل شي. په دې چارو کې بيا ببرك کارمل د ټولو ژورنالستي اساسونو پر خلاف د راډيو افانستان له لارې د نطاقۍ غوښتنه وکړه چې د انقلابي دندو اساسي مزي ولوي، سياسي بيرو که هرڅومره د کارمل دا غوښتنه د معمول او د ا.خ.د.ګ د دوو فرکسيونونو خلاف وارزوله، خو کارمل له خپل دريځ څخه يو ملي متر هم تر شا نه شو. آخر د ۱۳۵۷ لمريز د غويي (ثور) پر ۱۹مه شپه د انقلابي دندو اساسي مزي تر پښتو قرائت وروسته د ببرك کارمل له خوا يې دري متن ولوستل شو، په دې ډول د هېواد ګوندي او خلقي کدرونه د ا.خ.د.ګ د دواړو وړاندېنيو ګوندونو پر يوالي تر حد زيات بدګومانه شول" (پنجشېري، ص ۱۰۷)

په دې توګه د جمهوري ډموکراتيك دوه اونۍ تېرې شوې نه وې، چې په هر ګوندي او ناګوندي محفل کې د تبصرې د موضوع دوه والی د دوست او دښمن د تبصرې موضوع شوه او ملګرو اندېښنه يې راوپاروله. سبا ته ما (ليکوال) له سليمان لايق څخه چې د راډيو ټلويزيون وزير و، وپوښتل چې ولې مو مخنيوی ونه کړ؟ هغه ووېل: ما ترېنه هيله وکړه چې زما خبره واوري، دري قرائت يې شخصيت ته زيان رسوي، ځان دې د يوه نطاق تر حده نه راټيټوي، خو ويې نه منله، د منل شويو نورمونو پر خلاف يې په لجاجت او ناندرۍ په خپل زيان هغه قرائت کړ.



Ketabton.com

# د ا.خ.ډ.ګ سازماني نوښت

څرګنده وه چې ګوند تر خپلې واکمنۍ وروسته په نوي موقف کې و او د خپل نوي خطرناک مسؤولیت له مخې یې چې نوی یې پر غاړه اخیستی و ځانته سازماني نوښت ورکړی وای، هغه برخې چې په وړاندې نیسو دندو پورې اړوند وو او د خپل شتون منطق یې هم له لاسه ورکړی و، منحل کېدلې، د وخت له غوښتنې سره سم وړ تشکیلات رامنځته کېدل، په دې لړ کې تر ټولو حساسه برخه نظامي سازمانونه وو، چې تر واک وړاندې یې بې اعتبارۍ له کبله په رقابتونو کې وو، اوس هغه وخت رارسېدلی و چې ددې سازمانونو دواړه غاړې د سیاسي چارو د هراړخیز ریاست په واحدو تشکیلاتو کې یو شي. همدارز له تره کي سره د کارمل د یووالي بې ځایه هڅه چې وړاندې مو د هغې څو وړو بېلګو ته اشاره وکړه وضعه پېچلې کړه حفیظ الله امین د خپل موقعیت برترۍ څخه په کار اخیستو د خپل نفوذ د پراخوالي او د پرانیستونکو مواضعو د لاسته راوړلو لپاره هڅه کوله. په سر کې تره کي په دې عقیده و



Ketabton.com

چې د کارمل او امین د فکتورونو ساتنه چې د یو او بل موازنه او په اصطلاح چک او بیلانس کوي، هم د ثبات د ساتنې هم د هغه په ګټه دي نو هوډ يې درلود چې د هغوی تر منځ د منځګړي نقش ولوبوي. او تل قاضي وي. خو امین چې د "اګسا" په نوي سازمان کې يې نفوذ درلود او د پردې له شا او مخ نه خبر و، اسناد ښيي چې کارمل خپل نظامي سازمانونه نه يوازې منحل کړي نه وو، بلکې لا يې پراختيا ورکوله او په نږدې راتلونکې کې پر لوی ګوابښ بدلېده، تره کي ته يې ارايه کوله، ددې اسنادو په کتنه تره کي ومنله چې پرچم بېل پلان او پروګرام لري، تصميم يې ونيو اعلان کړي چې پرچم يو مساوي الحقوق فرکسيون نه دی، ما د ۱۳۵۷ د جوزا د ۱۴مې د اعلاميې تر خپرولو وروسته د تره کي ليدلو ته لاړم. او له نوې وضعې څخه مې سر وټکاوه، تره کي په ځواب کې وويل، ډېره اوسيله مې وکړه، هڅه مې وکړه چې کار دې ځای ته ونه رسېږي، خو کارمل چې پر مخامخې څوکۍ ناست و، په نيمه ګوابښوونکې لهجه يې راته وويل: تر هغه وخته چې د امين د ځان غوښتنې مخه ونه نيسئ، پوه شئ چې يوه ورځ به ټانګ له ټانګ سره وجنګېږي. زه د خپلو خلکو د متل له مخې پوه شوم چې "په يوه سيمه کې دوه پاچايان نه ځايېږي" يا "په يوه هېواد کې دوه اردو نه ځايېږي" نو د ټانکونو د جګړو مخنيوي لپاره بايد يو اقدام شوی وای. چې تر ډېر سوچ وروسته مې مجبورا دا تصميم ونيو، که رښتيا ووايم ناباوره وم، کارمل چې د داود پر ضد که څه هم د ګوند او رهبرۍ بربادي يې غندله کوم اقدام ونه کړ، اوس څنګه د ګوند د حاکميت پر ضد پر توطيې او کودتا لاس پورې کوي. په دې وسوسې کې ډوب شوم. ګومان مې کاوه چې دا تورونه به د امين له خوا جوړ شوي وي. چې غواړي



Ketabton.com

حریف ته ضربه ورکړي او تره کې په خپل پلو کې ونیسي. یوه ورځ نجم الدین کاویاني په سوداګرۍ وزارت کې راته راغی او ویې ویل، تاسو پوهېږئ چې زه هېڅوخت له کارمل سره نه وم، اوس نه غواړم چې د هغه لپاره پر ما شك پیدا شي له تا څخه هیله کوم چې دا حقیقت امین ته وواياست او له ما څخه ملاتړ وکړئ، ما پر هغه وخت جداً د مسوولیت احساس وکړ او نبغ امین ته ورغلم، موضوع مې ورته بیان کړه او زیاته مې کړه چې زه دهغه ضامن یم، امین مې په ځواب کې وویل: زه د هغه په اړه ډېر اسناد لرم چې د هغه نه ربښتینولي ثابتوي، هغه غواړي ستاسو تر شا پټ شي او په نظامي سازماندهي کې خپل فعالیتونه روان وساتي، اوس زما خبره ومنه، زه به په نږدې راتلونکي کې د هغه په اړه انکار نه منونکي اسناد دروښیم د امین له دفتر څخه هم پرته له دې چې قناعت مې ترلاسه کړی وي ووتم، دا غوټې هغه مهال راته خلاصې شوې چې د ۱۳۵۸ لمریز پر مرغومي (جدي) تر شوروي یرغل وروسته نجم الدین کاویاني په باتو پر دې فعالیتونو ویاړ کاوه او د تره کي او امین د خبرو پر سموالي پوه شوم، خو د کارمل د نظامي ګوند څانګې د پراخو فعالیتونو ګوټونه د ا.خ.ډ.ګ د حاکمیت پر دویمه میاشت هغه مهال روښانه شول، چې ښاغلي عظیمي پر خبرو پیل وکړ او په (اردو و سیاست نومي کتاب کې یې یوه برخه داسې رسوا کړه) یوه ورځ مې یوه ملګري له کابل څخه ټلیفون راته وکړ او ویې ویل مور دې ناروغه ده ډېر ژر کابل ته راشه، هغه ورځ د جون میاشتې ۲۸مه نېټه وه، کور مې په خیر خانه مېنه کې و، په بیړه مې ځان هغه ځای ته ورساوه، مور مې بشپړه جوړه وه، ورور مې راته وویل رهبر له تا سره لیدل غواړي. یوه ساعت وروسته عبدالوکیل چې هغه مهال د بهرنیو چارو



Ketabton.com

وزارت مرستیال و راغی، هغه عذر وغوښت چې زما اند ښنه یې ډېره کړې وه، هغه وویل وضعه ډېره خرابه ده، ما نه شول کولای تاته ټیلیفون وکړم، اړ شولو چې په دې پلمه دې دلته راوغواړو او له پېښو څخه دې خبر کړو. هغه وویل زموږ د رهبرۍ هڅې او هیلې د ا.خ.ډ.ګ په یووالي کې د حفیظ الله امین اود هغه د پلویانو د دسیسو او توطیو له کبله له ماتې سره مخامخ شوې او هغه له نور محمد تره کي څخه تر واك اخیستلو وروسته په ګوند کې د فردي کانون پر مرکز اوښتی دی" وکیل وروسته له دې چې د امین د پلانونو په اړه یو شمېر مطالب بیانوي، زیاتوي "دا زموږ د ګوند پر ضد د سیاسي کودتا په مانا ده، خو رفیق کارمل مقاومت کوي او تصمیم نه لري چې هېواد پرېږدي، موږ د ګوند له اکثرو افسرانو او غړو سره یې خبرې کړې دي. نظرونه بېلابېل دي. خو د (پرچم ګوند د غړو نظر دا دی که امین پر خپل هوډ ټینګار وکړي، باید وسلوال پاڅون د امین پر ضد پیل کړي. هغه وویل ما غوښتل چې ملګري کارمل ته د اردو د وسلوال پاڅون لپاره د څان او ۱۴ مې فرقې د ملګرو د چمتووالي خبر ورکړم، څه فکر کوې؟ آیا کولای شې هلته د فرقې خپلواکي اعلان او زموږ د غوښتنې په صورت د کابل پر لور مارش وکړې؟ یوه شېبه په چورتونو کې لاړم، څکه د لومړي څل لپاره مې له خلقیانو سره د بېلتون او ناسازښی نغمه اورېده، د هغه وخت احساس او هیجان هېڅوخت نه شم هېرولی خو چاره نه وه، دا تریخ واقعیت و چې باید ویې منم، وکیل ته مې وویل: که بله وسیله یا لار نه وه معلومه ده چې زه چمتو یم، خو ټینګار کوم چې ددې لار ټاکل ډېرې وینې بهوي او پایله یې ډېره تیاره ده. وکیل په غوسه شو، زموږ تر منځ رمز وټاکل شو او وپتېیل شوه چې د ټیلیفون یا د کوم کس له لارې به ماته راورسېږي



Ketabton.com

او زه به پر خپل کار پیل کوم، هغه رمز داسې و (د ناروغ وضعه خرابه ده، په بیړه ورسره مرسته وکړئ) عظیمي زیاتوي، زه د شپې غزني ته ورسېدم، پرچمیان مې ځان ته راوغوښتل، موضوع مې ورته وویله، هغوی هم له کوم شك څخه پرته چمتو شول چې د دستور له رسېدو سره به له امین څخه د غچ اخیستلو او د ببرك د پلوي لپاره اقدام وکړي (اردو و سیاست، عظیمي، ص ۱۵۸-۱۵۹) د عظیمي هېښوونکي اعتراف د هغه سړي چې په څو رژیمونو کې یې د وفادارۍ قسم کړی دی، خو وروسته یې له وسوسې نه پرته تر پښو لاندې کړي او له نوي مشتري سره یې بل قول او معامله وکړه او په عین حال کې د بل مشتري په لټه پسې وي، چې د معاملې دوام د بازار د قانون په حکم وساتل شي. او له خپل فطري استعداد څخه ګټه واخلي. د همدې راکړه ورکړې په لړ کې د ډاکټر نجیب د دوران بهرنیو چارو وزیر وکیل له کرکټر سره زمور هېوادوال آشنایي لري، د کارمل خبرتیا عظیمي ته رسوي، چې د هغې له مخې اردو د امین پر ضد وسلوال پاڅون پیل کړي. د ۱۴مې فرقې خپلواکي اعلان کړي او د شمال پر لور مارش وکړي.

عظیمي وایي، له دې نه چې د کارمل دستور و، د هغه او د هغه د ریبار د خوشحالۍ لپاره سره له دې چې پوهېدم په دې لار کې به ډېرې وینې وبهېږي له ناچارۍ نه مې ومنله او د ۱۴مې فرقې بل قوماندان مې هم دې وینې بهونې ته چمتو کړ، هغه د خپلې ناچارۍ دلیل د کارمل امر باله چې دې وینې بهونې ته یې رابللی و، هغه کودتا ته د خپلې لېوالتیا په اړه او د هغه له برکته یې چې ترفیع ګانې او رتبې اخیستې دي او د اجیرو سرتېرو عادت یې خپل کړی هېڅ هم نه وایي. هغه دلته غوارې له امین



Ketabton.com

ځخه غچ واخلي، چې ولې يې کارمل په پراګ کې د ډ.ج (د افغانستان ډموکراتيك جمهوري) د لوی سفير په توګه مقرر کړاو اناهيتا راتبزاد يې په بلګراد کې.

له امين ځخه غچ که د افغانستان له خلکو ځخه پر غچ بدل شي عظيمي ته بې تفاوته دی. هغه د کارمل د پلوي لپاره لکه خپله چې وايي چمتو دی د کارمل له ټولو مخالفينو ځخه هر ډول چې وي غچ واخلي. دلته ددې مطلب يادول ضروري دی وړاندې تر دې چې عظيمي د ۱۴مې فرقې خپلواکي اعلان کړي او د کابل پر لوري مارش وکړي. په کابل کې د توطيې رمز رسوا شو، کارمل وارخطا کېږي اوپه بهرنيو چارو وزارت کې په امين پسې دانګي، په داوطلبانه ډول د پراګ سفارت مني او د خپل نوي ماموريت پر لوري چې په حقيقت کې د شوروي د پلوي کسبول و، نه د پراګ سفارت، روانېږي. هغه ماموريت چې کرغېړنه پايله يې د شورويانو له بربنډ تېري سره چې د ټولو نړيوالو نورمونو خلاف وختمه شوه. هېوادوال او نړيوال پوهېږي چې (دتاريخ دا تراژيدي) هم د کارمل د پلوي يا په سمه توګه د پلوي تر نامه لاندې د کارمل د پلوي او له امين ځخه د غچ اخيستو لپاره تر سره شو. خو له بده مرغه دا پلوي او غچ لومړنی او وروستنی نه و. وينه تويېدنه روانه وه، لکه ځنګه چې د افغانانو د دوديزې لويې جرګې تاکل شوي جمهوررييس نجيب الله هم په دې کړه کې د پلوي او غچ اخيستلو د سياست يو بل قرباني دی، چې پر خپل ځای به پرې وغږېږو. عظيمي د کارمل تر تلو وروسته او د هغه تر بياراتلو پورې د سره پوځ پر اوږو په ظاهره کې يې له نويو شرايطو سره انطباق وکړ، په دې ډول چې هېڅ زيان يې نه ليده او دا ثابتوي چې زيان نه منونکی او غنيمت دی، خير دی که توره وفا نه لري، د خبرو او



Ketabton.com

قلم زهر يې دا تشه ډکوي. دا ډول انسانان که د خپلو برياوو قرباني نه شي او د ماتې خوړلو فاتحانو او ځيرکو مارغانو غونډې د خپلو هوښياريو په کړۍ کې بند پاتې نه شي، کولای شي تل هم غازيان وي هم شهيدان او هم په روغ ډول پر صدر کښني او خپلو ګړنديو دندو ته دوام ورکړي. د هغه په وينا "رمز تعينوي" د نظامي پاځون پلان جوړوي، يوازې د ټليفوني يا شخصي مخابرې په تمه د پلان د ترسره کولو لپاره خبرتيا لېږدوي. بيا هم د امين په ښننه کې ورګډيږي.

او خپله د هغه په وينا د زندان يا اعدام انتظار يې درلود، چې د غزني له ۱۴ مې فرقې څخه په حربي پوهنتون کې د پياده پوهنځي د قوماندان په توګه ډېر آرام او د درناوي وړ ځای ته يوازې بدلېږي (اردو و سياست، ص ۱۵۹)



Ketabton.com

# د ګوند حاکمیت
# او اته ګوني فرمانونه

په داسې حال کې چې ګوند او نوی جوړ شوي د.ج دولت له بهر او داخل څخه د دښمنانو د بر بنډو او پټو ګوزارونو هدف و. ګوند او دولت د هغه پروګرام پر ترسره کولو پيل وکړ چې له خلکو سره يې ژمنه کړې وه. په دې اړه يې د ۶-۷-۸مو فرمانونو تطبيق د بېلګې په توګه يادولای شو او د دې ضروري سمونونو په عملي تګلار کې د کار نيمګړتيا ته پاملرنه کوو. ددې فرمانونو اصلي انګېزې تر نوي د زياتواکثريتو خراب حالت (په نوموړي ګام کې دبې ځمکو بزګرانو اوزراعتي مزدورانو سخته وضعه وه.) چې له يو نسل نه په بل پسې په ورثه يې ډول د خانانو تر ظلم لاندې وو، سره له دې چې د تخنيکي وسايلو د نشت له کبله به يې کرنيز محصولات، د خپل مټ په زور توليدول، خپله برخه به يې ډېره لږه



Ketabton.com

وه، هرکال به یې خپلو خانانو ته ډېر څه برابرول خوخپله کورنۍ به یې وږې وه، د خپل وږ حق غوښتل ورته د قانوني جرم په توګه ښکارېدل. د هر کموزلي بزګر په کورکې د هغه خپله خوښي او غم بس وو چې د بزګر لږه ځمکه به هم د ځینو پورونو او اړتیاوو له مخې د خانانو په برخه کېده، ډېره ګټه چې په اسلام کې ناروا هم ده د دوی له خوا شرعي پوښ ورته جوړ شو او په ګروي ډول به یې او بیا اجازه یې د سودخورو په واك کې وه او د دې ډېرو روپو ورکول به هغه ته ناشوني و، د هغه ټوله کورنۍ به د خان کېده، له دې کاره سرغړونه دهغه ګناه ګڼل کېده. د غویي د اوومې د پاڅون تر بري وروسته چې شعار یې ټولنیز عدالت او د منځنیو پېړیو له خرابو شرایطو څخه د خواریکښو خلاصون و. له سیاسي او اخلاقي لحاظه د ظالمو سودخورو د ستم دوام له سپکې محافظه کارۍ او تېرایستنې پرته بل څه نه شول کېدی. چې د ا.خ.د.ګ رهبري یې په هېڅډول د ځان وږ نه بلل نو په ښو نیتونو، شریفو احساساتو او صمیمانه هڅو یې کوښښ وکړ چې په لنډه موده کې پر ملي ژوند حاکم انساني اړیکي د ۹۰ سلنې (فیصده) د اکثریتو په ګټه واړوي. په لومړي ګام کې د لږ ځمکې او نېستمني بزګران او مزدوران چې خپل پورونه یې د ربح په ډول سود خورو ته ځو ځو ځلې ورکړي وو، له دې بردګۍ څخه وژغوري او د سود او ګروۍ پېسې یې یا لږې یا هم لغوه کړې. دا یوه رښتینې لاسته راوړنه وه او خپله یې عیب نه درلود. عیب او نیمګړتیا یې د تطبیق په ډول کې وو چې په خیر غوښتنه کې یې له بې تجربه ګۍ څخه سرچینه اخیسته. چې د خواخوږیو په مرسته د ورکېدو وړ و. خو بهرنۍ لاسوهنې او د بنسټپالو تخریبات چې په امتیاز بایللو کې یې هېوادنی بنسټ درلود، ان د محمد داود پر وخت یې په پاکستان



Ketabton.com

کې مرکز نیولی و. تر جوړښت وروسته له ماتې سره مخامخ شو،
خو ټولنیز عدالت او هوسایي چې د هر سیاسي نظام وروستنۍ
موخه ده آخر بریالی کېږي او تلپاتې پر شا تمبول یې ناشوني
ښکاري. خو اووم فرمان د ښځو او نارینه وو د حقوقو د برابرۍ په
اړه صادر شو. په دې حقیقت کې شك نه شته چې ښځې د ټولنې
نیم نفوس جوړوي. د هغوی برابري د کار او تولید په چارو،
روغتیا او سیاست، اداره او مدیریت یې د پرمختګ ضامن دی.
د انسان حقوقو ته پاملرنه چې نن د نړیوال سیاست او تبلیغاتو د
ثقل مرکز دی د اووم فرمان په وجود کې په ښه او عالي بڼه افاده او
بیان شوی او عملي زمینې هم ورته برابرېږي، زموږ د هېوادوالو به
یاد دي چې نور محمد تره کي د انقلابي شورا رییس ښځه او نارینه
د یوې کوترې دوه وزرونه ګڼل، چې د همکارۍ او ملګرتیا په
مرسته حرکت او الوت کولای شي. ښځو چې په ټولنیزو سازمانونو
کې د ګډون وخت پیدا کړی و، له خپل ګډ ځواك څخه به یې د
ورځنیو ستونزو په حل کې کار اخیسته. د ژوند او کار چاپېریال له
خوښیو څخه ډك شوی و. ډېر ولسونو چې د هیله منو ځوانانو د
نیکمرغیو مخه یې نیوله، غیر اسلامي او انساني کار و، په دې
فرمان له منځه لاړ د بشري حقوقو او د بشري نېکمرغۍ په ضروي
اسانتیاوو کې ځوك دا نه شي ثابتولای چې دا فرمان په خپل ذات
کې ناسم دی. له دې قانوني امکاناتو نه پرته ټولنیز عدالت
ناشونی دی، هغه نیمګړتیاوې چې د هغه په تطبیق کې رامنځته
شوې تر یوه حده طبیعي او د اصلاح وړ وې. خو د نه سمون وجه
یې بهرنۍ لاسوهنې دي. که ردول یې د سمون او ښه کېدو هڅه
وي، نو د طالبانو د اداري له تګلارې څخه شکایت بېځایه دی. د
یوه لوی سړي یوه حکیمانه وینا ده چې خدای(ج) هر ملت ته



Ketabton.com

حکومت ورکوي چې د هغو وړ وي، هغوی چې تر ننه دا سپېڅلې هسڅې او هاند رډوي، باید د طالبانو له حاکمیت څخه ګیله ونه لري او په اصطلاح متحدې نړۍ ته چې د سرو جګړو په فضا کې د خپلو ګټو او زیانونو پر بنسټ، د ناپوهو بنسټپالو مرسته یې وکړه نن باید اخلاقاً ځواب ویونکې وي. اتم نمبر فرمان چې بې ځمکې او کم ځمکې بزګران یې له بردګۍ او له تنبلو زمینداړو څخه (چې له یوه نسل څخه بل ته پاتې شوي) ژغورل، یو مثبت ګام و چې د اکثریتو ۸۵ سلنې د ژوند د ښه والي لپاره پورته شو.

دا د بېغورۍ کمال و چې بزګر پر خپلې ځمکې تر یو کلن زیار وروسته، په تش لاس خپلې وږې او اړې کورنۍ ته ستون شي او حاکم په راحت خیال خوشحاله واوسي. چې څو ملیونه فقیر رعیت لري. دا بېغوري د ا.خ.ډ.ګ په شان کې عفوه کېدونکې نه وه، خو دې فرمان دا غیر انساني او اسلامي چلندونه ختم کړل او هرچاته یې د دفاع حق ورکړ، (خو دا باید واضح کړو هغه څه چې دلته له وړ او ناوړو نه یادوو، د افغانانو د حاکمیت او د غوبیې د پاڅون په لومړنۍ مرحلې پورې اړوند دي.) خو د روسانو تر یرغل او د هغو پر ضد تر عمومي پاڅون وروسته نورمونه او معیارونه بدلون مومي، د ګمارل شویو پر ضد د ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا دمدافعانو ډلبندي بل څېرکی دی، چې پر خپل ځای به پرې وغږېږو.

اوس به د سوداګرۍ چارو ته راوګرځو چې څه له پاسه شل میاشتې زما مسوولیت و، په دې برخه کې د ۱۳۵۷ المریز کالنۍ د اسنادو په ګواهي د لومړي ځل لپاره زموږ د تجارت بیلانس مثبت ارزول شوی دی او د بهرنۍ سوداګرۍ ټول دوران ساری نه درلود، بهرني اسعار چې د ممیزو (کشمشو) له پلورلو څخه لاسته



Ketabton.com

راغلي وو سل مليون ډالره کېدل، چې په ټولو صادراتي محصولاتو کې لومړنی قلم و. په آزاد بازار کې د يوه ډالر بيه ۳۵-۳۸ افغانۍ وه. بيې ثابت (ثارل) کېدې، دعامه اړتياوو د اجناسو بيه مزد او معاش ته په پام سره په مطلوبه سطحه کې ساتل کېدله. د کارګرانو اوره او د ژوند لومړني مواد ډېر شوي وو، د وچو او لمدو مېوو بيه چې شوروي ته لېږدول کېدې د نړيوالو بازارونو له بيې سره برابر شوې وه، د نفتي موادو د بيې د لوړوالي په اړه به يوه خاطره ياده کړم چې د ۱۹۷۹م کال له خزان (منې) سره اړخ لګوي.

پر دې مهال شوروي تجارتي هيات کابل ته راغی، د نفتي موادو د بيې د لوړوالي په اړه يې يو سند راوپاره په دې دليل چې په نړيوالو بازارونو کې د انرژۍ بيه دوه چنده شوې، سند يې راکړ د سند په پای کې يې زياته کړې وه، که دا سند د سبا ورځې تر لسو بجو لاسليك او قيمت تثبيت نه شي، دا بيه اعتبار نه لري، موږ به نوې بيې ورکړو، چې تر دې به هم لوړې وي، ما (ليکوال) د دې سند ګټې چې په اولتيماتوم لهجه ليکل شوی و د شکايت په ډول د ټيليفون له لارې حفيظ الله امين ته وواييه، هغه وويل ته څه وړانديز کوې؟ پر موضوع غور وکړئ، خپل ځانګړی وړانديز جوړ او زموږ سره اړيکي ونيسئ، ما د بهرني تجارت پلان او د تجارت د پراختيا ريسان راوغوښتل، چې د يوه با دليله وړانديز پر جوړولو نظرونه تبادله کړو.

پردې وخت د ځانګړي قلم مدير خبر راکړ، چې شوروي سفير درسره کتل غواړي، ومې پوښته له شوروي سفارت څخه يې ټيليفون کړی و، که د بهرنيو چارو وزارت له لارې راسره ګوري؟ هغه وويل هغه خپله راغلی په هغه بله کوټه کې درته په تمه دی،



Ketabton.com

زه حیران شوم چې سفیر څنګه د پرېکړه لیك او دود یزو تشریفاتو خلاف، له خبرتیا نه پرته په بیړه راغي او د کتنې په تمه دی، کله چې کوټې ته راننوت، که څه هم هڅه یې کوله چې نورمال حالت ولري، خو له څېرې څخه یې تلوسه له ورایه ښکارېده، کله چې یې ولیدم د عادت خلاف چې (بوزانوف) له وزیرانو سره د غبرګې روغبړ کوي، په خپل ترجمان یې وپوښتلم. وزیر صیب تاسو لومړی وزیر صیب ته څه ویلي، چې هغه یې التیماتوم ګڼلی دی؟ ما هم د روسي هیات د بیې د ټاکنې پانې چې د ۱۹۸۰م کال د نفتي موادو په اړه رسماً راته سپارل شوې وې او په پای کې یې لیکلي وو، که د سبا تر لسو بجو دا بیې تایید او لاسلیك نه شي دا بیې اعتبار نه لري او موږ نوې بیې ټاکو، چې له شکه پرته به لوړې وې. ورښکاره کړې، هغه وویل دا مسئله همدلته سره حلوو، هیله کوم لومړي وزیر صیب ته ډاډ ورکړئ، پر دې وخت د ټیلیفون زنګ راغی، غوږۍ مې اوچته کړه حفیظ الله امین و، ویې پوښتم: سفیر درغی؟ ومې ویل هو، تراوسه دلته دی ویې پوښتلم متقابل وړاندیز مو جوړ کړل؟ ومې ویل د شوروي تجارتي هیات د خپلو نفتي موادو سل په سلو کې لوړتیا راتلونکي کال لپاره یې د انرژي بیه په نړیواله کچ دوه چنده ذکر کړې، ګاز خو انرژي ده، اوس له نړیواله کچ څخه درې چنده لړ شوروي ته لېږدول کېږي، موږ یې بیه چې اوس ۳۹ ډالره کلیرس ده. له نړیوال بازار سره سم لوړوو، دا لوړتیا د نفتي موادو د بیې لوړوالی جبرانوي.

حفیظ الله امین په خوښۍ سره ومنله او زیاته یې کړه، د معادنو او صنایعو همداراز مالیې وزارتونو ته لارښوونه کوم چې په درېیو ورځو کې ستاسو لپاره قانع کوونکي وړندیز دنړیوالې بیې له نور مونو سره سم جوړ او شوروي هیات ته یې وسپارئ. د



Ketabton.com

معـادنو او صنـايعو، مـاليې او تجـارت وزارتونـو د نړيوالـې بيـې کچې، پـه ځانـګړې تـوګه د ګاز بيـې تـه پـه پـام سـره چـې د دوو ګاونډيو لکـه د مکسـيکو او امريکـا، يـا کانـاډا او امريکـا تـر منـځ معامله کېږده، معيـار جوړ کړ، ويـې سنجاوه او د هغـه لـه مخـې يـې يـو مـتر مکعـب ګاز تـه ۱۱۵ ډالـر کلـيرنس بيـه ورکـړه او شـوروي هيـات تـه يـې پـه رسمـي ډول وسپاره.

لـه هغـه ځايـه د ۱۹۷۹م کـال د ډسمبر پر ۲۷مـه نـېټه تـر نـوي ميـلادي کـال درې ورځـې وړانـدې د روسـانو تـر تـېرې وروسـته زه د ځرخـې پلـه پـه زنـدان کـې کـوټه قلفـي وم او څه لـه پاسـه اووه کالـه لـه بـهر څخـه بې خبره وم، ددې وړانديـز لـه برخليـك څخـه چـې نـاليدلې منـل شـوی و بې خبره پاتې شـوم.

خـو غـواړم پـر دې حقيقت يـو ځل بيـا ټينـګار وکـړم چـې اميـن د معـادنو او صنـايعو او تجـارت وزارتونـو تـه تـل دسـتور ورکـاوه، چـې لـه شـوروي تصدۍ ګانو سره پـه معـاملو کـې پـر هـرې بيـې چنـې ووهـې او د سياسـي ملاحظـاتو پـه نسـبت هېڅوخـت لـه خپلـې ګټې څخـه تـېر نـه شـي هغـه ويـل د زراعتـي، مـالدارۍ، لاسـي صنـايع او د مختصـرو محصولاتو لـېږدول زمـوږ خپـل اسـعار دي، هغـه وکـړئ چـې پـه غربـي هېوادونو کـې بـازار پيـدا کـړئ اولـه ګډو بـازارونو څخـه ګټه واخلـئ.

پـه تجـارتي راکـړه ورکـړه کـې د آزاد رقـابت اصـل پـه پـام کـې ولـرئ، کـه پـه پرتليـز ډول د اميـن او کـارمل کـار سـره مقايسـه شـي، د سياسـي نظـر ډېر خـاوندان د ښاغلـي مبـارز لـه دې خـبرې سـره همغږې دي چـې خلقيـانو خپلـه تصميم نيـوه او عمـل يـې کـاوه، خـو د کـارمل پـه اداره کـې بـه روسـانو تصميـم نيـوه او دوی پـرې عمـل کـاوه، يـانې اميـن د بـرژنيـف لـه خـوا طرحـه شـوی محـدود حـاکميت ونـه مانـه، خوکـارمل هغـه پـه خـوښۍ سـره ومانـه عمـل يـې پـرې وکـړ (تحليـل واقعـات سياسـي، ۱۹۱۹- ۱۹۹۶م، ص ۴۴۸)



Ketabton.com

# اسلام آباد ته رسمي سفر

د افغانستان او پاکستان مناسبات چې د چنګاښ (سرطان) تر ۲۶مې وروسته حساس شوي وو، يو وخت د ښه والي پر لور تلل، خو ۱۳۵۷د غويي د اوومې تر پاخون وروسته نور هم پېچلي شول. دا وضعه د دواړو غاړو په ځانګړې توګه پاکستان ته د ډيورنډ د تېل شوې او استعماري کرښې په اړه چې د ا.خ.ډ.ګ د مشرانو عقيده ور ته څرګنده وه ډېر د انديښنې وړ ګرځېدلې وه او ناوړ غبرګون به يې پر تجارتي ترانزيتي چارو (له کراچۍ څخه تر پېښوره د مالونو په لېږدولو کې) د ځنډ په بڼه څرګنداوه. ارتزاقي او خدماتي مواد په ځانګړې توګه غنم پر خپل وخت خلکو ته نه رسېدل. هغه شيان او څيزونه چې په افغانستان کې به د اړتيا وړ نه وو په دوديز ډول به تر د ماليې او ټکس ورکولو وروسته د افغانستان له ګمرکونو څخه بېرته صادرېدل. دا صادرات چې د ګمرکي عوايدو ډېره برخه يې جوړوله، لړېدل. همداراز د ډېرو افغاني تجارانو مالونه چې په د (ديمرج) (تاجايي) پيسې يې د



Ketabton.com

جامو څو برابره کېدې او اصلي خاوندانو پرې اېښې وو، جدي پاملرنه غوښته، پر دې سربېره د ۱۳۳۸ لمريز کال د ترانزيت او تجارت پرېکړه ليک زموږ د مخ پر ودې هېواد د اړتياوو ځوابوونکې نه و. هغه خدمتونه چې تاکل شوې وه ددې پرېکړه ليك له مخې د افغاني غاړې لاسته راځي، که سل په سلو کې هم ترسره کېدل بيا به هم محدود او لږ وو. ما دا ټولې ستونزې د ډيلي د تجارت په منعقده کنفرانس کې د پاکستان د تجارت له وزير سره شريکې کړې، هغه د همکارۍ او د نورو اسانتياوو د برابرولو ژمنه وکړه، له دې سره يې مينه وښوده که کابل ته راغی د ستونزو پر بنسټيز حل به مذاکره او مفاهمه تر سره شي. چې دواړه غاړو ته گټور دي. البته دا يو نېك کار و. له ستنېدو سره مې ستونزې او د هغو ضروري حل د مذاکرو او همکارۍ له لارې د وزيرانو مجلس ته رامخته کړې او کابل ته مې د پاکستان د تجارت وزير د سفر لېوالتيا هم بيان کړه، د وزيرانو مجلس پرېکړه وکړه د پاکستان د تجارت وزير ته بلنه ورکړل شي، چې د هغې له مخې د يوې مياشتې په اوږدو کې کابل ته راغی او يو ستونزې تر يو حده غوڅې شوې.

څو پر دويمې او عمده برخې بايد د موضوع پر خپل ځای بحث کېده. پر دې بنسټ د پاکستان د تجارت وزير په غوښتنه د ۱۳۵۸ د پسرلي په لومړنيو ورځو کې مې پاکستان ته رسمي سفر وکړ، په اسلام آباد کې له افغاني هيات څخه په ښه ډول هرکلی وشو، د پاکستان د سوداگرۍ وزير پر هوايي ډگر کې زما هرکلی وکړ او هيات لېږدوونکې موټر د افغانستان او پاکستان په بيرغو ښکلې شوې و او په تشريفاتي موټرسايکلونو هم بدرگه کېده، د هيات خبرواترو ته هم ډېر ښه او وړ ځای ځانگړی شوی و. افغاني



Ketabton.com

هیـــات دريې ملاقاتونـــه او څو كـــاري جلســـې درلـــودې، لومړنـــی ملاقـات د پاكســـتان د بـهرنیو چـارو لـه وزیـر آغاشـاهي سـره ترسـره شـو.

پـه دې كتنـه كـې پـه اسـلام آبـاد كـې د افغانســتان لـوی سـفیر عبدالرشید آریـن هـم ګډون درلـود، وروسـته لـه دې چـې آغـا شـاهي موږ تـه ښه راغلاست ووایـه، هیلـه یـې وكـړه چـې دا سـفر بـه د متقـابلو ښو اړیكو پـه ګټه وي، بیـا یـې د ترانزیتـي آسـانتیاوو پـه برابرولـو كـې د پاكسـتان پـر چمتووالـي خبرې وكـړې او لـه اشـارې سـره یـې ماتـه د خبـرو وخت راكـړ، مـا وروسـته لـه دې چـې د پاكسـتان لـه دوسـتانه چلندونـو څخـه مننـه وكـړه او دا كتنـې مـې د دواړو هېوادونـو د دوسـتانه اړیكـو د ټینـګښت لپـاره ګټورې وبللـې، د اقتصـادي او فرهنـګي اړتیـاوو پـر همكـارۍ مـې د هر ټینـګار وكـړ او ترانزیتـي اسـانتیا مـې یـو ګړنـدی ضـرورت وښوده، زیاتـه مـې كـړه افغانسـتان پـه وچـو ځمكـو د یـوه چاپېر هـېواد پـه تـوګه د نـورو وچـو هېوادونـو پـه څېر بـاید لـه مسـلم حـق څخـه برخمـن وي او دا حـق بـاید پـه سیاسـت كـې لاهـو نـه شي. آغـا شـاهي پـه داسـې حـال كـې چـې زمـا خبرې یـې تـاییدولې او پـه ټولـو چـارو كـې یـې ژمنـې كولـې د پاكسـتان تجـارت وزیـر تـه پـه اشـارې سـره یـې وویـل،د سـتونزو د حـل لپـاره د دواړو خـواوو نـېك نیـت شـته، زه د موانعـو پـه لـرې كولـو كـې سـتاسـو بـری غـواړم. لـه آغاشـاهي سـره د افغـاني هیـات تعـارفي كتنـه پایتـه ورسېده، پرځلورو بجـو مـو د پاكسـتان لـه جمـهور ریـس ضیـاالحق سره د كتنې ژمنه كړې وه، چـې بـاید ځانونـه مـو چمتـو كـړي وای، پـر ځلورو بجـو د جمـهوري ریاسـت د مـانۍ وره تـه ورسـېدو، ضیـاالحق د خپـل ښایسـته دفتـر پـه دروازه كـې د افغـاني هیـات هركلـی وكـړ او ویـې ویـل خـدای(ج) دې وكـړي چـې پـه پاكسـتان كـې مـو سـفر ښه تېر



Ketabton.com

شي او ښې پایلې ترې ترلاسه کړئ. د افغاني هیات د ریس په توګه مې ورته وویل: موږ په پاکستان کې د پردیتوب احساس نه کوو ګډه، ژبه، فرهنګ او تاریخ هغه ټینګ پیوندونه دي چې له پېړیو راهیسې یې سره نښلولي یو. ضیاالحق چې ښکارېده له دې خبرو څه چنداني راضي نه دی د سر په ورو اشاره یې زما خبرې تایید کړې او کېناستو ته یې راوبللو، جنرال ضیاالحق چې تل د افغانستان په اړه د ستونزو پلوی و. ظاهره په مهربانه څېره، لویو ننووتو ګردیو سترګو چې د مخ ډېره برخه یې نیولې وه او کرکه ترېنه ورېده، مقابل لوري یې اړویستل چې هره جمله او کلیمه چې وایي جدأ پرې غور وکړي او ځواب یې باید لنډ او بشپړ وي، هغه د خبرو واګې په لاس کې واخیستل، د دېوال لویې نقشې ته یې په اشارې سره وویل: دا بهرني سرحدونه له کنتروله وتلي دي، لازمه ده چې ګډه هڅه وشي، چې په دې سیمو کې د خلکو د تګ راتګ مخه چې تل روان دي په داوطلبانه ډول ونیول شي، په دې برخه کې تاسو هم خپل مسوولیت ومنئ، د افغاني هیات له لوري مې ځواب ورکړ: تاسو په جریان کې یاست چې په افغانستان کې انقلاب بریالی شوی دی او د هر انقلاب په پراخو برخو کې یو نوی بشپړ تنظیم ناشونی دی، یو څه په کار دي چې خلک، قشرونه او ځیزونه خپل طبیعي ځای ومومي، افغانان چې په څو پېښو کې د پاکستان له بوختتیاوو څخه سوء استفاده نه ده کړې، اوس د پاکستان وار دی چې په اصطلاح له ژوبلې ګوتې څخه مو ونه نیسي. تر انقلاب وروسته موږ یو څه وخت ته اړتیا لرو، ګومان کوم دلته مو دوستانو ته دا اړتیا د فهم وړ ده او هغه څه چې د سرحداتو په ساتنه کې ګډه هڅه غواړي، زموږ په اند دا مسئله په عام وتام ډول ددې سیمودخلکو د حقوقو پر پېژندنې او د هغوی تر

همکارۍ وروسته کېدی شي. خو دا کار وخت غواړي. اوس مو له جلالتمآب څخه ګړندۍ غوښتنه داده چې نظامي روزنيز کمپونه دې وتړل شي. پردې ځای ضياالحق زما خبرې غوڅې کړې او ويې ويل: په دې سيمو کې کوم نظامي کمپ نه شته. خو هلته يو شمېر کډوال له خپلو خپلوانو سره ژوند کوي، د مېلمه پالنې دود چې په افغانانو کې ډېر دي، نو ما ته د دوی شتون ډېر عادي او طبيعي دی. زموږ لپاره امکان نه لري چې مداخله وکړو، سربېره پر دې مو په کابل کې زموږ مخالفينو ته پناه او ټول تبليغي وسايل مو په واك کې ورکړي دي. چې په کابل کې د اجمل خټك شتون او په پاکستان ضدو ننداروکې د هغه ګډون ښه بېلګه ده، خو په عين حال کې تاسو له موږ څخه غواړئ هغه مېلمه چې په خپل کور او قوم کې ژوند کوي وشړو، په ځواب کې مې وويل: له جلالتمآب څخه زموږ هيله دا ده چې د هغوی د ورانکارۍ مخه ونيسي او مېلمنو ته اجازه ورنه کړل شي چې د ګاونډي هېواد سوله او امن خراب کړي. زه د ګوندي رهبرۍ له خوا اجازه لرم جلالتمآب ته ډاډ ورکړم چې موږ به پاکستاني ناراضيانو ته اجازه ورنه کړو او هغه څه چې د اجمل خټك په پناه ورکولو پورې اړوند دي، لکه تاسو جلالتمآب ته چې ښکاره ده هغه يو روښاندی او شاعر دی، خپل عقايد په خپل هنر کې بيانوي، د هغه په څېر خلك د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د منلو وړ دي. بيا هم ددې ستونزې حل ډېر آسان دی او د دوه اړخيز تماس له لارې کېدی شي. غواړم يو ځل بيا ټينګار وکړم چې زه د افغانستان د ګوندي او دولتي رهبرۍ د ښه نيت د پيام لېږدوونکی يم او عقيده لرم چې د هغه په رڼا کې ټولې ستونزې غوڅېدونکې دي.



Ketabton.com

جنرال ضیاالحق د وروستیو جملو تر اوېدو وروسته چې هغه یې کوله لهجه یې نرمه او دوستانه وي وویل: ډاډه واوسئ، چې دوه اړخیز حسن نیت شته. اوس په عملي توګه موږ څه مرسته کولای شو؟ ومې ویل: د سیاسي مسایلو حل به د بهرنیو چارو وزارتونو دوه اړخیزو مذاکراتو او تماسونو ته پرېږدو، زموږ غوښتنې دا دي:

۱- د کراچۍ په بندر کې د انبار شویو مالونو په اړه له دیمرج پیسې څخه معافیت او د هغوی د لېږدونې اجازه.

۲- د ترانزیت او تجارت د پربکړه لیك نوی کول، چې زموږ د اړتیاوو ځواب ویونکی وي، تر هغه وخته چې دا نوی پرېکړه لیك چې یوه کاپي یې زموږ له خوا ترتیب او پاکستان لوري ته وړاندې شوی دی، د ورځې دې لږ تر لږه (۷۰) اضافي رېلګاډي په کراچۍ بندر کې د افغاني موادو د لېږدونې لپاره موږ ته په واك کې راکړل شي.

۳- د یوه باروړونکي ګډ شرکت جوړول، چې افغاني او پاکستاني مالونه له پېښوره کابل ته او بالعکس له کابله پېښور ته ولېږدوي.

۴- په کراچۍ بندر کې د ځمکې د رانیولو اجازه، چې د افغاني مالونو تحویلخانې، ګدامونه او زېرمې د دیمرج له ستونزې څخه خلاصون ومومي.

۵- که د رېلګاډي د نشتوالي له کبله مو په کراچۍ بنار کې مالونه په ګدامونو کې زېرمه شي، اصولاً باید د دیمرج له پیسې څخه معاف وي.

ضیاالحق پنځه واړه وړاندیزونه ومنل او د پاکستان تجارت وزیر ته یې لارښوونه وکړه، چې اداري او حقوقي مسایل یې تنظیم کړي. له خندا سره یې راته وویل د دغو پنځو وړاندیزونو منل تره کي ته زموږ متقابل ښه نیت دی، هغه ته هم دا وواياست. په مننې



Ketabton.com

له دفتر څخه ووتو، هغه د ماڼۍ تر وره پورې بدرګه کړو. د پاکستان تجارت وزير چې تل يې همکارۍ له موږ سره درلوده له دې کتنې څخه ډېر خوښ و، بلکه ورځ مو د کراچۍ پر لور پرواز وکړ، په هوايي ډګر کې مو د سند ولايت د مشرانو له خوا هر کلی وشو، د شپې د کراچۍ د ښاروالۍ په کلوپ کې د ښاروال مېلمه وو. په مېلمستيا کې کراچۍ مېشتو ډېرو پښتنو ګډون کړی وو، چې ټولو د افغانستان د انقلاب په اړه دوستانه احساسات لرل، په مفصل ډول مو د کراچۍ کتنه وکړه، هغه ځمکې چې بايد په راتلونکې کې پرې زموږ ګدامونه او تحويلخانې جوړې شي، د کراچۍ بندر د ريس له خوا مشخصې شوې، تر غرمې وروسته اسلام آباد ته ستانه شولو، سبا ته د تورخم- جلال آباد له لارې کابل ته راغلو او د يوې مياشتې په موده کې د کراچۍ انبار شويو مالونو په سلګونو رېلګاډو کې چې د ديمرج له پيسو څخه معاف شوي وو، د لېږدونې اجازه ترلاسه کړه.



Ketabton.com

# یوه لیکل شوې دوسیه

د ۱۳۵۸ المریز کال د دوبي په یوه توده ورځ کې امین راته ټلیفون وکړ او ویې ویل چې له ما سره وګوره. تر یوه ساعت وروسته یې دفتر ته ورغلم، هغه تر لنډ روغبړ وروسته یوه پنډه دوسیه راکړه او زیاته یې کړه، مخامخ کوټې ته لاړ شه چای یا قهوه وڅښه او بیا په آرامه دا دوسیه تر پایه په دقت سره مطالعه کړه، وروسته راشه چې دواړه پرې وغږېږو. دوسیه مې په بیړه پرانیسته او پر لوستلو مې پیل وکړ، په منځنۍ پاڼه کې یې په غټ خط د پرچم د لسو تنو لویو کدرونو د څېړنې لنډیز لیکل شوی و، خو نومونه یې د شفر په ډول قید وو. په پاڼو کې د پرچمیانو پټو ملکي او نظامي تشکیلاتو پر شتون هم خبرې شوې وې.

د پرچمیانو د وسلوال پاڅون او په کابل کې د تحریکونو او مظاهرو خبره هم په کې راغلې وه، د پرچمیانو له پلان څخه هم خبرې شوې وې چې د هغو له مخې به د شورشونو او پاڅونونو اوز



Ketabton.com

تـه لمـن وهـي او بـې نظمـي جـوړوي. د پـروپـاګندې او تبليغـاتي ګروپونـو يادونـه هـم شـوې وه چـې امـين فاشيسـت او سـي،آى اې (CIA) اود افغانسـتان د انورالسـادات پـه تـوګه تبليـغ کـړې. د کـارمل پـه دسـتور کـې دا راغلـي وو چـې شـوروي يـې پلـوى دى او شـوروي سفير دنـده لـري، چې د پرچميـانو ملاتـړ وکـړي او پـه دې اړه ډاډ هـم ورکـړل شـوى و. د اميـن د سقوط د نـږدېوالي تذکـر هـم پـه کـې راغلـى و. وروسـته دې لسـو تنـو اعـتراف کـړى و، چـې دنـده يـې درلـوده د ګوزارونو سطحه نوره هـم پراخـه کـړي چـې ټول پـرچميـان، روښانـدي او ګينې اړخي پـه کې راګډ شـي. خـوپـه ټولـو اعـترافونو کـې دا يـو مطلـب تـر سترګو کېده چې غوربنـدي لـه مـوږ سره و، هغـه د پـايواز او ريبـار حيثيـت درلـود، مـورد امنيـت لپـاره خپلـې ډېرې جلسـې د هغـه پـه کـور کې کړې دي. (۹) تنو يـې پـه تحقيـق کـې ويلـي وو چـې غوربنـدي د چکسلواکيا پـه سفر کـې لـه کـارمل او د ليننـګراد پـه سـفر کـې د کـارمل لـه لـور سـره کتلـي دي. د کـارمل دسـتور او خبرتيـا يـې پـرچميـانو تـه رسـولي دي. پـه هغـه کـې ويـل شـوي وو چـې کـارمل بـه ډېر ژر بېرتـه راشـي. هيلـه مـن واوسـئ اوسـېله لـه لاسـه مـه ورکـوئ، هغـوى پـه خپـل تحقيـق کـې ويلـي وو، د هغـو معلومـاتو لـه مخـې چـې د غوربنـدي لـه لارې وررسـېدلي دي نظـامي افسـرانو د غويـي د اوومې پـه کودتـا کـې عمـده او بريمـن نقـش درلـود .اوس لـه کارملـه دسـتور اخلـي او پـه اردو کـې وړ واك لـري. هغـوى ويلـي وو، مـوږ چمتـو يـو چـې تـر زندانـېدو وړانـدې خپلـې خبرې اتـرې چـې د غوربندي پـه کـور کـې او د هغـه پـه مشـرى مـو کـړې دي د هغـه پـر مخـامخ تکـرار کـړو.

لنـډه دا چـې دا دوسـيه لـه دې ډول تورونـو څخـه ډکـه وه، دې تورونـو دوه علتـه درلـودى شـول:



Ketabton.com

۱- حاکم مقامات زما د نیولو نیت لري، نود "اگسا" کارکوونکو ته یې دستور ورکړی چې په خپله خوښه په شکنجه راڅخه اعتراف واخلي او هغه اعتراف د دلیل په توګه راوړي.

۲- کارملیانو لکه له اعتراف څخه یې چې څرګندېږي، د کارمل د تجرید لپاره یې په ګډه دا توروونه لګولي دي. ځکه دا ډول مسایل که وړاندې، تر زندان بهر تنظیم شوي نه وي، په زندان هغه هم د یوه ګروپ د مهمو کدرونو له خوا نه شي کېدی. یوازې په یوه صورت کې کېدی شي، چې د لیدنې کتنې او مشورې زمینه ورته برابره شوې وي. چې بیا یې هم تر شا روغ نیت نه ښکاري. ما په داسې حال کې چې هڅه کوله ددې ناسم مطلب اصلي انګېزه پیدا کړم، د امین دفتر ته ورغلم. دوسیه مې د هغه پر مېز کېښوده هغه د مېز تر شا راوچت شو او زه یې پر کوچ کېناستو ته وبللم، هغه مې پر وړاندې کېناست او نبغ مې سترګو ته خیر شو، ویې ویل: څه فکر کوې؟ په آرامۍ او سړه سینه مې ځواب ورکړ، شاید پرچمیانو به تر ځانګړو شرایطو لاندې یا د کوم پلان پر بنسټ یې دا خبرې کړې وي. نه پوهېږم د هغوی موخه څه ده؟ امین وویل: که ستا خوښه وي ډاکټر فاروق او عزیز چمتو دي چې ستاسو په حضور کې دا خبرې داوطلبانه بیا تکرار کړي. په ځواب کې مې وویل: هغوی چې دا توروونه په لیکلې بڼه کښلي، شک نه شته، چې په شفاهي ډول به یې تایید او تکراروي. تاسو پر دې خبرو باور لرئ، امر وکړئ چېرې لاړ شم، کور که څرخي پله ته؟ امین په نرمه لهجه وویل: غوربندي ملګریه! زه ستا پر صمیمیت او رښتینولۍ هېڅډول شک نه لرم، دا دوسیه مې ځکه درکړه چې د مخالفینو پر دسیسه کارانه پلانونو او توطیو پوه شې. زه درته

وایم کـه داعـترافونوانګېزه هـرڅه وي، خـو مطـالب چـې د تحقیـق لـه لارې روښانـه شوي، لـه حقیقـت څخـه تـش نـه دي.

د سـاري پـه تـوګه دا نظـامي افسـران چـې د غویـي پـه انقـلاب کـې یـې لـه ځانـه اتلتـوب ښودلـی، دهغـه پـه بـدل کـې غـواړي چـې خپلواکـه واوسـي او هـرڅه چـې یـې زړه غـواړي هغـه وکـړي، هغـوی ځانونـه د هېڅ نـورم اومعیـار تـابع نـه ګڼي "اګسـا" پـه ریښتیـا هـم پـه حکومـت کـې حکومـت ګرځېدلـی دی، تـر هغـه بـهر د ملامتـی ګوتـه زما خواتـه نیـول شوې، هېڅوك نـه پوهېږي چـې اسدالله سروري ماتـه د ګزارش راکولـو لپـاره ځان مکلـف نـه ګڼي. خـو مـوږ بشـپړ معلومات لـرو چـې خپلـه اګسـا د حـاکمیت پـر ضـد یـو شمېر شبنامې وېشـي. دلتـه مـې پـه بیـړه وپوښتـل: اسـدالله سـروري څنـګه جرئـت کـوي چـې اګسـا د رژیـم پـر ضـد وکـاروي؟ لـه پوزخند سره یـې ځواب راکـړ: لـه بـده مرغـه لکـه څنـګه چـې ښکـاري "د مزیـو سـرونه پـه شوروي سـفارت کـې دي. شـوروي ملـګري زمـوږ خپلـواك دریـځ نـه خـوښوي، هغـوی غـواړي چـې پـه لیکلـي او شفاهي بڼه د مشـورې پـه نامـه پـر مـوږ امـر وکـړي. شـوروي سـفیر پوزانـف زمـا پـه اړه تـره کـي تـه تحریکوونکـې خبرې کـوي او هـڅه کـوي زمـوږ تـر منـځ اختلافونـه رامنځتـه کـړي، زمـا د معلومـاتو لـه مخـې پوزانـف زمـوږ پـه ضدیـت کـې دومـره پرمـخ تللـی، چـې آن زمـوږ مخـالفینو تـه پـه خپـل سـفارت کـې ځای ورکـوي. لـه شوروي دولـت څخـه مـو هیلـه کـړې چـې پوزانـف او صولتنشـاه مـسیرګن د سـفارت سـفیر او کـارکوونکی دواړه وغـواړي، هغـوی پـه ریښتیـا هـم زمـوږ لپـاره نامطلوبـه کسـان دي، زه هـڅه کـوم چـې تـره کـی قـانع کـړم چـې د سـروري پـه څېر د خلکـو لـه ملاتـړ څخـه لاس واخلـي. د هغـوی شـتوالی، د یـوه کورنـي سیاسـت تعقیبـول، د بـهرنـي سیاسـت لـه تعقیبولـو سـره نرمـښت ناشـوني دي.

تاکـل شـوې ده یـو شـمېر روڼانـدي پـه ځانـګړي ډول پـرچمیـان چـې بندینـان شـوي دي خوشـې شـي، دا تورونـه چـې تـا ولوستـل یـوازې پـر



Ketabton.com

تا نه دي تپل شوي، بارق شفیعي ته هم همداسې خبرې اوډل شوې دي چې زه یې پر سموالي باور نه لرم، "کله چې یې خدای پاماني کاوه له خندا سره یې وویل: ما ور وګڼل چې د ځینو پېښو له بهیر څخه دې خبر کړم، خو غوره ده چې په دې اړه بل څوك خبر نه شي، چې موږ خپله د دښمنانو د تبلیغاتو وسیله نه شو په هرحال، اندېښنه مه کوئ، په ډېره زړورتیا سره خپلې دندې پرمخ بیایه، دخدای پامان". که ربښتیا ووایم دا خبرې او موضوعګانې زما لپاره بېخي نوي وې، زه د امین او تره کي پر اختلاف ترهغه مهاله خبر نه وم. دا چې اسدالله سروري د امین پر ضد اګسا راپارولې او شبنامې خپروي، راته له پوښتنو څخه ډکه خبره وه. تر ټولو مهمه ؛ شوروي سفارت دریځ او د سفیر نقش و چې طبعاً یې د خپل دولت د پالیسۍ نماینده‌ګي کوله. ټول د معما په څېر وو. که څه هم د پوزانف لېوالتیا چې غوښتل یې زموږ د هېواد په چارو کې د مشورې په نامه امر وکړي په دوو اړخونو کې راته څرګنده وه.

پوزانف په ټینګار سره هیله درلوده چې (سلام خان) د مرستیال او (جلالر) د تجارت وزارت د مشاور په توګه وټاکي، د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر ډاکټر شاه ولي څخه یې هم شوروي ته د سفر پر مهال دا غوښتنه کړې وه. له دې نه چې دا دواړه کسان مو پېژندل نو چنداني پاملرنه ورته ونه شوله. خو اوس د امین په وینا خبره دې ځای ته رارسېدلې چې پوزانف، سفارت د مخالفینو په ځانګړې د کارملیانو پر پناه ګاه بدل کړی او د انګرېزانو په څېر چې پر نولسمه پېړۍ یې زموږ لپاره شاه شجاع د پاچا په توګه خوندي وساته چې د اړتیا پر وخت فشار راولي او امتیاز ترلاسه کړي. اوس شورویان په همدې موخه(پراګ)کې د کارمل مېلمستیا کوي، دا تاریخي ورته والی او قرینې باید په جدي توګه په پام کې نیول شوې وای، امین داسې تصمیم درلود؛ خو له بده مرغه د شوروي د نظامي او سیاسي مرستو له کبله په



Ketabton.com

کار کې غوټه موجوده وه، چې پرانیستل یې د هر وخت غوښت، په لنډه موده او په ناڅاپي ډول یې خلاصول ناشوني وو. له دې کړکېچ څخه وتل هم د هرو لګښتونو ته اړتیا لرله، دې ستونزې د جواهر لعل نهرو له حکمته ډکه دا خبره سړي ته وریادوله چې خپلې لورته یې د لارښوونې په ډول کړې وه.

"په کور کې هېڅوخت د فیل بچی ونه روزې، ځکه که لوی شو له وره څخه وتلای نه شي او د کور دېوال ورانوي" له همدې کبله د واړه او لوی نېستمن او شتمن هېواد تر منځ عادلانه او برابر مناسبات ستونزمن دي. دا حقیقت باید ومنو چې په نړیوالو مناسباتو کې مدني ارزښتونه لکه څنګه چې په منشورونو کې ویل شوي، نه عملي کېږي. د ځان په ګټه له تاریخي برتریو څخه ګټه اخیستل ورځنی کار ونه لري.

د طبیعت قانون او د ځنګله اصول چې داسې دي د هغو له مخې پیاوړې ونې په پراخو څانګو او ژور جرړو د لمر رڼا او د ځمکې انرژي اخلي دا په خلکو اوملتونو کې هم عمومیت لري. او لا د زمري په برخه پاچایي پاتې ده. که یې غوښتنه په ډپلوماتیکه ژبه هم وي. هغوی چې ددې حقایقو په پوهېدو سره بیا هم تېرونه سپر ګرځوي د خپل ژوند په بایللو سره د خلکو د حقوقو او د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه کوي. سر ورکوي خو چاته یې نه ټیټوي. دا خلك به زموږ د هېواد په حماسه زېږ تاریخ کې تلپاتې وي او بایلل (باخت) د هغو کسانو په برخه دی چې د پردو په زور لنډ مهالی بری مومي اوتلپاتې بدنامي ګټي.



Ketabton.com

# له تور څخه تر حقیقته

هغه څه چې مې په دوسیه کې ولوستل او وروسته مې له امین څخه واورېدل، تر یوه حده پوه شوم چې د امین او تره کي اړیکې خراب شوي او پر یو او بل یې اعتبار کمزوری شوی دی. خو دا چې ګویا پوزانوف پېژندل شوي نظامیان چې شر یو د اګسا ریاست،داخله وزارت او د مخابراتو وزارت په څېر حساسې او مهمې دندې لرلې مخالفت او بغاوت ته هڅوي، یا تره کي د امین ضدیت ته پاروي یا یې هم له سفارت نه د مخالفینو پناه ګاه جوړه کړې، زما په اند بې منطقې خبرې ښکارېدې، چې عقل یې له منلو څخه عاجز و. د امین دا دلیل سم دی چې دوست هېواد شوروي زمونږ خپلواک دریځ نه خوښوي او ټول کارونه د هغوی په لاس کې دي. ما ته پر هغه مهال هېښوونکي او ناباوره وو. ځکه ګومان مې کاوه هېڅ هېواد باید د هېڅ دلیل پر بنسټ ځان ته دا



Ketabton.com

حق ورنه کړي چې دا ډول کارونه وکړي، خو د وخت تېرېدل له هر ډول پټولو نه پرته ټولو پوښتنو ته ځوابونه وايي. شك او ناباوري د حقايقو په رڼا کې له منځه ځي،د توروڼو له لوخړو نه رښتينولۍ راڅرګندېږي. ددې حقايقو په اړه د پوزانوف خبرې چې د صحنې د پردې تر شا اصلي لاربشود دی زموږ لپاره په زړه پورې دي، هغه وايي: "تره کي ته مې وويل: ملګري تره کي! په هېواد کې وضعه خرابه شوې، کورنۍ جګړې پيل شوې دي، په دې لوبه کې پاکستان،امريکا او عربي هېوادونه هم راګډ شوي دي. وضعه دا ايجابوي چې تاسو بايد په دې حالت کې د هېواد او رهبرۍ ټولې چارې په لاس کې واخلئ... تاسوولې بيا هم په هېواد کې امين د نظامي مسوول په توګه وټاکه؟ هغه، لکه چې زما خبرې يې نه وي اورېدلې راته وويل: هو! د انقلابي شورا په خوښه موامين د دفاع وزير په توګه ټاکلی دی.هغه ښه خپلې دندې په ښه توګه پرمخ بيايي سبا فرمان لاسليکوو" (تجاوز بر افغانستان، ص ۲۵)

جورج ارني د سروري د نقش په اړه ليکي: "سروري مسکو هم له توطيو څخه خبره کړې وه، چې وروسته يې بريژنيف هم تاييد وکړ چې هغه تره کي ته هم ګواښ کړی و. د سروري معلومات بس وو چې مسکو متقاعده کړي، چې امين برطرفه کړي، ځکه له ورانديې نه د هغه په اړه شك موجود و. د پرچم لړې کېدونکي مشر چې ببرك کارمل نومېده، له هاوانا څخه مسکوته د تره کي د راتلو پر وخت همالته و، چې برژنيف او اندره ګروميکو ددې دوو افغاني مشرانو تر منځ پټ مذاکرات جوړکړل (افغانستان ګذرګاه کشور کشايان، ص ۹۶)

څرګندېږي چې سروري هڅه کوله د امين لړې کولو ته مسکو راضي کړي، ياني ښاغلی سروري دافغانستان د مشر ټاکل او لړې

کول د مسکو صلاحیت ګانه، کله چې یې ولیدل مسکو په دې کار کې پاتې راغله، خپله یې د امین د نابودۍ هوډ وکړ،اوس به د (حقایق پشت پرده) نومي کتاب لیکوال (سلیك هریسن) خبروته ځیر شو "سید محمد ګلابزوی او اسدالله سروري چې غوښتل یې امین ووژني" د پلان له مخې کله چې امین ارګ ته ننوزي، لاس او پښې به یې ورتړي او په تشناب کې به یې بندوي. بیا به په تشناب کې ساعتي بم چوي (حقایق پشت پرده، ص ۸۲) دی په همدې مخ کې لیکي: "امین خبر نه و چې سروريْ د تره کي دوو مخالفینو ته دستور ورکړی چې هرڅاد جمهور ریس د استوګنځي پر خوا د تلوهځه وکړه،ډېر ژر به ووژل شي (حقایق، ص ۸۲) تردې دستور وروسته د پوزانف په وینا سروري مزدوریار، وطنجار او ګلابزوی د کې، جي، بي ډګروال ولادیمیر ایلیسن ته راغلل (اردو و سیاست، ص ۲۰) پوزانف په سفارت کې ددې څلورو کسانو په لیدو تره کي ته ځي اوپوښتي (تاسو خبر یاست چې څلور تنه وزیران برطرفه شوي دي؟ تره کي پوهېده او وتاکل شوه امین هم راوغواړي چې زموږ په مذاکراتو کې ګډون وکړي تره کي امین ته تیلیفون وکړ او په پښتو یې ورسره خبرې وکړې، غوږ یې کېښوده او ویې ویل اوس به راشي" همالته زیاتوي "پر همدې مهال له لاندې نه د ډزو غږ اوچت شو، ګلوربلف د کړکۍ پر لوري منډه کړه او چغې یې کړې: امین تښتي! موږ ټولو د کړکۍ پر لوري منډه کړه تره کي تر ټولو وړاندې و. باډي ګارډان یې راغلل. تره کي په پښتو څه ورته وویل، بیا یې زیاته کړه زما ملګری سید داود تڼون وژل شوی دی. تره کي غوږۍ اوچته کړه خو تیلیفون بند و".

دا وه زموږ دتاریخ یوه له پېښو څخه ډکه برخه، د پردې تر شا محرکان او پلان جوړوونکي یې پردي، خو تر سره کوونکي یې



Ketabton.com

هېوادنــي ځان غوښتونکــي او قــدرت غوښتونکــي وو. کيســه دا يــې

وه چــې "ســروري، د تــره کــي بــاډي ګارډانــو تــه د ډزو امــر کــوي، خــو

خپله د احتيـاط لپاره پـه سفارت کـې د کـي، جـي، بـي ډګروال تـه پنـاه

وړي، اميــن د پوزانف پــه منځګړتوب دمذاکــرې لپــاره تــره کــي تــه بلــل

کېـږي د ســروري د وړاندېنـي دســتور لــه مخــې ډزې کېـږي، د امیــن پــر

ځای ســيد داود تــــړون وژل کـــېږي، اميـــن تښتـــي او ځان خپـــل

اســتوګنځي تــه رســوي. ټليفونونــه بنــدېږي،د پنجشــېري د وينــا لــه

مخــې "اميــن پــه اوښلنو سترګو د سياسـي دفـتر جلسـې تـه ننـووزي او

لـه هيجانــه پــه دې ډکــه فضـا کــې د تــړون د مړينـې د زيــرك د دوو نــورو

ملــګرو د تېــې کــېدو ګزارش ورکــوي. نــور محمــد تــره کــی د خپــل

ملــګري د مړينــې لامــل ګڼي او وړانديـز کـوي چـې هغـه دې لـه ټولـو

دولتــي او ګونــدي مقامــاتو څخــه لــرې کــړل شــي (پنجشــېري، ص

۱۱۲) هغــه پــه بــل مــخ کــې زيــاتوي، جلســه دامیــن پــه ګټه پايتــه

ورسېده، لـه څنډه پرتـه د مرکـزي کمېټې پلينـوم دايـر شـو اوتـره کـی

لـه دولتـي او ګونـدي مقامـاتو څخـه لـرې کـړل شـو. اميـن د ۱۳۵۸ د

وږي (سنبلې) پـر ۲۵مـه دګونـدي او دولتـي لـوړ مقـام تـه لـوړ شـو" پـه

دې تـوګه د انـدروپـوف او بريژنيـف د پـلان لومړنـی مرحلـه چـې اميـن

تـر ورکـړي او هرڅنـګه چـې کـېږي امیـن برطـرف او پـرځای يـې کـارمل

واك تـه ورسـوي. ناکامـه شـوه.



Ketabton.com

# د امین سل ورځنی دوران

حفیظ الله امین ان د هغه دښمنانو په وینا یو ناسیونالست، خپلواك، مغرور، پر نفس متکي، جسور او ښه اغوستی سړی و، ځو ځل مې تري اورېدلي وو چې ویل یې شوروي ملګري زموږ خپلواك سیاست نه خوښوي، زموږ له فکري خپلواکۍ څخه ناراضه دي. هغه شوروي سفیر پوزانوف د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې له کبله نامطلوبه شخص وګاڼه او له شوروي دولتي مقاماتو څخه یې وغوښتل چې په کابل کې د هغه ماموریت پایته ورسوي. امین د کي، جي، بي له خوا له خورو شویو لومو څخه څو ځلې وژغورل شو، خو تسلیم نه شو، خو خپل حریف یې هم له لاسه ورنه کړ.

یو امریکایي تحلیلګر سلیك هریسن چې څو ځلې یې له امین سره کتلي دي وایي "امین یوه ځواکمنه ناسیونالیستي څېره وه، د یوه لاسپوځي په نقش کې لوبې ته چمتو نه و، د هغه چلند دا



Ketabton.com

ثرګنداوه چې له روسانو سره څنګه معامله وکړي، څکه هغوی ورته ډېره اړتیا درلوده اوده هغوی ته هېڅ اړتیا نه درلوده"

امین چې له (تلك خرس) څخه خبر و، له واکمنۍ سره یې هڅه کوله چې خپل سیاست متوازن کړي، له غربي هېوادونو په ځانګړې توګه له امریکا سره د هېواد مناسبات ښه کړي او د هغوی اقتصادي مرستې راجلب کړي او د شوروي له لومو څخه ځان لرې کړي امین پاکستان امریکا ته د ورننوتو دروازه ګڼله، له همدې کبله د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر آغاشاهي څخه یې وغوښتل چې کابل ته سفر وکړي، هغه په پام کې درلود چې د پاکستان پر وړاندې خپل سیاست بدل کړي او د پاکستان له لارې امریکا اړ باسي چې د سیمې وضعه له سره وارزوي او نوي واقعیتونه په پام کې ونیسي.

دا حقیقت باید هېر نه کړو چې امین له ګڼو کورنیو او بهرنیو ستونزو سره لاس و ګرېوان و، له بلې خوا په شوروي سفارت کې د پټې شوې څلور کسیزې ډلې له خوا هم په نظامیانو کې تحریکات ترسره کول، له کارمل سره مل یې دلته او هلته نظامي بغاوتونه او پاڅونونه جوړول. چې د ریشخور د پیاده فرقې پاڅون یې ښه بېلګه ده، له بلې خوا د شوروي نظامي او اقتصادي مرستې د جنګي شرایطو یوازېنۍ سرچینه وه. خو ددې انحصاري کړۍ د ستولو لپاره امریکا د امین پر غوښتنو سربېره هېڅ چمتووالی ونه ښوده.

سربېره پر دې ګوند خپله ګټه د شوروي په پلوي کې لیده، په زرګونو مؤمن او پر حقانیت معتقد ګوندیان له انقلابي زده کړو نه پرته د خپلو موخو په لارو کې په اتلتوب سره جنګېدل او له حاکمیت څخه یې دفاع کوله، هغوی ته د دوست او دښمن



Ketabton.com

وریبږندل د هر وخت غوښت او دا یوه داسې موضوع وه چې باید په احتیاط ورسره چلند کېدی. د لوړې او ټیټې طبقې کلیشه یي شعارونه لاهم یو مقصدي کار و. د سیاسي فرهنګ ټیټه طبقه د نړیوالو اړیکو د پېچلتیاوو د درك څواب ویونکې نه وه او د شوروي مشرانو نیتونه یې نه پلټل... لنډه دا چې عقیده یي چاپېریال او روزنیز سوابق خپله د وضعې په بدلون کې لوی خنډونه وو، چې درملنه یې د هرچا تروسه وتلی کار و. دې مجبوریتونو د سمونو بهیر ټکنی او خوابدي یې ډېره کړله.

خو د امین لویه تېروتنه او ګناه د نور محمد تره کي وژنه ده. هغه په دې کار په حقیقت کې له خپلو دښمنانو سره مرسته وکړه چې د هغه سقوط ته سره یو شي. هغه که په دې کار کې هره موخه درلوده خو د هغه په زیان تمام شو. بریژنیف هم ځان توهین شوی وګاڼه او هوډ یې وکړ چې د لښکر کشۍ پلان چې وړاندې مطرح شوی و، ګړندی او تصویب کړي. خو امین له دې کار سره د ملي، سیمه ییزو او نړیوالو عیني محدودیتونو له کبله د سیاسي تګلارې ټاکل چانس نه درلود، له ناچارۍ نه یې په تیارو کې د سمون لار خپله کړه، لومړی یې د یوې نوې فضا د رامنځته کولو او د (مصونیت، قانونیت او عدالت) د شعارونو په وړاندې کولو سره یې امر وکړ چې دولتي او ګوندي اورګانونه ترې ملاتړ وکړي همداراز خپل عمل هم له خپلو خبرو سره سم برابر کړي.

ددې لپاره چې د دولت عمل قانوني ستن ولري، د پوهو، تجربه لرونکو، روڼاندو او د پوهنتون د استادانو په ګډون یې چې غوځ اکثریت یې غیر ګوندیان وو، یو کمیسیون جوړ کړ، چې ډېر ژر د هېواد د اساسي قانون مسوده تیاره کړي. هغه هڅه کوله چې د بیا رغونې زمینې برابرې او د ورځنې ژوند فضا هم ورسره ښه



Ketabton.com

کړي. هغه د پټ پولیسي سازمان (اکسا) نوم پر "کام" واړاوه او ژمنه یې وکړه چې ماهیت ته به هم بدلون ورکړل شي. کام یې موظف کړ چې په خپلو ټولو اجرااتو کې بنسټیز سیاسي اصول چې مصئوونیت، قانونیت او عدالت وو، په پام کې ونیسي او د کام مخالفین به هم د همدې ارزښتونو له مخې پوښتل کیږي. هغه له انقلاب څخه د دفاع لپاره ملي سازمان جوړ کړ او ژمنه یې وکړه چې بېغوري به ختموي. د جوماتونو له ملاامامانو سره مالي مرستې وشوې. او د ټولو مذهبي او دیني چارو لپاره اسانتیاوې برابرې شوې. ښاري جوماتونه په دولتي لګښت رنګ شول، د پرچمیانو په ګډون یو شمېر مخور او د ولایتونو نفوذ لرونکي کسان له زندانونو څخه خوشې شول، نورې دوسیې له سره تر غور لاندې ونیول شوې. خو کارملیانو او د امین دښمنانو دا سمونې عوام تېرایستنه او ریاکارانه بلل او دستور یې درلود چې د هغو مقابله وکړي.

او "هر بد شی- ښه شی" شعار یې د خپل عمل د لارښود په توګه وټاکه.

پرچمي مشرانو چې په مسکو کې د شورویانو د یرغل او د امین د سقوط په تمه وو، په کابل کې یې خپلو پلویانو ته لارښوونه کړې وه چې د امین د (C.I.A) اوسېدو او له روسانو سره د هغه د ضدیت په اړه کیسې او داستانونه جوړ کړي، د هغه له دښمنانو او مجاهدینو څخه معلومات راټول کړي او د هغو پرچمیانو له لارې دې چې په سفارت کې پټ شوي، کارمل، نور او اناهیتا ته یې مسکوته ولېږي. وکیل وروسته د اندروپوف کارت له جېبه ایسته او په دروغو به یې ویل د نامه، جامو او قوارې په بدلون څو ځلې کابل ته راغلی او په شوروي سفارت کې اوسېدلی دی. دا چې



Ketabton.com

ددې داستانونو او تورونو، د امين د ظلمونو او د ګل آقا (د اردو سياسي ريس) او وکيل (د کارمل مالي وزير او د نجيب د بهرنيو چارو وزير) له خوا يې د لېږدولو موخه څه وه. په دې وروستيو کې روسي مشاور الکساندر مايوروف په خپل کتاب (په افغانستان کې رښتيا څه تېرېدل) کې ترې پرده پورته کړې ده، چې د هغه په وينا (د افغانستان په سختو پټو شرايطو کې جنرال ګل آقا د کارمل پټ ريبار و. هغه د افغانستان د وضعې او د امين د ظالمانه کړنو، د پرچميانو د وژنو په اړه ټول معلومات ببرک کارمل، نور اواناهيتا ته ورکول، ببرک کارمل، نور او اناهيتا به دا ټول معلومات راټولول او مايوروف ته هم رسول کېدل. کې، جي، بي د همدې معلوماتو پر بنسټ راتلونکي احتمالي مشران تشخيصول. د ۱۹۷۹م کال پر ډسمبر د شوري تر يرغل وروسته د کې، جي، بي د استخبارتو استازو خلقي امين لرې او ويې واژه، اندروپوف د سياسي دفتر په لارښوونه د ا.خ.د.ګ رهبري پرچمي ببرک کارمل او د هغه نږدې ملګرو ته ورکړه (مايوروف، ص ۱۱۴)

ددې شوروي لوړ رتبه چارواکي داستان له دې ناوړو پېښو څخه پرده اوچتوي او د هر يوه دنده چې د سرطان د جرړو غوندې غزېدلي وو جوتوي، د دوی د دندو وېش په زړه پوری دی، په دې مانا چې ګل آقا دنده لري چې دروغ او رښتيا اطلاعات او معلومات راټول کړي او کارمل، نور يا اناهيتا ته يې ورسوي. کارمل، نوراو اناهيتا دنده لري چې دا معلومات سره بېل د ځان او اربابانو له ذوق سره يې سينګار کړي او د کې، جي، بي ريس اندروپوف ته يې ورکړي، چې د همدې معلوماتو پر بنسټ د کې، جي، بي ريس راتلونکي رهبران تشخيص کړي. او د استخباراتو د پرسونل په ځانګړو ډلو خلقي امين ووژني او ګوند پرچمي ببرک او



Ketabton.com

د هغه نړېدې ملګرو ته وړاندې کړي. دا خبرې تبصرې ته اړتیا نه
نري په خپله رنې دي، د شوروي پخواني خارجه وزیر (ادوارد
شواردنازي) لس کاله وروسته د شوروي په عالي شورا کې وویل
"موږ د انساني ارزښتونو پر وړاندې ودرېدو، په قانون، ګوند او
مدني نورمونو کې مو لویه تېروتنه وکړه."

هغه تصمیم چې زموږ هېواد ته یې دا پایلې وزېږولې، د
ګوند او خلکو د غوښتنو خلاف نیول شوی و" (انټرنیشنل
هرالډټربیون. ۱۹۸۹، اکتوبر) شاید د ځینو لوستونکو په ذهن کې
دا پوښتنې مطرح شي، چې د شوروي له یرغل څخه (۲۱) کاله
تېرېږي او په دې موده کې په سلګونو کتابونه او لیکنې خپرې او
زرګونو غونډې او مرکې وشوې چې پر بېلابېلو اړخونو یې رڼا
اچوي، غوره به دا وي چې دا شرمونکې ډرامه تاریخ ته وسپارو
او پر بیا رغونې یې سوچ وکړو، زموږ ټولنه چې هسې هم ډېره
خواره ده په یوه نوي پیل سره د ډېرو نورو پاشلتیاوو مخه ونیسو،
د روغې جوړې سوچ ډېر ښه دی، خو له بده مرغه پر اوس مهال نه
شته، موږ موظف یو چې په تاکید او ټینګار د خپل هېواد پر
وړاندې د شوروي د دې وېرونکې جنایت غندنه وکړو. او نوي
حقایق چې د کې، جي، بي د ارشیف له صندوقونو څخه رابهر
کېږي، د خپلو خلکو پر وړاندې کېږدو. تر ټولو وړاندې د دې
یرغل له کبله رامنځته شوی بحران لا روان دی. خو په بله بنه او د
نورو خلکو په وجود کې خو نیت او پلان هماغه دي چې وو. په
افغانستان کې د جګړو په دوام له یوې خوا غواړي د مرکزي آسیا
هېوادونه له اسلامي بنیادګرایي څخه ووېروي، له بلې خوا په
افغانستان کې د یوه متمرکز او ځواکمن حکومت مخه ونیسي،
چې د سولې او بیا رغونې وخت ونه مومي.

ورې ډلې چې د جدي له (۶)مې څخه سرچينه اخلي او د شوروريانو د اصلي لاملينو په توګه پېژندل شوي دي. دلته او هلته په بېلابېلو بڼو او په بېلابېلو نومونو تبارز کوي، په خير غوښتونکي لهجه خپلو رياکاريو او تېرايستنو ته دوام ورکوي. هغوی د نوي بازار او نويو مشتريانو په تمه هر ډول معاملې ته چمتو دي. هغوی جامې بدلې کړې دي، اوس د سمندر هاغه غاړې ته نظر لري. وړاندې تر دې چې نوی مصيبت وزېږوي بايد ماهيت يې رسوا شي. خو تر ټولو مهمه دا ده چې ددې ډلو کسان لکه ښاغلی نبي عظيمي غوښتي دي چې د تاريخ په حماسه زېږو پېښنو کې تقلب کاري وکړي، جرئت يې کړی، چې لاسپوڅي وستايي او فداکاران وغندي. د هېواد هر سړی چې په هر ځای کې وي دنده لري چې د انکار نه منونکو حقايقو په رڼا کې چې مخ پر ډېرېدو دي، ددې ډول خلکو حساب په لاس کې ورکړي. ښاغلی عظيمي دنده درلوده چې زموږ په معاصر تاريخ کې جعلکاري وکړي، هغه د يوه ښه مورخ په توګه ليکي: "يو مورخ بايد په ويښه د وجداني او له ګناه څه په پاك ضمير د پېښنو پر ليکلو پيل وکړي، هغه بايد پاکې، خپلواکې او رښتينې ګوتې ولري" (اردو و سياست، ص ۲)

خومره مانادارهٔ او عالي توري! رښتيا هم عظيمي پر دري تورو پوره برلاسي لري، له همدې وجې يې هغه ته درنه دنده سپارلې ده، هغه بايد لمر په دوو ګوتو پټ کړي او حق پر باطل او باطل پر حق ثابت کړي، خو عظيمي پر هغه واك سربېره چې پر تورو يې لري پر ردولو يې بری نه شي موندی، البته دا د عظيمي کمزوري نه ده، دی له هغه څه نه چې دفاع کوي د نه دفاع وړ دي.



Ketabton.com

ددې مطلب پر ځانګړنو غږېږو: د مرغومي (جدي) تر شپږمې وروسته يوه شپه د اوومې فرقې له ۴۵ نمبر غونډ ځخه چې قوماندان يې عظيمي دى ۲۲۰ تنه وسلوال تښتي، دا سرتېري (يوه لاسپوځي رژيم ته د خدمت ننګ نه مني)، خو ښاغلی عظيمي چې په عمل کې د يوه عادي سرتېري خپلواکي او رښتينولي هم نه لري، غواړي ثابته کړي چې نوموړي سرتيري د دښمنانو د تبليغاتو تر اغېز لاتدې راغلل، په حقيقت کې کارمل لاسپوځی نه دی. له بده مرغه بوازې (افغانستان ته د شوروي نظامي قطعاتو له راتلو سره جوخت واك ته ورسېد). (اردو و سياست، ص ۳۲۳) سره له دې چې دا برخه يې په خپل کتاب کې د (کارمل او د شوريانو يرغل) په نامه نومولې ده خو دلته له يرغل څخه څه خبره نه ده شوې، د کارمل لاسپوځيتوب د دښمنانو تبليغات ګڼي او په ۳۲۳ مخ کې، چې کله کارمل له ګلونو ځخه په ډك تابوت کې ښيي، خوشحاله کېږي او ليکي (افغانستان ته د شوروي نظامي قطعاتو له ننوتو سره جوخت د کارمل رامنځته کېدل،د کارمل په سياسي ژوند کې تر ټولو بده پېښه ده). وروسته ليکي د هغه سياسي مخالفين په ملي او نړيواله کچه هڅه وکړه چې دکارمل پر څېرې د لاسپوځيتوب رنګ وروتپي. (اردو و سياست ۳۲۳)

په دې خبرو کې عظيمي وايي کارمل واك ته رسېدلی دی، خو نه د سرو يرغلګرو پوځونو په مرسته. نو ښاغلی عظيمي صيب! مهرباني وکړئ ووایاست چې د واك ته د رسېدو مادي بنياد او اوپراتيفي ستن ځوك او څه و؟ آيا کارمل د شوروي ځواکونو تر يرغل وړاندې يوه اونۍ، مياشت آن يوه ورځ وړاندې کولای شول کابل ته راشي او د حاکميت ادعا وکړي؟



Ketabton.com

آیا تاسو ستاسو د خپلو خبرو له مخې د مخابراتو وزارت د چاودنې د روند غږ، د راډیو افغانستان پر چاپېره جګړه او پر ماڼۍ نامردانه یرغل او د زهر خوړلي مشر د وژنې خبر د کارمل تر وینا وړاندې واورېدل که وروسته؟

ښاغلی عظیمي! که ببرک کارمل واک ته رسېدلی و، نو تاسو ولې د خپل کتاب په ۲۶۰ مخ کې شکایت کړی او ویلي مو دي (د مسکو یاد ځلوېښتم اردو د قوماندانۍ یوازې یوه اشاره بس وه چې د افغانستان د اردو لوی قوماندان خلقي وي که پرچمي، په بېلابېلو نومونو... تبدیل یا هم زندان ته واچول شي او بیا د اردو مخ هم ونه ګوري" (اردو و سیاست، ص ۲۶۰) او هملته زیاتوئ چې (مسکو امر کاوه باید ترسره کېده).

ښاغلی عظیمي! ببرک کارمل ظاهراً د افغانستان ډموکراتیک جمهوري اردو ستر قوماندان و، ستاسو په وینا خپله واک ته رسېدلی و، ځکه تر دې حده بې صلاحیته و چې د مسکو یا د ځلوېښتم اردو د قوماندانۍ په یوه اشاره د خلقي او پرچمي په ګډون لوی قوماندانان بندیانېدل، یا هم لرې کېدل. چې بیا به یې د اردو رنګ هم نه لیده.

کله چې لوړ سر قوماندان، ګوندي یا دولتي رهبر صلاحیت ونه لري. هغه ته لاسپوځی وایي.

شاید تاسو ځیزونه په خپل نامه نه یادوئ، خو په دې ترخ کې غفلت نه شو کولای، حاکمیت په خلکو پورې اړه لري، د دولت رهبر او د اردو اعلی سرقوماندان دا حاکمیت تمثیلوي، کله چې په هېواد کې پردي ځواک امر او لاربنوونه وکړي، د خلکو د حاکمیت پر حق تېری شوی دی، تر هغه ځایه چې دافغانستان په خلکو پورې اړه درلوده، دوی پر خپل ملي پاڅون لاس پورې کړ او



Ketabton.com

د یرغلګرو پر تیر یې ګوزار وکړ، خو هغه څه چې په تاسو پورې اړه درلوده، پر عکس، د یوه ښه مؤرخ ښېګڼې، د ویده وجدان په واړه صدر، له ملي غرور او له حقیقته تش ضمیر پر مبتذل پلوي قضاوت بد شو او وموویل خدای دې نه کوي، نه شوروي یرغلګره ده، نه هم کارمل د سلو زرو شوروي د محدودو قطعاتو لاسپوڅی، چې د خپلې انترناسیونالستي دندې لپاره زموږ خاورې ته راننووت.

ببرك کارمل هم چې هغه ته یې مشروعیت ورکړی و، ناڅاپه د شوروي ددې سل زریزو محدودو قطعاتو له راتلو سره واك ته ورسېد، خو ناحقه دښمنان د لاسپوڅي ټاپه پرې لګوي.

دې کرغېړن بحث تر پای وړاندې مې یوازې دومره ویل غوښتل چې تاسو ربښتیا وایاست، لعنت دې پر یو نیم هغو لیکوالو چې حقیقت په ناسمه توګه ښیي، ایا تاسو پوهېږئ همدا حقیقت پټوونکي لیکوال د هېواد تاریخ ته لوی خیانت کړی، هغو کسانو یې چې له واقعیتونو څخه خبر دي د څېړونکي او تاریخ لیکونکي نوم بد کړی دی، تاسو د یرغلګرو ځواکونو او د هغو د لاسپوڅو پر وړاندې د افغانستان د خلکو ویاړمن ملي پاڅون، چې تاسو به هم هغه سهار د هغوی ټانکونو ته ګلونه ډالۍ کړې وي اوس داسې ناسم ښیئ؟! د مسوولیت احساس نه کوئ؟ دا خو د ښاغلي عظیمي د تخیلاتو غوټۍ وې، ګلونو او مېوو ته یې وروسته رسېږو.



Ketabton.com

# د حفیظ الله امین ترور

لکه چې ومولیدل امین په زغرده د شوروریانو د غوښتنو پسر ضد راولاړ شو او د خپل کورني او بهرني سیاست په ټولو چارو کې یې د عمل خپلواکي درلوده. هغه هر ډول لارښوونه او امر په هره بڼه او تر هر نامه لاندې چې وو که دوستانه مشوره به هم وه نه منل، په دې توګه یې د شوروریانو غوښتنې په پرله پسې ډول رد کړې. شوروي سفیر پوزانوف چې عادت یې نه درلود د ملتونو برابر حقوق په عمل کې رعایت کړي، له هغو حدودو څخه به اوښت چې د یوه بهرني هېواد د نماینده ګۍ ریس ته روا دي. امین هغه یو ناوړه کس وباله او د هغه د ماموریت ختمېدو غوښتنه یې وکړه، خپل خارجه وزیر ته یې امر وکړ چې د بېلابېلو هېوادونو د سفیرانو په حضور کې ددې موضوع دلیل په زغرده بیان کړي، چې په راتلونکي کې چا ته د لاسوهنې جرات پاتې نه شي. امین له شوروي سره په خپلو



Ketabton.com

مناسباتو کې د برابرۍ او وروروليٍ پلوي و، هغه بې حسابه وروروليٍ نه غوښته، خو مشر وررورته قايل نه و. امين په مجموع کې له ځواکمنو ملي ځانګړتياوو څخه برخمن و، خو ډېرې ستونزې يې پر وړاندې پرتې وې. ګوند پر نظامي او اقتصادي انحصاري مرستو تکيه لرله، ګوند نړيوال انقلابي غورځنګ ته پابندي درلوده، د ملګرو ايدياالوژيك ګومانونه يې د کمزورۍ ټکي جوړاوه، هغه د داسې لارو په لټه کې و چې ځان د کي، جي. بي د توطيو له لومو څخه خلاص کړي او د شورويانو پر ښه نيت باندې له خپل شك څخه وړ پايله واخلي. هغه د وړ مهال په تمه و خو حالاتو وخت ورنه کړ، په عين حال کې شورويانو د امين په وجود کې خپل راتلونکي موقعيت ناډاډه او کمزوری ليده، له دې نه چې نېغ او پوخ دليل يې نه درلود، دخپل توطيه ګرانه ذاتي خصلت له مخې يې پر دسيسو لاس پورې کړ، په ظاهره کې يې د پراخو اقتصادي او نظامي مرستو وړانديزونه کول، خو په پټه توګه يې خپل له مکارۍ نه ډك پلان تطبيقاوه. تر ټولو وړاندې يې د (کام) ريس اسدالله امين ته زهر ورکړل، او د درملنې په نامه يې شوروي ته ولېږه، په دې توګه يې د ملي امنيت دستګاه کمزورې او فلج کړه.

همداراز يې د رهبرۍ قرارګاه، د سوق او ادارې مرکز چې د امين په خوښه له ارګ څخه تاجبيګ غونډۍ ته لېږدول شوي وو، د خپلې رهبرۍ دستګاه يې له ډاډمن مورچل، جنګي اوچتو ډېوالونو او برجونو څخه بې برخې کړې وه، خو د سلاکارانو له غرضه ډکه او دسيسه کونکې مشوره په دې مسله کې هم ګډه وه، د اضطراري او ګړنديو مرستو تر پوښښ لاندې يې د درنو الوتکو له بريد نه يې درې شپې وړاندې محاربوي ټانکونه او ماشينونه ولېږدول خو تسليمول يې په دې پلمه ځنډاوه چې ګواکې د انتقال د ختمولو سند



Ketabton.com

بـه يـې افغـانـي لـوري تـه ورکـړل شـي. تـابيـيف پـه کـابل کـې د شـوروي نـوي سـفـير بـه تـل د مرسـتـو لـه ضعـف څخـه خـبره کولـه، د شـعـارونو لـه اجراآتـو او پـه ټولـيز ډول د سياسـي بدلـون سـتـاينه يـې کولـه.خـو پـه پټـه د امـيـن د سقـوط پـلان د سـرتـه رسـېدو پـه درشـل کـې و.

د ۱۹۷۹م کـــال د ډســـمبر پـــر ۲۶مــــه د وړانديــنيـــو شــــوروي مشـاورينو لـه خـوا پـه دفـاع وزارت کـې د معـاينې پـه پلمـه ټولـې درنـې وسلې لـه کـاره واچـول شـوې پـر همـدې ورځ چـې د سياسـي دفـتر جلسـه روانـه وه، د غرمنـۍ د خوړلـو پـر مـهال امـيـن او د هغــه د سياسـي دفـتر ټولـو غـړو تـه پـه سـوپ (شـوروا) کـې زهـر ورکـړل شـول. خـو يـوازې پنجشـېرى د معـالج ډاکـتر د لارښـوونـې لـه مخـې لـه مـالګې او غــوړو څخـه پرهـېز و، نـو د هغـه پـه وينـا خپلـه يـې سـوپ ونـه خـوړل نـور ټول غـړي بېسـده شـول. دافغانســتـان د اردو لـوى درسـتـېز يعقــوب هـم مسموم شـوى و. ددې ويرجنـې شـپې پـاتـې کيسـه بـه د حبيـب الرحمـن لـه خولـې څخـه واورو چـې د قـواى مرکـز سياسـي آمـر و او د دفـاع وزارت پـه ودانـۍ کـې د شـورويانو د يرغـل او پـېښو عينـي شـاهد واو پـه هېښـوونکـي تـوګه ژغـورل شـوى دى. بيـا د لسـو کلونـو پـه مـوده پـه پلچرخي کې بنـدي کـېږي؛ هغـه وايـي: "د مرغومـي تـر شـپږمې يـوه ورځ وړانـدې د اردو رياسـت لـه خـوا ټولـو قطعـاتو تـه خـبر راغـى چـې تـر غرمې وروسـتـه د دولـت ريـس يـوه ارزښتمنـه او حيـاتي وينـا کـوي. دا وينـا بـايد د اردو د ټولـو منسـوبينو او سـرتېرو غـوړونـو تــه ورسـېږي. خـو د امـيـن د زهرخوړلـو پـه وجـه دا وينـا ونـه شـوه، محتـوا يـې هـم څرګنـده نـه شـوه. ويـل کـېږي چـې امـيـن پـه دې وينـا کـې د افغانسـتـان او نـړۍ خلکـو تــه د شـورويانو د يرغلـګرو نيتونـو پـه اړه څه ويـل، د شوروي تـر يرغـل نـه ۸ سـاعتـه وړانـدې هغـه او سياسـي بـيرو تـه د زهـر ورکولـو دليـل هـم همدا کـېدى شـي چـې وينـا ونـه کـړي، حبيبـي زيـاتوي:



Ketabton.com

۵ بجې او ۳۰ دقیقې وې چې تاج بېك غونډۍ ته د امین د کتلو په نیت روان شوم د ګارد قطعات د احضاراتو په حالت کې وو، د څلور سوه بستریز روغتون له قوماندان ولایت خان سره په دهلیز کې مخامخ شوم، هغه وویل د امین صیب معده مو ووینځله.اوس یې وضعه ښه ده، د هغه د خوب کوټې ته ننوتم، ظاهراً عادي ښکارېده، خو اندېښنه یې کوله چې زهر یې مغزو ته زیان ونه رسوي. پر دې مهال د داخله وزارت څارندوی قوماندان تلیفوني لارښوونه وغوښته چې د جمهوري ریاست قراردادي ترکاري (سابه) چې د ګوند د رهبرۍ د زهرجنېدو په وجه توقیف شوي څه پرې وکړي؟ امین خپل زوی عبدالرحمن ته چې تلیفون یې اوچت کړی و، وویل: ورته ووایه چې ټول خوشي کړي، بیا یې زیاته کړه، ډېرې دسیسې روانې دي. وبه ګورو چې څه کېږي، خو کله چې تشناب ته تلو او غوښتل یې خپل استقامت نېغ تعقیب کړي، ما او زوی یې ورسره مرسته وکړه.

تر غرمې وروسته ۶:۳۰ بجې وې، ډاکټرانو ټینګار وکړ چې موږ باید د حفیظ الله امین د خوب کوټه تشه کړو. هغو وویل امین اوس آرام ته اړتیا لري. ما (لیکوال) غوښتل مې چې د لوی درستیز یعقوب له روغتیایي وضعې څخه هغه هم زهرو ورکړل شوي وو خبر واخلم، بیا خپل دفتر ته لاړ شم. کله چې د لوی درستیز دفتر ته ننوتم یوه لویه چاودنه وشوه چې د ښار په ټولو برخو کې واورېدل شوه. لوی درستیز له څو تنو شوروي مشاورینو سره د مېز تر شا ناست وو. ویې پوښتلم چاودنه چېرته وشوه، ما په تلیفون کې د ښاري انضباط له قطعې څخه د معلومات اخیستلو لپاره د لوی درستیز د مېز خواته لاړم، خو تلیفون بند و، وروسته څرګنده شوه



Ketabton.com

چې دا چاودنه د ښار په مرکز کې د ارتباط د پرېکېدو او د عملیاتو د پيل لپاره شوې وه.

پر دې مهال مشاورینو هم چې له لوی درستیز سره د خبرو اترو مېز ته شا ناست وو، په خپلو پټو وسلو پر ډزو پیل وکړ، موږ چې د لوی درستیز په دفتر کې وو بې وسلې وو. ځکه د دود په څېر باید د دروازې په خوله کې خپلې وسلې وسپارو. لوی درستیز یعقوب ټپي شوی و، د دفتر له کونج څخه یې خپله وسله واخیسته او ځان یې په پسخانه کې واچاوه. له هغه ځایه یې پر ډزو پیل وکړ. موږ چې له پرله پسې ډزو سره مخامخ شوي وو، په ناخودآګاه ډول په ګاونډیو کوټو کې سره پاشل شوي وو. پر دې مهال د دفاع وزارت له بهر او دننې څخه ډزې پیل شوې وې او هر ډول وسله کارېده. پاتې دې نه وي چې داخله وزیر، د سیاسي چارو عمومي رییس، د نظامي استخباراتو رییس او دداخله وزیر معین هم د دفاع وزارت په ودانۍ کې چې ټول د لوی درستیز پوښتنې ته راغلي وو ددې ډزو له کبله بند پاتې وو. د هغې کوټې دروازې، چې موږ په کې وو د راکټ له لګېدو سره اور واخیست. موږ هڅه وکړه چې د دویم منزل د کړکۍ له لارې له ودانۍ څخه ووزو. خو بریالي نه شو. ځکه ودانۍ ټوله محاصره او د ببلاببلو وسلو تر اورونو لاندې وه. ډزې تر سهاره روانې وې او د دفاع وزارت ساتونکو د یرغلګرو پر وړاندې سخت مقاومت وکړ. بلې شپې ته د یرغلګرو قطعو یو قوماندان راته وویل، ټول دهلیزونه او زینې د روسي ځواکونو په مړو ډک شوي دي، د استاسو مسوولیت دی، د دفاع وزارت اکثر ساتونکي د ډېرو افسرانو په ګډون لکه د دفاع وزارت د شفر رییس، شهیدان شول. عبدالوکیل د شپې په وروستیو شېبو کې چې د شوروي ځواکونو تر یرغل وروسته د دولت د مالیې وزیر په توګه ټاکل شوی و، په داسې حال کې چې د



Ketabton.com

شوروي افسرانو جامې يې په ځان کې وې او له دوو دريو تنو روسي وسلوالو سرتېرو سره مل و د لوی درستيز د دفتر په دروازه کې رابنکاره شو. مور چې په ترلو لاسونو پرمخې پراته او د يرغلګرو ځواکونو په اسارت کې وو، په پيل کې مو د کوم روسي افسر خيال پرې وکړ، خو کله چې يې پر کنځلو پيل وکړ او امين ته يې ډېرې سپکې کنځلې کولې وروسته مو وپېژنده، هغه موږ ته وويل (تاسو بايد اعتراف وکړئ چې امين د CIA جاسوس و. هغه تل پر مرګ تهديدولو اوويل يې که غواړئ چې ژوندي واوسئ نو ووايئ چې امين د CIA جاسوس دی. هغه زياته کړه موږ د دفاع وزارت ودانۍ ونيوله، امين او لوی درستيز يعقوب خپله جزا وليده، که په دې تمه ياست چې د ګارد قطعات به مقاومت کوي بېځايه تمه ده، تاسو بايد پوه شئ چې په دې عملياتو کې د سرو پوځونو څو لواوې او فرقې ګډون لري. ستاسو هر ډول انتظار پايته رسېږي، د امين د CIA اوسېدو اسناد له موږ سره دي. "ما وويل چې اسناد درسره وي، اعلان وکړئ، موږ ته يې هم رابنکاره کړئ هېڅوك د امين شخصي نوکر نه دي. موږ د هېواد په خدمت کې وو، په وسلې يې ګوابن راته وکړ" ويې ويل" چوپ شه! تاسو د وطن د نامه يادولو حق نه لرئ، امين هېواد غرب ته تسليماوه، د CIA په لاربنوونه يې له پاکستان سره سازش کاوه، موږ د امين له دې ټولو پروګرامونو څخه خبر وو" وکيل په داسې حال کې چې کنځاوې يې کولې، له کوټې څخه ووت.

ګارد د مرغومې په شپه او ورځ کې ښه مقاومت وکړ او يرغلګر اردو ته يې درانه زيانونه واړول، د ګارد ډېر پرسونل د افسرانو او سرتېرو په ګډون شهيدان او يو شمېر يې اسيران شول او د شوروپانو له خوا پرې د مرګيو باران وشو. پر دويمه شپه هم د تاج بېګ غونډۍ پر شاوخوا ډزې روانې وې. د ګارد قوماندان



Ketabton.com

جانداد یو ځل په زندان کې راته وویل چې د یرغلګر پوځ یو قوماندان له ځان سره بوتلم او د روسانو مړي یې چې په یوه ځای کې یې سره راټول کړي وو راوښودل او ویې ویل تاسو دا وژلي دي، ما هم د ګارد افسران او سرتېري چې په مقاومت کې شهیدان شوي وو وروښودل او ومې ویل: دوی په خپل هېواد کې وژل شوي دي.

په ټولو قطعاتو لکه د قوای مرکز په قطعاتو او جزوتامونو، زرهدار او هوایي ځواکونو کې مقاومت ترسره شو، په قوای مرکز کې پر ګڼو سرتېرو او افسرانو سربېره د مرکزي قول اردو د ارکان ریس ډګرمن شهزاده هم په شهادت ورسېد، تر ټولو سخت مقاومت یو په راډیو افغانستان او بل په بګرام کې وشو. په افغانستان راډیو کې یوه کوچني جزوتام د راډیو د ساتنې دنده درلوده، چې ۸۰ سلنه (فیصده) یې له منځه لاړه.

د بګرام په ګارنېزیون کې یرغلګر پوځ پر ساتندوی کنډک، د دافع هوا، د ډګر امریت د الوتکو د ځغاستې پر مزي او د هوایي ډګر د ادارې د سوق پر سیمه په ډېر ځواك یرغل وکړ او په دې ګړندي یرغل سره یې هڅه وکړه چې زموږ ځواکونه ونه توانېږي د یرغلګرو پر ضد ډګر ته راووزي. خو د ډګر ساندوی کنډك په ډېره توندۍ سره د یرغلګرو پر ضد وجنګېد، دهغه قوماندان ګل اقا او د انضباط بلوك قوماندان له ۸۰ سلنې پرسونل سره شهیدان شول د دافع هوا قطعه هم په مېړانه وجنګېده، د جګړې په بهیر کې د قطعې قوماندان جګړن عبدالستار، د قطعې د ارکانو ریس جګړن عبدالرحمن له خپل (۷۰) تنه پرسونل سره شهیدان شول، په ټولیز ډول په بګرام کې د قطعاتو (۱۱۰) تنه پرسونل شهیدان شول. دښمن هم تر موږ درانه تلفات ولیدل، په ټولیز ډول د افغانستان وسلوال ځواك په ځانګړي ډول هغه ځواك چې په مرکز کې و، د شوروي



Ketabton.com

یرغلګرو پر ضد سخت مقاومت وکړ او درانه زیانونه یې ور واړول. خو د ځواکونو د نه تناسب له وجې په ځانګړې توګه په هوایي ځواک کې ددې سبب شوه چې مقاومت مطلوبې پایلې ته ونه رسېږي، البته لاندېنیو لاملونو هم د مقاومت په ماتې کې نقش درلود:

۱- د افغانستان نظامي اړیکي، د مهماتو د محاربوي تخنیک او د وسلو د اکمالاتو د کدرونو د روزنې او ښوونې له د پرشمې لسیزې نه راپه دې خوا د نظامي مشاورینو او متخصصینو شتون له کبله (د محمد داود د حکومت مهال، سلطنت، وروسته د محمد داود جمهوریت، د هغه ادامه او د غویي (ثور) تر پاځون وروسته د هغه پراختیا).

۲- یرغلګرو ځواکونو د افغانستان په اردو کې له سلاکارو څخه په توطیه یې او خاینانه ډول کار واخیسته.

۳- د هېواد پلورونکي کارمل او د اسدالله سروري په مشرۍ په څلورکسیز ګروپ کې چې مسکو ته وتښتېد او د افغانستان تر نیولو وروسته یې په لاسپوځي دولت کې له کارمل سره مل امتیاز هم واخیست، ددې ګروپ په دننه کې د پنځم ستون سپوتاژ، په سوپ کې زهر شیندنه، د حفیظ الله امین او سیاسي بیرو د غړو، د لوی درستیز او د کام ریس توطیه یې مسموم ول، چې په عملي ډول یې وسلوال ځواک له ستونزو سره مخامخ کړ.



Ketabton.com

# د تاج بیګ غونډۍ پر مانۍ یرغل

اوس ددې وخت رارسېدلی دی چې د (توفـان در افغانستـان)
لیکوال الکساندر لیاخوفسکي خبرو ته ځیر شو او وګورو چې ده
پېښنه څنګه تعقیب کړې ده. الکساندر لیاخوفسکي د کي، جي، بي
له ځينو غړو سره چې د حفيظ الله امین په وژنه کې یې لاس درلود
خبرې کړې دي او په دې اړه لیکي: "په افغانستان کې د شوروي
سپاهیانو لومړنۍ جګړه، ۳۳۳ یرغل و چې د ډسمبر پر ۲۷مه پیل
شوه، چې د هغې په ترڅ کې ځانګړو ډلو د تاج بېګ غونډۍ پر
مانۍ یرغل وکړ او امین یې د واك له ګدۍ څخه لرې کړ... د
(مسلمانانو له کنډك) څخه ځانګړي ماموران او د کي، جي، بي ډلې
(رعد) او (زينب) وړاندې مانۍ ته د تللو غوره لار، نظام قراول او د
ګارد قرارګاه لیدلي وو... (د مسلمانانو د کنډك) غړو او پرسونل ته
یې لارښوونه کړې وه چې امین د غويي انقلاب . ته خيانت کړی او



Ketabton.com

له CIA سره يې ډغره پيل کړې ده، که رښتيا ووايو له افسرانو او سرتېرو څخه ډېرو لږو کسانو دا توضيحات منل، له ځانه به يې پوښتل، نو ولې؟ امين زموږ سپاهيان رابللي دي. نه د امريکا؟)

تاکل شوې وه چې هماغه مازيگر د ډسمبر پر ۲۷مه به امين د افغانستان په ټلويزيون کې وينا کوي، لوړ رتبه افسران او د سياسي اورگانونو ريسان يې د فلمبردارۍ له ډلگۍ سره مل راغوښتي وو، خو دا کار د کې، جي، بي له خوا شنډ شو" (توفان در افغانستان، ص ۱۸۲، ۱۸۴)

د کې، جي، بي دا پلان چې د تلويزيون له لارې يې د امين د ارزښتناکې وينا مراسم خراب کړل، هغه ته يې د غرمې ډوډۍ په سوپ کې زهر ورکړل، چې امين او ډېر نور مېلمانه پرې ځينې بېسده او ځينې په کوما حالت کې ډوب شول. امين چې بشپړ بېسده شوی و. مېرمن يې ورودانگل، د گارډ ريس جانداد يې خبر کړ، جانداد تر هرڅه وړاندې د څلورسوه بستريز روغتون ريس جنرال ولايت خبر کړ او مرسته يې ترې وغوښته، د روغتون او شوروي سفارت ډاکټران يې پوښتنې ته راغلل. لکه وروسته چې څرگنده شوه د امين د زهر ورکولو طرحه چې د شوروي سفارت ډاکټران ترېنه ناخبره وو، د معدې په وينځلو، د تنفسي سيستم د بيا جوړولو او د څو امپولو او سيرمو په ترزيقولو يې له سخت کوما حالت څخه رابهر کړ. کله چې امين يوڅه پر سد شو، ډېر ژر يې د دسيسې په ژورو پسې لټون پيل کړ. د کې، جي، بي مشران چې له دې خبرې نه خبر شول، ووېرېدل او د بريد د پيل وخت يې دوه ساعته نور هم وړاندې کړ او د ۲۲ بجو پر ځای يې پر ۱۹:۳۰ بجو عمل وکړ.



Ketabton.com

د امین د کورنۍ دپاتو. شویو غړو په وینا امین هغه شپه اصلي موخه او دیرغل مستقیم قرباني و، په پیل کې ځینې کسان چې په وسلو کې پټې جامې یې په تن کې وې پر نظام قراول برید وکړ. په نظام قراول کې مېشت پرسونل په ټېنګه مقاومت کاوه، څه له پاسه دوه ساعته وجنګېدل او ټول په شهادت ورسېدل. پردې وخت له هرې خوا څخه پرمانۍ ډزې کېدې، دریم منزل په توپونو وران شوی و، امین د خپلې کورنۍ له غړو سره دویم منزل ته کښته شو، ساتونکي په مانۍ کې دننه، په دهلیز او د دویم منزل په زینو کې سخت جنګېدل، د ساتونکو له ډلې څخه وروستني کسان عبدالفتاح، ګربز او د امین مشر زوی عبدالرحمن امین وو، چې خپل ټول مهمات یې وکارول د دویم منزل په زینو کې شهیدان شول. د شوروي استخباراتو او قطعاتو ځانګړې ګروپ وتوانېد چې دویم منزل ته ورسېږي، هلته یې حفیظ الله امین په شهادت ورساوه. د امین دوه لونې ګلالۍ او ملالۍ او یو دوولس کلن زوی خوازك ټپیان شول، د ډاکټر شاه ولي مېرمن یې هم په دې ګومان چې د امین د کورنۍ غړې ده شهیده کړه، شوروي سرتېرو تر دې وژنې وروسته د مانۍ د شتمنیو پر لوټولو پیل وکړ، هغه څه چې یې وړلای شول. یې وړل، نور یې مات کړل، د مانۍ دروازې یې خرابې کړې او په کوټو کې یې لاسي بمونه واچول. که څه هم ټول ساتونکي وژل شوي وو خو روسي سرتېرو او افسرانو ته هم درانه زیانونه اوښتي وو. د دویم منزل دهلیز او زینې د شوروي سرتېرو له مړو څخه ډك وو. کله چې شورویانو دویم منزل ونیوه، مړو یې واړه لومړي منزل ته راکښته کړل او روسي پهره داران مو سرته ودرېدل. تر نیمې شپې وروسته اسدالله سروري او سید محمد ګلابزوی د روسي افسرانو په ملتیا را پیدا شول، هغوی مړو ګواښولو او کنځاوې یې راته کولې،



Ketabton.com

امین ته یې هم بدې ردې ویلې. سید محمد گلابزوی د امین ۱۲ کلن زوی خوازك چې پر خېټه یې لږ څه ټپ اخیستی و، په دې پلمه چې باید روغتون ته ورسول شي، له ځانه سره یووړ، چې تر ننه یې مړی او ژوندی ورك دی.

مور یې څو ځلې د خپل زوی د برخلیك معلومولو په موخه د هغه وخت مقاماتو او شخصاً گلابزوی ته مراجعه وکړه، خو گټه یې ونه کړه، د حفیظ الله امین کورنۍ د ماڼۍ په لاندېني منزل کې څلور ورځې د روسي سرتېرو تر څارنې لاندې په بند کې وه. بیا د دوو ورځو لپاره صدارت ته ولېږدول شوه، تر سختو رواني شکنجو لاندې یې ډېره موده د زندان سختۍ وزغملې، له ښوونې او روزنې څخه بې برخې وه. الکساندر لیاخوفسکي زیاتوي: "په همدې وضعه او حال کې د دفاع وزارت ودانۍ ونیول شوه، د کې، جي، بي مامورینو او ځانگړو گروپونو په بیړه له ساتونکو سره خپل حساب تسویه کاوه، خو لوی درستیز جنرال یعقوب په یوه کوټه کې پټ شو او (په لومړي گام) کې یې له کوماندو ۴۴۴مې قطعې څخه مرسته وغوښته. هېڅچا هم ورسره مرسته ونه کړه. د نیمو شپو په شاوخوا کې یې مقاومت پرېښود او تسلیم شو، خو په حق کې یې ښه والی رانه غی، د (نیولو) په ډله کې د پرچم یوې لویې څېرې حضور درلود. (دراتلونکي بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل په وینا) چې د خلق او گوند په نمایندگۍ یې د "خاین" یعقوب د مجازاتو فرمان ولوست، وروسته یې په خپل ټوپك لوی درستیز له منځه یووړ، د افغان په نوم څېره په بهرنیو یرغلگرو ډلو کې داسې سرې و چې له هېواد څخه د دفاع په مورچل کې د تجاوز پر وړاندې جنگېده، چې د یوه اجنت یوې گولۍ پرې ولگېده، اجنت له مالیې وزارت څخه د لوړو تحفو د اخیستو په تمه و... په بله پرده کې د خپل بهرني ولي

- نعمت په حکم د ملګرو ملتونو د پلان شنډولو او د نجیب الله پر وخت د ګوند د حاکمیت سقوط ته موظف شو، چې بیا هم د شوروي استخباراتو په غوښتنه لوبه ختمه کړي، چې پر خپل ځای د ډېرې غزونې وړ وي.

د (توفان در افغانستان) لیکوال په ۱۹۳ مخ کې لیکي: "له ډېره وخته د شوروي مسلمانانو په کنډك کې د افغانستان د نوي حکومت غړي پټ وو، هغوی د کارمل په مرسته تر واکمنۍ وروسته له خپلو ملګرو سره چې وریسې ته راغلي وو، راووتل". په دې توګه لیدل کېږي چې د کارمل تر رهبرۍ لاندې حکومت څنګه بېه درلوده او کوم نقش یې لوباوه. الکساندر لیاخوفسکي د خپل کتاب په یوه برخه کې زیاتوي: "د تاج بېګ غونډۍ پر ماڼۍ د شوروي ځانګړو ځواکونو د یرغل او د دولت ریس او د افغانستان د ګوندي رهبرۍ حفیظ الله امین د وژلو پر مهال ببرك کارمل په بګرام کې د شوروي پراشوتي کوماندو په ساتنه کې و. د ډسمبر د ۲۷مې پر ماښام اندروپوف له کارمل سره تماس ونیوه... د انقلاب د دویم پړاو د بري په مناسبت یې مبارکي ورکړه او دستور یې ورکړ چې ډېر ژر دې کارمل کابل ته بوتلل شي. په پیل کې یې غوښتل چې په چورلکه (هلیکوپټر) کې پرواز وکړي، خو د امنیتي مسایلو لپاره یې هوډ وکړ په محاربوي ماشین کې لاړ شي، د جګړه ییزومحاربوي ماشینونو کاروان د درېیو ټانکونو په پوښښ له بګرامه د کابل پر لوري روان شول، په یوه محاربوي ماشین کې د افغانستان نوی رهبر!؟ د (الفا) نومي استخباراتو د قطعې تر ساتنې او د (شیرګین) تر مشرۍ لاندې ناست و، سپېده داغ مهال د نظامي سلاکار ځای ته ورسېدو" (عظیمي، ص ۱۹۳) نبي عظیمي دا مطلب داسې بدل کړی دی: "کارمل د روسانو له راتګ سره جوخت واك ته ورسېد"



Ketabton.com

(اردو و سیاست، ص ۲۵۰) دا هم د جنرال عظیمي له تجارتي او بې محتوا کتاب (اردو و سیاست!؟) څخه یوه وړه بېلګه.

د ۱۳۵۸ لمریز کال د مرغومي اوومه چې د ۱۹۷۹م کال د ډسمبر له ۲۸مې سره سمون لري، تر ۸ بجو وړاندې راډیویي وینا خپره شوه، چې د هغې له وجې باید د مرکزي کمېټې، د وزیرانو شورا او انقلابي شورا غړي افغانستان راډیو ته ځانونه ورسوي. زه (لیکوال) چې د وړاندېنیو تجربو له مخې د دې ډول اعلامیو پر مفهوم پوهېدم او د کارمل کرکټر هم راته معلوم و، ځان او د نورو ملګرو برخلیک راته څرګندېده چې څنګه به وي. تر نورو وړاندې افغانستان راډیو ته لاړم، له کوره چې وتلم، مېرمنې ته مې وویل: د ژوند بار به له څلورو ماشومانو، بندي مېړه او د یوه ښوونکي له معاش سره یوازې وړې! ځینې ملګري چې تر ما وړاندې راډیو ته زما د کتلو په موخه راغلي وو، لارښوونه یې راته کوله چې هېواد پرېږدم، هغوی خپل امکانات زما په واک کې راکړل. تر پېښوره یې زما د خوندي رسولو ضمانت وکړ، خو ما دا غوره وګڼله چې په هېواد کې مړ شم. نه د یوه داسې هېواد په غلامۍ کې چې ناولي لاسونه یې هېڅوخت زما د هېواد پر وړاندې نه پاکېږي. تراوسه یې ولې نعمت د ډاکټر برایدن کیسه نه ده هېره کړې...

راډیو ته لاړم هلته د مرغومي پر اوومه پر لسو بجو اکثر د اعلامیې د کتګورۍ په ګډون راډیو ته راغلل، حاضري واخیستل شوه څرګنده شوه چې څوک غیر حاضر نه دي، په اصطلاح د دویمې مرحلې فعالینو د راډیو افغانستان لوړ تالار ته بوتلو، نیم ساعت وروسته عبدالوکیل چې هماغه برګه دریشي، روسي کوماندویي خولۍ یې پر سر او د روسي سرتېرو یونیفارم یې پر اوږو و تالار ته راننوت، روسي جامې یې په ځان کې لویې وې چې ډېره خندوونکې

بـنه یـې ورکـړې وه، زمـوږ افغـانی دوسـت وړاندېنـي کتـار تـه لاړ، لـه څنډه پرتـه یـې د هغـو کسـانو پـه خبر چـې د اسـتدلال کمـزوري ولـري او پـه بې منطقـه زور ویلو خپـل ګناهونـه او بـې کفایتـی پټوي، پـه لـوړ غـږ وویـل: "سـپاس دې وي د لـوی شـوروي اتحـاد لـه مرسـتې نـه، چـې دافغانسـتان نجات تـه یـې راودانـګل، ګنـي ملـي خـاین حفیـظ الله امیـن بـه پـه دې اوونـی کـې د پاکسـتان د بـهرنیو چـارو وزیـر شاغاسـي تـه پـه کـابل کـې هرکلـی وایـه او پـه سـازش بـه یـې اوس د افغانسـتان د ډموکراتیـك جمهوریت سـقوط برابـر کـړی و. زمـوږ د هېـواد نـوم بـه هـم د نـړۍ لـه نقشـې څخـه لـرې کېده. حفیـظ الله امیـن د (تـور) ایجنـټ پـه تـوګه دنـده درلـوده چـې د افغانسـتان دا نورالسـادات نقـش ولوبـوي. څرګنـده ده چـې هغـه یـوازې دا کـار نـه شـو کـولای، د هغـه پـه جرمونـو کـې د هغـه ډلـه نـېغ مسـوولیت لـري، ټول بـه خپلـه جـزا وګوري، هغـوی چـې د امیـن پـه جرمونـو کـې ځانونـه ګډ نـه بولـي، د ځان د سـپیناوي لپـاره دې اسناد راوړانـدې کـړي.

کـه څوك پـه دې اړه لـه موږ سـره مرسـته کـوي، زمـوږ ور یـې پـر مـخ پرانیسـتی دی اوس د ویلـو لپـاره څه نـه لـرم، بیـا بـه ګورو، کلـه چـې عبدالوکیـل د تلـو پـه نیـت روان شـو، د خـبرو لپـاره څو لاسـونه اوچـت شـول، هغـه اوچتـو لاسـونو تـه ونـه کتـل او پـه کنایـه یـې لهجـه یـې وویـل هـرڅوك چـې د ویلـو لپـاره څه ولـري، بـېل، بـېل دې راشـي. هغـه پـه ماشـومانه کړنـو د سـتدیو تـالار پـرېښوده او مـوږ بېرتـه لومړنـی کـوټې تـه راوسـتل شـو.

تـر غرمـې وړانـدې (۱۱) بجـې وې چـې ښاغلـی حشـمت اورنـګ چـې سـپینه ټوټه یـې د انقلابـي فعـالینو پـه نـښه تړلـې وه ور پرانیسـت، لـه سلام نـه پرتـه یـې د انقلابـي ائتلانـو پـه خبر د کـوټې اوسـېدونکو تـه وویـل: (لـه تاسـو نـه هـر یـو چـې واکمـن و، پـر مـوږ او زمـوږ پـر کورنـی



Ketabton.com

رحم نه کاوه، اوس ددې وخت دی چې د خپلو کړنو ځوابونه راکړئ، دې زهرجنو خبرو ټول راوپارول، میثاق وویل "مورږ که واك درلود په خپل زور مو کټلی و" پنجشېري وویل "زما په اند اوس ته واك لرې او مورږ ترېنه بې برخې يو، خو تر هغه ځايه چې ستا په کورنۍ پورې اړه لري، د غويي انقلاب تر بري وروسته مې د احوالاتو د ساتنې ارشيف کتلی دی اود کورنيو د نقش په اړه ډېر معلومات لرم، که هوښيار يې؛ همدومره درته بس دي" حشمت ډېر ژر له کوټې ځخه ووت، يو بل ځوان راننوت او ويې پوښتلو: ځوك چای څښي؟ هېڅا هم چای ونه غوښت، هغه بېرته لاړ، صالح محمد زېری په ځانګړې لهجې وویل: ورونو! دا پوښتنې ددې لپاره وې چې مورږ تاسې هم بنديان يو، دې خبرې حقيقت درلود. ځکه تر هغه وروسته که ځوك تشناب ته تلل، يو روسی سرتېری به ورسره و.

د راډيو افغانستان په ستډيوګانو کې درې شپې بندي پاتې شولو، په مورږ کې داسې کسان هم وو چې له ځلور کسيزې ډلې سره يې نږدې اړيکې لرل، ډاډ ورکړل شوی و چې ډېر ژر به خپلو دندو ته بېرته ورګرځي، داسې کسان هم وو چې سرغړونه يې کوله د عبدالوکيل له خوا به تهديدېدل، زېري به د شپې تکراري ټوکې ويلې او غوښتل يې چې ټول وخندوي، هغه هېڅ غم او اندېښنه نه درلوده، ځينو لوړ رتبه نظاميانو به د بهر احوال ورته رارساوه او د ستډيو په کونج کې به غږېدل، ځينې داسې کسان به هم راتلل چې د هغه په غوږ کې به يې څه ويل او بېرته ستنېدل، صالح محمد زېری به تل خوښ او روغ و، يو ځل وکيل راغی او ويې ويل که په شپږو مياشتو کې چا په ټول افغانستان کې د ټوپك يو ډز هم واورېد، زه يې مسوول يم او زياته يې کړه چې پر ختيز او جنوبي پولو به اغزن مزي تاووي داسې وګڼئ چې جګړه نوره پايته رسېدلې ده.



Ketabton.com

د ۱۳۵۸ المريز کال د مرغومي لسمه ورځ د يوولسو بجو شاوخوا وه، ښاغلی بصير رنجبر چې د عبدالوکيل په خبر يې د روسي سرتېرو نظامي يونيفورم اغوستی او يو ماشيندار يې پر اوږه و، د سره پوځ دوه سرتېرو يې ملګرتيا کوله، د هېوادني جګړو د اتل په خبر چې د هېواد بهرنی لوی دښمن يې شاته تمبولی وي په وياړ او بيړه ستديو ته رانښوت، امر يې وکړ چې ټول دې رابهر شي، ټول يې پر روسي ټانکونو چې تر زينو لاندې درول شوي وو سپاره کړلو،موږ په ۱۲ روسي ټانکونو کې ځای شولو، بصير رنجبر د حرکت امر وکړ، هغه تر ټانکونو د مخه له دوو روسي لوړ رتبه جنرالانو سره په نوي روسي جيپ کې کېناست او حرکت يې وکړ، د راډيو په خروجي وره کې ښاغلي اسدالله، کشتمند او ځو نور کارمليان چې سپين بازوبندونه يې تړلي وو، لاسونه پړکول او خندل يې.

دې سفر يو ساعت دوام وکړ، ټانکونه ودرېدل، موږ ته يې د وتلو امر وکړ، کله چې ووتو د پلچرخي په زندان کې وو، ښاغلي رنجبر چې په ژوند يې د (رنځ) مخ نه دی ليدلی، د دې حرکتونو اوخپل ولي نعمت ته د وفادارۍ په ښودلو ځان د افغانستان بانک عمومي رياست ته مقرر کړ او د بانک له رياست څخه په ناوړو استفادو د ښايسته مانيو، په کابل او مسکو کې د ډېرې شتمنۍ خاوند شو. چې اوس هم په مسکو کې وارداتي او صادراتي لوی شرکت لري. له ځانګړو روسي ګروپونو سره د وړاندېنۍ اشنايۍ له مخې له امنيتي امتيازاتو څخه برخمن دی، اوس هم د افغانانو له ځان او مال څخه ګټه پورته کوي. رنجبر د پلچرخي زندان قوماندان طاهر وردګ ته چې نوی ټاکل شوی و امر وکړ چې د زندان د نظامنامې له مخې ټول تالاشي او په دوه کسيزو کوټو کې يې ځای



Ketabton.com

پر ځای کړي. کارملي قوماندان طاهر وردګ سره له دې چې ورد ګو او له دري ژبې سره يې آشنايي نه درلوده، په پښتو يې هم خبرې نه کولې او ويل يې دا د فاشيست امين ژبه ده، څوك حق نه لري چې په دې... ژبې له ما سره خبرې وکړي. هغه د کتنې لپاره تقريباً ټول بربنډول، قلم، کاغذ تر ۵۰ افغانيو زياتې پيسې يې له نوکنيوونکې، چاقو او نورو شيانو سره چې د هغه په نظر خلاف ورتلل سره راټولول. ټول يې په يوه کتار کې ودرول د دهليز دواړه خواوې په شوروي وسلوالو سرتېرو ډکې وې. موږ يې په داسې کوټو کې، واچولو چې لويې اوسپنيزې دروازې او وړه کړکۍ يې درلوده. په کوټو کې يوه يوه سطرنجي اواره وه، چې د ډېرو په سکرو لړل شوې وې. دوه خيرنې برستنې هم هلته پرتې وې، دوه دوه کسه کوټه قلفيان شولو، زندان څارونکو امر وکړ چې له يو او بل همدارز له پيره دارانو سره د خبرو حق نه لرو، په ۲۴ ساعتونو کې درې ځلې تشناب ته تلای شو او بس. زه او بارق شفيعي په يوه کوټه کې وو، په دهليز کې سرتېري ووېشل شول، چې د زندان څارنه وکړي. په ټولو کوټو کې د کېناستو ځای نه و، تغرونه مو وځنډل چې د سکرو ګردونه يې لرې شي او د کېناستو ځای پيدا کړو، د شپې ډوډۍ چې په شګو له لړل شوې شوروا سره يو کلك ټېپر (شلغم) و راوړل شوه، سبا شپې ته د زندان قوماندان د کوټو کتنه وکړه، هغه ټولو ته يوه خبره درلوده چې د کارمل صيب په مهربانۍ ښاغلی زېری او ښاغلی پنجشېري خوشې شول اوخپلو پخوانيو دندو ته ورغلل، دې پښېنې قوماندان ظاهر چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې يې ګواښوونکې خبرې کولې يو څه په خود کړ، ګومان يې وکړ چې ټول به خوشې شي، پر مهرباني او زړه سوي يې پيل وکړ، برستنې يې بدلې او نوې کمبلې يې راوړې، يا يې هم ببخي بدلې کړې، بارق شفيعي له مسکو څخه



Ketabton.com

د خپلې مېرمنې په تمه و چې خپل زوم نوراحمد نور ته د هغه شفاعت وکړي. هغه ویل ان شاالله زه به تر دوو شپو ډېر نوز دلته نه یم؛ رښتیا هم همداسې وشول، بله شپه د خوشي کېدونکو په لست کې د بارق شفیعي نوم لومړی و، هغه خلقیان هم د څلورکسیز ګروپ تر پېژندنې وروسته د صالح زېري او فرمانبردار پنجشېري...خوشي شول، بارق چې کوټه پرېښوده په خوشحالۍ سره یې ... لاس رااوږد کړ او ویې ویل، غوربندی ملګریه! تاته قول درکوم چې د خوشې کولو لپاره به دې له هېڅ ډول هڅې څخه ډډه ونه کړم، که پردې کار بریالی نه شوم لږ تر لږه دې د ماشومانو خبر اخلم، خو تر دې تېنګې ژمنې وروسته زما د زندان په اتو کلن بهیر کې ان یو ځل یې په ټلیفانه کې ... هم زما د ماشومانو پوښتنه ونه کړه.

پر بله ورځ عبدالکریم میثاق هم ازاد شو. دی وروستنی کس و، پاتې زندانیان د امین د ۴+۲ باند له خوا تثبیت شول، د امین په دې تثبیت شوي ګروپ کې د بېلابېلو توکمونو او د ټولنې د بېلابېلو قشرونو په بېلابېلو سنونو کې وو. په هغو کې د لېسو او پوهنځیو زده کوونکي، د پوهنتونونو او انستیتیوت محصیلن، وزیران، د اردو قوماندانان، جنرالان، تجربه لرونکي ډاکټران او انجنیران هم وو. یو شمېر باغوانان، مستریان او نالوستي (بېسواده) خلك هم په کې ګډ وو، چې په زندان کې یې پر لوستلو او لیکلو پیل وکړ. یوتن خلیل نومېده چې په عقلي لحاظ یې نه قانوني صلاحیت او نه هم شرعي تصرفات درلودل، هغه هم د امین د باند د سیاسي بندي په توګه څو کاله خوارۍ وګاللې، د بند په پیل کې مو کولای شول په هرودوو اونیو کې یو ځل جامې ووینځو، له پایواز څخه څه ډوډۍ او دوه کرښې لیك ترلاسه کړو، چې وروسته د ډوډۍ رالېږل

هم بند شول،تر ۵۰۰ د زیاتو افغانیو رالېږل هم بند شول،زموږ ډوډۍ خوسا شوې سیلو ډوډۍ او په شګو او خزلو لړلې وه.

ګومان کېده چې دابه په لوی لاس د زندانیانو لپاره پخېږي، د برقي وسایلو کارول هم بند و اوسپنیزې دروازې به د ترلو اوپرانیستلو پر وخت ډېر بد غږ جګاوه، د شپې او غرمې ډوډۍ دوه ورځې وریجې، د کچالو او شلغمو سالند و، چې تودې اوبه او یو کلك شلغم چې تل به بې مالګې یا به تریو و، دا به سالند و، خواړه له ویروسه ډك وو، نسناستی د ټولو زندانیانو دایمي ناروغي وه، بختورو زندانیانوته درې ځلې او بد مرغو هغو ته دوه ځلې په شپه اوروځ کې تشناب ته د تلواجازه ورکول کېده، ناروغه زندانیان اړ وو چې په کوټو کې له بوتلونو یا پلاستیکي کڅوړو څخه کار واخلي، دا له حقارته ډکه وضعه او تر ټولو بده رواني شکنجه ځینو ته د تل لپاره رواني وي.

د مرغومي تر شپېږمې وروسته د یو سلو څلوېښتو په شاوخوا کې زندانیان چې د امین د باند په نامه زندان ته اچول شوي وو، تر شپږوکلونو پورې بې برخلیکه وو، لومړی درې کاله یې د لمر مخ هم ونه لیده، هغوی د زندان د انګړ په قفسونو کې اچول شوي وو، ځینې زندانیان به چې کله کله د تحقیق لپاره بېول کېدل، د څو دقیقو لپاره به یې پر خپل پټوکي لمر احساساوه، کله چې قفس ته لېږدول کېدل، دروازې ترل کېدې او پهره دارانو به یې څارنه کوله، قفسونو ته ننوتل د جنایي مجرمینو په څېر و، د زندان له کوټو څخه تر وتلو وړاندې باید خپل لاسونه تر شا ټینګ ونیسي او په دهلېز کې دې تر قفسه پوازې لاړ شي. عبدالحکیم شرعي جوزجاني او منصور هاشمي یې په لومړیو درېیو کلونو کې په نظارتخانو کې د کوټه قلفي په ډول وساتل، کله چې څرخيﷲ ته راغلل د هغوی د



Ketabton.com

ځورولو لپاره يې ځو تنه لېونې په کوټه کې ورسره يوځای کړل، هغوی به هره شپه د کټ لرګي رااېستل، هاشمي او جوزجاني ته به يې اخطارونه ورکول. که ويده شوئ دا لرګي مو پر سر درماتوو. هغوی به ځانونه بربنډول او په کوټه کې به يې خپل حاجت پوره کاوه. دا نوې شکنجې د نوي قوماندان اختراع وه، چې رزاق حريف نومېده.

د سياسي زندانيانو ريس غني چې اوس دالمان په مونشن ښار کې ژوند کوي، د هغو افسرانو له ډلې ځخه و چې مسلکي زده کړې يې کړې وې، دې دوزخي به هره مياشت يو يا دوه ځلې له لومړي او دويم بلاك ځخه چې سياسي زندانيانو ته ځانګړي شوي وو کتنه کوله. د جوزجاني په وينا: ده او هاشمي به هروخت هغه ته شکايت کاوه، غني به د هغوی شکايت اورېده او د هغوی د شکنجې ډول به يې وربدل کړ، خليل يو نالوستى او باغوان سړى و. ګناه يې دا وه چې د امين له خپلوانو ځخه و. هغه له ظلم ځخه په تنګ راغى، د هغه هيات پر وړاندې يې شکايت وکړ چې د زندان کتنه يې کوله، بله ورځ د يوه جنايي مجرم له خوا چې د باشي په توګه يې دنده ترسره کوله دومره ووهل شو چې په اوونيو اوونيو نه شو ويده کېدى، دوو تنو کارمليانو چې د زندان په اصطلاح يې "لړمان" بلل خليل باغوان يې پر لاسونو واخيست او ځلورو تنو نورو دومره ټکولى و، چې تر هغه وروسته يې له هېچا سره خبرې او کتونکي تقلبي هيات ته شکايت ونه کړ. کله چې به يې هيات وليد وبه تښتېد، د زندان له هېڅ يو کارکوونکي سره يې خبرې نه کولې، له تولو نه وېرېده. د هغه ورور نعيم تر شکنجو لاندې پر رواني ناروغۍ اخته شو د پوليتخنيك انستيتوت ۲۲ کلن محصل اکبر د ځيګر پر ناسور اخته شو او د زندان تر پايه يې دامين د بانډ د



Ketabton.com

غړیتوب په جرم کړاو ولید، هغه زموږ د سترګو پر وړاندې ډېر وکړېد، آخر د لومړي بلاك په دویم منزل کې مړ شو. جنازه یې د ټولو په مخ کې له زندانه وویستل شوه، هغه په کابل کې خپلوان نه درلودل چې جنازه یې یوسي. په دویم بلاك کې داسې کوټې هم وې چې په کې (۲۵۰- ۳۰۰) زندانیان هم ځایېدل زندانې به اړ و د خپل اړتیا وړ شیان په یوه پلاستیکي کڅوړه یا دسکول کې واچوي او پرهماغه نري کټ یې کېږدي، د اوښتو رااوښتولپاره ځای نه و اکثر زندانیان به په نوبت ځملاستل، دا زندانیان د مجاهدینو په تنظیمونو پورې اړوند وو، چې د یرغلګرو شورویانو پر وړاندې په جهاد کې نیول شوي وو. د زندان قوماندان چې عقیده یې درلوده زندان د روژنې یا استراحت ځای نه دی، بلکې د ځور او مجازاتو ځای دی، تل به د شکنجو د ډولونو د اختراع په سوچ کې و، هغه تصمیم ونیو چې موږ په خپل اند له نوي ګواښ سره لاس و ګرېوان کړي. لس کسان یې د مجاهدینو پر ۲۵۰ کسیزې کوټې وویشل، وړاندې یې هغوی ته زېری ورکړی و چې د امین د باند غړي به دروېشو، تاسوخپله سزا ورکړئ. خو کله چې موږ له هغوی سره یوځای شولو د قوماندان دا نتظار پر عکس هغوی زموږ ښه هرکلی وکړ، هغوی خپله مېوه او ډوډۍ چې اجازه یې درلوده له کوره یې ورته راوړې ي پر موږ وویشل او په افغاني دود یې مېلمه پالنه وکړه.

دا چې موږ د خلکو په زور حکومت کاوه، کارملیانو د ملحدینو او خدای نه پېژندونکو په زور حکومت کاوه چې زموږ تېروتنې ورته د ښېښې وړ وې، د کابل ښاریانو د امینیانو پر ټانکونو ګلونه پاشل او د پردیو یرغلګرو سفیر پوزانف ۲۴ ساعته وتل او نور... یې رایادول. په مجاهدینو کې مو ځانونه هوسا ولیدل، قوماندان ته د مجاهدینو ښه چلند خوند ورنه کړ... د زندانیانو په



Ketabton.com

وینـا د مجـاهدینو تنظیمونـو رازق حریـف چـې د سیاسـي خـاد ریـس (سخره) یې ملاتړ کـاوه قـهرجن کړ، مـوږ یې بېرتـه پـه پخوانیـو کوټو کې زندانیـان کړلـو یـو ځل بیـا یـې د سیاسـي بندیـانو پـه تـوګه زمـوږ ټول حقونـه رانـه واخیسـتل. لـه مـوږ سره یې د بـرده ګانـو غونـدې چلنـد کـاوه. رازق حریـف د زندانیـانو د خـبرو، کـارونو او چلندونـو د څارنـې لپـاره پـه هـر دهلیـز کـې لومړنـۍ کـوټه د باشیـانو اود هغـوی مرسـتیالانو تـه ورکـړې وه، باشـیان اود هغـو مرسـتیالان هماغـه کارملیـان وو، د هغـو لپـاره پـه زنـدان کـې هـم د ژونـد ټولـې اسـانتیاوې برابـرې شـوې وې، د خپلومشرانو پـه امـر بـه یـې د افغانـانو شـریفو اولادونـو تـه روحـي او جسـمي زجـر او شـکنجې ورکولې. لـه سیاسـي فرهنـګه دا بـې برخـې کسان چې د دولتـي او شـخصي مـالونو پـر وېش سـره نـه جـوړېدل د زورورو پـه امـر زنـدان تـه راغلـي وو، د ځینـو نړیوالـو خیریـه موسسـو او نړیوالـو امنیتـي ادارو تـه د ډېرو شـکایتونو لـه کبلـه د زنـدان اداري امنیتـي مشـاورینو اود خـاد لـوړ رتبـه کـارکوونکو تـه د ټڅرخـيپلله پـه خونـدي انګړ کـې د لامبـو حـوض او سـونا حمـام جـوړ کـړل، د دوبـې (اوړي) پـه تـودو ورځو کـې بـه د بلاکونـو اوبـه بنـدېدې، چـې حـوض او حمـام فعـال شـي مېلمانه چې دزنـدان لـه احـوال څخـه نـه خـبر وو، پوهـېدل چـې دوی تـه نـږدې پـه زرګونـو خـوار انسـانان د څښلـو او اوداسه لپاره اوبو تـه ډېره اړتیـا لـري. هېڅ یـوه زندانـي تـه دا د منلـو وړ نـه و، چـې د څو کـوټه ډبـو د خوشـحالۍ لپـاره دې د ټولـو زندانیـانو اوبـه بندې شي، خـو لـه بـده مرغـه لـه سیاسـي فرهنـګه دا بـې برخـې، بېرحمـه کسان اخلاقـو ارزښت او زندانـي حیثیـت تـه قـایل نـه وو. ددې نـابللو دوسـتانو خـو خپلـه ښه خونـدوره ډوډۍ او اوبـه وو، خـو د زندانیـانو برخـه بـه هـم وهـل کـېده، یوتـن د امتیـاز خـاوند زندانـي د بلـخ ولایـت د ولایتـي کمېټې مرسـتیال ښاغلـی رهنـورد و، هغـه د لومـړي



Ketabton.com

بلاك د ټولو سپورتي آلو واك درلود، هر وخت يې چې غوښتل کولای يې شول له زندان څخه ووزي د خپلو ملګرو او کورنۍ کتنه وکړي، په زندان کې د هغه کوټه يوه سينګارځي (آرايشګاه) ته ورته وه، ببلابېل ويديو کستونه، تلويزيون، د هغه د خوښې سندرغاړو فيتې د نورو زندانيانو (چې د ښکاك اوبه يې هم نه درلودې) د حسادت لامل کېده. اکثراً ليدل شوي وو چې رزاق حريف د رهنورد په امر د لومړي او دويم بلاك چارې او شکنجې تنظيمولې. ددې ښاغلي ګناه د بلخ د ولايتي کمېټې د يوه غړي وژنه وه چې ګوهري نومېده او د رهنورد تر شکنجو لاندې له منځه تللی و، د مظلوم ګوهري ګناه دا وه چې د رهنورد پر وړاندې يې سپين سترګي او ضديت کړی و. خو رهنورد چې دويم نظر يې نه مانه د خپل بانډ په مرسته يې هغه وواژه، ټوټې، ټوټې يې کړ بيا يې په بوری کې واچاه او د بلخ د ولايتي کمېټې په انګړ کې يې تر خاورو لاندې ښخ کړ، خو د ګوهري کورنۍ د بلخ له لويو کورنيو څخه وه اکا يې يو سوداګر و چې له کارمل سره يې له وړاندې نه پېژندله د ګوهري وينه پټه نه شوه، د هغه مړی يې له خاورو څخه راوويست او د مشاورينو په ټينګار يې دی د پلچرخي زندان ته راولېږه، له دې نه چې په دې وژنه کې د سياسي بيرو د لويو غړولاس هم و، نو هڅه يې کوله چې ګوهري راضي او هيله من وساتي، چې د تحقيق په بهير کې له دې پټ راز څخه پرده پورته نه کړي، ددې لپاره چې دا راز په بشپړ ډول پټ شي. رهنورد يې تېر ايسته او د پليګون په کنده کې يې تر خاورو لاندې کړ. چې هلته يې د هېواد ډېر نور خلك هم نېست کړي دي. رهنورد چې د شپې په تړلو سترګو کندې ته وړل کېده، چغې يې وهې او ويل يې: نامردو! زما په وژلو مو ګناهونه نه پټېږي، هغه



Ketabton.com

په نېغه نور احمد نور یاداوه اوویل یې چې ولې یې نه ژغوري.
زندانیانو دا چغې اورېدې او خاین ته یې لعنتونه ویل.

د زندان چاپېریال او فضا ډېر تنګ دي. سیاسي زندانیانو ته له بهره د خبرونو د رسېدو لپاره هېڅ کوم سوری نه و، ساتونکي سرتېري او افسران دنده لري چې د زندانیانو تر منځ د هر ډول اړیکو مخه ونیسي، په بېلابېلو وختونو په ځانګړې توګه هغه وخت چې به د نړیوالو خیریه سازمانونو هیات د زندان کتنه کوله د هغوی د تېر ایستنې لپاره به هرې کوټې ته یویو تلویزیون په نمایشي ډول کېښودل شو او دا د زندانیانو یو ربنتیني جشن و.

شوروي ګوندي او دولتي رهبرۍ پر افغانستان د سرو پوځونو تر یرغل وړاندې په افغانستان کې د خپلې واکمنۍ د تلپاتې کېدو لپاره یو لړ پلانونه درلودل، چې اصلي محور یې په کارملیانو او ناراضي خلقیانو کې د اسدالله سروري په مشرۍ د یوې متحدې پایګاه جوړول و. ددې ډلو رقابت د دایمي نفاق لامل شوی و.

اسدالله سروري د خپل (اکسا) ریاست پر وخت د کي، جي، بي په امر د امین د وژنې لپاره مامور شوی و. هغه د کارملیانو په شکنجه کې هم هېڅ ډول ناغېړي نه وه کړې، نو د انتقام اخیستنې لمبې یې تر منځ بلې وې. د سروري هغه شکنجه چې کشتمند ته یې ورکړې وه په ځانګړو محفلونواو مجلسونو کې یادېده، دهغوی تر منځ د نه همکارۍ نښې لیدل کېدې. د یو دولت او څو رهبرو نښانې په کې څرګندېدې. د هغوی اړوند وزارتونه د هغوی د خپلو سمتونو د راغونډېدو ځایونه وو، ګوندي اصولیتونه او د هېواد ګټې هېرې شوې وې. د کي، جي، بي په امر د امین د وژنې تر ناکامۍ وروسته په شوروي سفارت کې پټ شو. د امین له وېرې او د کي، جي، بي په مرسته د مړو په تابوت کې مسکو ته ولېږدول شو



Ketabton.com

سروري د سرو پوځونو تر يرغل وروسته بيا افغانستان ته راولېږدول شو او په انقلابي شورا کې د کارمل د مرستيال په توګه وګومارل شو، د واك په يوه ننداره کې يې هغه مهال چې موږ د راډيو په ستډيو کې وو، په کبر او غرور سره ځان راوښوده. د امين د ظلم او ستم خبرې يې وکړې. موضوع چې جدي شوې نه وه ميثاق په ټوکو د هغه راوتلې خبرې ته په اشارې سره وويل: (ښاغلی سروري! هر څوك د خپلو دندو په چاپېريال کې مسووليت لري، تاسو د امين د اګسا ريس او د شکنجې افزار واست، خلك د شکنجې حساب او د اګسا آزار له تاسو نه غواړي).

د کارمل او سروري له اتحاد څخه يوه مياشت تېره شوې نه وه چې په دې لړزانده اتحاد کې د شوروي په فشار متقابل بريدونه پيل شول، سروري چې يو ځل يې تابوت ليدلی و، تسليم شو او ځينو ناراضي سرتېرو د يو څه امتياز په اخيستو پر دولتي واك بسيا شول. په دې ډول کارمليان د نظامي او ملکي لوړ رتبه منسوبينو او کارکوونکو په برطرفۍ کې لوی لاس پيدا کړ، هر مهال يې چې غوښت يو کارملي به يې پر څوکۍ کېناوه او د هغه پخوانی برلاسی کار کوونکی به يې لرې کاوه، چې ۱۳ تنه لوړ کدرونه د درې وزيران: صديق عالميار، صاحب جان صحرايي او انجنير ظريف يې د امين بانډ د غړو په تور د اشغال په لومړيو ورځو کې په بيړه اعدام کړل، په داسې حال کې چې صديق عالميار په اداره کې د يوه پوه په توګه شکنجه غندله او په څو محدودو اوونيو کېې چې د بلخ والي و، په سلګونو غونډو کې يې خلکو ته د ژوند هيلې ښندلې او حکومت يې د خلکو خدمت ته مکلفاوه، خو صاحب جان صحرايي او انجنير ظريف په دې پلمه چې د حفيظ الله له فعالو همکارانو څخه وواو د غويي د اوومې په پاڅون کې يې د خلقيانو په رهبرۍ انقلاب برې ته



Ketabton.com

رسولي و، د کارمل د کینو قربانیان شول. په ډېره ناځوانۍ یې تبلیغ وکړ چې د امین په قتلولو کې ګډ وو. کارمل په ظاهره کې د امین د باند پر ضد، خو په پټه د خلق ګوند پر ضد تبلیغات کول. چې هېڅ خلقي د قلمي او فرهنګي جګړو په تاوده سنګر کې د دوی له زهرجنو تېغونو څخه خوندي پاتې نه شو. هغه مهال د کارمل ترخو وینااوو دا کرکه پیاوړې کوله او تاکل شوې وه چې د هغو په لوخړو کې به نور خلقیان هم پلیګون ته وسپاري خو دا پلان رسوا شو. پلان جوړوونکي د خلکو له غوسو سره مخامخ شول او د اردو د افسرانو او سرتېرو اعتراضونه اوچت شول. د مجبوریت له مخې د څه مودې لپاره د ګوندي اعدامونو مخه ونیول شوه.خو په عوض په ګوند کې دننه د ورځنیو فعالیتونو په چاپېریال کې فشارونه ډېر شول او ددې لپاره چې چا ته د نیوکې ځای هم پاتې نه شي، ناراضي ګوندیان به یې له پوښتنې نه پرته زندان ته اچول او له کورنیو سره یې بد چلند کاوه، په داسې حال کې چې نارینه به یې په پلچرخي زندان کې وو، په ساړه ژمي کې به یې له مکروریان څخه کورنۍ شړلې او ماشومان به یې له زده کړې څخه بې برخې کول، میرویس د (لیکوال) زوی چې د زده کړې لپاره بهر ته روان و، د نور احمد نور په امر له الوتکې څخه کښته کړای شو او د سفر اسناد یې قید شول. د ښوونې او روزنې وزیرې اناهیتا راتبزاد د زرغونې لېسې مدیرې نور جهان حبیب ته امر کړی و، چې د غوربندي له مېرمنې څخه دې د اجتماعیاتو او سیاست مضمون واخیستل شي او بل ښوونکي ته دې ورکړل شي، خو نور جهان حبیب چې یوه پوهه ښځه وه ورته ویلي وو: په ټولو ګوندیانو کې د غوربندي د مېرمنې په څېر بله ښوونکې نه لرو. د غوربندي مېرمن ښه ګډونوالې او ښه ښوونکې ده. راتبزاد په تاکید او تکرار سره ویلي وو: که ګوندي نه لرئ اخواني ته

يې ورکړئ، د غوربندي مېرمن ډېر ژر لرې کړئ او له دې خبرې سره غوړېدلې وي. له زندانيانو سره د زندان څارونکو چلند د بهرنيو حالاتو غبرګون و، سخت چلند او د خلقيانو نوبتي اعدامونو هم د ګوند د کورنۍ مبارزې له فشارونو سره تړاو درلود، کارمليانو هڅه کوله چې د وېرې او وحشت فضا هرځای او پر هر چا خپره وي، په همدې موخه يې په مرکز او ولايتونو کې يو شمېر خلک اعدام او نورو ته يې په اصطلاح د سترګو زهر ورښودل او په اوږد مهالي حبس يې محکومول. لکه څنګه چې کريم، حفيظ، امتياز، حضرت عبدالرحمن او انجنير خالق يې چې ټول خلقيان وو په يوه وار اعدام کړل او (۱۲) نور کدرونه يې د ليکوال په ګډون په فرمايشي محکمه کې په مرګ محکوم کړل، د جنرالانو او لوړ رتبه افسرانو په ملاتړ چې د جګړو په مورچلونو کې يې په عملي ډول له دښمنانو سره جګړه کوله د ليکونو، شفرونو او غوښتنو له لارې په اعتراضي ډول د دې احکامو پر وړاندې خپل مخالفت وښود، چې له همدې وجې نوموړي احکام تطبيق نه شول.

د سياست تر بدلون وروسته په ملي او نړيواله کچه لومړی د اعدام حکم پر شل کاله حبس بدل شو. وروسته د ملي روغې جوړې د سياست پر وخت له زندان څخه خوشې شولو، ياني کله چې سره پوخونه له هېواده ووتل له بنده ازاد شولو، چې زه يې د خپلو حماسه زېږوونکو او خپلواکۍ مينو خلکو برکت ګڼم.

کله چې د ۱۳۶۶ لمريز کال پر لومړۍ ورځ د مرغومي شپږمې فقرې لومړۍ ډله تر اوو کلونو او دريو مياشتو وروسته د ليکوال په ګډون خوشې شوه، ډاکټر صالح زېری او نور احمد نور د ګوند د مرکزي کمېټې مرستيالانو وغوښتلو، هغوی د ملي روغې جوړې د سياست تر ستاينې وروسته په ملکي او نظامي برخو کې د



Ketabton.com

بریالیتوبونو یادونه وکړه او په دې اړه یې معلومات راکړل، ټول مو واورېدل، په پای کې مو د ویلو لپاره هېڅ هم نه درلودل، ځکه د بهر له چارو او بهیر څخه بېخي بېخبره وو، یوازې یو دوه کسانو د روغې جوړې اړتیا تایید کړه، د مرغومې د شپږمې د فقرې په ګډون مو د ګڼو نورو بندیانو یادونه وکړه او زیاته مو کړه، چې د روانې روغې جوړې نشتوالی عمومي باور کمزوری کوي.

تر دې خبرو اترو وروسته یې اجازه راکړه چې خپلو کورونو ته لاړ شو، د شپې په بهیر کې به د ګوند غړو، دوستانو او اشنایانو د ټلیفون له لارې تماس نیوه او مبارکي یې ویله او نورو دوستانو ته یې هم دا خبره رسوله، د ۱۳۶۶ لمریز کال د حمل پر لومړي سهار د ځینو دوستانو له ډېر بنه هرکلي سره مخامخ شوم، د هغه زمان په موده کې چې له کوره بې خبره وو، د کورنۍ ډېر ځوانان مو شهیدان شوي وو، له دې نه چې ډېرې کورنۍ غمجنې وې مور هم ورسره خپله خواخوږي څرګندوله او هڅه مو کوله چې پر اووه کلنې تورې دورې پرده وغوړوو، هېښوونکې پېښه دا وه چې د خاد شبکې تسلط لا هم په ټولنه کې شته. ان په کورنیو کې هم ښځینې او معصومې څېرې د مجبوریتونو له مخې په خاد شبکه کې داسې لاهو شوې وې، چې په ځینو خصوصي او صمیمي ناستو کې به یې هم خپله دنده رسوا کوله دا لړل شوي کسان نور زموږ دوستان نه وو، بلکې د هغو ماموریتونو پر بنسټ چې له جهنمي دستګاه څخه یې اخیستل د پوښتنې په پلمه زموږ کورونو ته راتلل، بیا به یې بېخونده پلټنه کوله زموږ په کورونو کې به یې غږ لېږدوونکې الې کېښودې، چې موږ به یې له مشرانو سره د کتنو پر وخت غبرګون لیده.



Ketabton.com

بهرنیو مشاورینو چې لا هم په خاد کې وو امرونه کول، هغوی مینه وال وو چې پوه شي موږ څه وایو یا هم څنګه سوچ کوو، سربېره پر دې وروسته پوه شولو چې خاد دستګا د کارمل په واك کې ده. هغوی بېل پروګرام او پلان لري، کارملیان رسمي سیاست پوازې په خوله مني، خو په ټولو چارو کې یوازې خپلې ځانګړې موخې تعقیبوي. هغوی د هرکار د سرته رسولو لپاره ازاد لاس لري د اطلاعاتو لوري خپله خوښه ټاکي. د ملي روغې جوړې رښتیني پلویان په بېلابېلو ډولونو د خپلو مصالحو تابع کوي او ملي روغه جوړه نه مني. هغوی چې زړه کړی او د نجیب الله د ملي روغې جوړې دفاع یې کړې، په بېلابېلو پلمو او تورونو له دندو څخه لرې شوي او د ترور له ګواښ سره مخامخ شوي دي. دا ګروپونه چې د خاد له لوړو پوړونو څخه یې سرچینه اخیسته، ځانونه یې د بریالي پر وړاندې ځواب ویونکي ګڼل. که څه هم نجم الدین کاویاني او فرید احمد مزدك هم په خاد کې پلویان درلودل خو وخت ته په پام سره پوهېدل چې باید د نجیب الله په ضدیت، د ګوندي حاکمیت په کمزورولو کې له محمود بریالي سره مرسته وکړي، د خپلو رسمي موقفونو د مقام پر بنسټ یې په ګوند او دولت کې صلاحیتونه لاسته راوړي وو او له دښمنانو سره د هغوی پلان شویو همکاریو لوی زیانونه زېږول، د دې کارونو کفاره به یوازې د هېواد رښتینو بچو ورکوله، چې شپه و ورځ به یې په کمربندونو او مورچلونو کې د خپلواکې دفاع په ویاړ خپلې وینې تویولې او قرباني یې ورکوله. د ملي روغې جوړې د سیاست په رڼا او د دولت او ګوند د بدلون په برکت د خبرو اترو فضا یو څه ازاده شوې وه، په دې ورځو کې په بېلابېلو سازمانونو او فرکسیونونو پورې اړوند ډېر کسان زموږ لیدو ته راتلل او پر ډېرو مطالبو یې خبرې کولې. ډېر دوستانو او



Ketabton.com

مینه والو په ځانګړې د ګوند هغه غړو چې د ۱۳۵۸ د مرغومي پر شپږمه د سرو پوځونو تر یرغل وروسته یې زیان لیدلی و او په مجموع کې له وضعي څخه ځوریدل، د کارمل د ډلې له ډېرو امتیازونو څخه چې ټول واك یې په لاس کې درلود او د کشتمند د اوږدمهالي حکومت له اداري فساد څخه چې لوړرتبه غړي یې ټول په عیش او فساد کې ډوب وو، شکایت درلود. له موږ څخه یې غوښتنه کوله چې موږ به یو نوی ګوند چې له دې ډول مفاسدو څخه تش وي جوړ کړو، چې په خپل ځواك په واحد مورچل کې وجنګېږو. چې هڅه مو جوته او حساب مو له امتیاز غوښتنو بېل وي. که څه هم د هغو په غوښتنه کې کوم قانوني خنډ نه و او په عین وخت کې د خاد تر پوښتني لاندې ګوندونه جوړېدل، خو د یوه ربښتیني خپلواك ګوند جوړول عملاً ناشوني و، البته د پردیو تر اوږدمهالي ظلم وروسته خلك ددې نیمه خپلواکې ساه اخیستنې پر ارزښت پوهېږي. موږ هم د خپلې عقیدې له مخې د ملي روغې جوړې له سیاست څخه په غوڅو دلیلونو پلوي کوله. خو ددې پوښتنو لپاره چې څنګه تمه لرئ، مخالفین چې پر مختللي او هر ډول سیاسي او اقتصادي امکانات هم لري او ټول واك یې په لاس کې دی، د دې سیاست پر تطبیقوونکو بدل شي؟ هغوی په اصطلاح د لوبغاړو نقش لوبوي او ددې سیاست ماهیت ناکام او بدناموي.



Ketabton.com

# د نجیب الله د ملي روغې جوړې سیاست

پښتو تشکیلاتو چې د مزي سر یې د بریالي په لاس کې و د اداري د ګوند په ځانګړي د استخباراتو پراخه دستګاه یې تر خپل نفوذ لاندې راوستې وه. ګوندي او ناګوندي خلکو پر دې کار نیوکې درلودې. که رښتیا ووایم ددې نیوکې د ردولو لپاره هم هیڅ دلیل نه و، موږ هم په ورځني ژوند کې ټول په څرګند ډول لیدل، پوهېدو چې په رښتیا هم موندل کېدی شي. د هغوی خبرې رښتیا دي، که پر خپل وخت یې مخنیوی ونه شي، د پاشلتیا، ناکامی او د دولت د سقوط سببېږي. خو له بده مرغه د پښتو تشکیلاتو سرطاني ناروغۍ دومره پرمخ لاړه چې له غوسې نه پرته یې بله درملنه نه درلوده. د درملنې دا وسیله چې د روغې جوړې له سیاست سره متضاده وه، نه یوازې سمه کارونه نه بلل کېده په عین حال کې د نجیب الله په اند د پښتو تشکیلاتو د باطني مخالفت ګوابن هم تر دې حده وژونکی او زیان رسوونکی نه ګڼل کېده، چې جراحي عمل ته اړتیا ولري. زما له ازادۍ څخه دوه



Ketabton.com

اوني تېرې شوې نه وې، چې له ډاکټر نجيب الله سره د خبرو لپاره وروبلل شوم، پر خپل وخت د جمهوري رياست دفتر ته ورسېدم، له انتظار نه پرته جمهور ريس ته ورغلم "بايد يادونه وکړم چې موږ د ۱۳۵۷ لمريز د غويي تر پېښو وړاندې ښه مناسبات او تفاهمات درلودل. هغه مهال چې بندي وم په عمومي کتنه کې دوه ځلې زما کوټې ته راغی او په ښو نيتونو سره يې په غير مستقيم ډول د ژوند هيله راکړه، ځکه زه د دار په انتظار کې وم". تر روغبړ او صميمانه تعارفاتو وروسته يې لومړنۍ خبره د ملي روغې جوړې د سياست او د هغې د لاسته راوړنو په اړه وه. ويې پوښتلم: په دې موده کې چې په کور کې وې او د ګڼو خلکو چې ستا ليدلو ته درتلل او له وضعې ځخه ستا معلومات څنګه دي؟ زه چې دلته پاتې راغلم او له وړاندې نه مې کوم ځواب نه و جوړ کړی، ورته ومې ويل اجازه راکړئ چې له وضعې ځخه خپل برداشتونه او معلومات په ليکلې بڼه وروسته وړاندې کړم او اوس عرض کوم د ملي روغې جوړې رياست په خپل پراخې محتوا سره يوه داسې ډلې ته اړتيا لري چې پر ځرنګوالي سربېره د هغه پر حقانيت، پوره باور ولري، موږ ته ځرګنده ده چې هر سياست اجرايي ضامن غواړي، په ځانګړي ډول هغه سياستونه چې له کليشه يي پروسو او متداولو سليقو سره توپير ولري. شننه او تطبيق يې خامخا مهارت او سوچ غواړي. خو وروسته ليدل کېږي چې په لوړو سطحو کې د ګونديانو پوهه او درک د دې سياست له صداقت او اړتيا سره يو شان نه دي. ښاغلي ډاکټر نجيب الله زما د ځينو خبرو په تاييد وويل "غوربندي ملګريه! زموږ هڅه دا ده چې د ملي روغې جوړې سياست ټولې ملي عرصې په ځان کې ونيسي او د ټولو بانفوذو سازمانونو او شخصيتونو پر سياست بدل شي. دا



Ketabton.com

هغه هم روانه ده چې خلك د ملي روغې جوړې د تنظيم چارې پرغاړه واخلي او د کينو له منگولو څخه خلاص شي. دې درجې ته رسېدل ډېر ستونزمن دي خو د يوې باصلاحيتې ډلې جوړول په ډېر ښه وخت کې هم يوازې کولای شي د بېلابېلو اورگانونو لارښوونه وکړي. له بد حالت څخه يې وېرېږم چې ځان غوښتنې او ځای غوښتنې د عمومي همکارۍ طبيعي ظرفيت لالړ نه شي په هرحال، خپلې نظريې او وړانديزونه وليکئ، ډېر ژر به بيا سره وگورو، ځان کار ته چمتو کړه په داسې حال کې چې څه موسکی شو ويې ويل، استراحت بس دی، ما هم وخندل ومې ويل زندان څارونکي په خپلو دندو کې بريالي دي، ځوك استراحت ته نه پرېږدي؛ په دې يو نيم ساعته خبرو اترو کې مې ډاکټر نجيب الله د ايديولوژيکي محدوديتونو تر شا يو شخصيت اود خودۍاو ناخودۍله بند او سوچونو،همداراز له سازماني بريدونو څخه هوسا وليد، چې زموږ د گوند دا استثنايي رهبر د يوه گوند په تنگه اډانه کې نه ځايېږي، هغه د ملي روغې جوړې د سياست له پرديو څخه د هېواد د خپلواکۍ ساتنې په سوچ کې ډوب دی. چې د يوې ډلې وړانديز ددې سياست تطبيق فرکسيون بازي گڼي. په هېواد کې له بده مرغه افراط او تفريط په ډېره پراخۍ سره د ځان غوښتونکو او ځای غوښتونکو کارکوونکو تر څنگ، پټو تشکيلاتو او له بلې خوا له متعصبو او تنگ نظرو دښمنانو سره لاس و گرېوانېدل ناسم کار رامنځته کړ، چې نه يې د مسايلو او ستونزو ايډيالي حل ممکن کړی بلکې ورانوونکو فعاليتونو د کارمليانو د پياوړتيا او د ملي روغې جوړې سياست او د ملگرو ملتونو د پروگرام د ناکامۍ سبب به شي. د سياسي چارو تحليل گرانو او ډيپلوماتيکو کړيو دا پايله پېژندنه او خپلو هېوادونو ته



Ketabton.com

يې راپورونه ورکول چې غبرګون يې له بېلابېلو راډيوګانو څخه اورېدل کېده. دننه په هېواد کې هم امنيتي وضعه له چا نه پټه نه وه، د ملي روغې جوړې پلويان او مينه وال د هغو د وړانديزونو د نه اورېدو له کبله خوابدي او لرې کېدل، ځينې خو له جمهوررييس او د ګوند د عمومي منشي د ډېرو نږدې پلويانو له کبله په اداره کې د پنځم ستون په واسطه لرې شول، يا هم د دښمن په نامه تورن شول، هغوی نور د فعالې همکارۍ جرات نه درلود. يوه ګوته يې پناه وړله او وروسته چوپ شول.

يوه ورځ مې له سليمان لايق سره د هغه د کار په دفتر کې وکتل، غوښتل مې چې ورسره د زړه خواله وکړم. سليمان لايق په خپل سياسي ژوند کې د څو وروستيو اوونيو په استثنا هغه هم د ځان د دفاع لپاره د شمال ائتلاف د سرتېرو د نانديريو پر وړاندې چې په پيل کې يې د بريالي په امر فعاليت کاوه تل د کارمل د ناسمو کارونو پر ضد مبارزه کړې ده، په ټولو چارو کې د کارمليانو له يو اړخيز سياست او د روغې جوړې د سياست د پلويانو له بې تفاوتۍ څخه شکايت وکړ. له هغه څخه مې چاره وغوښته، (ليکوال) د يوه جدي او لازښود ځواب په تمه وم، خو پرعکس سليمان په سادګۍ سره وخندل او ويې ويل څو ورځې وروسته ته هم ما غوندې بې تفاوته کېږې، غوره به وي چې چوپ پاتې شې، زه له تجربو نه درته وايم، چې د کارونو په ښه والي کې ستا وړانديزونه او نيوکې اغېز نه لري او کومه ګټه هم نه ورکوي. که ټينګار وکړې د ايراني دوستانو په وينا پرونده (دوسيه) درته جوړوي. لايق په تاکيد را ته وويل: غوربندي ملګريه! پوهېږې چې له ما سره يې هم همداسې وکړل دوسيه يې راته جوړه کړه، داسې دوسيه چې ګواکې زه د نجيب الله پر ضد کودتا کوم، زما ملګري

يې مياشتې مياشتې تر شكنجې لاندې ونيول چې ور اسناد تر لاسه كړي. اوس د خلكو د متل له مخې (خپله شوله خورم او پرده مې كوم!) د سليمان دا خبرې راته قناعت بښونكې نه وې، هسې مې بېځايه وګڼلې. دا حقيقت مې مثبت وارزاوه چې دملې روغې جوړې سياست د وطن ګوند (حزب وطن) او عمومي منشي په وجود كې جوت هويت پيدا كړى او په ملي و نړيواله سطحه دوستان او دښمنان لري، زياته مې كړه ددې سياست د انساني محتوا منطقي بدايول چې رښتينې ډموكراتيك ارزښت لري، د نوښتګرو او پلويانو لپاره ويار دى. د ايډيولوژيك ، فكري مزي د بنستيپالو مقاومت، دولتي او ګوندي امكاناتو ته د رسېدو آسانتيا او له هغو څخه منفي استفاده بايد رسوا شي. د زيان رسوونكو پېښو پر وړاندې چوپتيا او ستركې پټول چې په هر دليل وي ور نه دي. ما له اداري كسانو، د هېوادني سوچ خاوندانو، ګونديانو، د وطن ګوند له غړو او فركسيونونو څخه منطقي وړانديزونه او نظريې راټول كړل، په پايله كې مې د پوهو او د هغو كسانو چې د افغانستان د سولې په اړه سوچ كوي د عامه ذهنيت په رڼا كې راټول كړل، ملي روغې جوړې ته مې د هغې د اهدافو د تحقق لپاره ټول سره سم كړل او تم شوم چې وخت يې راشي : او، بيا له ډاكټر نجيب الله سره وګورم. زما انتظار ډېر لنډ و. لس مخيز وړانديزونه مې د ژمنې له مخې وروړاندې كړل او زياته مې كړه. خداى(ج) دې وكړي چې دا ناځيږه پاڼې ستاسو وخت ونه نيسي، ددې وړانديزونو هسته دا مطلب دى چې ددې سياست پر وړاندې پراخه سينه او سخاوتمندانه چلند منم. هېڅ داسې شدت او غوسه چې د روغې جوړې له ماهيت سره اړخ ونه لګوي نه وړاندې كوم. خو غواړم چې برخليك او اختيار يې په كمين كې د ناست دښمن



Ketabton.com

په لاس کې ورنه کړئ، ځکه هغه یې د نابودۍ او ورکېدو هوډ لري. اجازه راکړئ په زغرده ووایم چې ستاسو د فکري مزي پلویان ستاسو او د ملي روغې جوړې له سیاست څخه په واضح ډول دفاع نه شي کولای ځکه په هرځای کې یې لومې او تلکونه اېښي دي. که هرڅوك له هغوی څخه بېل دریځ ولري، یا د بل څه پر محور ودرېږي نو کافي ده چې د دښمن د ورانکار او نامطلوب کسر په توګه تکفیر وکړي. ضربې واردې کړي او پر چاپېریال وېره واکمنه او نورله دې عاقبت څخه په وېره کې واچوي. په دې وړاندیز کې د صلاحیتونو د یوه مثلث جوړولو یادونه هم شوې وه چې د ثبات او خپلواکۍ ضامن وي او د بې اندولۍ مخه ونیسي. ډاکټر نجیب الله په دې اړه توضیح وغوښته، ومې ویل پر اوس مهال خلقیان او ډېره برخه کارملیان د چارو او اختیارونو واګې په لاس کې لري. چې هر وخت یې زړه وي خپلې چارې ترسره کوي اوامتیاز اخلي. په واك کې یوازې د خلقیانو نقش بس نه دی، ځینې یې د مرغومې د شپږمې د تاریخي متحدینو په نامه د واك وېشلو لپاره سازش لري. که هغه کسان نه چې د مرغومې تر شپږمې وروسته یې ګوزار لیدلی زندان ته واچول شول او په هغو کې د تېر حکومت تکړه انجنیران او تجربه لرونکي ډاکټران سره وګومارل شول او د مثلث درېیم ضلع له دوی څخه جوړ شو، د حاکمیت او ثبات په ګټه به وي. د ملي روغې جوړې په ښه والي او تطبیق کې چې ګټور رقابتونه راولاړېږي، بې له شکه تول به هڅوونکي وي. دا توضیح یې خوښه شوه، ویې ویل تا درك کوم، د کارونو او واکونو د بیلانسونو چك د دولتدارۍ ډاډمن او تجربه شوي اصول دي. د ملګرو د تخصص ساحه او بشپړه پېژندنه راته ترتیب کړه او راویې سپاره، چې له دې ارزښتمنې زېرمې څخه وړ کار واخلي. ستاسو د



Ketabton.com

وړاندېز نیولیك هم د دقت او ارزښت وړ دی. پر خپل وخت به ورته پاملرنه وشي. په لومړي ګام کې هڅه کوو چې لاسونه سره ورکړو د نورو شخصیتونو، تنظیمونو او ګوندیانو په تفاهم له ګاونډیانو سره په خپل هېواد کې سوله ټینګه کړو او که بریالي شولو څه ناڅه خلکو ته د هغوی مسلم حق چې تر ټولو وړاندې په سوله او امن کې د ژوند حق دی ورکړو او خپله لویه تاریخي دنده ترسره کړو، ددې لپاره باید لومړی د عمومي باور پر بحران لاسبري شو او سیاسي چاپېریال د تفاهم وړ کړو. دې عاطفي او سپېڅلو خبرو چې په صمیمیت او خلوص سره کېدې پر ما سخت اغېز وکړ او د زړه له کومې مې هیله وکړه چې کشکې توطیه کار او دسیسه کار مخالفین د خپل ګوند دا لوی شخصیت درك کړی وای او د هېواد توپان ځپلې بېړۍ یې په ګډو مرستو د ژغور ساحل ته رسولې وای او د هېواد په تاریخ کې یې نېك نوم ګټلای. خو افسوس هیلې چې هرڅومره لوړې او فداکارانه وي، په یو اړخیز ډول ښتینې انعکاس نه لري او ثمر نه ورکوي. یوه پوه ویلي دي "په هغو هېوادونو کې د اخلاقي مشرۍ فوق العاده ډولونه ... وآلمن - ډېر چې مزل اوسېدونکي یې پرښتې او ملایکې وي". خو د خاورینې ځمکې په دې وروسته پاتې ځنډه کې یې دا چار نه ترسره کېږي. بلکې د قربانیو دا محافظه کاري ډېرېږي. فاجعې پراخوي تلفات او زیانونه هم جبران نه منونکي کوي. په دې هیله چې له نویو ځواکونو سره په همکارۍ کې ګډون وکړو او دا ټولنیز ستن پیاوړې کړو. همداراز د تجربه لرونکو ګوندي روښاندو په جلب وجذب په خپل ورځنۍ چار کې نوره هم سیاسي پراختیا رامنځته کړو. مخه ښه مو وکړه، وروسته مې د ملګرو لست چې ډاکټر صیب غوښتی و ورکړ، زما د وړاندیز پر بنسټ او د ډاکټر نجیب



Ketabton.com

-الله په لاربښوونه له ملګرو سره مې لیدنې کتنې او مشورې پیل کړې. له نېکه مرغه ټولو چمتووالی وښوده چې تر خپله وسه[4] همکاري به کوي. د ملګرو شمېر (۱۳۵) تنو ته ورسېد. د لیدنې کتنې په پای کې ډاکټر نجیب راته وویل هیله ده په تجارت وزارت کې مو خپلې تجربې هېرې کړې نه وي. کشتمند به په نږدې وخت کې درسره وګوري. د خپل نظر له مخې دا مثلث پیاوړی کړئ.

تر هغې نېټې وروسته ډاکټر نجیب اله ښاغلي ډاکټر شاه ولي، عبدالکریم میثاق، عبدالحکیم شرعي جوزجاني او لیکوال بیا راوغوښتل، چې د کارونو دښه والي په اړه په آزاده فضا کې سره مشورې وکړو، موږ هم په دوستانه توګه د هېوادنیو ستونزو پر حل پیل وکړ، د ډاکټر نجیب په خبرو او د ستونزو په یادولو کې د ګاړد د منسوبینو د امتیازونو له ستونزو څخه نیولې چې د ګوند د جزوتامونو اند ېښنه یې راپارولې وه. د امدادي موادو او د سکتوري پانګو تر غلاوو پورې چې د لوړ رتبه کارکوونکو د فساد له کبله کېدل، خبرې وشوې د بحث په بهیر کې هغه کسان هم یادېدل چې دا غلاوې یې کولې یا یې هم په هغو کې عمده نقش او لویه برخه درلوده، دوی د دې اداري فساد پر وړاندې یوه بې څنډه مبارزه غوښتله، خو له بده مرغه ددې پر حقو شکایتونو د لرې کېدو لپاره کوم اغېزناك او عملي ګام نه پورته کېده، که څه هم ډاکټر نجیب په ډېر ټینګار فرمان ورکړ چې د"لیکوال"او د جمهوررییس د معاون محمد رفیع په مرسته دې ددې فساد پر ضد یو کمیسیون جوړ شي. دې کمیسیون په پرله پسې درېیو جلسو کې د ګوندي او دولتي لوړو او پېژندل شویو کسانو لست چې پر لویو سوء استفادو تورن وو جوړ کړ او د قضایي څارنې لپاره یې څارنوالۍ ته وروپېژندل، د عناني په څېر خلك یې (ممنوع



Ketabton.com

الخروج) اعلان کړل. خو فرید احمد مزدك چې له ګوندي نفوذ څخه ښو استفادې سره یې دولتي شتمنی له قانوني پړاوونو نه پرته د خپلې کورنۍ پر غړو پلورلي وو او له دې لارې څخه یې په ملیونونو افغانۍ ګټلې او ترې ناوړه استفاده کړې وه له کمیسیون سره تورن و. د کشتمند په مرسته یې د اریانا لویې الوتکې له پلورلو څخه د ګڼ کمېشن په اخیستو د شرکت د رییس عبدالقیوم بشریار پر تېنګار سربېره چې د الوتکې پلورل یې د شرکت ګټو ته خیانت باله، په پلمو او بېلابېلو نیرنګونو یې دا نوی کمیسیو ن لومړی رخصت کړ او د لغوه کېدو فرمان یې له ډاکټر نجیب څخه واخیست. فرید احمد مزدك به په بې خونده شوخۍ د ځان په ځېر ملګرو ته د تلیفون له لارې مبارکي ورکوله چې د هغه په اصطلاح د فساد کمیسیون ته یې فني ضربه ورکړه. عجبه لا دا چې ښاغلي مزدك څو ورځې وروسته له (لیکوال) نه په ټلیفون کې پوښتنه وکړه تاسو ډاکټر صیب ته کوم لست ورکړی و چې خلك په مناسبو ځایونو کې مقرر شي؟ ومې ویل هو! د ډاکټر په لارښوونه دا لست جوړ شوی و. په بې ادبۍ او بازاري لهجه یې وویل: ددې نومونو تلفظ د سړي نو (ناف) باسي؛ د ساري په توګه کرول، حکم خان او داسې نور... دا مو له کومه ځایه راپیدا کړل؟ ومې ویل ښاغلی مزدکه! که ددې هېوادنیو اصیلو نومونو په تلفظ کې ستاسو نو پرې کېږي، غوره به دا وي چې کوم ډاکټر ته ورشئ، ټلیفون مې کېښوده، بله ورځ د کشتمند دفتر ته وغوښتل شوم، هلته مې تر یو څه ځنډ وروسته له کشتمند سره وکتل، په سر کې یې له دې نه چې د غویي (ثور) د پېښو توپانونو، سېلونو او بارانونو ډېر ملګري سره بېل کړي، هر یو ځوربدلی او بېل برخلیك یې ورپه برخه شوی، خواشیني ځرګنده کړه، بیا یې اصلي مطلب بیان کړ



Ketabton.com

او ویې ویل "تاسو ډېر کلونه د زندان کړاوونه وګالل، زه یې درک کوم اوس یوه استراحت ته اړتیا لرئ، خو استراحت له کوم عاید نه پرته نه شي کېدی، زه په پام کې لرم چې تا په داسې ځای کې وټاکم چې کار یې لږ وي خو امتیازونه او معاش یې ډېر، تر یوه لنډ ځنډ وروسته یې زیاته کړه، غواړم تاسو ته وړاندیز وکړم چې د سوداګرۍ وزارت په چوکاټ کې د غالیو د اتحادیې ریاست چارې پر غاړه واخلئ" زه هم له کشتمند څخه د همدې چلند په تمه وم، خو د خبرو روحیه یې زما د تمې خلاف وه، پرته له دې چې په حالت کې مې څه بدلون راغلی وي ومې ویل ښاغلی کشتمنده!

خپل خیر رسوونکی زړه سوی د هغو کسانو په برخه کې وکړئ چې ورته اړتیا لري. زه ګوند لرم، د هغه له برکته اړ نه یم او د هغو کلونو په بهیر کې چې بندي وم کورنۍ مې خپل نورمال ژوند لرلی دی. اوس مې هم چاته د تمې لاس نه دی اوږد کړی، دا کتنه هم زما د غوښتنې پر بنسټ نه وه، بلکې تاسو را وبللم. هیله ده په زغرده راته ووایاست زما له سیاسي همکارۍ سره د حکومت د غړو په سطحه موافقه لرئ که نه؟ که د موافقې اړتیا مو درلوده، خبر مې کړئ. که نه د خدای پامان! له خپله ځایه اوچت شوم، کشتمند هم ولاړ شو او ویې ویل: خدای(ج) مه کړه موخه مې کومه خلاف خبره، یا په ملګرو او ګوندیانو کې ستاسو مقام ته نه پاملرنه نه وه. که سوء تفاهم رامنځته شوی وي ښښنه غواړم، لږ تم شه چې یوه پیاله چای وڅښو او غورې وکړو. که ستاسو خوښه وي د وزیر تر لاس لاندې[۴] د څه مودې لپاره د معین په توګه کار وکړئ ومې ویل ستاسو له لطف څخه ډېره مننه، خپل پرېکړه مې درواوروله او بیا هم تکراروم چې همکارۍ ته چمتو یم خو په مناسبه سطحه کې، د کار سابقې ته په پام سره هماغه ورځ عبدالحکیم شرعي

جوزجاني هم له ورته چلند سره مخامخ شوی و او همدې ته ورته ځواب يې ورکړی و.

دوه ورځې وروسته ډاکټر نجيب الله د ټيليفون له لارې دستور راکړ چې د پنجشنبې پر ورځ د مازيګر ۶ بجې له ډاکټر شاه ولي، شرعي جوزجاني، عبدالکريم ميثاق سره مل ورشو، نجيب وويل د شپې ډوډۍ به هملته خورو، هيله ده مشورو او خبرو ته پوره وخت پيدا کړو، خپلې نظريې وليکئ او ماته يې راوړئ.

موږ پر ټاکلي وخت د ماڼۍ وره ته ورسېدو، د جفسر په مرسته سالون ته لاړو، څو دقيقې وروسته ډاکټر نجيب الله راغی، تر تود روغبړ وروسته يې په دوستانه لهجه وويل: له کشتمند صيب سره موافقې ته ونه رسېدلاست؟ کشتمند د نويو همکارانو په منلو کې چې له هغو کسانو سره چې د کار سابقه او متجانسې ځانګړتياوې ونه لري يو څه سخت ګيره دی. خو سازش نه منونکی نه دی، ستاسو د همکارۍ په لار هغه هم په لوړو سطحو کې خامخا خنډونه راپيدا کېږي، بايد په اوسېله او تدبير پرې بريالي شو. دا به هم درته ووايم چې له زندان څخه ستاسو په آزادۍ او په مرکزي کمېټه کې ستاسو د حقوقو په اعاده کولو کې تر حد ډېرې ستونزې وې. اوس له هغو پړاوونو څخه اوښتي يو. هيله ده په جوړوونکو او ګډو هڅو نورې ستونزې هم غوځې شي. پوښتنه يې وکړه آيا کوم ځانګړی ليکل شوی وړانديز لرو؟ ميثاق يو لنډ يادښت چې درې مادې يې درلودې ورکړ. د يادښت محتوا داسې وه:

۱- موږ بېل ګوند جوړوو، کومه ځانګړې مرسته نه غواړو، يوازې دې زموږ په کار کې خنډ نه رامنځته کېږي.



Ketabton.com

۲- د حال په وړ (مناسبه) سطحه اود خپلو کارونو په سوابقو کې همکاري ته چمتو يو.

۳- اوسنی وضعې ته دوام ورکوو. يانې په کور کې پاتې کېږو هغه څه چې له احوالونو څخه درك کوو، په وجداني بشپړ احساس او د ملي روغې جوړې مصلحت ته پام سره. يې پسر سموالي ـ عقيده لرو، تنويري او توضيحي کار کوو، هېڅډول امتياز نه غواړو.

ډاکټر صيب نجيب ژمنه وکړه چې سبا به ددې وړانديز ځواب ورکوي. ماته يې دنده راکړه چې (۱۱) بجې يې دفتر ته ورشم. په دې توګه د ناستې لومړۍ برخه خلاصه شوه. تر ډوډۍ خوړلو وروسته په دويمه برخه کې په ګوند کې د ډلو د مخالفتونو په اړه چې د ملي روغې جوړې د سياست موخو ته نه جبرانېدونکي زيانونه اړوي، ددې ډول ځان غوښتونکو هڅو پر ضد چې د خلکو او رښتينو ګوندريانو غوښتنه ده په دې اړه نظرونه وغوښتل شول، خو له بده مرغه هغسې چې ذود وه وروستيو پايله اخيستنو خپله عملي بڼه نه خپلوله او هيڅ کار نه ترسره کېده.

سبا (۱۱) بجې د ډاکټر نجيب د کار دفتر ته لاړم. دا ځواب مې ترې ومونده "تاسو د وړانديز دويمه ماده ومنل شوه، په دې برخه کې به پر ستونزو سربېره نيمګړتياوې هم لرې کړل شي.

په مشخصه توګه يې ډاکټر شاه ولي د مشاور وزير، عبدالکريم ميثاق د کابل ښاروال، شرعلي جوزجاني د سترې محکمې د قاضي القضات مرستيال او عبدالقدوس غوربندي د افغانستان د ملي جبهې د لومړي مرستيال په توګه او نور ملګري يې هم د وړانديزونو دندو په کچه منلي وو.



Ketabton.com

ډاکټر صیب هیله وکړه چې ملګري دې له ځنډ نه پرته خپلو دندو ته دوام ورکړي، موږ د زمان په دې پړاو کې مقاومت وړ ونه باله او دندې مو پیل کړې. که څه هم په دې دندو کې یې ډېرې ستونزې راته وزېږولې. د پامیر اخبار کارکوونکي یې د میثاق ضد تحریک کړل چې ګویا هغوی یې توهین کړي دي. ما ته یې بناغلی مزدك د جبهې د ریس په توګه راروان کړ، ډاکټر شاه ولي یې د صدارت په کوچ کې ګوښه نشین کړ او عملاً یې له ګوندیانو سره ټېچې هره ورځ یې له مجلس څخه ډېر څه زده کول اړیکي محدود کړل. د شرعي قانوني صلاحیتونه یې هم لږ کړل. په هرحال، موږ هم تسلیم نه شولو او د انحرافاتو پر ضد مو خپلې مبارزې سختې کړې. ورسره مو په ټول ځواك هڅه وکړه چې د دښمنانو پر ضد چې د ګوند د ګړندي نابودۍ لپاره ولاړ شوي ملګرو ته داسې روحیه ورکړو چې مستقلانه دفاع د ځان لپاره یوه تاریخي ازموینه او ملي فرض وګڼي او د اړتیا پر وخت له ځانه هم تېر شي. موږ هڅه وکړه چې ناندرۍ او کودتا بازۍ چې محرك یې پردي ځواکونه وو، خنثی او ناکام کړو، له بله پلوه دوست دولت او ریاکار دښمنان هم زموږ له مخې نه لرې شي. که څه هم موږ په دې مورچل کې په وفادارۍ سره تر وروستۍ شېبې پاتې شولو، خو افسوس چې زموږ داعیه د رهبرۍ له وړ ملاتړ څخه برخمنه نه وه او په ټولو سیاسي پایلو کې یې لږه ونډه درلوده.



Ketabton.com

# د ا.خ.ډ.ګ د دويمې کنګرې رښتينې بڼه

د پېړۍ تر ځلورمې برخې ډېره موده تېره شوه چې ګوند وتوانېد په ظاهره خپله دويمه کنګره جوړه کړي، دا کنګره څه له پاره جوړه شوې وه او په خپل متن کې يې څواکونه رانغاړلي وو، چې دلته يې يادوو:

۱- د بريالي پټ تشکيلات چې بېلابېلې رهبرۍ، موخې او کارونه يې درلودل، کارمليانو چې ګوند ياداوه، موخه به يې هماغه نيم برښد تشکيلات وو، چې ګوندي او دولتي واک يې په لاس کې و او د هېڅډول ګوندي پرېکړې او دستور پابند نه وو د ګوند رييس ډاکتر نجيب و، کارمليانو بېل سياسي تګلار او پراوونه درلودل.

۲- دګوند په دننه کې بل (ګوندګی) بېل کړل شوی و، چې په نجم الدين کاوياني او فريد احمد مزدك اړوند و، هغوی د اسلامي جمعيت پټ غړي او د "نظار شورا" په ځانګې پورې اړوند وو. د



Ketabton.com

ګوندي حاکمیت په سقوط کې د دوی خاینانه نقش له هېچا نه پټ نه دی، دوی خپله هم ترې انکار نه کوي.

۳- درېیم څواك د کنګرې د چلوونکې کشتمند او په هغه پورې د اړوندو فاسدو بیروکراتانو و. کله چې د حکومت تر دویمې دورې وروسته کشتمند برطرفه شو،له ګوند او سیاسي دفتر څخه یې استعفا ورکړه، په شرموونکي توګه یې وویل له وحدت ګوند سره فکري تړاو لري او د هغه د ټینګښت لپاره یې هڅې کړې دي او د شمال ائتلاف پر حقه ګڼي. دې درې واړه ډلې د نظر غوښتنې په مرحله کې طرحه وې او کنګره یې د خپلودریځونو د ټینګښت لپاره غوره وسیله ګڼله.

۴- څلورمه ډله چې په کنګره کې یې د ګډون شتون ممکن نه و د خلقیانو لویه برخه وه، چې د شهنواز تڼي تر کودتا وروسته په زندان کې وو، له دویمې کنګرې او دهغې له پرېکړو سره یې خپل نه اړیکي اعلان کړل. هغوی پر قانون، د نمایندګانو د ټاکنو پر کړنلار په ځانګړې توګه پر رهبرۍ چې پر ټولنیزو غوښتنه ولاړه نه وه او په مستقیم ډول تر سره شوې نه وه، نیوکه درلوده.

۵- پنځم څواك د ډاکټر نجیب الله ملي روغې جوړې ته سر سپارلي او وفاداره ګوندیان وو، دوی په تمه وو چې کنګره به د رښتیني قاضي په توګه د مشرانو کارونه په هراړخیز ډول وارزوي. د مشرانو په اړه له شخصي او ډله ییزې کینې او لېوالتیا نه پرته خپل تاریخي حکم صادر کړي. دې ډلې ګوندیانو د مرکزي کمیټې پر ګزارش چې د ډاکټر نجیب الله له خوا راوړاندې شوی و باور درلود، د کړنلارې او تګلارې د نوي کولو په اړه او د ګوند د نامه او د ملي روغې جوړې پر لورې د حرکت نوښت هم دومره شونی کار برېښېده. هغوی عقیده لرله چې هر بدلون له انسانه



Ketabton.com

بېلېږي، د ټولو بدلونونو په محور کې انسان ولاړ دی، له دې نه
چې کنګرې د دې ډول بدلونونو طبيعي او قانوني ځای دی، کله
چې يې د هيلې پر خلاف او په حيرانتيا سره يې د نوې مرکزي
کمېټې په لست کې هاغه زاړه نومونه وکتل، د کنګرې پر
ارزښتونو او عدالت شکمن شول دا چې په نتيجه کې کنګره له
استحقاقه پرته يا د استحقاق خلاف نوره هم ځواکمنه شوه، په
دولتي او ګوندي مقاماتوکې يې د خپل موقعيت پټ تشکيلات
پياوړي کړل. نوي لاسته راوړنې د ډله ييزې مبارزې د محصول په
توګه د ډله ييز مورال د لوړوالي او د منفي غرايزو د ودې سبب
شوې. له بله پلوه د کنګرې پايله چې قرار دادي وه،د ربښتينو
دوستانو د نهيلۍ لامل شوه. سربېره پر دې چې دوستانو د ملي
روغې جوړې په برياليتوب کې يوه شېبه هم له هڅوځخه سپما ونه
کړه. خو افسوس چې دوی په تشو لاسونواو له تشکيلاتو نه پرته،
خو دښمنانو په ځواکمنې روحيې او ښو امکاناتو سره خپلې چارې
پر مخ بېولې.



Ketabton.com

# کابل ته د کارمل بیاستنېدنه

تر کنګرې وروسته چې په مرکزي کمېټه کې چارو د بریالي، کاویاني. مزدك او کشتمند د ځان غوښتنې د تګلارې په ګټه بدلون موندلی و، دوی هم د خپلو غوښتنو سطحه اوچته کړه، په لومړي ګام کې یې کابل ته د کارمل د بیا ستنېدنې پلان تر لاس لاندې ونیو. که څه هم په هېواد کې ژوند کول د هر انسان طبیعي حق دی، خو هغوی چې پر ملي جنایتونو او جرمونو تورن دي باید ببرته حساب ورکړي او د خلکو د قضاوت پر وړاندې حاضر شي، که نه حق نه لري چې د مشر او مخکښ په توګه راڅرګند شي او د هغوی پر (تېړونو) مالکې ودوړوي. په هرحال، د وطن ګوند (حزب وطن) رییس نجیب الله په سیاسي بیرو کې دا موضوع یاده کړه او په دې ترڅ کې یې د سیاسي دفتر د غړو نظریې وغوښتې. له دې نه چې بریالي په سیاسي دفتر کې ډېر ملګري او پلویان درلودل،



Ketabton.com

غوښتل يې چې ددې کار لپاره د سياسي بيرو په کچه قانوني اجازه واخلي او داسې وښيي چې په مجموع کې ګوند د کارمل بيا ستنېدنه غواړي، ما (ليکوال) چې دجلسې فضا داسې وليده چوپتيا مې غوره ونه بلله، ومې ويل: نجيب ملګريه! زما په اند د ملي روغې جوړې د سياست پوه غوښتنه دا ده چې د نورو خلکو نظريو او عقيدو ته بايد ځير شو، کله چې مو له خلکو نه د کارمل په اړه په رښتيني او ساده ډول نظرونه وغوښتل، ځرګنده به شي: خلکو د ۱۳۵۸ لمريز د مرغومي (جدي) هغه لوى زيانونه چې وراوښتي وو نه دي هېر کړي، کارمل د يرغل، هېواد پلورنې او سرې جګړې سمبول ګڼي، روان ملي پاڅون ددې خبرې انکار نه منونکى شاهد دى، سربېره پر دې کارمل چې د واك مدعي دى کراره نه کېني، مونږ په دې شرايطو کې ډېرې ستونزې لرو، دا غوره نه ده چې بله ستونزه راولاړه کړو، تر دې خبرو وروسته د جلسې په فضا کې چوپتيا خوره شوه. آخر کشتمند وويل: ډاکټر صيب! تاسو اوس ژمنه کړې چې هېواد ته د کارمل په راستنېدو کې کومه ستونزه نه شته، لکه څنګه چې ليدل کېږي ټول ملګري دا ژمنه دګوند يووالي ته ګټوره ګڼي. ډاکټر نجيب الله وويل: کارمل کولاى شي راشي، کومه ستونزه نه شته. په دې اړه خبرې پايته ورسېدې، پر هماغه شپه بريالي د وکيل، کاوياني، مزدك او کشتمند په مرسته د روغې جوړې په نامه د وطن ګوند. ريس نجيب الله يې د اناهيتا کور ته بوته، هلته د وړاندېنيو ترتيباتو له مخې کارمل اناهيتا ته ټيليفون کوي او اناهيتا په خپل کور کې دنجيب الله د حضور خبر ورکوي، په دې توګه د کارمل او نجيب-



Ketabton.com

الله تـر منـځ نـبغ تمـاس ټينـګېږي. پـه دې خـبرو کـې نجيـب الله د کـارمل (چـې پـه ظـاهره هيلـه لـري خپلـې وروسـتۍ ورځـې پـه هـېواد کـې تېرې کړي) پـه راسـتنېدو کـې د آسـانتيا يادونـه وکـړه، کـارمل پـه بيـړه د خپـل سـفر غـوټه تيـاروي. بريـالی د هغـه څه خـلاف چـې مفـهوم شـوی و د پـټو تشـکيلاتو پـه غـړو کـې ښه هرکلـی جـوړوي او کـابل تــه پـرواز کـوي، چـې د ترتيـب شـوي هرکلـي مخنيـوی کـېږي. خـو د راسـتنېدو لـه لومـړۍ ورځـې څخـه سياسـي ليدنـې کتنـې پيلـېږي. پـه داسـې حـال کـې د ښه ژونـد ټول لګښتونـه يـې د ګونـد لـه خـوا برابرېدل خـو د کـارمل فعـاليت د هماغـه ګونـد پـر ضـد زيـاتی مومـي. پـر دې سـخاوتمندانه بخششـونو سـربېره ښاغلی عظيمـي پـه غـرض لرونکـې ارزونـه کـې د ډاکـټر نجيـب الله د شـخصيت پـه اړه وايـي "نجيـب د خپلـې مبـارزې پـه پيـل کـې لـه خلقيـانو سـره صميمانـه اړيکي نه درلودل او په تعصب يې لـه هغـوی سره چلند کـاوه، خـو د جمـهوري رياسـت تـر نيولـو وروسـته لـه هغـوی سره يـو شـو، پـه بـدل کـې يـې د کارمليـانو سـوله نـه منونکـی دښمـن شـو. دې دښمنـۍ تـه پـای نـه و او هېڅکله نه بـښل کـېده"

ښاغلی عظيمي! تاسو عـادت لـرئ چـې مطـالب سرچپـه ولیکـئ او د کتـاب لوسـتونکي پـه شـك کـې اچـوی. تاسـو تـه بـه چـې ځان د کـارمل د مکتـب زده کوونکـی ګڼئ (نـه) د (هـو) او (هـو) د (نـه) پـه مانـا وي.

نجيـب الله چـې جمـهور ريـس او د وطـن ګونـد ريـس و، کـه د کارمليـانو سـوله نـه منونکـی دښمـن وای څنـګه دېتـه تيـارېږي چـې لـه واکـه شـړل شـوی کـارمل تـه چـې نـه يـوازې دځواك سـاده مدعـي دی.



Ketabton.com

بلکې په خپلو ټولو امکاناتو د واك نيولو په هڅه کې دی. اجازه ورکړي چې په ۲۰۰ متره کې يې خپل تعرضي غوړوي او موازي څواك تشکيل کړي. همداراز په پرله پسې ډول د نجيب الله د کمزورۍ او سقوط لپاره ورانوونکي فعاليتونه وکړي. که دې دښمنۍ پای نه درلودای او نه بدلېدونکې ښکاري چې ورکړه چې دا خطرناکه او له دښمنيو نه ډکه هڅه د ګوند د حاکميت تر بربادۍ، د ملت تر تباهۍ، د ملي روغې جوړې د سياست تر ناکامۍ او د ملګرو ملتونو تر پنځه فقره ييز پروګرام پورې وغزول شي.

ښاغلی عظيمي! تاسو زموږ په څو زره کلن تاريخ، په ځانګړې په ۲۵۰ وروستي کال کې سدوزي او بارکزي، کورنۍ چې له يوې وينې او يوه ټبر څخه وو، د دې په څېر بلمه ښېلګه ورکولای شئ؟ خلك پر نجيب الله چې د خپلو ټبرو عواطفو تر اغېز لاندې يې په خپل لستوڼي کې مار ته ځای ورکړ او زهر يې د ټولنې ټول شته له منځه يووړل او د عمومي بربادۍ لامل شو. پر حقه نيوکه کوي. خو تاسو پر هغه نه بسيا کېږئ، ډېره عجيبه ده.

ښاغلی فقير محمد ودان د خپل (دشنه های سرخ) نومي کتاب په ۲۲۴ مخ کې د يوه يادښت په يوه برخه کې ليکي:

(سترجنرال محمد نبي عظيمي چې په ظاهره شيك اغوستی، مهذبه، د نظامي سرتېرو په کچه يې وښتان تر حده ډېر اوږده او ډېر استراحت غوښتونکی و. په ګوند کې دننه ان د ګوند تر کړيو بهر د شخصي امتيازونو د ترلاسه کولو لپاره په هره ډله او کړۍ کې به تفاهم او ناندريو کې پاتې شو او په خپل لوړ استعداد سره



Ketabton.com

يې په دې ترڅ کې مبارزه کوله، ځان ته يې ور نظر ايجاداوه او په خپله ګټه يې ترې کار اخيسته. دا ذاتي ځانګړتياوې له باثباته او نظامي وده موندونکي ژوند څخه په هر ځواک کې د سردار محمد داود د کودتا له برې څخه بيا د صبغت الله مجددي تر جمهوري رياسته پورې حسابېږي). د کانديد اکاډميسين محمد اعظم سيستاني د ليکنې پر استناد د (انقلاب ثور و پيامدهای آن)، سريزه، ص ۱۹۳)

(جنرال محمد نبي عظيمي د محمد عظيم معروف لمسی دی
منه دعظيمو په برکت د حربي فابريکې مشهور کارکوونکی دی. دی هماغه کس دی چې د لومړيو مشروطه غوښتونکو اسرار يې امير حبيب الله خان ته ګزارش ورکړ او انعام يې واخيست او مشروطه غوښتونکي له مرګوني برخليک سره مخامخ شول) څه ښه يې ويلي: لړم د هېڅچا پروا نه لري.



Ketabton.com

# د کارمل له مریبتوب ترلتوب څخه د نجیب تر مړینې ناپیلتوبه پورې

په افغانستان کې د مشر سلاکار الکساندر مایوروف په وینا: (ببرک له خپل اردو سره مینه نه درلوده. له خپل اردو څخه وېرېده. له هر ډول بري څخه یې په وېره کې و، په ماتې یې خوشحالېده ځکه د هغه په اند همدغه ماتې د سرو پوځونو رابلنې ته یوه ښه پلمه وه (په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل، الکساندر مایوروف، مخ ۹۷) هغه په ګوندي او دولتي ځانګو کې په داسې حال کې چې یوازې په پلازمېنه (پایتخت)، په مرکز او ولایتونو کې امنیت و. د ملکي سلاکارانو په لیدو ګوته پر غاښ پاتې کېږي او لیکي "په هغه جلسه کې چې د سفیر له خوا جوړه شوې وه، یوازې د مشرانو شمېر یې زرو تنو ته رسېده" (په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل، مخ ۱۵۹)



Ketabton.com

الکساندر مایوروف دا رابرسېره کوي چې شوروي سفیر د ګوند د سیاسي بیرو په غونډو او انقلابي نظامي شورا کې برخه اخیسته. (هماغه کتاب، مخ ۱۸۳) دا تریخ حقیقت د دې دوو دولتي او ګوندي لوړو اورګانونو د عمل د آزادۍ سطحه څرګندوي او د ببرک کارمل د ټیټ موقعیت ښکارندوی دی. خو کارمل له خپل دویم ماموریت سره داسې ښکاري چې په طلایي قفس کې له اسارت څخه نه دی ستړی شوی. او داسې یو شخصیت (نجیب الله) څخه د انتقام په هڅه کې دی، چې ټول عمر یې خپله ده ته خدمتونه کړي دي. کله چې یې ده ته د ګوند او دولت لوی مسوولیت وروسپاره دا تمه یې درلوده چې د کارمل بشپړ ملاتړ ترلاسه کړي. خو ډاکټر نجیب الله نه پوهېده چې د عظیمي د وینا خلاف دا کارمل دی چې هېڅکله نجیب الله نه بښي. او ورسره سوله نه منونکې دښمني لري. د ولي محمد زیارمل د اعتراف له مخې چې زمزمه کول یې: کارمل ویلي چې له نجیب الله څخه غچ اخلي، کله چې داغچ د فقیر محمد ودان په وینا د افغانستان د خلکو پر انتقام واوړي، د دوی لپاره پروا نه لري. دا سړی چې د پردیو په لاس بدلون مومي د ښه او وړ کس په توګه وټاکل شو، چې د روسانو او کارمل په مرسته د نجیب د سقوط لپاره هڅې وکړي. که بخت ورسره یاري وکړه، خپله یا یې ورور پر تخت کېني، که نه څه ناڅه په شمالي ولایتونو کې چې د شوروي (او د هغه میراث خوري روسیې) جنوبي پولې خوندي کړي دا بېلې پولې که هېواد هم تجزیه کوي، د دوی لپاره بې کار دی. هغوی اصلاً د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا د ځان په ګټه نه ګڼي او د خپلې ربنتینې غوښتنې په توګه یې هېڅوخت نه ده مطرح کړې



Ketabton.com

ځکه پوهېږي چې د يوه ستر افغانستان په اډانه کې د ډموکراتيک له لارې حاکميت ته د رسېدو چانس نه لري او د کودتا بازۍ دوران هم پايته رسېدلی دی. نو سيمه ييز ځواك يې غنيمت وګڼه او په ارزښت کې يې د منځنۍ اسيا هېوادونو او روسيې ته چې ګويا د بنيادګرايۍ مخه يې نيولې وه، مبالغه کوي د روسيې فدراتيف دولت چې لاهم ځان د منځنۍ آسيا هېوادونو ته اړ ګڼي، د هغوی لويو او بډايو ذخيرو ته يې سترګې نيولې دي. په افغانستان کې چې دې هېوادونو ته د راکړې ورکړې تجارتي دروازه ده سوله او امن د خپلو ګټو لپاره ښه نه ګڼي او په دې سيمه کې خپلو تحريکونو ته ادامه ورکوي،د وسلو او مهماتو په لېږلو سره د جګړې لمبې بلې ساتي. چې له بده مرغه بيا هم افغانان وژل کېږي او هېواد : له منځه ځي. حيف چې د جهاد نويو خلکو په دې نقش کې لوبېږي او له تاريخ څخه يې عبرت نه دی اخيستی، خو له نجيب الله سره (د پخوانې شوروي) اود روسيې د فدراتيف دولتمدارانو کينه له کومه ځايه سرچينه اخلي؟ هغه کينه چې د ښاغلي فقير محمد ودان په وينا په دريو کودتايي هڅو کې رامنځته شوه.

لومړی د حسن شرق په کودتايي هڅه کې، دويم ځل د شهنواز تني په نظامي پاڅون او دريم ځل د ببرك کارمل او دهغه د ملګرو کاوياني، مزدك او کشتمند په وجود کې.

د دې تاريخي پېښې بشپړه لړۍ د ښاغلي ودان په (دشنه های سرخ) نومي کتاب کې بيان شوې ده. لوستونکي کولای شي ويې لولي. زه دلته له تکرار څخه ډډه کوم، خو دريمه توطيه چې د بريالي او د پنځم ستون له پټو تشکيلاتو څخه کار واخيستل شو



Ketabton.com

او لویه ملي غمیزه یې رامنځته کړه، د هغه لاملین یې هم په خپل اور کې ایره کړل، تر هغه ځایه چې په جریان کې وم خپل هېوادوال ترېنه خبروم.

لومړی به د ډاکټر نجیب الله د سقوط دسیسه جوړول، کې، جي، بي او د هغه کارکوونکي، پنځم ستون، د ببرك کارمل، بریالي، کاویاني، مزدك، وکیل، عظیمي، فتاح، یار محمد، آصف دلاور، سید اعظم، سعیذ او په دې ځانګې پورې د لوړرتبه اړوندو افسرانو او نظامیانو په وجود کې یې سرچینې وپلټو. د شهید میر اکبر خیبر او شهید حفیظ الله د مړینې له تجربو څخه چې دواړه د کې، جي، بي له خوا ترور شول داسې ښکاري، چې شوروي استخبارات او مشرتابه خپل قربانیان د خپلو دوستو ګوندونو او هېوادونو په هغو کسانو کې ټاکي چې د خپلې فکري خپلواکۍ او برابرو حقوقو د غوښتنې جرات یې کړی دی. د ملي روغې جوړې او ملي ګټو ساتنه یې د خپلې دندې مهم ټکي ګڼلي وي. همدارازد خپلو خلکو پر ملي او امنیتي ځواکونو تکیه ولري، له خپلو ټولو تاریخي او کلتوري ارزښتونو څخه په مېړانه دفاع وکړي اوپه متقابلو اړیکو کې د برابرو حقوقو غوښتونکي وي. هغوی د خپل نفوذ په ساحه او د خپلې واك غوښتنې په جوړښت کې نوکران غواړي او د هیڅ شخصیت راټوکېدل نه شي زغملی، په یوه نه یو ډول یې ځپي. د شوروي په پرمختللو ځواکونو کې دا ډول کارونه ډېر لیدل کېدل. نو د نجیب الله پرضد روانې دښمنۍ باید د نجیب الله په همدې ځانګړتیا کې ولټول شي. چې د لسکلن تماس په بهیر کې یې روسان په ښه توګه وپېژندل او ترې لرې شو. د ملي روغې جوړې سیاست یې ټینګ کړ



Ketabton.com

او خپلواکه دفاع یې خپله کړه. دګوند موخې یې د ټولنې له واقعیتونو سره همغاړې کړې همدارز (هېواد) کلیمه یې د ګوند له نوم سره یوځای کړ او په دویمه کنګره کې یې په زغرده اعلان کړ چې (په هېواد کې د شوروي نظامي قطعاتو موجودیت د ګوند او هېواد د تاریخ یوه دردناکه پاڼه ده) د ملي روغې جوړې د سیاست په اډانه (چوکاټ) کې یې هڅه وکړه چې خپل بهرنی سیاست متوازن کړي، ورسره له ګاونډیو هېوادونو سره خپل مناسبات ښه کړي، د لویو هېوادونو دپاملرنې په موخه له امریکا سره هم اړیکې ټینګ شول، کابل ته د درېیو امریکایي هیئتونو راتلل او امریکا ته د سلیمان لایق سفر ددې اړیکو پیل و، ددې نویو تحرکاتو په اړه نجم الدین کاویاني هم ځینې سفرونه درلودل. خو هغه خپل پروګرام او موخه تعقیبول. کاویاني هرځای په دولت او ګوند کې د نجیب الله شتون د روغې جوړې خنډ باله او د هغه لرې کېدل یې ضروري ګاڼه. هغه په ګوند کې نوی بدلون غوښت. له افغانانو سره یې په خپلو کتنو کې په اصطلاح د افسانه یي شخصیت او د شمالي سمت د جبهې نظامي مشر (احمد شاه مسعود) ستاینه کوله. خو دا فعالیتونه له نجیب الله څخه پټ پاتې نه شول. هغه د یوې سیاسي بیرو په غونډه کې چې زه هم هلته وم له دې ډول ورانکاریو څخه چې د ګوند له مادي او معنوي امکاناتو څخه کار اخیستل کېده پرده پورته کړه او ویې ویل: (که دَ سیاست او ګوند له مشرتابه سره مخالف یاست، د مدني ټولنې د نورمونو له مخې استعفا ورکړئ او د خپلې خوښې ګوند ته لاړ شئ، ستاسو بشپړ امنیت زه تضمینوم)، (خو دلته د سیاسي بیرو تر چت لاندې چوپتیا او له هغه ځایه بهر ورانکاري او ضدیت د



Ketabton.com

ځواني لاړ نه ده). نجیب الله په ضدیت سره غږېده او نجم الدین کاویاني یوازې دا جمله تکراروله (هغه څه چې تاسو ته ګزارش درکړل شوی، ناسم دی) خو وروسته څرګنده شوه چې نه یوازې سم دی، بلکې د هغوی تر ورانکارۍ نه لړ و، چې په ګوند کې دننه د ګوند په وسیله د نجیب الله په سقوط او ناکامۍ کې تر سره کېده.

فرید احمد مزدك د ګوندي لوړ مقام خاوند په دې ځانګه کې کار کاوه او د ګوند ټول لوړ راپوروونه یې د خپل ورور یار محمد په واسطه او ملکي راپوروونه یې خپله سره یوځای کول او په منظم ډول یې احمد شاه مسعود ته رسول.

یوه ورځ یې نه پوهېږم د کوم مقصد له مخې راته ټلیفون وکړ، ځان، هغه او د هغه همکار کاویاني مې ماتې خوړلي فاتحین وبلل او زیاته مې کړه چې د نجیب الله په سقوط او د ګوند په تیتګښت کې یې له خپل نقش څخه څه ګټه واخیسته؟ په بېشرمۍ سره یې وویل (زه د نجیب الله په راپرځولو کې له خپل نقش څخه منکر نه یم، زه یې مخالف وم نو ځکه مې داکار وکړ). ورته ومې ویل ښاغلی مزدکه! چې مخالف یې وې، استعفا به دې ورکوله، د ګوند له معیارونو څخه استفاده په عین حال کې دهغه په ویرانۍ کې دسیسه کارانه هڅه له هېڅ اخلاقي معیار سره نه جوړېږي.

مزدك چې بل ځواب یې نه درلود وویل: دا چې استعفا مې ورنه کړله، تېروتنه مې وکړله. ومې ویل: دې کار ته په ټولو ژبو خیانت وایي، اوس څرګنده شوې چې ستاسو خیانتونه ډېر پراخ وو، زه باور لرم چې ستا مخلص مریدان به هم درنه توضیح



Ketabton.com

غـواړي، چـې ستاسـو لپـاره د دې خيـانتونو او د هـېواد لپـاره د ورانكـاريو پايلـه څه وه؟

سـره لـه دې چـې د كـارمل، بريـالي مـزدك او كاويـاني لپـاره د واك غوښتنـې او د انتقـام هـوس ځواكمنـې انـګېزې وې، خـو د مـزي اصلـي سـر د روسـانو پـه لاس كـې و. چـې د نفـوذ سـاحې د سـاتنې او لـه خپلـو ګټـو څخـه د حمـايت پـه نامـه يـې تصميـم نيولـى و. چـې نجيـب الله تـه سقـوط وركـړي، پـه دې منظـور يـې عوامـل او ايجنټونـه پـر كـار واچـول. د نجيـب الله پـر ضـد د شـورويانو دښمنـي هغـه وخـت اوج تـه ورسـېده چـې جمـهورريس د ۱۳۷۰ د جـدي پـر ۲۵مـه نـېټه د ملـي روغـې جوړې پـه پنځمـه كـاليزه كې پـه خپلـه وينـا كـې اعـلام كـړه چـې د ۱۳۶۷ لمريـز كـال د دلـوې ۲۶مـه د افغانسـتان د خلكـو ملـي پـاڅون د شـوروي نظـام پـر تجـاوز بريـالى شـو او دا ورځ يـې د افغانسـتان "د ملـي نجـات ورځې پـه نامـه ونوموـلـه. وروسـته يـې د جمـهوري رياسـت د فرمـان پـه تـرڅ كـې دا ورځ پـه كلـيز كـې ګډه كـړه او عمومـي رخصتـي يـې اعـلان كـړه" دا مسـئله يـو تـاريخي حقيقـت و چـې روسـي چـارواكي يـې راوپـارول. د روسـيې سـفير د جـدي (مرغومـي) پـر ۲۶مـه نـېټه د يـوې ګرندۍ ګتنې پـه تـرڅ كې هغـه وينـا رد كـړه چـې پـه هغـې كـې د دلـوې ۲۶مـه ورځ د (شـوروي تجـاوز پـر وړانـدې د افغانسـتان د خلكـو د پـاڅون) پـه نامـه نومـول شـوې وه. نجيـب الله پـه ځواب كـې ورتـه ويلـي وو (تاسـو پـه خپلـه اعـتراف كـړى چـې افغانسـتان تـه مـو لښكركشي تجـاوز و) بيـا مـو هـم كـه مشـران پـر دې مسـئلې اعـتراض لـري د افغانسـتان د بـهرنيو چـارو وزارت تـه دې وسـپاري.



Ketabton.com

دا اعتراض هغه مهال کېږي چې د روسيې فدراتيف دولت دوه نيمې مياشتې وړاندې د پردې تر شا په يوه موافقت کې د مجاهدينو هيات (په داسې حال کې چې په پېښور کې دمجاهدينو د حکومت ريس صبغت الله مجددي دی) د برهان الدين په رياست دعوتوي.

د روسيې جمهورريس معاون الکساندر اوسکوی دافغانستان حکومت ته د وسلو او د سون موادو نه ورکول د قراردادونو خلاف ګڼي، د روسيې فدراتيف حکومت او شوروي مسوول کسان په نړيوالو ټولنو کې له نجيب الله سره خپله نه همکاري او نه ملاتړ اعلانوي. د هغو په اند د افغانستان په سياسي ستونزو کې نجيب الله هېڅ هم نه شي کولای (د اريانفر ژباړه، مخ ۱۹۶- ۱۹۷) پر دې بنسټ د نجيب الله پر ضد دسيسې او توطيې پياوړې کېږي او ستر جنرال نبي عظيمي د اصلي اتل په توګه په نقاب کې ډګر ته راوزي... د هغه په خپله وينا مزدك له يوې لويې دسيسې او توطيې نه پرده پورته کړې او د مسکو ښار په يوه هوټل کې يې ورته ويلي (په مزار شريف ښار کې به داسې اور بل کړم چې وچ او لانده وسوځوي، مومن زموږ د ګوند يو رښتينی اتل او بچی دی. د اختر زوی (نجيب الله د اختر محمد زوی) ته به داسې درس ورکړم چې تاريخ يې هېر نه کړي.). (اردو و سياست، ص ۴۹۶) سبا ته ستر جنرال چې د توطيه ګرانو د راز محرم و د ګڼو دندو د ترسره کولو په موخه کابل ته راځي، چې په مزار کې د اور بلولو او نجيب الله ته د درس ورکولو په موخه خپل کار پيل کړي.

دا جنرال کابل ته له رسېدو سره د توطيه ګرانو ډله: بريالی، کاوياني او وکيل د مزدك په واسطه ګوري، چې په لومړي ګام کې له نجيب الله سره د شمال موضوع مطرح کړي او د شمال د ياغي



Ketabton.com

جنرالانو پر ورانديږ يې متقاعده کړي او دا لاړښوونه ورته وکړي چې دوستم او مومن ته امتياز ورکړي او شرايط يې ومني. هغه شرايط چې د پردې تر شا د بريالي، کاوياني، مزدك او وکيل له خوا فورمول بندي کېدل. ښاغلي عظيمي ددې ډول دندو په ترسره کولو کې ډېرې تجربې او ځان ته په پام راړولو کې ښه مهارت درلود. سره له دې چې ښاغلي عظيمي په بيړه له جمهور ريس سره ليدنه کتنه کوي او له هغې لويې دسيسې او توطيې نه چې مزدك ورته رسوا کړې (د هغه په خپله وينا د هغې په اورېدو يې لويه روحي ضربه خوړلې) څه نه وايي پرعکس په دې موخه چې د شمالي صفحاتو د ډلو چمتووالی چې د مومن او دوستم د نظامي اخ و ډب پر ضد تنظيم شوي، ښنډ کړي (د جنرالانو او د وسلوال ځواك د افسرانو په نمايندګۍ جمهور ريس ته د سنګرکشۍ او مقابلې په اړه ګوابښ.کوي او زياتوي چې تاسو د دفاع امکان هم نه لرئ) نو غوره به دا وي چې امتياز ورکړئ (عظيمي، ص ۴۹۷)

نجيب الله د عظيمي پر دوو اړخيزو او ګوابنوونکو خبرو پوهېږي او په سړه سينه وايي: جنرال عظيمي! تاسو له دې جنرالانو سره پېژندنه لرئ، تاسو ته دا دنده درکوم چې شمال ته لاړ شئ، له ګټورو امکاناتو او تدابيرو څخه کار واخلئ، پراوس مهال عاجله مسئله د لارې پرانيستو او کابل ته د ضروري خوراکي موادو رسول دي. ډېر ژر پرواز وکړئ. خو تر تللو وړاندې دا حقيقت له ما نه واورئ چې خبره پر دريو ناراضيو جنرالانو نه ده. سياستوال دا جنرالان له کابله تحريکوي، غواړي چې افغانستان تجزيه کړي او د افغانستان شمال د تاجکانو او ازبکانو د حقوقو د داعيې په نامه رابېل کړي. موضوع ساده نه ده، لکه څنګه چې کاوياني څو ځلې له کبر او غرور سره ويل چې له جنرال مؤمن سره يې له پخوا نه اړيکې لرل او هغه يې ګوند ته راجذب او مزدك ته يې



Ketabton.com

وربښندلی دی. مومن په خپله هغه اوږده مرکه کې چې له حامد علمي سره يې درلوده او دلته يې ځينې برخې رااخلو، داسې وايي:

«د ۱۳۷۰ لمريز کال د جدي پر ۲۵مه نجيب الله غوښتل چې ما، جنرال هلال الدين او جنرال عبدالوهاب له کاره لرې کړي، خو د فرمان تر رارسېدو وړاندې مې د نجيب له پروګرام څخه خبر کړل. کله چې يوه شوم ټول افسران او سرتېري له ما نه اطاعت کوي، د حيرتان ځواك د قوماندان په صفت مې ډاکټر نجيب الله ته پيام راولېږه او خبر مې ورکړ چې له دې ډول کارونو څخه لاس واخلي او په همغه وخت کې له جنرال دوستم، د ۸۰مې فرقې اړوند جنرال سيد حسام الدين جنرال نادري، جنرال هلال الدين، غفار پهلوان او د رسول پهلوان غونډې خلکو سره په تماس کې شوم. له خپل پلان څخه مې خبر کړل. دنجيب الله د فرمان په ردولو کې مې د هغوی ملاتړ ترلاسه کړ. له هماغه جلسې څخه مو نماينده وټاکه او احمد شاه مسعود ته مې ولېږه، چې په پاڅون کې يې مرسته وغواړم. د ډاکټر نجيب الله د امر په شك پسې مې جنرال جمعه خان ته هم اخطار ورکړ. کله چې نجيب الله متوجه شو چې نظامي فشار اغېزناك (موثر) نه دی، د روغې جوړې لپاره يې هيتونه ولېږل، د جمهوررييس معاون محمد رفيع او جنرال فاروق يعقوبي ته مې اخطار ورکړ چې حيرتان ته رانه شي. د جمعه اڅك تر لرې کولو وروسته مې بيا هم د نجيب الله وړانديز ونه مانه. په دې وختونو کې مې له جهادي قوماندانانو څخه ګڼ ليکونه ترلاسه کړل، چې زمونږ د پاڅون پلوي يې کوله. د ۱۳۷۰ لمريز کال د حوت (کب) پر شلمه مو په حيرتان کې يوه پټه جلسه جوړه کړه چې جنرال دوستم هم په کې ګډون درلود، له جهادي ډلو سره مو نظريې او ځواکونه هماهنګ کړل، په ګډه مو پر مزار د بريد پلان جوړ کړ. کله چې مزار ښار سقوط شو پاڅون په کابل کې د مرکزي کمېټې د غړو او

د کابل‌مېشتو جنرالانو ملاتړ هم ترلاسه کړ. لوی درستیز جنرال اصف دلاور، د کابل گارنیزیون قوماندان محمد نبي عظیمي او د جمهوري ریاست دگارډ ریاست قوماندان جنرال سید اعظم سید او لسگونو جنرالانو په زغرده له مور سره یووالي وښوده. د حوت پر ۳۰مه نېټه د مزار شریف په مرکز کې مو یوه مهمه جلسه جوړه کړه. په جبل السراج کې مو له احمد شاه مسعود سره جهادي شورا جوړه کړه چې جهادي گوندونه او اسلامي ملي غورځنگ یې غړي وو. احمد شاه مسعود یې د ریس او جنرال دوستم یې د مرستیال په توگه وټاکل شول، د ۱۳۷۱ لمریز کال د حمل پر ۲۶مه نېټه یې نجیب الله او د هغه د پلویانو مشري ختمه کړه او د مجاهدینو د حکومت راتلو ته مو زمینه جوړه کړه (سفرها و خاطره ها، ص ۲۰۳- ۲۰۶) جنرال مومن په بل ځای کې وایي چې موږ د خپل ستر رهبر (گران ببرک کارمل) غږ واخیست دا تصادفي نه ده چې ببرك کارمل په حیرتان کې د همدې جنرال تر سیوري لاندې د خپل ژوند وروستۍ ورځې تېرې کړې او مزدك د مسکو په هوټل کې نباغلي عظیمي ته ویلي وو (جنرال یو اتل او زموږ د گوند رښتینی بچی دی، په مزار شریف کې به داسې اور بل کړم چې وچ او لانده وسوځوي. د اختر زوی ته به هم داسې درس ورکړم چې تاریخ یې هېر نه کړي).

مزدك پر خپلې ژمنې وفا وکړه اورونه لا بل دي، وچ او لانده ایرې کېږي او د روان تاریخ له حافظې څخه هېڅ هم نه هېرېږي.



Ketabton.com

# په شمالي ولایتونو کې د عظیمي کارنامه

وړاندې مو وویل چې د صحنې اصلي چلوونکي یا د جنرال مؤمن په وینا نظامي ځواک او مقاومت بناغلی عظیمي و. چې لا یې نیم مخ په نقاب کې پټ و. په غوړه ژبه او حق پر جانبه څېره یې له جمهور ریس څخه د اختیاراتو په اخیستو په ظاهره کې ... د مسلې د حل په نامه خو په واقعیت کې دوستم ته د شمالي ولایتونو د سپارلو لپاره هغې سیمې ته ځي. په لومړي ګام کې یې د اوپراتیفي ډلې پلان چې ټول نظامي امکانات ورسره وو، د یاغي جنرالانو پر ضد ... د برید عملیات چمتو کړل. په دې پلمه چې (ژمنه) له عیني شرایطو او د ځواکونو له تناسب سره مطابقت نه لري، شنډوي یې او خنډ ورته جوړوي. د یاغي جنرالانو دړې ګونو ځواکونو ته په خپلو وینااوو کې د تسلیمۍ روحیه خپلوي او د هغوی د ځواکونو یووالی یادوي. چې په پایله کې د نظامي مورال د زیاتې کمزورۍ سببېږي او د مزار پر لوري د دوستم ځواکونو ته



Ketabton.com

د مارش بې خطره زمينه برابرېږي. تر مزاره وروسته د بغلان ولايت وار رارسېږي، پلخمري ته پرواز کوي او سيد منصور نادري دې ته هڅوي چې د پښتنو پر ضد چې دهغه په اند فاشستي روحيه لري، د هغه ولايت له ټولو ناپښتنو قومونو سره تماس ونيسي او د مجاهدينو له قوماندانانو سره توافق ته ورسېږي. د نجيب الله له ختمولو سره (چې د هغو په اند اصلي خنډ دی) په خپلو کې روغه جوړه بري ته ورسوي. ښاغلی عظيمي د لارې د بندوونکو په دنده کې پرته له دې چې د کابل اوسېدونکو ته يوه لاره، د اړتياوړ مواد ورروسوي، هرځای ته چې سفر کوي يا هم تماس نيسي هغه ځای له منځه ځي، يا يې هم د سقوط زمينه برابرېږي. جنرال دستګير زماني د سمنګان په ګارنيزيون کې د عظيمي د مرستيال په توګه کار کوي او تل يې د سمنګان د دفاع خبرې کولې خو له عظيمي سره تر تماس وروسته خيانت کوي او له کوم مقاومت نه پرته سمنګان د جمعيت قوماندان ته تسليموي. عظيمي په ټيليفون کې جمهور ريس ته وايي چې وضعه هره شېبه زموږ په زيان وده کوي. غوره به وي که د دوستم ټول شرايط ومنو.

بله چاره نه شته، ښه به وي که جمعه اخك او د کابل د اوپراتيفي ډلې ټول ګروپونه چې خپلې دندې يې پرې ايښې دي وغوښتل شي. جمهورريس چې له يوې خوا د عظيمي د وفادارۍ په اړه ښېخي نه‌يلی شوی نه دی، له بلې خوا د ملي روغې جوړې برې، د سولې ټينګښت او د ملګرو ملتونو پنځه فقره ييز پروګرام هم د تحقق په درشل کې دي او بل انتخاب نه لري اوپراتيفي ډله کابل ته راغواړي او خپله عظيمي د سرپرست په توګه مزار ته لېږي، عظيمي د خپلې دندې تر اخيستو وروسته دوستم ته اجازه ورکوي چې له خپلو ټولو عملياتي قطعو سره مزار ښار ته ننوزي.

پر دې بنسټ ۵۳مه فقره د عظیمي په برکت له کوم مقاومت او خنډ نه پرته د ښارندوی قطعه او ۱۸مه فرقه خلع سلاح کوي او په بري سره ښار ته راننوزي. عظیمي د نجیب الله وروستی دستور هم ترسره نه کړ، چې الوتکې بګرام ته ولېږدوي او سکاټ راکټونه له کاره واچوي، سربېره پر دې د جنګي کلا کلي هم په سخاوتمندانه ډول دوستم ته سپاري، چې له پرمختللو او ارزښتناکو وسلو او وسایطو څخه ډکه وه، په دې توګه په شمالي ولایتونو کې خپله دنده په بریالي ډول سرته رسوي.

د حضرت علي (ك) د جنډې د لوړولو په ورځ کې د دوستم بیانیه تر لږ څه لاسوهنې وروسته په دې موخه خپروي، چې په کابل کې یې د خپل نقش غزېدل په پام کې درلود. په هغې پسې (پرهماغه ورځ د احمد شاه مسعود یوې مهمې او پټې جلسې ته چې جنرال دوستم، آزادبېګ، د ایران د اسلامي جمهوري د اطلاعاتي سازمان لوړ رتبه افسر ښاغلی نجفي او عبدالعلي مزاري حضور درلود) (دشنه های سرخ، ص ۹۰، ستر جنرال عظیمي) له لویو څیزونو سره چې د نوي کال د ډالیو په نامه یې تر لاسه کړي وو ګډون کوي او د کابل د نیولو پلان پر همکارۍ خبرې کوي او د کابل د ګارنیزیون قوماندان په توګه د همکارۍ وعده ورکوي. د دې په بدل په نظامي شورا کې چې په همدې جلسه کې جوړېږي د هغې د ریس په توګه ټاکل کېږي. په بلې شورا کې چې د سیاسي شورا په نامه دایرېږي او احمد شاه مسعود یې مشري پر غاړه اخلي. له دې نه چې په شمال کې د عظیمي دنده پایته رسېدلې، د هغه په وینا د چورلکې (هلیکوپټر) په واسطه د شبرغان هوایي ډګر ته پرواز کوي. هلته یې د شبرغان د مشابه هیات په ډېر درناوي هرکلی کوي ... څنګه چې په کابل کې هم



Ketabton.com

پخـه پایـه لـري او پـه حقیقـت کـې واك پـه دې پـورې د اړونـدو سیاسـتوالو او خبریـالانو پـه لاس کـې دی، ورتـه الوتکـه اسـتوي او پـه کـابل هوایـي ډګر کې یې په لـوړه سـویه هرکلـی کـېږي.

ښاغلـی عظیمـي پـه کـابل کـې ډېرې دنـدې پـر غـاړه لـري، دا غـوره ګڼي چـې نـبغ د جمـهور ریـس لیـدو تـه ورشـي او د خپـل تلپـاتي عـادت لـه مخـې پـېښې ناسـمې وښیـي، تصادفـاً هغـه ورځ د (حـزب وطـن) اجرایيـه بـیرو جلسـه درلـوده، زه (لیکـوال) هـم پـه کـې وم، چـې ښاغلـی عظیمـي رانـووت. د حـزب وطـن عمومـي منشـي ورڅخـه وغوښتـل چـې د خپـل سـفر بـهیر بیـان کـړي. ستر جـنرال عظیمـي پـه شـمال کـې خپـل پـلان هغسـې چـې بریـالي، کاویـاني او مـزدك ورتـه ویلـي وو پـه بریـالي ډول تطبیـق کـړی و، د ویلـو لپـاره یـې څه نـه درلـودل. پـه بـدل کـې یې لـه بل چـل څخـه کـار واخیسـت. پـر یـوه هـنري ننداره (نمـایش) یـې پیـل وکـړ او پـه ژړا شـو اوښکـې یـې د ږلـی پـه څېر پـر مـخ رارواني شـوې داسـې حـالت یـې غـوره کـړ چـې د خـبرو اړتیـا ختمـه شي. همـدا یـې تکـرارول چـې زه یـې تحقـیر کـړم. نجیـب الله لـه څوکـۍ نـه رااوچت شو لـه مـتې نـه یـې ونیـو او ویـې ویـل تـه د وسلوال ځواك لـوی افسـر یـې دا حـالت درسـره خونـد نـه کـوي. اوس کورتـه لاړ شـه، آرام وکـړه بیـا بـه وروسـته سـره ګورو. دې صحنـې د ځینـو خواخـوږي راوپارولـه، خـو هغـو چـې د پـردې تـر شـا لـه کـار روایـۍ څخـه خبر وو، د هغـه ممثـل تـه یـې د دې بېلابېلـو برلاسـیو پـه اړه آفرینونه ویـل.

ګودتـاچیان سیاسـتوالو: بریـالي، کاویـاني، مـزدك او وکیـل ګام پـر ګام جمـهور ریـس او د حـزب وطـن عمومـي مرسـتیال خلـع سـلاح کـړل او ټول مـهم مواضـع یـې ونیولـې.د حیرانـۍ ځای دی، جمـهورریس پـه داسـې حـال کـې چـې د وسـلوال ځواك درې واړه



Ketabton.com

وزیران ورته ښه وفاداره وو. داسي یوازي او بې دفاع پاتې کېږي ښاغلی عظیمي د نظامي واك په مرکز کې قرار نیسي او په کبر و غرور د وسلوال ځواك د قوماندانانو خیانتونه چې په هغه پورې نښتي وو او ځانونه یې د هغه د قوماندي ترسره کولو ته مکلف ګڼل. اوس بربنډوي او وایي: د ګارد عمومي قوماندان سید اعظم سید راته راغی او... ویې ویل ځرنګه چې ته مې دوست او مشر وروړ یې، نو راغلم چې درته ووایم له همدې شېبې نه مې د ګارد د ټولو قطعاتو قومانده دروسپارله، په هره ښه چې کاروې یې. (اردو و سیاست، ص ۵۴۰)

په سید اعظم سید پسې د هوایي ځواك او هوایي مدافعې عمومي قوماندان جنرال فتاح هم ورته راځي او وایي چې د کابل ګارنیزیون ټولو اوامرو ته غاړه ږدي. په دې ډول د بنسټیزو ځواکونو قومانده د جنرال عظیمي لاسته ورځي او بریالی د کابل هوایي ډګر د ځواکمنولو په خاطر نجیب الله ته د دوستم له نامه نه (ساخته ګي) تلګرام ورکوي چې چمتو دی د حکمتیار د برید پر وړاندې د کابل د کمربندونو دفاع ته سرتېري واستوي، په پیل کې د جمهورریس له خوادا وړاندیز ردېږي خو د سیاستوالو په ټینګار سره د وسلوال ځواك د مورال د ځواکمنولو په موخه دا کار ګټور ګڼي، نجیب الله حاضرېږي او په سمبولیك ډول یو سرتېرو د لېږلو لپاره مزار ته ۱۸ الوتکې لېږي. د ۱۳۷۱ المریز د حمل پر ۲۶مه کابل ته زر تنه سرتېري راوستل کېږي او د هوایي ډګر کنترول په لاس کې اخلي. د محمد نبي عظیمي د کودتا نظامي افسران، د کابل ګارنیزیون قوماندان او د دفاع وزیر لومړی مرستیال، لوی درستیز جنرال آصف دلاور، د هوایي ځواك او هوایي مدافعې عمومي قوماندان عبدالفتاح، د جمهوري ریاست د ګارد عمومي



Ketabton.com

قوماندان سید اعظم سید، د دوستم د مرستیال جنرال مجید روزي او د دوستم د امنیت ریس جنرال خان آقا په ګډون او د احمد شاه مسعود د ویاند عبدالله ورور جنرال عبداللطیف چې د عظیمي په دفتر کې په ځانګړي ډول مقرب و، سره راټولېږي چې د بریالي له امر سره سم د جمهور ریس د برخلیك (سرنوشت) په اړه تصمیم ونیسي.

بلې شپې ته پر اوو بجو د سیاسي بیرو ټول غړي چمتو وو. د بریالي تر جلسې وړاندې یې په باټو او لاف سره ویل چې نن شپه کولای شي نجیب د... په څېر ووژني. خو پرې یې ښودل چې خلك او ګوند یې په اړه تصمیم ونیسي. پر همدې شپه د ملګرو ملتونو د ځانګړي نماینده بنین سیوان الوتکه کابل ته رارسېږي. د دوستم د ځواکونو له خوا محاصره او پر مرګ تهدید یږي. هغه له نجیب الله سره تماس نیسي، له خپلې محاصرې او د هوایي ډګر له خرابې وضعې څخه یې خبروي جمهورریس په خپل چاپیریال کې وضعه خبري. ګارد په توطیه کې رانښکېل مومي. پر دې پوهېږي چې خطر نږدې دی. که چاره ونه لټوي ډېر ژر به د کودتاچیانو په لاس اسیر یا ووژل شي. ډېر ژر له کوره وځي او نږدې امن ځای (د ملګرو ملتونو دفتر ته) پناه وړي. ښاغلی عظیمي له خپلو کودتا چیانو سره د کارمل او بریالي امر ته منتظر دی، چې د ډاکټر نجیب الله په اړه تصمیم ونیسي د بنین سیوان له محاصرې او د ملګرو ملتونو دفتر ته د نجیب الله له پناه وړلو څخه خبرېږي. ډېر ژر هوایي ډګر ته دانګي او بنین سیوان خوشې کوي او دفتر ته یې رسوي. بنین سیوان د شپې پر دوو بجو د سیاسي بیرو د ګړندۍ جلسې جوړول غواړي، چې نوي پرمختګونه په کې وارزوي او د ملګرو ملتونو د پلان او د نجیب الله د برخلیك په اړه تصمیم



Ketabton.com

ونيسي. بريالى سبا اوو بجو ته د اضطراري جلسي دجوړولو وعده کوي او زياتوي چې جمهوررييس بايد د ځان او د مرستيالانو د استعفا سندونه تسليم کړي. د جمهوررييس د مرستيالانو برطرفي ځکه غواړي چې د واك بدلولو په مساله کې (چې د جمهوررييس تر استعفا وروسته به په نورمال ډول د هغه لومړي مرستيال ته انتقال مومي) منتفي ... وي او د نظامي شورا تشکيل ته چې په حقيقت کې د کودتا ارګان دى يو ډول مشروعيت ورکړي. عظيمي ته دستور ورکوي چې د نظامي شورا پر جوړولو چې غړي او دندې يې وړاندې چمتو شوي وو پيل وکړي او ډېر ژر متعهد افسران او لوړ جنرالان پر خپلو ټاکل شويو دندو وګوماري. د بريالي پلان دا دى چې نظامي شورا د شمال ائتلاف له ځواکونو سره مل په جهادي شورا کې له احمد شاه مسعود سره ائتلافي حکومت اعلان کړي او د ملګرو ملتونو پر وړاندې د لنډ مهالي حکومت د دندو په ترسره کولو کې ځانونه مکلف وګڼي. بريالى وايي ددې ټګلار په اجرا کې ډېرې ستونزې شته.

لومړى: دا چې حکمتيار ... بالکل دښمن دى.

دويم: دا چې مونږ د مزارشريف په سياسي او نظامي شوراګانو او د جبل السراج په منعقده جهادي شورا کې متحد هم يو، خو کوم دليل هم نه شته چې د ستونزو پر حل برى ونه مومو. اوس ښکاره شوه چې اروابناد يعقوبي له دې پلان څخه خبر و، ځکه تر دې پېښو يوه ورځ وړاندې هغه مهال چې سليمان لايق د روانو ستونزو او پېښو په حل کې د سياسي بيرو د صميمانه همکارۍ په اړه خبرې کولې، خبرې يې ورغوڅې کړې او ويې ويل: لايق صيب! تاسو په څه سوچ کې ياست؟ توطيه او دسيسه ډېره ژوره ده، دښمنان مو پر لار باندې کوهي کني او د محاصرې کړۍ هر ګړۍ

تنګه کېږي. هغه کسان چې دلته سره راټولېږي زموږ د ګوند د بربادۍ او سقوط پلان سنجوي، بریالی، د واك لېوني کاویاني، مزدك او وکیل د احمد شاه مسعود مزدوران دي. دا دديٍ رښتیني او فرمانبرداره انسان د ژوند وروستۍ ورځ وه. دښمنانو په چل او نیرنګ، ورځخه د واك او ځواك ټول واګي په خپل لاس کې اخیستي وو. خپله هم آخر د خپلو اعتمادونو او پاکزړیو قرباني شو. او د باوري کسانو په وینا د خپل معاون او د مزدك ورور جنرال یار محمد په لاس ترور شو.

احمد شاه مسعود چې تر وهلو ټکولو وروسته یې پر شمال واکمني وموندله د شمالي سالنګ، جبل السراج، چاریکار او بګرام تر نیولو وروسته د کابل دروازو ته ورسېد. له مقاومت نه پرته یې خپل سرتېري له کمربندونو څخه واړول او د کابل د شمال په حساسو ځایونو کې یې ځای پر ځای کړل. د حزب وطن اجراییه پلاوي د شمالي جبهې د سرتېرو د یو مخیز نفوذ په اړه اندېښنه درلوده، ځکه له راپورونو نه برېښېدل چې ګلبدین حکمتیار هم پر ورته اقدام لاس پورې کوي او کابل ښار د جګړو ډګر کېږي. د حزب وطن اجراییه پلاوي د دې نفوذ او د وینو حمام تر بهېدو وړاندې چې ډاکټر نجیب الله یې اټکل کړی و تصمیم ونیوه چې د دواړو غاړو د مذاکرې لپاره پلاوي (هیتونه) ولېږي. د هغه مهال د بهرنیو چارو وزیر وکیل داوطلب شو چې جبل السراج ته لاړ شي، په دې اړه له احمد شاه مسعود سره مفاهمه وکړي... د جمهوررئیس مرستیال جنرال رفیع د حکمتیار سیمو ته روان شو او د کابل ګارنیزیون له خوا پرې ډزې وشوې او د حکمتیار تر واك لاندې سیمې ته یې پرې نه ښود. دویمه ورځ د ځاني خطر په قبلولو سره له حکمتیار سره ګوري او د هغه همکاري سے. ترلاسه کوي. د



Ketabton.com

جنرال رفیع په وینا حکمتیار وعده ورکړې وه، که احمد شاه مسعود کمربندونو ته د ننوتو له یو مخیز نفوذ څخه ډډه وکړي. دی به هم پر کابل برید نه کوي. غوره به وي که له حکمتیار سره د احمد شاه مسعود ټیلیفوني خبرې اترې (چې حکمتیار خان د کابل دروازو ته رسولی و) ولولو. هغه مهال احمد شاه مسعود په رسمي ډول د پنځم ستون له ډلې سره پر خبرواترو لګیا و: (ګلبدین حکمتیار: ستاسو ځواکونه د کابل پر شاواخوا په امنیتي کمربندونو کې ځای پر ځای شوي... همدا اوس د خواجه رواش په هوایي ډګر کې داسې کسان هم شته چې په ګارنیزیون، د کمربند په پوستو، د شمال په یوه برخه او د لوګر پر لوري داسې ډېر کسان ځای پر ځای شوي دي. موږ داسې فکر کوو چې څو ببرک پلویو جنرالانو د خپلو شرایطو د تحمیل لپاره دا کار وکړ. ځینو ته به یې داډ ورکړی وي او هڅولي به یې وي چې مرستې ته یې ځواکونه ولېږي...؟!

احمد شاه مسعود: نه ده، ستاسو خبرې سمې دي. لکه تاسو چې وویل هغه ځواکونه ځای پر ځای شوي دي، زه یې منکر نه یم...؟! (بهای آزادی کابل از سقوط تا فتح، ع- منصور، ص ۷۳-۷۵) او (دشنه های سرخ، ص ۱۰۳) پر دې بنسټ احمد شاه مسعود د خپلو ځواکونو له ځای پرځای کولو څخه منکر نه دی. دې کار د ګلبدین حکمیار غبرګون هم په خان پسې درلود، چې د کابل جګړې یې راوزېږولې...؟؟)



Ketabton.com

# د حزب وطن اجراييوي بيرو وروستۍ غونډه

دا غونډه د حمل پر ۲۷مه نېټه د سهار پر ۹ بجو په بهرنيو چارو وزارت کې جوړه شوه. په پيل کې د وطنجار له وړانديز سره سم سليمان لايق چې تر نورو مشر و، د موقت سرپرست په توګه وټاکل شو.

تر نورو وړاندې د دې غونډې د بهير په اړه د ښاغلي عظيمي بې بنسټه تورونه ارزوو. عظيمي چې تل په خپله خوښه پېښې د کودتاچۍ ډلې په ګټه رانقلوي. دلته هم د خپل کتاب په ۵۶۱ مخ کې د جلسې فضا غلطه، بې بنسټه او غرض لرونکې روايتوي. د هغه په وينا "جلسه په داسې حالت کې وه چې خداى (ج) دې چاته نه ښيي!! کار کنځلو او فحش ويلو ته وتلی و... زه رخصت شوم، نه پوهېږم د هغوی تر منځ په بهرنيو چارو وزارت کې نورې څه خبرې او شخړې راولاړې شوې".



Ketabton.com

ښاغلي عظیمي یوه ځانګړي (مشخصه) خبره نه کوي. هغه هېڅکله نه وایي چې چا، چاته کنځاوې کولې، د چا تر منځ شخړه راولاړه شوه؟ او چا جګړه وکړله؟ ښاغلي عظیمي په خپله صحنه جوړونه کې په ناخوداګاه ډول داسې یوه فضا انځور کړې ده چې ګواکې هرڅوك د دسیسه کارانو او توطیه ګرانو پر وړاندې د قهر او غوسې څرګندولو حق ولري. په داسې حال کې چې بریالي د کودتاچیانو په برکت په هغې اونۍ کې ټول ځواك په خپل لاس کې متمرکز کړی و. د عظیمي، ببرك او بریالي په امر یې د جنرالانو تر سیوري لاندې له نجیب الله او د هغه له پلویانو څخه انتقام اخیسته. اروانباد شان چې جرات یې وکړ او په پټو تشکیلاتو سره یې له بریالي سره خپلې رابطې غوڅې کړې او د روغې جوړې عادلانه سیاست ته یې ځان وقف کړ، ترور کړای شو. د اروانباد یعقوبي او باقي جنازې لا ښخې شوې نه وې، د زاړه مکروریان د پرشم بلاك د اوسېدونکو او بهرنیو خبریالانو په ځانګړي ډول د بي، بي، سي په شهادت، پر لیکوال چې د حزب وطن سیاسي بیرو ته د کارمل بیا ستنېدلو (ددې لپاره چې د شوروي یرغل سمبول دی)، مخالفت کړی و رابانډې برید وکړ، چې تصادفاً وژغورل شوم. که ښاغلي ستر جنرال عظیمي ویلای چې وحشت او ګډوډي یو د جلسې فضا نیولې وه او د بریالي په اشاره مرګ هرچاته ګواښ کاوه، واقعیت یې بیان کړی و. خو هغه څه چې یې په خپل ذهن کې حکم کړی د هغه پرعکس یې تعریف کړي دي. سربېره پر دې حقیقت دا دی چې ښاغلي عظیمي په هغه جلسه کې اصلاً ګډون نه درلود او د هغه ګزارش د نظامي شورا په اړه په اجنډا کې ګډ نه و، د عظیمي د خبرو کمزوري د هغه په خپلو خبرو کې ښکاري



Ketabton.com

هغه خپله لیکي: (هغه خبره چې په غونډه کې نه کېده د نظامي شورا مسله وه. ما له اجراییه بیرو څخه هیله وکړه چې خبرو ته مې غوږ کېږدي، یو شمېر خلك مې چارچاپېره راټول شول).

ښاغلی عظیمي! که ستاسو ګزارش په اجنډا کې ګډ وای، د هغې ټول غړي مکلف وو چې ستا خبرې واوري. په یوه مهمه او رسمي جلسه کې چې بنین سیوان هم په کې ګډون لري، څنګه یو شمېر خلك راولاړېږي او د جلسې د ادابو پرخلاف پرتا راټولېږي؟ او هغه نور څنګه؟ حقیقت دا دی؛ د جلسې په پای کې هغه مهال چې د ګډون کوونکو اکثریت رخصت شوی و، تاسو په دهلېز کې راښکاره شوئ، کاویاني، مزدك او وکیل مو پر شاوخوا راټول شول په خپلو کې یې کومه خبره کوله، چې د بریالي په ګډون نورو هم ورته مینه ونه ښوده، بریالي ځکه درته لېوالتیا ونه ښوده چې تاسو د نجم الدین کاویاني او فرید احمد مزدك د هدایت له مخې د احمد شاه مسعود د غوښتنو په درك کولو سره د نظامي شورا له مسوولیت څخه چې بریالي درسره ژمنه کړې وه اوږه تشه کړه. خو د پېښو بهیر او د جلسې بڼه څنګه وو؟ کله چې جلسه رسماً پیل شوه ښاغلي بینن سیوان دوه پاڼې کاغذونه له خپله بکسه راوایستل او د جلسې موقت ریس سلیمان لایق ته یې ورکړل، ویې ویل (لومړۍ پاڼه د نجیب الله استعفا پاڼه او دویمه د جمهورریس د مرستیالانو د برطرفۍ احکام دي، تاسو ته درسپارل کېږي له هېواده د نجیب الله د وتلو د اجازې موضوع چې ملګرو ملتونو یې د ژوند ضمانت کړی دی ستاسو په لاس کې ده.) پر جلسې واکمنه روحیه دا وه چې نجیب الله ته له هېواد څخه د وتلو اجازه ورکړل شي. خو ټول پوهېدل چې د اجازې او نه اجازې واك له بریالي سره



Ketabton.com

دی، بریالي په غوسه ناکه څېره وویل: (پر ږېدئ چې نجیب الله د خلکو پر وړاندې د خپلو جنایتونو ځواب ووایي. بنیـن سیوان د بریالي ددې ګواښوونکو خبرو تر اورېدو وروسته یوه شېبه چوپ پاتې شو، بیا یې وویل) ښه! د ډاکټر نجیب الله د برخلیک په اړه تصمیم د افغانستان د خلکو حق دی خو د ملي روغې جوړې سیاست، د ملګرو ملتونو پلان او لنډمهالي بې طرفه حکومت ته واك سپارل هم د افغانستان د خلکو په ګټه و، په تېرو جلسو کې مو دا پلان منلی و، خو اوس یې چې ردوئ او ګټه یې نه منئ په تاسو پورې اړه لري. زه کوم ټینګار نه لرم، اوس پر دویم مطلب پیل کوم او داسې یې ادامه ورکړه (د وروستیو پېښو وده د اووه ګونو تنظیمونو د دریځونو د ډراماتیك بدلون لامل شو او د جهادي ځواکونو غوښتنې یې لوړې کړې دي) اوس هغوی هم د لنډمهالي بېطرفه حکومت پر ځای غواړي چې ټول واك دې د مجاهدینو ګډ حکومت ته وروسپارل شي، البته هغوی چمتو دي عمومي عفوه اعلان کړي. خو دا په هغه صورت کې چې د واك انتقال سوله یيز او داوطلبنه وي. ستاسو ځواب څه دی؟)

وړاندې تر دې چې پر دې موضوع خبرې وشي، کوم چا د راننوتو اجازه واخیسته او نبغ د مزدك خواته لاړ او هغه ته یې په غوږ کې څه وویل. مزدك په ظاهره کې په غمجنه څېره اعلان وکړ چې له بده مرغه ملګري یعقوبي ځانوژنه کړې ده، تر دې پېښې وروسته باقي، د (پنج) اداري ریس د ځانوژنې خبر خپور شو. پر دې بنسټ څرګنده شوه چې هېڅوك په امن کې نه دي. غوښتل یې چې د جلسې پر فضا وېره او وحشت خپاره کړي. باید یادونه وشي چې د جلسې په بهیر کې ښاغلي بریالي څو ځلې په بېلابېلو پلمو



Ketabton.com

له جلسې نه ووت او هر څلې به چې ووت تر څو دقیقو وروسته به بیا راګرځېده. ټول خبر وو چې هغه له خپل مشر ورور څخه هدایت اخلي او کودتا چیانو ته دنده ورکوي، چې د خپلې خوښې پرېکړه ترلاسه کړي. د یعقوبي په اصطلاح د ځانوژنې په اړه پرېکړه وشوه چې د اروابناد ټول مرستیالان جلسې ته راوغوښتل شي چې معلومات ورکړي او د هغوی تر راتګه دې جلسه وځنډول شي.

لایق د اجراییه دفتر د غړو نظر وغوښت په جلسه کې چوپتیا خپره وه، هرچا له ځانه پوښتنه کوله په موجوده شرایطو کې چې له لنډ مهالي څو ورځني واك څخه رازېږېدلې وحشت حاکم دی د هغوی نظر څه ارزښت درلود ی شي؟ په هرحال، ما (لیکوال) چوپتیا ماته کړه او ومې ویل څواب د نظامي امکاناتو په اړه دی. د وسلوال ځواك دوه تنه وزیران دلته شته، درېیم هغه چې له بده مرغه ترور شو، په کابل ښار او ګوند کې د وژونکي نفوذ کچه ښیي. د واك سپارلو تر هر تصمیم وړاندې باید د داخله او دفاع وزیرانو نظرونه واورو، چې د هغو په رڼا کې خپل امکانات وسنجوو او تصمیم ونیسو. دا وړاندیز ومنل شو، سلیمان لایق، پکتین او وطنجار ته مخ ورواړاوه او د هغوی نظرونه یې وغوښتل، ښاغلي پکتین په تاثر او خواشینۍ سره وویل: (له بده مرغه د داخله وزیر مرستیال او له انقلاب څخه د دفاع عمومي قوماندان ډګر جنرال عبدالعظیم زرمتي له کودتا څخه د دفاع په موضوع کې راغی او د خپلو قطعاتو قوماندانانو ته یې لارښوونه وکړه چې له وحدت حزب او نظار شورا سره هم همکاري ولري. د ښار دوولس ګونې حوزې پوازې د ښار د امنیتي دندو د ترسره کولو لپاره دي. چې هغه هم ستونزمنې کېږي. که ما نظامي توان



Ketabton.com

درلوداى، ملګرى ښاغلى نجيب الله به مې د ملګرو ملتونو له دفتر څخه ايسته، د ملګرو ملتونو په پلان او بې طرفه انتقالي حکومت ته په واك سپارلو کې به مې چې زموږ ملي ګټې او د ګوند اعتبار په کې خوندي وو يوه شيبه هم ځنډ نه کاوه!!. وار وطنجار ته ورسېد، هغه د ډاکټر نجيب الله په اړه د پکتين خبرې تکرار کړې. د هوايي قوا او هوايي مدافعه د عمومي قوماندان لوى درستيز دلاور فتاح خيانت يې هم ياد کړ، په پاى کې يې د ځان او ډاکټر نجيب الله په اړه چې د بلوسګرو ښکار او د خپل بېځايه باور قربانيان شوي وو، په ملايم ډول نيوکه وکړه او زياته يې کړه. پاموږ نظامي امکانات چې له کودتاچيانو او اووه ګونو تنظيمونو سره د مقابلې توان ولري په لاس کې نه لري. دلته وار بريالي ته ورسېد. هغه په کبر او غرور چې ولې يې ملګري بې روحيې شوي دي، پر ټولو نيوکه وکړه. هغه ګوند ته د وفاداره نظاميانو (موخه يې خپل پټ تشکيلاتي ګوند دى چې اوس علني شوى دى) په اړه خبرې وکړې او د ګوند ګډون يې واك ته ضروري وباله او زياته يې کړه: يوازې نجيب الله چې د سولې ځنډ و له واکه لرې شوى دى، نور ټول ځيزونه پر خپلو ځايونو پاتې دي. دا خبره يې په پرله پسې ډول تکراروله. موږ وزارتونه لرو، موږ نوى متحدين لرو، موږ وفاداره نظاميان لرو، په واك کې زموږ برخه زموږ حق دى. کله چې يې له احساساتو ډکه وينا او په هغې کې دا جمله چې موږ ځواك لرو څو ځلې تکرار کړه، ما په دوستانه او آرامه لهجه وپوښت هيله ده موږ ته دا خبره روښانه کړئ، چې تاسو د کوم ځواك خبره کوئ؟ که موخه مو د دوستم ۵۳ فرقې ځواك وي چې تاسو يې پرې حساب کوئ، دا ټولو ته څرګنده ده چې هغوى د ګوند د



Ketabton.com

سقوط اصلي لامليـن وو، سـربېره پـر دې لکـه مـوږ چې پـه دوو ښلايېلـو ژبـو خـبرې کـوو، هغـه کسـان چـې تاسـو يـې وفـاداره نظاميـان ګڼئ، هغـوی ګونـد تـه خيـانت او جفـا کـړې ده، د ګونـد کلمـه هـم متضـاد مفـهوم پيـدا کـوي. مـوږ هغـه ګونـد پـه رسـميت پـېژنـو چـې د ملـي روغـې جوړې سياسـت يـې تعقيبـاوه، د ملګرو ملتونـو پنـځه فقـره يـيز پـلان تـه وفـاداره و او د هغـه عمومـي منشي، نجيـب الله چمتـو شـوی و، د سـولې لپـاره واك نـاپېيلي لنـډ مـهالي حکومـت تـه وسـپاري او استعفا وکـړي. خـو هغـه ګونـد چـې تاسـو يـې يـادوئ ددې ارزښتونـو پـر وړانـدې ولاړ دی. تاسـو د نويـو متحدينـو خـبره هـم وکـړه، زمـا پـه انـد د مزار او جبـل السـراج شـوراګانې اوس نـه شـته.

احمـد شـاه مسـعود چـې د (پنـځم سـتون) پـه حسـاب يـې پـه دې لويـه لوبـه کې سـتره ونډه لرلـه، ځـينې موخـې يـانې د شـمالي ولايتونـو تـر اشـغاله رسـېدلې دی. نـور نـه غـواړي چـې پـه دې شـوراګانو کـې پـه ګډون سـره جـهادي تنظيمونـه خوابـدي کـړي. کـه لـه دوسـتم او کودتـا چـي جـنرالانو نـه پرتـه کـوم بـل ځواك هـم شـته چـې د وسـلوال ځواك وزيـران او د اجراييـه بـيرو نـور غـړي پـرې نـه دي خـبر، هيلـه ده پـه زغـرده يـې ووايـاست چـې د هغـو پـه رڼا کـې تصميـم ونيسـو. تـر مـا وروسـته د اجرائيـه دفـتر نـورو غـړو هـم خـبرې وکـړې، هـر يـوه لـه ښاغلي بريـالي څخـه غوښتنـه وکړلـه چـې هغـه ځواك راڅرګنـد کـړي چې دی يې يـادوي. خـو بريـالي غوښتـل چـې ګونـد او سياسـي بـيرو د دوسـتم پـه خدمـت کـې ځانـګړې کـړي او شـمالي ائتـلاف د ګونـدي ځواك پـه نامـه ونومـوي. خـو چمتـو نـه شـو چـې پـه زغـرده څه ووايـي. د خبرو پـه پـای کـې رای ګيـري وشـوه، لـه بريـالي نـه پرتـه نـورو پرېکـړه وکـړه: کـه ملـګري ملتونـه د وروسـتيو پرمختګونـو پـه اړه د خپـل پـلان



Ketabton.com

پر تطبيق برياللي نه شي. واك دې داسې حکومت ته وسپاري چې د جهادي ځواکونو نمايندګي وکړي.

دا و د حزب وطن د سياسي بيرو د ۱۳۷۱ د حمل ۲۷مې نېټې جلسه يا هم د معروف په وينا وروستى مېخ چې د ګوند پر تابوت ټك وهل شو او ورپسته هغه څه چې د ګوند په نامه يادېدل د برياللي ډله وه، چې کله به يې د احمد شاه مسعود او رباني په پلوي د حکمتيار پر ضد او کله هم د حکمتيار په پلوي د رباني او مسعود پر ضد د خپل ګوند مومن او ځانتېرېدونکي غړي د توپ خولې ته ورکول او د مرګ کندې ته يې غورځول. په پاى کې يې د ګناه له ګنو پېټو سره سفر وکړ او د اواره ګانو له ګوند سره يوځاى شو. د نجيب الله دا اټکل سم وخوت چې ويلي يې وو (هغوى چې د ګوند پر جرړو تبشه وهي، نه يوازې د زرګونو انسانانو کرکه ور په برخه کېږي بلکې، خپل ژوند او شخصيت ته هم د تل لپاره خاتمه ورکوي).



Ketabton.com

# نجیب الله د ملګرو ملتونو په حمایت کې

سیاستپوهانو او د افغانستان د چارو څارونکو ته د کودتا جوړېدل، په هغې کې د وسلوال ځواک د ځینو جنرالانو ګډون او نقش همداراز د دولت او ګوند په لوړو پوړونو کې د هغوی ملاتړ روښانه او انکار نه منونکی و. د خاد پراخه او لویه دستګاه نه وه توانېدلې د وضعې دا خطرناك بهیر چې په پراخ ډول یې د ځواك د له منځه وړلو پر لوري حرکت کاوه پټ کړي. او نجیب الله په بېلابېلو ډولونو غافله وساتي. بیا هم دا پېښې کم ارزښته وښیي او په دې ډول د یوه رښتیني نجیب سړي له اعتماد او باور څخه سوء استفاده وکړي او لوی مجرمین چې د صحرایي د محکمې وړ وو، د رتبې او امتیازونو مستحق وګڼي او د لوړو صلاحیتونو په بدلون سره د هغوی ورانوونکو فعالیتونو ته ورګډ او نوې ستونزې راولاړې شي، په دې توګه دا ناسمه لړۍ د ورانکارانو او توطیه ګرانو په ګټه روانه وي. دې کودتایي دسیسه کارانو ځان ته د وړ



Ketabton.com

نظر په ترلاسه کولو کې نظامي، استخباراتي او اداري امکانات درلودل. چې خنډونه يې پرې لرې کول او په ذهنونو کې يې نفوذ کاوه. هغه مهال يې نقابونه له مخونو څخه لرې کړل چې د خپلو زړونو خبرې يې وکړې او پټولو ته يې اړتيا نه درلوده.

په دې لړ کې ښاغلی عظيمي لومړی کس دی، کله چې نجيب الله د ملګرو ملتونو دفتر ته پناه يووړه، عظيمي څو شېبې وروسته هلته ورپسې ورغی. خو په خپل کتاب کې واقعاً په (ګستاخانه)، ناځوانۍ او نامردۍ سره وايي (د تاريخ دې عوام غولوونکي سړي ته مې په څير سره وکتل. له دې نه چې لوبه يې بايللې وه پښېمانه او خواشينی ښکارېده. هغه سپين او پړسېدلي مړي ته ورته و چې د چړو په سلګونو ګوزارونو يې يو څاڅکی وينه هم نه څاځي) (اردو و سياست، ص ۵۵۷).

له ښاغلي عظيمي څخه پوښتنه کوم، ښاغلی عظيمي! ايا ستاسو په اند يې واقعاً لوبه بايللې وه؟ ايا ستاسو په اند په هر قيمت چې وي فزيکي پايښت بری دی؟ هو! ددې لپاره چې ستاسو دندې نه دې بشپړې شوي، تاسو بايد د ماهيپر په تنګي کې د مجددي په رکاب کې منډې وهلی؛ تاسو بايد په کابل ګارنيزيون کې د احمد شاه مسعود هرکلی وکړئ او ترې پاداش واخلئ. ډېرې منني واورئ او د هغه ترڅنګ د ګلبدين حکمتيار پر ضد او د حکمتيار تر څنګ د مسعود پر ضد وجنګېږئ. لنډه دا چې اوبه او دانه مو پاتې ده او له تاسو سره بری هم همدا دی، خو نجيب الله ته هغسې چې خپله يې څو ځلې ويلي وو (په تاريخ، مانا، د سوچونو په ځلښت او په ملي او نړيوالو تعهداتو کې يې موجوديت چې د هېواد د خلکو او نړۍ پر وړاندې ارائيه وي. په دې برخه کې له شکه پرته بری له نجيب الله سره دی، نه له هغو کسانو سره چې په



Ketabton.com

کودتابازۍ کې يې حرفوي مهارت تر لاسه کړی دی، له وينې تویولو او پر نورو له چړې ښخولو نه پرته بل سوچ نه لري. د يادونې وړ ده چې د افغانستان خلك، د ملي روغې جوړې د سياست پلويان او شهيد نجيب الله په دې لټه کې وو، چې پوه شي آيا نجيب الله په خپل ژوند کې د کودتاچيانو مشر وپېژنده؟

جنرال عظيمي په خپله په ناخودآگاه ډول ددې معما غوټه خلاصه کړه، هغه د نجيب الله له قوله وايي: (ملګرۍ عظيمي له تاسو او ستاسو له ملګرو نه مې دا تمه نه درلوده چې په دې بڼه به زما پر ضد کودتا وکړئ؟) نجيب الله لا هم عظيمي ته د ملګري خطاب کوي او له ملګري څخه يې د کودتا تمه نه درلوده. ددې لپاره چې ډېر امتيازونه، پراخ واك او بشپړ صلاحيت يې ورکړی وو، هغه باور نه کاوه چې دا (ملګری) به تر دې کچه ناسپاسه انسان وي. هغه د عظيمي د خبرې پر بنسټ ددې په اصطلاح ملګري! له کودتا څخه شکايت درلود. ځکه دې ملګري يې له باور او اعتقاد څخه په ناځوانۍ سره استفاده کړې وه. د عظيمي په اند نجيب الله لوبه بايللې وه خو هغه په (په ګستاخۍ سره) نجيب الله پر کودتا تورن کړاو د هغه د تېښتې خبره يې وکړه. دا ټکي له يوې خوا د هغه د شخصيت پېژندنې لارښود دي، له بلې خوا د هغه ټول غرض لړلي تورونه په زبات رسوي. د ساري په توګه د هغه دا تور چې (په ګستاخۍ سره مې ځواب ورکړ، تاسو کودتا وکړه که موږ؟) د عظيمي پر دې ځواب څه تم کېږو! له ښاغلي عظيمي څخه په دوستانه ډول پوښتنه کوم آيا دا منې چې د افغانستان پخوانی جمهوررييس نجيب الله په عين حال کې د افغانستان د وسلوال ځواك اعلی سرقوماندان هم و؟ تاسو دا حقيقت نه شئ ردولای. بيا هم درنه پوښتنه کوم چې د يو څو جنرالانو او افسرانو برطرفي

ان د هغوی حبس او محاکمه هم د وسلوال ځواك د اعلی سرقوماندان له صلاحیت څخه و، که نه؟ تاسو د قانوني مندرجاتو په حکم منفي ځواب نه شئ راکولای. که د قانون په استناد دا دوه پوښتنې مثبت ځواب ولري، هیله ده وواياست د وسلوال ځواك اعلی سرقوماندان ستاسو که د ځان پر وړاندې اړتیا درلوده؟ آیا نه یې شول کولای چې له خپل قانوني صلاحیت څخه په کار اخیستو په ساده ډول تاسو برطرف کړي او مزاحمت ختم کړي؟ دلته دي چې تاسو اړ یاست پر خپلې کودتا اعتراف وکړئ او وواياست چې هو! موږ د خپل عادت له مخې بیا کودتا وکړه او دا وخت مو ورنه کړ، هغه مو له هر لوري نه محاصره کړ، کله چې په سد شو وخت تېر و او کودتا بریالۍ شوې وه هغه نور واك نه درلود، له قدرت څخه بې برخې شوی و. باید د کودتاچیانو حکم ته یې غاړه اېښوده او ځان یې تقدیر ته سپارلای. د ښاغلي عظیمي په عقیده نجیب الله د ملګرو ملتونو دفتر ته د پناه اخیستو لپاره دا حق نه درلود چې ملګري ملتونه دې د ساتنې ضامن وي. هغه یې (تېښته او خیانت) وبلل. دا دي د ښاغلي عظیمي خبرې چې په پیل کې یې ژمنه کړې وه چې په ویښ وجدان، له ګناه او ریا څخه په پاك ضمیر به پېښې بیانوي.



Ketabton.com

# د ملي روغې جوړې د سیاست برخلیک او د شهید نجیب الله وړاندوییونه

شهید نجیب الله د ۱۳۷۰ المریز کال د میزان (تلې) پر درېیمه د افغانستان د جمهوري ملي شورا مجلس ته د ملي روغې جوړې د جوړېدو په اړه داسې وویل: تاسو په ځیرنې سره پوهېدلي یاست چې سیاسي او ټولنیز شخصیتونه یا هم تر هېواد دننه او بهر ټول سیاسي تنظیمونه او ډلې چې کله غږېږي نو وایي "د افغانستان د خلکو د ارادې پر بنسټ یا د دوی د ارادې په بري" دا یوه عامه جمله ده. ګرانو دوستانو! راشئ چې دې جملو ته ځانګړې او عملي محتوا ورکړو. په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان خلک څه غواړي؟ زه فکر کوم په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان د خلکو لویه غوښتنه د سولې او ملي روغې جوړې تامینول دي. نو که موږ د روغې جوړې پوښتنه رامنځته کړې، دا د افغانستان د خلکو لویه غوښتنه ده. دا سیاست د یوه سړي، یو ذهن او یوې ارادې له



Ketabton.com

ذهن څخه نه دي راټوکېدلي، که موږ هم د افغانستان د خلکو پر بنسټ داسې سیاست نه وای درك کړی. دا به په زغرده تاسو ته ووایم چې په ټولنه او نړۍ کې به د پېښو له کاروانه شاته کېدو. موږ د خلکو د غوښتنو، د ټولنې همداراز د افغانستان د خلکو او نړیوالې فضا پروړاندې خپل مسوولیت ترسره کړ او دا سیاست چې د افغانستان د سپینږیرو، مخورو او بېلابېلو قشرونو له تفاهم او مشورې څخه خړوب شوی، د افغانستان د خلکو اړتیا ده. د سولې ټینګښت د افغانستان د خلکو غوښتنه ده که له هر چا څخه وپوښتل شي چې په افغانستان کې سوله غواړې که جګړه؟ هرڅوك پرته له دې چې بېلابېلې لارې او تګلارې وټاکي وایي سوله غواړم، له دې کبله سوله د افغانستان د خلکو اراده ده.

شهید نجیب الله ټولو ته د ملي وحدت د حکومت جوړول وړاندیز کړ او دندې یې ورمشخصې کړې. په دې لړ کې وایي "د ملي وحدت حکومت چې په بنسټ کې یې د افغانستان صدراعظم ښاغلی خالقیار، د پېښور موقت حکومت، دې د ایران مېشتو نهه ګونو سازمانونو په ګډون، د کورنۍ شورا قوماندانان، اروپا مېشت او امریکا مېشت افغاني شخصیتونه دې د ظاهر پېر شاوخوا راټول شي. داسې حکومت دې جوړ شي چې انتقالي ځانګړتیا ولري، دوی دې د افغانستان اساسي قانون ته بیا تجدید نظر وکړي، همداراز دې د ټاکنو د قانون طرحه، د مهاجرینو موضوع او د ملګرو ملتونو په مرسته د هغوی بیا رالېږدېدنه او افغانستان ته د وسلو د رالېږلو بندېدنه وڅاري. موږ به په دې لار کې په لوی زړه، په ځان تېرېدنې او له روغې جوړې سره په یووالي پرمخ لاړ شو. چې د افغانستان د خلکو له غوښتنو سره سم د خپل تاریخي رسالت له مخې وړاندې لاړ شو."



Ketabton.com

شهید نجیب الله د افغانستان او حزب وطن (وطن گوند) د وسلوال ځواك د نقش په اړه چې په زړه ورتیا یې د افراطیونو مخه نیولې وه، یو لړ توضیحات ورکړل او ټولو هېوادوالو ته یې وړاندیز وکړ چې په ژور احساس سره د روغې جوړې په برخلیك کې ځانونه ګډ وبولي. د هغه پرځای او دقیق وړاندوییونه داسې لولو: "شفاهي خبرې: زه دا منم چې د حزب وطن همدا ځواك، همدا حاکمیت چې وسلوال ځواك او سیاسي متحد ځواکونه یې له عرصې نه رابهر شوي. دا باید په زغرده ووایم مونږ پر دې مسایلو ډېر غور کړی، د درې ګونو تنظیمونو یا معتدلینو په ګډون نور سیاسي ځواکونه هم کولای شي ډېر ژر د دې حاکمیت ځای ډك کړي. چې د بنسټپالو (بنیادګرایانو) پر وړاندې مقابله وکړای شي، تاسو دا سوچ وکړئ که بنیادګرایان افغانستان ته راغلل، زه یې له تاسو نه نه پټوم. نن ستاسو پر وړاندې ډېرې مسلې ږدم. پرېږده د افغانستان د پارلمان تریبون د افغانستان د پارلمان سنګین او دروند تریبون چې د افغانانو او نړۍ د تلویزیون او راډیو د څپو له لارې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د دیالوګ وسیله وي. که دا ځواك، حاکمیت، سیاسي متحدین او حزب وطن نه وي څوك به د دوی ځای ډکوي؟ یوازې بنیادګرایان او هغه هم د پردیو په ملاتړ؟ که ګلبدین، خالص او سیاف دلته راشي، ماته په زغرده ووایاست، منځلارو ته به ځای وي؟ ظاهر شاه ته به اجازه ورکړي چې دلته راشي؟ احمد شاه مسعود ته ځای شته؟ نهه ګونو سازمانونو ته به اجازه ورکړي؟ بنه "ملي رستګار" او (د ډموکراسي او آزادۍ لپاره د اتحاد پاڅون) خو پرېږده، دوی به ډموکراسي او خپلواکي یاد کړي؟ دوی ته به په ټولنه کې نور ځای نه وي، همداسې نه ده؟ هغه څه دي چې د افراط ګرایۍ، وحشت،



Ketabton.com

وژنـو او د وحشـت د يـوې تـورې دورې مخنيـوى وكـړي؟ هغـه كـوم ځواك دى؟ دا د افغانسـتان وسـلوال ځواك، حـزب وطـن او د هغـه سياسـي متحدين دي، چې د افغانسـتان د كورنـۍ ثبات پـر يوه مـهم فكتـور بعدل شـوي دي.

نـو زه خپلـو ټولـو هېوادوالـو او سياسـي ځواكونـو تـه كـه پـه بـهر كـې دي كـه دننـه دا وړانديـز كـوم: بـايد ګامونـه داسـې مسـوولانه اوچت كړو چې خداى مـه كـړه هڅـې نـه پـه بـازارونو او كـوڅو كـې مـو د خويـنـدو او ميـنـدو عـزت او غـيرت ولـوټل شـي او ماشـومان مـو پـه هېواد كـې د ژوند كولو حق لـه لاسـه وركـړي. هېڅكلـه بـايد ناسـنجول شوي ګامونـه ـــ اوچت نـه شـي.

دا سـاده ده چې هـرڅوك ووايـي: ځواك دې بـدل شـي، نجيـب دې خپـل ځاى پـرېږدي، بـل څوك دې راشـي، دا مسـئله دې ډېر ژر حـل شي. بـايد پـر دې خبرې هـم غـور وكـړو، ددې كـارونو لار پيـدا كـړو، د تـګلارې مكـانيزم ولـټوو، د تـاريخ پـه دې حساسـو شـرايطو كـې اوسنيو واقعيتونـو تـه نـه پاملرنـه هـېواد لـه تباهـۍ سـره مخـامخوي. زمـا غوښتنـه دا ده چـې هـرڅه دي. د همـدې ځواك (حـزب وطـن) چـې عيبونـه مـو وويـل، ښه والـى يـې هـم ووايـه. كـه يـې منت نـه نيسـې دا خپلـه د يـوه سياسـي فكتـور پـه ډول د افغانسـتان ثبـات سـاتلى دى، د هغـه سياسـي موجوديـت د خلكـو او ټولنـې پـه ګټه دى، پـه همـدې ځواك بـه ثبـات وسـاتو. كلـه چـې ټول ځيزونـه ډموكراتيـك مسير تـه ولـوېدل واك او صلاحيـت د افغانسـتان د خلكـو شـو؛ هلتـه د افغانسـتان خلـك دا ټاكـي چـې څوك د واك او ځواك پـر ګدۍ كېنوي، زه خو بله لار نه وينـم. هـېڅوك حق نـه لـري د خپلـو مليونونـو هېوادوالـو پـر برخليـك لوبـې وكـړي او پـه واك كـې دا تشـيال (خـلا) رامنځتـه كـړي، چـې اور كـور پـه كـور او كـوڅه پـه كـوڅه وركډ شـي.



Ketabton.com

ځوک کولای شي په داسې شرایطو کې چې د واك تشیال رامنځته شي، د هېواد مسوولیت پر غاړه واخلي؟ زه اعلان کوم هرڅوک چې دې مسئلې ته کاندید دي چې د واك په خلا کې دا مسوولیت ومني بسم الله، خپل غږ دې نن ماښام یا سبا د نړۍ د بېلابېلو راډیو ګانو له خوا له کوم خبریال سره په مرکه کې رااوچت کړي. زه یې رابلم، خپل ګوند وربښم د ګوند او پارلمان په مشرۍ پارلمان وربښم او وایم چې داسې یو کس راپیدا شوی او داسې مسوولیت یې منلی دی او ددې مسئلې ضمانت یې هم کړی دی، تاسو ګورئ چې پرله پسې خلك رابلو، خو هغوی په دې ډول او بل ډول پلمې کوي ولې؟ شرایط ستونزمن دي ددې خرابو شرایطو زغمل آسانه کار نه دی، که نه زه چمتو یم نن اعلان وکړم: هرڅوك چې د ځواك د خلا مسوولیت پر غاړه اخلي او غواړي هغه پر پښو ودروي، ځان دې کاندید کړي زه یې را بلم، دی باید د افغانستان د ملت او خلکو او نړیوالو پر وړاندې ودروو، پرېږدئ چې د هغو پر خپل وړاندې یې ودروو."

په افغانستان کې د قوماندان سالارۍ د حاکمیت په لومړنیو میاشتو کې د ملي روغې جوړې د طرحه کوونکو او د شهید ډاکټر نجیب الله د وړاندوییونو سموالی په دې اړه د واك خلا او د هغې وېروونکې پښې په زبات ورسوي. سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي بهیرونه له منځه لاړل. د ملي وحدت انارشیزم او پاشلتیا ته زمینه برابره شوه. د روښاندیزو اندېښنو او پاخونونو له منځه تلو ته هم زمینه برابره شوه.

نړیوالو سازمانونو په افغانستان کې له بشري حقوقو څخه د پرله پسې سرغړونو په باب د ۱۹۹۲-۱۹۹۹م کلونو ترمنځ ډېر مطالب خپاره کړل. چې له کلنیو ګزارشونو، د امریکا د بهرنیو



Ketabton.com

چـارو وزارت لـه کلنـي ګزارش، بنيـاد آزادي (لنـدن) مرکـز تعـاون (پـېښور)، د ملـګرو ملتونـو د ځانـګړي خبريـال ګزارشـونه (فليکـس ارمـاکورا وروسـته چيونـګ هيـون پـاک) د بېسـرحده ډاکټرانـو او ژورناليسـتانو لـه خـوا د ډلـه ييزو وژنـو، غـير قـانوني زندانونـو، اسـيرولو، يرغلونـو، د عامـه او شـخصي شـتمنيو لـوټ او تـالان، د انسـانانو سـوځول او د هغـوی پر بـدن مـېخ ټك وهـل او د سـيمه ييزو قوماندانانو د دود لـه مخـې د قـانون او نظـم لـه منـځه تلـل يـاد کـړو. د وروسـتيو اوو کلونـو جـګړو پـه بـهير کـې پـه کـابل کـې ۲۵ زره تنـه شـهيدان کـړای شـول او تـر ۵۰ زرو تنـو ډېر کسـان بېکـوره او بـې اوره شـول پـه وروسـتيو جـګړو کـې دا شـمېره پـامور زيـاتوالي موندلـی دی.

شـهيد نجيـب الله د ګونـد پـه دننـه کـې منحرفيـن چـې غوښتـل يـې واك پـه انحصـاري ډول پـه لاس کـې ولـري او ګونـد (طبقـاتي مواضعـو) تـه ولـېږدوي، چـې دا کـار پـه عمـل کـې لـه عينـي واقعيتونـو څخـه لرېوالـی، د ملـي روغـې جـوړې نفـي کـول او پـه هـېواد کـې د وينـې تويېدنـې او جـګړې اوږد ېدل دي. دوی غنـدي او وايـي: "کـه موخـه مـو پـه واك کـې ګډون وي پـرېږدئ چـې دا کـار د ملـګرو ملتونـو د سـولې د عمليـې پـه اډانـه کـې د ملـي روغـې جـوړې پـر بنسـټ ترسـره شي، لـه هغـه نـه پرتـه مـو دا هڅې لـه تاسـو نـه واك لـرې کـوي. تاسـو بـه د اورلګيـت د يـوه تيلـي دنـده ولـرئ چـې کـولای شـي لـوی درمنـد وسـوځوي او خپلـه هـم وسـوځي..." پـه ګونـد کـې د ټاکلـو ډلـو مخالفتونـه روان وو، يـوه هـم وروسـتی کودتـا وه چـې خلـك يـې پـه سياسـي، نظـامي، ټولنيز او اقتصـادي لاتجـو کـې راښکـېل کـړل.

پـه دې برخـه کـې پـه ډيلي کـې د يـو شـمېر افغـاني مـهاجرينو پـه وينـا (د وروسـتی پـېښې (د ملـګرو ملتونـو د سـولې عمليـې) پـه ملاحظې افغـاني ليکـوال او څېړونکـي کـولای شـول د هغـې پر تطبيـق



Ketabton.com

د افغانانو اوږدمهالي دردونه پایته ور سوي. ټولګوندي او دولتي مسوولینو(سیاسي بیرو) دا اسناد تائید او لاسلیک کړي دي) دلته یې خپروو. نوموړي اسناد دا دي: د افغانستان د جمهوررییس وینا ۱۳۷۰ ل کال د حوت ۲۸مه نېټه د مارچ ۱۸مه، د حزب وطن اجراییه هیات، د افغانستان جمهوري وسلوال ځواك، د افغانستان جمهوري د ستري محکمې غړي، د افغانستان جمهوري ځارنوال مشرتابه، د سیاسي ګوندونو او د افغانستان جمهوری رستګاری جمعیت ریسان.



Ketabton.com

# لومړی او وروستۍ خبره،

ملي روغه جوړه د مقصدي احکامو له مخې (د حزب وطن ستراتيژيك لار ده، چې د افغانستان د خلکو له دوديزو او اسلامي معتقداتو سره بشپړ يووالی لري) دا ملي او انساني سياست چې شهيد نجيب الله د خپل ژوند تر پايه د هغه په تطبيق کې پر مخ لاړ، بديل نه لري. په راتلونکي کې هم د سولې ټينګښت، ملي حاکميت او خپلواکي، د بشر د حقوقو تامين او د افغانستان ځمکنۍ بشپړتيا، ټولنيز پرمختګ او بيارغونه يوازې د ملي روغې جوړې له لارې کېدی شي چې ټول هېوادوال په کې ګډون ولري.

اته کاله غمونکي، خونړي او وحشتناك کلونه د خلکو لپاره سختې تجربې دي، چې هېواد ته يې مادي او مانيز سخت او نه جبرانېدونکي زيانونه اړولي دي. همداراز د ټولو ځواکونو، تنظيمونو او ډلو رښتينې ماهيت د هغو په ورځنۍ سياسي تګلار او کړنلار کې څرګند شوی دی. نو په اوسنيو شرايطو کې ملي غوښتنه د ټولو ګډه غوښتنه ده، چې سموالی يې د ټولو افغانانو لپاره يو عام او انکار نه منونکی حقيقت ګرځېدلی دی. هر افغان چې تر ځاني ګټو ملي هغو ته په درنه سترګه وګوري د شهيد نجيب الله د ملي روغې جوړې سياست ته يې درناوی کړی دی، د هغه په تحقق کې به هم د زړه له کومې هڅې کوي. ومن الله التوفيق



Ketabton.com

# سرچینې:


۱- غبار، میر غلام محمد: افغانستان در مسیر تاریخ، لومړی چاپ، کابل، ۱۳۴۶ل، (دویم ټوک، ۱۳۷۸ل، ورجینا، امریکا).

۲- مبارز، عبدالحمید: تحلیل واقعات سیاسي افغانستان (۱۹۱۹- ۱۹۹۹) دویم چاپ، پېښور، میوند، ۱۳۷۷ ل -536 مخ.

۳- پنجشېري، غلام دستګیر: ظهور و زوال حزب د موکراتیک افغانستان، پېښور، ۱۳۷۷، دویم ټوک.

۴- عظیمي، محمد نبي: اردو و سیاست در سه دههٔ اخیر افغانستان، پېښور، میوند، ۱۳۷۷ لمریز کال، دویم ټوک (په یوه وقایه کې).

۵- ودان، فقیر محمد: دشنه های سرخ، پېښور، ۱۹۹۹م کال.

۶- علمي، سید حامد: سفرها و خاطره ها، پېښور.

۷- حبیبي، علامه عبدالحي: جنبش مشروطیت در افغانستان، قم، کمیسیون فرهنګي وحدت اسلامي.

۸- شرق، محمد حسن: کرباس پوشان برهنه پا، پېښور.

۹- جاج ارني: د سید محمد یوسف علمي او حبیب الرحمن هاله ژباړه، افغانستان ګذرګاه کشور کشایان، پېښور، میوند، ۱۳۷۶ لمریز کال.

۱۰- عمر زی، جنرال: شبهای کابل، پېښور.

۱۱- لیاخوفسکي، توفان در افغانستان.

۱۲- سیستاني، محمد اعظم: مقدمه بر انقلاب ثور و پیامدهای آن.




Ketabton.com

۱۳- آسیا- افریقا مجله، نهمه گڼه ۱۹۹۳م کال وسپالینکوف، مسکو.
۱۴- الکساندر مایوروف: په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل، د ډاکټر داود جنبش ژباړه، پېښور، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني.
۱۵- الکساندر لیاخوفسکي: توفان در افغانستان.
۱۶- ع. منصور: بهای آزادی کابل از سقوط تا فتح، ۱۳۷۴ل کال، دولتي چاپخونه، کابل.
۱۷- دیگوکور دوویز او سلیك هریس: حقایق پشت پرده تهاجم اتحاد شوروي، لومړی چاپ، ۱۳۷۵ لمریز کال، پېښور.
ضمیمې (ملپاڼې) د افغانستان د جمهورریس د ۱۳۷۰ لمریز کال د حوت (کب) ۲۸مې نېټې تاریخي اعلامیې کاپي.



Ketabton.com

# د افغانستان د جمهوررييس اعلاميه

ما همدا اوس په افغانستان او پاکستان کې د ملګرو ملتونو له ځانګړي استازي ښاغلي بينن سيوان سره د افغانستان د مسئلې د سياسي حل په اړه د دې استازي په هڅه د مشورو يو پړاو پايته ورساوه.

پر دې سربېره د ملګرو ملتونو د استازي پتروس غالي د وړانديز پر بنسټ مې ښاغلي بينن سيوان او د هغې ژمنې پر بنسټ چې ما د افغانستان له خلکو سره کړې بيا مې هم داډ ورکړ چې زه به په هغو پيشنهاد شويو افغاني غونډو کې چې د ملګرو ملتونو د استازي ترسرپرستۍ لاندې جوړېږي. په خپل شخصي ګډون به ټينګار ونه کړم.

زه له دې سره موافقه لرم. د هغه تفاهم پر بنسټ چې په کابل کې د يوه انتقالي حکومت د جوړولو لپاره د ملګرو ملتونو د پروسې له لارې په افغاني غونډو کې تر سره شوې دي. اجراييوي



Ketabton.com

واك او ځواك بـه لـه هماغـه لومـړی ورځې نـه انتقـالي حكومـت تـه ولېږدول شي. لكه څنګه چې استازي وويـل انتقـالي حكومت بـايد داسـې ضـروري واك او ځواك ولـري چـې د افغانـانو يـو والـی، خونديتـوب، امـن او همـداراز د افغانسـتان د ځمكنـی بشـپړتيا تضميـن كـړي، انتقـالي حكومـت د بشـر حقوقـو تـه درنـاوی هـم تضميـن كـړی دی، پـه افغانستان كـې بـه د يـو انتخـابي حكومـت د جوړېدو لپـاره آزادې او عـادلانـه ټاكنـې اداره او سـمبال كـړي.

زه لـه هغـه څه سـره بشـپړ موافـق يـم چـې اسـتازي د عمومـي اسامبلې پـه ۴۶مـه جلسـه كـې ګزارش وركـړی، يـو ځل پـر ښاغلـي بينـن سيوان ټينګار وشو چـې د ملګرو ملتونـو ضمانتونـه هـم تـر سره شي. چې انتقـالي حكومـت جـوړ شـي او دا حكومـت وكـولای شـي خپلې دندې چې وړاندې يـادې شـوې پـه اغېزنـاك ډول ترسره كـړي.

نـو زه يـو ځل بيـا خپـل چمتووالـی تجديـدوم چـې د افغانسـتان د خلكـو ګټې تـر شخصي هغـو لـوړې ګڼم او جداً هيلـه لـرم چـې نـورې غـاړې هم ورتـه هـڅې وكـړي.

د ۱۳۷۰ لمريز كال د كب (حوت) ۲۸ مه

د ۱۹۹۲م كال د مارچ (۱۸



Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

۱۸ حوت ۱۳۷۰

رؤسای مجلسین شورای ملی جمهوری افغانستان با متن اعلامیهٔ محترم رئیس جمهور افغانستان در مورد مساعی جلالتمآب سرمنشی ملل در رابطه به گردهمآیی افغانی و تسریع تحقق عملیه صلح ملل متحد که از جانب موصوف پیشنهاد شده است توافق میدارند.

۱ - دوکتور ... حبیبی رئیس مجلس سنا

۲ - دوکتور خلیل احمد ابوی رئیس ولسی جرگه

۲۹/۱۲/۷۰

ضمیمه:

اعلامیهٔ مورخ ۸ حوت ۱۳۷۰ محترم رئیس جمهور افغانستان.



Ketabton.com

ضمیمه

هیئت اجرائیه شورای مرکزی حزب وطن

تاریخ ۲۹/ ۱۰/ ۱۳۷۰

درباره تائید متن اعلامیه دولت جمهوری
افغانستان در رابطه به مساعی ملل متحد
برای حل مسالمت آمیز [illegible]

هیئت اجرائیه شورای مرکزی حزب وطن متن اعلامیه دولت جمهوری افغانستان را در مورد مساعی سرمنشی ملل متحد جلالتمآب بطروس غالی در رابطه به رهنمائی و تسریع [illegible] طرح صلح ملل متحد که از جانب موصوف [illegible] [illegible] تصویب می نماید.

"متن اعلامیه ضمیمه است".

راز محمد پکتین

سلیمان لایق

عبدالوکیل

غلام فاروق یعقوبی

فرید احمد مزدک

محمد اسلم وطنجار

محمد رفیع

محمود بریالی

نجم الدین کاویانی

نظر محمد

نور احمد نور

رئیس حزب وطن

نجیب الله

[illegible] ریاست هیئت اجرائیه شورای مرکزی حزب وطن.



Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

۱۰ حوت ۱۲۷۰

شورای وزیران جمهوری افغانستان پیشنهاد ... محترم رئیس جمهور افغانستان را در مورد مسائل ... بین‌المللی ... ملل متحد در رابطه به گرد هم آیی افغانی و ترسیم تحقق پروسه صلح ملل متحد که از طرف موصوف پیشنهاد شده است، تائید و تصویب میدارد.

۱- فضل الحق خالقیار صدراعظم ح ۱۰

۲-

۳-

۴-

۵-

۶-

۷-

۸-

۹-

۱۰-

۱۱-

۱۲-

۱۳-

۱۴-

۱۵-

۱۶-

۱۷-

۱۸-

۱۹-

۲۰-

ضمیمه: اعلامیه مورخ ۱۰ حوت ۱۲۷۰ محترم رئیس جمهور افغانستان.



Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

۲۸ حوت ۱۳۷۰

رهبری قوای مسلح جمهوری افغانستان متن اعلامیه محترم رئیس جمهور افغانستان را در مورد مساعی جلالتمآب سرمنشی ملل متحد در رابطه به ترک تمام آتش افغانی و تحریم تحقق د لیه صلح ملل متحد که از جانب موصوف پیشنهاد شده است، تائید مینمایند.

۱- ستر جنرال محمد اسلم وطنجار وزیر دفاع.
۲- ستر جنرال محمد آصف دلاور لوی درستیز قوای مسلح
۳- دگر جنرال مانوکی منگل رئیس عمومی تعلیم وتربیه.
۴- دگر جنرال عبدالفتاح قوماندان عمومی قوای هوائی ومدافعه هوائی
۵- تورنجنرال محمد صدیق ذهین رئیس عمومی اسلحه وتخنیک.
۶- تورنجنرال گل محمد رئیس عمومی لوژستیک.
۷- تورنجنرال عبدالقادر صاحبل پهرندوال وزارت دفاع
۸- برید جنرال محمد ظریف معاون ساختمانی وزارت دفاع
۹- تورنجنرال محمد هاشم رئیس اوپراسیون وزارت دفاع.
۱۰- تورنجنرال غندان رئیس کشف.
۱۱- برید جنرال محمد معظم قوماندان عمومی تعبیه.
۱۲- تورنجنرال محمد داود عزیزی معاون لوی درستیز.
۱۳- دوکتور راز محمد پکتین وزیر امور داخله
۱۴- تورنجنرال سید کاظم معاون اول وزیر امور داخله.
۱۵- دگر جنرال محمد عظیم زرمتی معاون وزیر امور داخله
۱۶- تورنجنرال اسدالله پیام رئیس عمومی تعلیم وتربیه
۱۷- تورنجنرال محمد شفیق وهاب رئیس عمومی لوژستیک.
۱۸- تورنجنرال غلام مصطفی رئیس عمومی کادر و پرسونل.
۱۹- تورنجنرال محمد ولی قوماندان څارندوی شهر
۲۰- تورنجنرال محسن هلالی رئیس عمومی نظم عامه.
۲۱- برید جنرال اکلیل رئیس امنیت نظامی څارندوی.



Ketabton.com

۲۸.۱۲.۱۳۷۰

بسم الله الرحمن الرحیم

اعضای ستره محکمه جمهوری افغانستان با نشر اعلامیه جناب رئیس جمهور افغانستان در مورد مساعی جلالتمآب سرمنشی ملل متحد در رابطه به کسب صلح افغانستان وتحقق پلان صلح ملل متحد که از جانب وی پیشنهاد شده است، توافق میدارند.

| اسم | وظیفه |
|---|---|
| ۱ــ عبدالکریم شادان | قاضی القضات جمهوری افغانستان |
| ۲ــ عبدالحکیم شرعی جوزجانی | معاون قاضی القضات ج.ا |
| ۳ــ عبدالولی حجت | معاون قاضی القضات ج.ا |
| ۴ــ میر عزیزالحق شمیمی | معاون قاضی القضات ج.ا |
| ۵ــ محمد آصف الم | معاون قاضی القضات ج.ا |
| ۶ــ غلام سخی جهید | قاضی ستره محکمه |
| ۷ــ جنرال نثار احمد | رئیس دیوان جرایم افسران ستره محکمه |
| ۸ــ جنرال محمد ذاکر | رئیس دیوان سربازان ستره محکمه |
| ۹ــ امان الله سوچ | رئیس دیوان محاکمه [illegible] ستره محکمه |
| ۱۰ــ محمد عمر مرشد | رئیس دیوان جزای عمومی ستره محکمه |
| ۱۱ــ فضل احمد | رئیس دیوان مدنی وحقوق عامه ستره محکمه |
| ۱۲ــ عبدالحق صدیقی | سرپرست ریاست دارالانشای ستره محکمه |
| ۱۳ــ مراد علی مراد | قاضی ستره محکمه |
| ۱۴ــ عبدالحنان صالح | قاضی ستره محکمه |
| ۱۵ــ محمد انور انسی | قاضی ستره محکمه |

ضمیمه: اعلامیه مورخ ۲۸ حوت ۱۳۷۰ محترم رئیس جمهور افغانستان



Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

۲۸ حوت ۱۳۷۰

رهبری خارنوالی جمهوری افغانستان با متن اعلامیه محترم رئیس جمهور افغانستان در مورد مساعی جلالتمآب سرمنشی ملل متحد در رابطه به گرد هم آیی افغانی و تسریع تحقق عملیه صلح ملل متحد که از جانب موصوف پیشنهاد شده است، توافق میدارند.

۱- سید عزیز الدین شرف
۲- جنرال عبدالغنی
۳- عبدالرزاق شفندری
۴- عبدالهادی خلیل زی
۵- غلام حسین فرزی

ضمیمه:

اعلامیه مورخ ۱۰ حوت ۱۳۷۰ محترم رئیس جمهور افغانستان.



Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

۲۸ حوت ۳۷۰

رؤسای احزاب سیاسی جمهوری افغانستان با متن اعلامیه محترم رئیس جمهور افغانستان در مورد مساعی جلالتمآب سرمنشی ملل متحد در رابطه به گردهم آیی افغانی و تصمیم تحقق خطه صلح ملل متحد که از جانب موصوف پیشنهاد شده است، توافق میدارند.

۱- محترم محبوب الله کوشانی منشی اول سازمان انقلابی زحمتکشان افغانستان
۲- رر عبدالله گران منشی اول سازمان زحمتکشان افغانستان
۳- رر عزیز الله عزیز منشی اول نهضت ملی افغانستان
۴- رر مولوی نصرالله عابد رئیس حزب اسلامی مردم افغانستان
۵- رر مولوی عبدالسلام خادم معاون اتحادیه انصار الله
۶- رر شیخ علی شوق الاسلام شوقی رئیس حزب الله افغانستان
۷- رر محمد سرور ایمانی رئیس حزب نهضت همبستگی مردم افغانستان (فدائیان)
۸- رر زمان گل دهاتی رئیس اتفاق مبارزان ملی مترقی افغانستان
۹- رر سعدالدین سرپرست اتحاد ملی دهقانان افغانستان
۱۰- رر پوهاند اصغر رئیس جمعیت رستگاری ملی افغانستان

ضمیمه:
اعلامیه مورخ ۲۸ حوت ۱۳۷۰ محترم رئیس جمهور افغانستان.



Ketabton.com

# د لیکوال لنډه پېژندنه



ښاغلی عبدالقدوس غوربندی پر ۱۳۱۲ل کال د پروان ولایت د غوربند ولسوالۍ په چهار دهي سیمه کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په غوربند او منځنۍ یې په(علوم شرعیه) مدرسه کې تر یوولسم ټولګي پورې تر سره کړې دي، وروسته یې د ثانوي تخنیك لېسې ته په تلو سره خپله دنده بېله او مشخصه کړه، تر فراغت وروسته یې د ملکي هوایي چلند په روزنیز مرکز کې هم دنده تر سره کړې ده. پر ۱۳۴۴ل کال د ملکي هوایي چلند په برخه کې د مسلکي زده کړو د بشپړولو لپاره امریکا ته لاړ، تر راستنېدو وروسته یې د ښوونکي په توګه دندتر سره کړې ده.

عبدالقدوس غوربندي د افغانستان خلکو د موکراتیك ګوند تر لومړۍ کنګرې وروسته د هغه مهال په پرمختللو غونډو کې ګډون درلود په کنګره کې یې د نمایندګۍ حق ترلاسه کړ، پر ۱۳۵۴ل کال ـ. دهغه ګوند د مرکزي کمېټې غړی شو، کله چې ګوند واك ته ورسېد نو دسوداګرۍ وزارت وزیر شو. کله چې شوروریانو د ۱۳۵۸ل کال د مرغومي پر۶ نېټه پر افغانستان باندې برید وکړ زنداني کړای شو او د ۱۳۶۶ل کال د وري(حمل) تر لومړۍ نېټې پورې په څرخي پله زندان کې پاتې و. نوموړی د ۱۳۶۷ ـ ۱۳۷۰ل کلونو ترمنځ لومړی د ملي جبهې مرستیال او بیا د افغانستان د سولې جبهې د ریس په توګه وټاکل شو، ده د افغانستان خلکو د موکراتیك ګوند په دویمه کنګره کې ګډون درلود او د(و طن ګوند) د اجراییوي بیرو د ازمېښتي غړي په توګه ټاکل شوی دی.

Ketabton.com